

# خپلواکۍ ترون

ليکوال او مهتمم

ميا خان اپريدی

کال

۱۳۵۱

د

وزی

نهمه

نيته

افغانستان

کابل

ACKU

PROPERTY OF ACKU 4735

AFGHANISTAN CENTRE AT KABUL UNIVERSITY
3 ACKU 00004735 6

12.559




معظم هما یونی اعلیحضرت دافغانستان گران ټواك



ښاغلی ډوکتــور عبدالــظاهــر د افغانستان صدراعظم



دپښتونستان ستر مشر خان عبدالغفار خان



دپښتو نستان دملی عوامی ړ ګی مشر خان عبدا لولیخا ن

# بلوخ. براهوی-افغان

(۱)یوەغز لەدەوایی

خدای‌به موبیاسرە یوخٔای کرٖی
تەژارٖە زما دراتگ پال اچوە
دمینی‌یارە کەمو، ژوند پاتە نیم
ساعت‌وبیاراخٔمە

دا دی د اوزدی غیر حاضری
وروستەمونزِ تول یووار بیاد بلوچستان
داولس! خبار ظفر اسلام پە چوکاتِ
ولا بٖ یوزمونزِ مسلك
بلوخ-براهوی- اوافغان

---

(۱) ظفر اسلام ۱۳ کال دجولای۷ - ۱۹۷۲ - ۳۹ گنه

# سریزه

دهند دنیمی قاری دآزادی سر ه‌سره دهغو پښتنو چه جبرائی خپلواکی له لاسه و ر کړی وه اوپه‌استعماری تو گه په هند پوری‌تړلی شوی وو دا آرزو لر له چه مو نږ به‌هم خپلواکه او په‌خپله‌خوښه ژوند کوو، خو له بده مرغه استعما ر ی‌دسیسو ددوی امیدو نه لاهو کړل.

نود پښتو نستان مشرانود۱۳۱۸کال دسنبلی په‌نهمه ورځ‌سره‌را ټول شول او فیصله یی وکړه چه:

یا به کړ و جوړ پښتونستا ن‌پښتنی ژ و ند به کړو و
یابه‌له‌خپله‌لاسه ځانته‌گورستان‌جوړوو

نو دهمدی‌پریکړی اودپښتونستان‌دنوروپیښو دخپرولوپه‌باره‌کښی‌لمړی ځل (خپلواکی تړون) چاپ اوتر‌څو کلنوپوری په‌همدی نوم دپښتونستان دملی ورځی په احترام کا ل‌په کال چاپ اوخپور شو یو ځل هم (پښتانه دخود ارادیت په رڼا کښی)چاپ او دوه ځله هم د (پښتانه تر عنوان لاندی چاپ شو.

سږ کال ئی بیا بیږ ته(خپلواکی تړون ) نو غوره کړ زما دپاره‌وخت ډیرکم‌ووچه دکتاب‌په متن څه اضا فه وکړی شم ارمانو نه یوځل نشی پوره کید لی‌که‌ژوند باقی ووکوشش به وکړو چه لاپه زړه پوری اثر منځ‌راوستلی‌شو .

په دی اثر کښی کو شش شوی‌چه دبلو چستان جغرا فیا، تا ر یخ، ادبیات ،کامو نه اوقبلی او تو روپیژندل شی. دا نشی و یل کیدلی چه ځنی نمیگړ تیاوی به پکښی‌نه وی‌خو دمأ خذ مو ندل هم په کافی اندازه مشکل دی له د ی‌سره سره به گران لوستونکی خوند ورنه واخلی او امیددی چه په‌راتلونکی وخت کښی کوم لیکوا ل وغواړی په بلو چستان څه و لیکی‌ډیر ښه مأخذ به و گرځی.

ACKU

## دوهم مخ

دپښتنو او بلوڅو ګـڼو مبارزو اومجادلو او قربانیو دپښتو نستان د آزادۍ په لار کښې دلمړی ځل لهپارهدپښتو نستان په دوو ایالتو نو کښې محکوم مرکزی پښتـــو نستان اوبلو چستان کښې ملی حکومتو نـــه دنشنل عوامی او جمعت العلماء لـهدړلی له خوا جوړ شوی دی چه پړی ویاړلی شو خوپړاوونه پاتی دی اینده‌هــم دپښتنو او بلوڅو په ګډ کوشش دهدف اخیر پړ اوته رسدلی شی .

هر کله چه دا دخپلوا کۍ تــړ و ندچاپ تکمیل ته نژدی شوی ؤ لــه بلـو چستان څخـه دافـغا نســتاندخپلواکۍ د٥٤ تلین دنما نځلـــو پـــه مراسمو کښې دګډون له پـارهد ښا غلـــی میـر ګـــل نصیر دبلو چستان دپوهنی اوکلتور صحتدوزیرپه مشری ښاغلی شهزاده عبدا لکریم احمدزی او ښاغلی محمد ها شمغلجیښاغلی شیرمحمد مری، ښاغلیاحمد یارخان جو کیزی، ښاغلی مو لو یشمس الدین، ښاغلی محمد یو سف اڅکزی او نـور کابـل تـه تشریفراوړی چه دهغوی دراتګ تفصیلمو دلته ونه شو نیولی .یوازی ددو یڅو عکسو نه به دکتاب په متن کښې وګوری .

په‌پای کښی وایم‌تل دوی دپښتوناوبلوڅ اتحاد                **ن.م پکتیانی**

ACKU



د جنوبي پښتونستان مشرانو د ښاغلي میرگل نصیر د بلوچستان د ایالت د پوهنې او کلتور د وزیر په مشرۍ د افغانستان د خپلواکۍ څلورپنځوسمې کلیزې د ننداتو له مراسمو کښې کابل ته راغلي وو له ښاغلي ډوکتور عبدالظاهر صدراعظم سره د ملاقات په حال کې لیدل کیږي.

بسم الله الرحمن الرحیم

# بلوڅ

ویاړم چه دقبایلو مستقل ریاست دپښتو نستانی قبایلو دمعرفی او پیژند ګلوڵی په سلسله کی دخپل معروف کتاب د سلسلی پد ی برخه کی د پښتو نستا ن د ملی وړځی په مناسبت خپلو ګرا نو عزیزانو ته دعقیدت دډالی او تحفی په ډول وړاندی کوی.

لکه چه ددی غوره او ارزښمند کتاب په لومړی ټوك کښی ماعرض کړی وو. سره ددی چه دابه یو کامل اثر نه وی او ښایی چه نیمګړتیا وی به لری خوبیا هم دایو ابتکار دی چه دقبایلو مستقل ریاست پدی بر خه کښی کړیدی او تر اوسه پوری پښتو نستان قبایلو یاپه خپل اصلی او اساسی عبارت دافغانی قبایلو دبیلو بیلو اړخونو دپیژندنی دد غسی یو اثر دپاره چه په حقیقت کښی دافغانی قبا یلو یعنی ( پښتو نستان قبایلو) دایرة المعارف ور ته ویل کیدی شی او مخصوصا د ځوان ا و متعلم او محصل نسل دپاره د ځا ن سره خورا ډیری ښیګړی لری چا اقدام نه وکړی.

مونږ په ۱۳۴۹ کښی د دی کار دآغاز په وخت هم دافکر لاره او اوس یی هم لرو چه د هیواد غښتلی پوهان او پیاوړی لیکوال به په آینده کښی په دغه باب څیړنی او لیکنی وکاندی او پدی ډول به په اساسی توګه دالویه نیمګړتیا پوره او داخلا به ډکه شی.

لکه چه ګران ویونکی وینی دد ی ټوك لویه برخه دبلو څو به بحث ا و څیړنی پوری اړه لری او بلو څ ددی سر زمین یو غښتلی پیاوړی او لـه میړانی ډك عنصر دی. چه هم دلر ی ماضی به دوران اوهم په نږدی او معاصر تاریخ کښی دخپلو اکه غو ښتنی اودهیواد ،دپت او عزت سا تنی په لار کښی بیشانه ډیر افتخارا ت لری چه دآزادی اوخپلواکی دمجاهدی تاریخ پری په ربښتیا او حقه دویاړنی حق لری نوځکه زه یو څو کرښی د خپل دغه مجاهد اوپه غم او ښا د ی کښی شریکو ورونو بلوڅو دلنډی پیژندنی دپاره له خپلی خوا داحترام او مننی دډیرو تودو جذباتو او ژورو احساساتو دتقدیم سره سره لیکم.

بلوڅ دپخوانی اواوی افغانستان په دایره کښی دننه دیو وسیع ا و پراخه سر زمین ښتن قوم دی چه څتیځ پلو ددیره غازی خان په شمول پنجاب ته لګید لی اوپه لویدیځ خوا کښی دبندر عباس دکرمان د



٩١١

ACKU

ختیځی غاړی او سیستان په شمو لدایران سره پوله لری جنوب ته یــی بحیرة العرب پروت دی او پهشما لی کښی دهیلمند سیند جنوب لویدیــځ څنډه وته را رسیږی.

هغه وخت چه انګیزی استعمار دلوی افغانستان په بو تیو چاړه ر ا ولګو له اوپه شرق او شمال شر ق کښی یی‌تری اندامونه پری کړل نو بهجنوبی برخه یی هم ناتار راوستاو ددی لوی او تاریخی وجود دقو ت ماتولو دپاره یی پری داسی شند یوکړی چه دهغو دپیژ نګلو ونه یی ویوست .تردی چهد سیستان نــــه نیولی تربند ر عباس پوری سیمه یی په ۱۸۹٦ کال یعنی دډیورنډ لاین دنام نهادی کرښی لهتیرو لو نهدری کاله وروسته ایران تهوسپار له .

انګریزا نو دغازی خان دیره (چه‌پخوانی نوم یی هرندو داجل دی )په پنجاب پوری غوټه کړه. (تر د ی چه‌په ۱۹۱۰ کښی یی دسرحد یعنــی محکوم مرکزی پښتونستان و لا یت‌لایه پنجاب پوری وتاړه او دمیا والی او کیملپور دوه لوی لوی ضلعــــی‌لا هغسی په‌پنجاب پوری غوټه د ی) او خانګړ او خواوشا علا قی یـــی دیعقوب آباد (جکیبت آباد) پهنا مهو نومړی اوپه سیند پوری‌یی وتړ لی.

مری کهتران او چاغی ته‌یی‌دقبایلی‌مناطقو شکل ورکړ او نصیر آبا د بولان کویټه او نو شکی‌یی له هغــونورو سیمو سره چه دانګریز اوافغان د دوهم جنګ (۱۸۷۹ ع) او ډیورنډلاین (۱۸۹۳ع) په نتیجه کښی بیاهم دافغانستان څخه وشو کولی.یوځای کړی او دغه سیمه یی دبرتانــــو ی بلو چستا ن په‌نامه دیوبل یو نــټ(واحد) پهشکل منځ ته راووسته .

دبلوڅو پاتی علاقه ساراوا نجاله‌وان کچی او دمکران ځینی برخی یی دقلات سیمی په‌نامه رایو ځــا ی کړی او میر محمود خان نو مـــــی خپل یوبا لکی‌یی پر کښیناو ه .

بلوڅ دسیند په نورو علاقو د غه‌راز پنجاب په‌تیره بیاپه ملتان مظفر ګړ جهنګ مو نټګمری (ساهوال )اوشاپور کښی هم پراته دی چه پـــه مختلفو وختونو کښی دغلته ور غلی‌او میشت شویدی.

ای- کی بروهی دپاکستانـــــی د۱۹۵٦ کال داساسی قانون مصنف‌د میر عطاء الله منګــل خسر چه یـــووخت دپاکستان عدلیه وزیرهم ؤ دغه راز میامشتاق احمد ګور مانی چه یووخت دپاکستان داخله وزیر او بیا د د(نام نهاد) غربی پاکستان دیـــــویونټ ګورنرؤ. او یو وخت دپنجا ت دسرو یستلو مفکرا نو او شخصیتونو به‌ډله کښی حسابیده .دبلو څی نسل سره نسبت لری.



۹۱۲

انگریزانو د دې موجوده محکوم جنوبي پښتونستان د بلوڅو، پښتنو قوت ته ډیر زیات او همیشه متوجه ؤ او د ډیر زیات سوچ فکر په نتیجه کښې ددوی په خو پخو شخصیتونو د دې دواړو تو کبو سره دروا بطو او چال چلند دپاره لارې چارې جوړې کړې وې او حاکمان یې په دې گمارلي وو چه له دغو لاروپل غلطي ونه کړي.

سرډاير ټ سنډیمن چه انگریزانو داپوزې معروفه سمیه دده په نام کړې او لاتر اوسه هم په فورټ سنډیمن یادیږي. یو هو ښیار او چالاك پرنگي ووچه اووه لسس، اتلس کاله (۱۸۷۶ ۱۸۹۲) ددغه سیمې حاکم پاتې شویدی دپښتنو بلوڅو په باب یوجدي سپار ښتنه اولار ښونه لرې چه وایي:

پښتون او بلوڅ دمځ په زور ماتیدي نه شي او دهمیشه دپاره دچا په واك کښې نه راځي البته په چل هنر تر یو خه وخته په منگول کښې ساتل کیدي شي.

پښتون او بلوڅ په هیڅ ډول دحملې انتقام نه هیروي او هر وخت چه یې وار برابر شي هیله نه کوي.

دادواړه قبایل سره ددې چه دمساوات علمبر داري دي بیاهم په خپل منځ کښې یو مشر لرې چه دهغه خبرې ته غوږ نیسي خو دپښتنو واك اختیار دیر تیت او خپور دی نو ځکه یواځې خان یاملك ددوی داداري ذمه واری نه شي پوره کولی. خو بلوڅ دخپل خان میراد ملك خبره کوزه نه غور ځوي اود ی یواځې هم دخپل قوم په باب ذمه واری پوره کولای شي.

سنډیمن یو دغسې هو ښیار پرنگی ؤ( چه دسیمې په پښتو ن او بلوڅو مشرانو کې یې تر دې حده لارو مونده چه ددوی کورنۍ جگړې به یې یه جرگو فیصله کولې او مخصوص قوانین یې لاتر اوسه هم پدغو سیمو کښې چلیږي.

دبلوڅو دنژاد او نسل په با ب لکه دایشیا دنورو قومونو غوندې سل خولی او سل خبرې دي غوره خبره داده چه دوی پاك سوچه آرین او ددې وطن اصلي اوسیدونکي دي مگر ځینو بلوڅي مور حینود فلکوري روایاتو له مخه داهم ویلي دي چه دوی په اصل عرب دي اوله حلبه راغلي دي.

داسې روایت هم شته چه بلوڅ یه خته کلدانیان دي او ددجلې او فرات له منځه (بین النهرین) څخه رالږ دیدلي دي ځینې داسې بلوڅي قبیلې د ی چه په نورو ورگډې شویدي یعنې بلوڅ دي خو ژبه او تهذیب یې دسیند یانو قبول کړیدی لکه تالپورچانډه، جتویي او نعاری چه په سیند کښې اوسي.



ACKU

خو حینی نوری داسی قبیلی دی‌چه بلوڅ ندی مګر بلوڅی ژبه اوتهذیب یی‌خپل کړیدی اوځنی بلوڅ بلل کیږی لکه: براهوی احمد زی سمالانی پرکانی او قمبرانی څا نګی‌لری یالکه جاموټ چه اصلا سندیان دی او په بلوچستان کښی په بیزنجو یادیږی.

کچکی قبیله هم اصلا بلوڅ ندە او نکه چه‌وایی په‌اصل کښی راجپوت دی په محکوم جنوبی پښتونستان کښی څرکند دپښتنو قبیلونه علاوه نوری داسی قبیلی هم شته چه ظاهرا بلوچ مګر په‌اصل کښی پښتانه دی لکه رئیسانی مینګل کهتران او نور.

پښتانه په‌محکوم‌جنوبی‌پښتونستان کښی دوه پر پنځه بلل کیږی او د ولایتی بلو چستان نه‌علاوه په‌مستونګ مکران او خاران کښی هم پراته دی.

بلوڅی ژبه په‌کافی اندازه خوازه‌ادبیات لری اومخصو صا دو طن پرستی او قاموای داحساسا تو برخه‌یی‌ډیره ژوندی اوغنی ده. په بلوڅی ژبه کښی پښتو ،فارسی او هندی‌رنګ لیدل کیږی.

دبلوڅو زور په‌قلات ،سا راوا ن‌مکران، خاران، او لاسبیله کښی دی او دغه څلو رواړه نو مونه چه هریویی یو ریاست دی دریا ستی‌سیمی یااتحادیی په نامه کښی راغو نـه‌شوید ی.

بلوچستان په موجوده حالت کښی‌هم لکه چه‌معروف بلوڅ لیکوال ملك محمد رمضان وایی اوه سوه میلـه‌اوږد او پنځه سوه میله پلن دی خو خالصه بلوڅی سیمه یی شاړه اوسو کړه میره ده‌چه نه‌اوبه‌لری او نـه وابنه البته دخرماونی پکښی ډیر ی‌دی او اکثره اطرا فی بلوڅ دغنمو او اوربشو او جوارو په ځای په خر ما ګذاره کوی ددغه سیمی یعنی‌ریاستی علاقی خلك اکثرا کوچی دی بیسواده‌اوفقیر دی‌او په‌کامل بدوی حا لت کښی ژوند تیروی.

بلوچستان دوه مشهوره اونومیالی‌بندرونه لری یویی پسنی بل یـی ګوادر.

بل خوا(په اصطلاح) برتـا نوی‌بلوچستان د ی‌چه داوسید ونکـو اکثریت یی پښتانه دی او کا کـړاخکزی ترین کاسی درانی سا دا ت غلزی او نور پکښی اوسیږی .دایوه‌مسموره او زرغونه سیمه ده چـه نوی لوی ښارونه ډمبر سرکونه ا ورګاړی دکروندی زمکی شینکی باغونه او دښنونی او روغتیا مرکزو نه‌لری .

لکه‌چه مو ویل دغه ګردسر زمین‌دانګریزی تاړاك دمخه‌دلوی‌افغانستان یوغوره او غښتلی بازو او دبلو څـو پښتنو سیاسی او اجتماعی تاریخ‌لکه دقا لینی درنګونو او ګلونو په څیر یو په‌بل پسی اویوله بله اوبدل شویدی



٩١٧

ACKU

دافغان دشهنشا هیت د ډیــرو ګرمو ژوند یو اوپر افتخاره خاطراتو په رغاونه اوجوړښت کښې دبلو څې مړانی او همت اوسر ښندنی ډیره ونډه برخه ده.

تاریخ به هیڅکله دا هیره نه کړي چه دپانی پټ په جنګ کښې د میر نصیر خان نوري یامیر نصیر خا ن ولی تر مشری لاندی دپنځه دیرش زرو بلوڅو شاه زلمو یو جرار او نه ماتیدونکی لښکر دخپلو افغا نی ورونو سره اوږه په اوږه جنګیدل او دسوبی او بری بیرغ یې حاصل کړیدی.

دپنجاب دسکهانو په جنګ کښې دیارلس زره بلوڅ ځوانان په افغان اردو کښې شامل ؤ او د مشهــد په جګړه کښې شلو زرو بلو څــو ځوانانو برخه اخیستی وه .

دمیر نصیر خان نوري مور بی بــی مریم ته لوی احمد شاه بابا مورویلی وه او دتیمور شاه درانی نږ ور دمیر نصیر خان ولی لمسی وه.

ملك رمضان بلوڅ وایی دپښتنو او بلوڅو ترمنځ له پیړیو پیړیو راهیسی خپښی روانی دی او څلو پښت پــه سلو کښې خپښی دپښتنو بلو څــو ترمنځ جریان لري.

یوازې دژبی خبره چه له منځه و باسی نورپه لباس رنګ ونه دود دستور او ښه بده کښې هیڅوك د پښتــون اوبلوڅ تر منځ دفرق په تکي ګوته نــه شي ایښودی .

دبلوڅو او پښتنو په تاریخ کښې من حیث القوم داختلاف او بیلتانــــه خاطره وجود نه لري او لکه چه و موویل دوی په ژوندګی او زیست اوژواك کښې یوله بله شریك او په کامل اتحاداو مساوات یودبل تر څنګه ژو نــد کوي او یوله بل سره خپښی کوی. دبلوڅو دخانزاد ګا نو میند ی تقریبا یومخ پښتنې دی. دقلات دمو جــود ه خان اعظم میرمن پښتنه ده. اونیائی هم پښتنه وه. او دغه راز بلو څــې میرمنی په پښتنی کهو لونو کښــې ناستی دی دمرحوم شهزاده سلطان ابراهیم داخبره ډیره رقت آوره ده چه ویل یی مورمې په خوب کښې را تــه وویل ابراهیمه بچیه دپلار کورخو دی دربانده اور شویدی .زما د پلا ر کورته لاړشه زماورونه به دی پالنه وکړی

دبلو چستان عوامی لیګ ر ئیس ښاغلی امیر محمد رئیسانی وړم کا ل دلته (کابل) په یوه صحبت کښې دپښتنو او بلوڅو دروابطو په با ب وویل : لومړی مثال خپل وړاندی کوم زما دوه خویندی دی دواړه دپښتنو سره دی او خپله کهه می هم پښتنه ده دغسی دنورو بلوڅو او پښتنــو کورنیو حال درواخله.

داهم په تاریخی لحاظ د ژوند ی ساتلو لایقه خاطره ده چه : دعثمانی

امپراطوری په دربار کښې دهو تکو لومړی سفیر محمد جان نومیده او پلو څؤ.

دآزادی او خپلواکۍ په سینه کښې هم بلوڅ او پښتنانه یو د بل سره شریك دی. او دد ی لیلی د عشــق دوفا داری په ثبوت کښې یوله بلــه تیری کوی.

دانګریزی استعمار خلاف دبلو څودمجاهدو ماجراوی نابلده خلکو تــه افسانی ښکار ی.

مــګــر ا نګر یـــزا ن پوهیږی چه ددوی دمړانی او پیاو ړ تیاپه ماجراو کښې څومره حقیقــت پروت دی.

دغازی او شهید میر محراب خا ن مړانه به تل ترتله دبلو څو د ملــی مبارزی سر خط او عنوان وی او څوچه دادنیا ودانه وی دنورا مینګــل خاطر ی به چه په انګریزی عظمت ا وستر تیایی توره شپه راوستی وه ژوندی وی او بلوڅی تاریخ بــه دهمیشه دپاره دمیر نوروز خان غوندی زوړ او بهادر بلوڅ په نامه ویا ړی.

دکومی ورځی نه چه انګریز زمو نږ دتاریخی اوی وطن په دغه بر خــــه بلو سید لــی دی غیرتی او بهادربلوڅ په آرام نه دی ناست او دتودی اوسړی مبارزی په تولو لارویـــی دآزادی ا وخپلواکی دپاره هلی ځلی کــړی او د سرونو صدقه یی ور کړی ده او نــه یواځی داچه دغه مبارزه یی دانګریزی استعمار خلاف کړیده بلکه دپاکستان استعمار او تسلط خلاف یی لا زیا ت زور کړیدی. ا وددی علت هم داد ی چه انګریز ددغی سیمی دآزا دی ا و خپلواکۍ دومره مخالفت نه دی کړی څومره چه دپاکستان واکدارانو کړ ی دی او دا واقعیت به ګران لوستونکی په راتلو نکو تفصیلا توکښې په ډیر وضاحت ووینی.

د سر رابرټ سندیمن غوندی ګنړهو ښیار و پیر نګیانو په چل حکومت فشار اچولی دی چه دبلو چستا ن او سرحد یعنی موجوده محکوم مرکز ی پښتونستان دمحکوم ساتلو نه تیــرشی او دوی دآزادی ورکولو په وسیله د ځان سره دوستان کړی.

سر رابرټ سند یمن په خپل یــوتاریخــی پیشنهاد کښې ددی فکر په ړرسته ډیر زیات دلیلونه راو ړ ی او ژښتنی ډیری ښیګړی پکښې دانګریزی حکومت دپاره په ګوته کړیدی .

هغه وخت چه میر خدا داد خا ن دبلوچستان لوی خان دهند دراجه ګانو او نوابانو په لویه غونډه کښې دګډون دپاره دوایسرای دربارته ورغی نــو وایسرای ټول راجه ګان او نوابانوته دانګلستان بیرغ یعنی (یو نین جیك)

ورکړ خومیر خداداد خان تهیی دغه بیرغ ونه نیوه او چه میر خدا دا د خان پوښتنه وکړهچهولی ؟نووایسرای ورته وویل، دوی دانګریز سلطنـت رعیت او اتباع دی مګر بلوڅ دپرنګی متحدین او دوستان دی.

انګریزانو په ۱۸۹۸ ع کال کښی دکلات لوی خان میر خدادا د خـــا ن معذوله کړ او دکلات ریاست یی دکلات خاران او لاسبیلی پهدریو برخو ووېشلو او دهری برخی دپاره یییو یو خان وټاکه.

ددغه پر ماجرا کال نهتـر ۱۹۳۰ پوری اوږده زمانه دچو پیا او ختور دوره دهچه دانګریزانو څه خو ښــهشمویده هغهیی کړیدی مګر په ۱۹۳۰ کال کښیچهدمحکومپښتو نستا نپه نورو برخو کښی هـم په ډیر شدت دانګریزی استعمار خلاف سیاســیمبارزی زور واخیست دغلته همملی نهضت او سیاسی حرکت روانشو .

پهمحکوم جنوبی پښتو نستـــان کښی دغه سیاسی او ملی نهضـــت دبلوڅو پښتنو لخوا یو ځای او پـهاتفاق شروع شو.

پهدغه کال کښی دغلته پهابتدایی سویه انجمنو نهاو ټولنی جوړیشوی اوبلوڅ پښتانه بیله دی چهدانجمـن یاټولنی نامه ته وګوری چه پښتو دی کهبلوڅی پکښی داخل شوی وو اوپهډیره مینه او صمیمیت یی دغه حرکت پرمخ بوت.

دلچسپه ده چه دغهو خــت دد یحرکت او نهضت دقیادت دپاره چــه کوم دوه کسه میدان تهراوتل هغــهیو پښتو ن او بل بلوڅ. بلوڅ نواب محمد یوسف علـــی خان مګسیؤ. اوپښتون خانعبدالصمدخان اڅکزی وو. دغه دواړه ځوانان بلکه شـاهزلمی دشخصی ژ وند پهلحاظ ښــه خوشحاله او خیرا زمړه پېڅ خا نزادګان وو .

نواب یوسف علی خان د ۱۹۲۹ ع کال پهوروستیو شپو ورځو کښـــی دپنجاب په همدرد نومی جریده کښی د(فریادبلوچستان) پهنامهیوهدردناکه مقاله ولیکله او پهدغه مقاله کښی یی دپیرنګی دزور او ظلم داستان بیا ن کړه .نواب یوسف علی خانسمدستیبندی شو او شاهی جرګی پری یونیم کال بند او سل کم دری زرو کلدارونقدی جرمانی حکم وکړ دجر ګی پــه فیصله کښی داهم وو چه دبنددمودیپوره کیدو نهو روسته به دمجرم د لسو زرو کلدارو ضمانت هم ورکړ لکیږی چه بیا به داسی بدنه کوی .

څه وخت چهنواب صاحب بنـــدیشونو میر عبدا لعزیز کر د(۱۹۳۰)د بلوڅو داتجادیی پهنامه یوه ټولنـــهجوړه کړه او دنواب صاحب سره یی پهزندان کښی خپل تارو ساته . دیاتحادیی دنواب صاحب دخلاصو نتر

وخته پوری په‌پټه کاروکړ خود هغه‌تر خلاصون وروسته یی په جار بار میدانی کار شروع کړ او تر ټولواول یی دکلات دصدراعظم میر شمس‌شاه خلاف منظم تحریك وچلاوه او یـــو پمپلټ یی د (شمس گردی) په‌نا مه چاپ کړ چه ددغه تاریك شاه دمظالمو ماجراء یکی‌بیان شوی وه. داحرکت تر هغه په‌زور شور کښی وچلید چه‌څویی دغه سړی له پښو وغور ځاوه

په ۱۹۳۱ ع کال کښی خـــــا ن‌عبد الصمد خان دهغه وروړ حا جـی عبد السلام او داکازوی محمد ایو ب‌خان اځکزی دسیاسی فعالیت‌اوآزادی خواهانه حرکت په‌سبب‌بندیا نشول‌اودری‌کاله بندیی تیر کړ.


په ۱۹۳۲ ع کال کښی دال انډیا‌بلوڅ کانفرنس په‌نامه یوه لو یـــه تنظیمی جرگه په جیك‌ آباد (سند )کښی جوړه شوه چه ریاست یی خا ن عبد الصمد خان اځکزی وکړ اوډیری‌مهمی فیصلی پکښی وشوی.

په ۱۹۳۳ع کال کښی یو بل آ ل‌انډیا بلوڅ کنفرانس په سند کښی وشوچه‌د هغه ریاست دسند و زیـــر اعلامیربندی علی خان په غاړه لاره. پدی جرگه کښی ډیرو زیاتو بلو څواو پښتنو ځوانا نو برخه اخیستـــــی وه.

په ۱۹۳۳ ع کال کښی دکلات دموجوده والی میر احمد یار خان پلار مړ شو او دی یی‌په ځای کښیناست‌دکلات نوی خان‌په ښکاره له‌سیاسی نهضت سره دلچسپی نه‌ښوده مگر په‌زړه کښی‌یی ملگری وو او د منورو بلوڅو سره یی تار او ربط لاره.

نوی خان ډیر آزادیخواه ځوانا ن‌په‌رسمی کارونو وگمارل او چو کـی یی ورکړی او دبلوڅو له اتحاد یـی‌سره یی‌هم سرسته وکړه.

انحاد یی هم‌پدی‌سبب‌زور واخیست‌او دپنجاب اوسند په مطبو عا تـــو کښی یی یو سلسله مطالبات د آزادانتخاباتو په‌شمول چاپ کړل او له همدغه کبله ووچه میر عبد العز یــز کرد ونیوی شو. خان عبد الصمدخان اځکزی هم په‌دغو مطبوعاتو کښـــی‌مقالو ته زور ورکړ او په ۱۹۳٤ ع کال کښی په‌کراچی کښی یوی‌غونډی ته‌ بی‌ډیر سخت تقریر وکړچه د هغـه له‌کبله ونیوی شواو پنځه کاله قیـــد یری‌وخوت په‌حقیقت کښی ۱۹۳٤ کال دبلوڅو پښتنو دقیدوبند او سختـــو‌سو ختو کال ووچه اکثره په تو رو سپین پوه پښتانه بلوڅ د جیل‌میلمانه‌شول اوپه خپلوانو او کورنیو باندی یی ډیر کړاونه راوستی شول. اکثرځوانان دپو لیس لخوا دځار لاند ی ونیول شول دماموریت نه‌وویستـــل‌شول.اوپه لږه خبره ورته در نـــد ی ســــزا گانی او جرما نی واو رو لی‌شوی له‌بلی خوا دځوانا نـــو پـــه احساساتو هم اوروولگید او په ډ یرجوش او خروش ملی محاذ تـــــه



ښاغلی میرگل‌خان نصیر دبلوچستان دایالت دپوهنې او کلتور وزیـــر اودبلو چستان نور مشران‌دپښتونستان دنیشنل عوامي ړلی له مشر خـــا ن‌عبدالولی خان سره په ملاقات کښې لیدل کیږی .

ورجوخت او غونډ شول او داسې قرباني یې ورکړې چه انګریز ور ته ګوتې په غاښ کړي.

محمد حسین عنقا او دهغه ورو رمحمد حسن نظامي چه بیا ورو سته د صحافت او سیاست ځلانده ستوري شول دملك نه ووتل او کراچي ته لاړل هلته یې یوه هفته واره مجله داالبلوځ اوبله دبلو چستان جدید په نامه ر ا وویسته او ډیر منظم سیاسي او اجتماعي فعالیت یې شروع کړ خو انګریزانو لږه موده پس دغه دواړه مجلې بند ی کړې.

خان اعظم دنواب یوسف علیخا ن مګسي ستر شخصیت پیژندل وو او غوښتل یې چه دده په وسیله خیل کار پرمخ بوځي . نواب یوسف علي خان دسیاحت په نامه لندن ته لاړ څو حقیقت کې دی دانګریز انو سر ه د مذاکرې دپاره تللې وُچه انګریزان قانع کړي او دبلوڅو او پښتنو دغلامۍ پر ځای د دوی دوستي غوره او خوښه کړي . نواب صاحب دراستنیدو په وخت د خان اعظم سره دلیدونه مخکښې دده ۱۹۳۵ کال دمې ۳۱ نیټه دکو یټې په معروفه زازله کښې شهید شو .

په ۱۹۳٦ کښې یوبل انجمن جوړ شو چه شکلا یوخیرياتي انجمن ووخو په حقیقت کښې دسیاسي فعا لیت دپاره جوړ شوی وو. ددې انجمن نوم انجمن اسلامیه قلات او مرکز ئې مستونګ وو. پدې ټولنه کښې مامور او نامور ځوانان شریك شول . ددې انجمن په جوړ ولو کښې دکلات د پوهنې امر ښاغلی محمد فاضل خان محمد شیې ډیره خواري وکړه اومیر ګل خاني نصیر یې لومړی ر ئیس وټاکل شو خو دغه انجمن په لږ ه موده پس ړنګ کړی شو .

په همدغه ۱۹۳٦ کال کښې خا ن عبدالصمد خان اڅکزی دبند نه خلاص شو او دیوی ملي مطبعې ا وقومي چاپخانې جوړولو فکرو ور ته پیدا شو. خان اعظم له ده سره پدې کار کښې مرسته وکړه اوپه مطبعه باندې یې دنواب یوسف علیخان دنامه دژوندي ساتلو دپاره عزیزپرس نوم کیښود . خان عبد الصمد خا ن په همدغه کال یو اخبار راوویست او استقلال نوم یې پرې کیښود . دغه راز خان عبد الصمد خان په ۱۹۳۷ کال کښې دانجمن وطن په نامه یو حزب جوړ کړ چه په دغه اخبار مطبعه او حزب کښې بلوڅ پښتانه یوشان او بې له بیلتو نه په ملي فعالیت اخته وو.



ACKU

دغه وخت د ریاستی بلوچستان منورینو او خان اعظم ته دا سی اندیښنه پیښه شوه چه د برتانوی بلوچستان پوهان او وطن پرستان د خپلو خاصو مشکلاتو له کبله داغوره ګڼی چه د خپل ملی فعالیت لمن د برتانوی بلوچستان په کرښی او دایره کښی دننه غونډه وساتی او له دغه کبله داګرانه خبره ده چه یوا ځی د دغه ډول فعالیت د ټول بلوچستان د پاره کفایت وکړی ځکه نو په کار دی چه په ریاستی بلوچستان کښی په یخو بنیاد ونو یو ملی حزب جو ړشی. او بیا دغه حزب د برتانوی هند د یو لوی حزب سره تار او تړو ن ومومی او په دی لار مونږ خپل پړ او ته ځان ورسوو.

د همدغه فکر په رڼا کښی په ۱۹۳۷ کښی قلات نشنل پارتی جوړه شوه. بلوڅ مجاهد میر عبد العزیز کرد رئیس او نومیالی شاعر او مور خ میر ګل خان نصیری یی مرستیال شو .

میر فاضل خان محمد شیی ملک عبد الرحیم خواجه خیل ملک فیض محمد یوسفزی او ملک عبدا لکر یم شورش ؤ دنو کین دور مو جود ه مالک او مدیر) د دی پارټی غښتلی او ټیرمه غړی وو.

د ی ډلی په لړه موده کښی بلو څ په ځان رامات کړل او په ډیره مینه او نودبنت ورته خلکو مخه کړه خو د پرنګی وروځی ورته خړی شوی ا ود خپلو ګوډ اګیانو په لاس یی د هغی د ړنګولو او نړ ولو په چارو ګو تی پوری کړی.

همدغه وجه وه چه ډله په خپل منځ کښی اخته شوه. د هر څه نه لو مړی یی د خان اعظم سره کورو ران شو او په خان پسی یی وینا ر یښنا او مظاهر ی را واخیستی او خبر ه آخر لاس اچولو ته ووته.

خان اعظم د ډلی ځینی غړ غړمشران و نیول خو دا ولس د سختی رایاریدنی زوریی رانه وړی شو هغوی یی بیر ته خوشې او پخلا کړ ل خو ورسره یی جوخته یوه اعلامیه هم خپره کړه چه پارټی ړنګه او غیر قانو نی ده.

خان ځینی ډیر قومی مشران لکه پیر رغوڅ بخش بیز نجو میرعبدالکریم شورش سره د دی چه بیز نجو په رسمی ډول د پارټی غړی هم نه ؤ او نور د ریاست د سیمی نه و شړل بیزنجو په همدغه وخت د پارټی غړ یتوب واخست او لاتر اوسه لکه یو غړ په ډرناوی او قوت ولاړ پاتی شوید ی.

په ریاستی سیمه کښی خو پارټی ړنګه شوه مګر په برتش سیمه کښی د شاملو غړو لخوا د میر عبدا لکریم شورش په مشری بیا فعالیت شرو ع شو .

ددی فعالیت مرکز کو یته وه ا وعبد الکریم دپارټی دسکرتر جنر ا ل پهحیث کار کاوه .

اصل کښې دخان دزړه خبره داوهچه ده غو ښتل چهقلات نیشنل پارټی دخپلی پارټی پهحیث دهند د یـو یغښتلی ډلی سره وتړی خود ده اوډلی ترمنځ دخږ پږ تیا پیښیدو او د دهاوډلـــی دنښتی پهوخت له ډ لـــی سره دهند دکانګرس دمرستی لـــه کبله خان خپل تکل وګرځاوه او دهند دیوی ډلی سره دتړون خیال یـــیداسی په ځای کړچه په ۱۹۳۷ کال کښې یيله مرحوم جناح صاحبسرهلیده کاته وکړه او پهمسلم لیـــګ ډله کښې ننوت .

خان اعظم په یو وړوکی کتا بګوټیکښې چـه «قلات پاکستان که ساتم هی»نومیږی اوپه۱۹٤۸ کال کښې دکراچی نه خپور شویدی لیکلی د ی چه مالومړی دکانګرس مشرانو سرهولیدل خو د هغوی خبریز ما په زړه ونهلګید ی او چه بیاوروسته می دجناح صاحب سره ولیدل نو دهغه خبری می خوښی شوی او دهغه پهډله کښې شامل شوم.

دکلات خان په دغه کتابګو ټـــیکښې خپل ټوله قصه لیکلی ده .

دی وایی :جناح صاحب یونومیالیحقوق پوه او قانون دادن ؤ. ماله ده سره دبلو چستان په قضیه اوکیسخبری وکړی او تفصیلات می ور ته څه وښودل او څه می ورته بیا نهکړیخدای مږنږ ته بری را کړ او وخت باالکل پهحقه یياو کهداکشالهدهاګ بین المللی محکمې توړاندی شـــی نوتهبهیی وګټی خوانګریزان بهمونږاو تاسی دیته پری نږدی چه دهاګ پهعدالت کښې پری دعوه سوره کړونوښه بهداوی چهلږ ساړه وخورو او پهاحتیاطِ چلیږو او که چیـــــر یخدای مونږ تهبری راکړ او و خت راغی نو بلو چستان ته به خپـــلحق ورسیږی.

په۱۹٤٥ کښې چه دحز بو نو لهمشرانو او دریا ستو نو له والیانو سره دخبرو اترو دپاره یوه انګریزیټله ډهلی تهراغلی نوخان ا عـــظم لومړی دجناح صاحب مشوره وکړ هاو بیایی دانګریزی جرګی د غـړ و سره خبری وکړی ورپسی چه پـــه۱۹٤٦ کښې دؤکرپس مشن)وارشونو خان اعظم بیا ډهلی ته لاړ او دجنا حصاحب په مشوره یی په ابرا هیـــم اسمعیل چوندریګر باندی چه یو غټاو ویستلی مسلم لیګی او قانو نپوه ؤ دخو نورو قانون پو هانو پهملګرتیایو یاد داشت ولیکه او مشن ته یـی وسپاره چه غټی خبری يیداوی.

۱ــ د ۱۸۷٦ ع کال دتړون لهمخه کلات یو خود مختار او خپلواکریاست دی او دبر تانوی هند تش ددوستی تړون لری.



ACKU

۲ـ په هند باندی دانگریزدقبضی‌ختمیدو سره سم دقلات او برتا نیی تړون پای ته رسیږی اودبر تانیــی‌په‌ځای ناست له دغی لاری دقلات په باب کوم حقوقی مو قف نه‌شی لاس‌ته‌راوستی او دکلات واگی په خپله بی‌له خبرو اترو او تړون دخان اعظم‌لاس ته ورځی .

په ۱۹٤۷ کال کښنی دکلات خا ن‌یو وړوکی کتابگی چاپ کړ چه پــه حقیقت کښنی یی دکلات داساســـی‌قانون مسودی بڼه لرله. پـــــد ی کتابگوټی کښنی داهم‌ډیره په‌وضاحی‌نیکل شوی وه‌چه‌داټولی‌خبری دجناح صاحب له‌نظره تیری شوی اوهغو ی‌منلی او تایید کړیدی او زه د خپل اولس په نماینده گی دهغوی منته اودرناوی کوم.

په ۱۹٤۷ کښنی چه دکلات خــا ن‌اعظم دهند وایسرای لار ډ لویی‌مونټ بیټن سره دخبرو دپاره ډیلی ته لا ړ نو دهند وایسرای دده سره په‌خبرو اترو کښنی داو منله چه دانگریز دتلونه پس په‌کلات دهیڅچا لاس نــه رسیږی او ځوك چه برتانیی په ځا ی‌کښنینی په‌کلات باندی دهغه هیڅ‌کار نشته .

په همدغه کال جناح صاحب دټول‌هند مسلم لیگ دلار ښود په حیــث اعلان وکړچه ریاستونه یو مخ دخپل‌راتلونکی ژوند دلاری غوره کو لو په چاره کښنی دخپلی خو ښــــی دی‌هیڅوك دهغوی دخوښی نه‌پر تـــه‌د هغوی په چارو کښنی دگو تو و هلوحق‌نه‌لری.
دهند له‌وایسرای سره دکلات دخا ن‌په خبرو کښنی نوابزاده محمد اسلم دخان دمشاوز او نوابزاده لیاقت‌علی‌خان‌دپاکستان دنما ینده په حیث‌چه دغه وخت دپاکستان دجوړ یدو خبره‌منل شوی وه‌هم گډون لاره او پـــه نتیجه کښنی دغسی یو رسمی ا علان‌خپور شوچه کلات یو خود مختا راو خپلواك‌ریاست دی. دبر تانیی سر هددی ریاست رابطه او تاریه ځانگړو تړو نونو شوی‌ی اوکلات دهند دنورروپاستونو غوندی نه‌دی او ځه و خت چه‌پاکستان په‌کار لاس پوری کړی‌نو دخان اوپاکستان ترمنځ به‌پدی بایت دټولو خبرو د اداری دپاره جر گــی‌مرکی وشی.

دکلات خان د ۱۹٤۷ کـــال داگست په ۱۲ یعنی په‌رسمی ډول د پاکستان دجوړیدو داعلان نــه دو ه‌ورځی مخکښنی دهمدغو خبر ـــو او اعلامیو په‌رڼا کښنی‌دکلات دخپلواکی‌اعلان وکړو. ددی اعلان په‌و خت د بلوڅو نوابان میران سر داران ملکان‌او گڼ خلك حاضر وو. اعلان دکلات پـــه جامع جوما ت کښنی و شو اودخپلواکی سور اوشین بیر غ‌هم‌چه په مخکښنی یی مبارکه کلمه لیکلی‌وه‌او دبلوڅی روایت مطابق‌داد میر نصیر خان بیرغ ؤ دجومات‌له‌پاسه راځوړ ندکړی شو.



ACKU

دکلات خان پدې مناسبت یـو ډېر زوره وینا وکړه او ویې ویل :
نن دلوی څښتن په مینه او لورینه کلات خپلواك او آزاد دی. ماله ډیر
پخوا راهیسې دادری ارمانونه درلودل.
۱ـداچه کلات خپلواکی ومومي .
۲ـ داچه دقران آیتونه او حدیـث شریف پکښې جاری شي.
۳ـداچه زما قوم راغونډ شي او د ترقي په نعمتونو او خوږو موړشي .
زه ټولو بلوڅو ته خواست کوم چه دخپلې آزادی دساتلو په لاره کښې
هری سر ښیندنې ته تیار تکړه اوسيږ دخپل لوی خدای نه پرته د بـل
هیڅ قوت په وړاندې سر ټیټ نـــه کړي. اوتری ونه ویریږی.
دخان دوینا نه وروسته دښا د ی او خوښې چغې پورته شوی. دتوپونو
ډزې وشوی او بیا دکلات دبقاءدپاره دعاوی وشوی.
دکلات خان ددې اعلان نه وروسته پولې چاری اجراء کړی چه یو ه پکښې
دانتخاباتو وه . دکلات شوری د۲۵ کرسیو له جملې څخه (ړنګی شوی )
قلات نیشنل پارتی ۳۹ څوکی وګټلې.
بل خوا دکلات خان خپل صدراعظم نوابزاده محمد اسلم او خارجه وزیر
چه یو انګریز و اوډې وای فل نومیده دخبرو اترو دپاره جناح صاحب ته
ولیږل خو هغه مرحوم سره په خبر واترو کښې فل ته دامعلومه شوه چه د
جناح صاحب نظریه ګرد سره پـه څټ اوښتې دکلات دآزادی په با ب یې
خپلې ټولې ویناوی اعترافـــات ا ووعدې یو مخ هیری کړی او ټینګـه
ملایې تړلې ده چه کلات به په پاکستان پورې تړي.
جرګه ناکامه شوه او هیئت بیرته کلات ته ستون شو. لږ ی ور ځـــې
وروسته قاضي عیش دجناح صاحب دنماینده په ډول کلات ته ورغی او هغه
ته یې دخبرو اترو دپاره جناح صاحب ته دورتلو بلنه ورکړه خان کلات کراچۍ
ته ولاړ او چه جناح صاحب و لید هنو هغوی ورته وویل چه خانه ته د
پاکستان سره د قلات دالحاق کـاراول خلاص کړه بیابه نوری خبـر ی
کوو .دکلات خان خواشینی راستون شو او په خپل کاله کښیناست .
د ۱۹٤۷ د دسمبر په میاشـــت کښې دکلات شوری لومړی غونډه د
نوابزاده محمد اسلم په مشری دکلات خان لخوا پرانستل شوه.
کلات خان په خپله وینا کښې دکلات او پاکستا نې حکومت تر منځ
اختلاف ته ګوته ونیوله خوویې و یل چه زغم او صبر په کار دی او ښا یـې
چه دغه کشاله په روغه جوړه اوار هشي.
دکلات خارجه وزیر ډې وای فــل غونډې ته په پاکستان پوری دکلا ت د
عوټه کولو کشاله په مخکښې کیښوده او یو شر یګیدلې تقریریې هم ورسره



9211

ACKU

بدرکه ګړ. ډیوای فل وویل :

دایو روښانه حقیقت دی چه دکلات ریاست په نوعیت کښې دبرتانوی هند له ریاستونو سره هیڅ ور تــه ورته والی او شرلت نه لری . پدی کښې یو قوم اوسی او داریاست هیڅکلــه هم دهند دخاوری دیوی برخې پــه ډول نه دی لیدلی شوی. په ۱۹۲۵ ع کال کښی چه دکلات په نقشه کښی د برتانوی هند دیوی برخې په ډول وو خان اعظم وایسرای ته احتجاج ولیږ اوهغه ورته په جواب کــی ډاډورکړ چه کلات کاملا دیوه خانګړی حیثیت څښتن ریاست دی او دهندحکومت به د ۱۸۷٦ ع کال دتــړون پوره پوره پاملرنه کوی.

دهند دویشنی اوخپلوا کۍ په وخت کلات خان انګریزانوته داخبره وړاندی کړه خو انګریزی حکومت داسی خیال لاره چه انګریزان لاړشی او کلا ت شوری په خپله غونډه کښی دخپلواکی فیصله وکړی نوبس خبره به پــه خپله خلاصه شی. پدی کښی دخاصو اقداما تو څه ضرورت دی!

مسټر فل په ډیره درد ناکه لهجه وویل ـ خو افسوس چه تردی وخته دکلات خان ته دآزادی داعلان نه پرته نور هیڅ په لاس نه دی ورغلی.

د پاکستان حکومت وائــی چه (دبنمنانو) دپاکستان پــه ورانولــو پسی را اخیستی ده او داوخت چــه هر څوك دپاکستان خواته ددوستــی لاس را اوږد کاندی هغه به دپاکستان ربښتینی دوست وباله شی او پدی ډول پا کستان دکلات دالحاق نــه مخکښی په هیڅ خبره باندی غو ر کولو ته تیار ندی خو کلات خا ن جناح صاحب ته غوښتڼه کړ ی ویلی دی چه زمونږ دپاکستان سره ددوستی تړون ته تیار یو مګر پــه پا کستان پوری دځان غوټه کولو ته په هیڅ صورت غاړه نه ایږدو .

مسټر فل وویل : څه وخت چــه انګریزانو خپله کږه تړله نودمکران خاران لاسبیلی خانانو ته ئی خبرورکړچه ستاسو تار او رابطــه دهند او پاکستان سره وشلیده او نورتاسی په هره چاره کښی دکلات دلوی خان نه پوښتنه کوی. او بیشکه دایــو حقیقت دی چه خاران اولا سبیلــه زمونږ یعنی دکلات حق دی خو کله حق دحقدار په لاس کـــی نه وی. داوخت داسی محکمه نشته چه مونږ پکښی خپله دعوی وړاندی بوزو او که جنګ کوو نوداسی یوه تباهی به راشی چه هڅو تصور ئی نه شــی کیدی.

دمسټر فل دبیان په ختمیدو دکلات شوری دغیظ او غضب دلاسه ا ور واخیست. میرغوث بخش بیز نجو وویل مونږ دبل په لاس کښی دخپل



ACKU

سر نوشت ورکولو ته تیار نـــه یو. مونږ به نږ ښځی خپل سرونه قربان کړو خوغلامی ته به سرونه ټیټ نه کړو.

مولوی محمد عمر دیو بندی وویل و ګوری چه یو کافر ـ انګریز) مونږ ته خپلواکی راکوی خویـو مسلما ن «پاکستان» زمونږ دغلامو لو کوشش کوی.

)مولوی عرض محمد دیـوبند ی پورته شو اوویی ویل مونږ خلکو ته کمزوری ښکارو خودی ته نه ګوری چه:

ندانی که چون گربه عاجز شود بر آرد چنگال چشم پلنگـــك

دشوروی غړیو یودبل نه زیات جوش څرګند کړ او فیصله یی وکړه چه (یامرګ او یاخپلواکی).

د۱۹٤۸ع کال دجنوری په میاشت کښی دغه موضوع دکـلات شوری مشرانو جرګی ته وړاندی شـوه اودغلته هم داولسی جرګی تصویـب ټکی په ټکی تائید شو .

دکلات حکومت ددی نه وروسته یو پخوانی مشاور سلطان احمد خان تهماتی ورکړه. نوموړی په هندکښی اوسیده اوکلات خان ته یی وویل چه: زه لومړی کراچی ته ځم زه به هلته لوړه ژوره وګورم او دااندازه بـه ولګوم چه دپاکستان دحاکمانوسره خبری کیږی او که نه کیږی او بیا به تاته جواب درکړم.

سلطان احمد خان کراچی ته لاړخوځو شپی وروسته نیغ پټنی تـه ستون شو او کلات خان ته یی وولیکل چه دپاکستان حاکمان دکلات په باب پاکستان سره ددعوی دنګلی اجاز ه چاته نه ورکوی اوخپلـــی لاړی دی داروشه.

دکلات صدراعظم نوابزاده محمد اسلم یوځل بیا کراچی ته لاړ او د کلات شوری ددواړوجرګو تصویبونه ئی له ځانه سره واخیستل خوداځل بیاتش لاس راستون شو او نـــه یواځی دابلکه په کـلات بانـدی د پاکستان دیر غل او تـاړاك نښـــی نښانی هم راڅر ګندی شوی.

دکلات خا ن اعظم د ی ستو غـوییښو ډیر تنګك کړ او دی ته اړشو چه په خپل دریـځ اوپـلـټ فـا رم کښی څه بدلون راولی.

د۱۹٤۸ کال دفروری په میاشت کښی چه دپاکستان ګورنر جنر ل جناح صاحب دسیوی په میله کښی دګډون دپاره راغی نو دکلات خا ن ورسره ولیدل او په پاکستان پوری دکلات دتړلو دپاره دلاری آوارو لو په کار کښی یی تری دمرستی غوښتنه وکړه خو جناح صاحب ده ته وویل

چه حکومت یوه بله طرحه دکلا ت دالحاق دپاره تیاره کړیده ته هغه وګوره او ماته دی خپل خیالات ووایه خان اعظم چه دغه نوی طرحــه او مسوده وکتله ور معلومه شوه چـــه پاکستان په هیڅ ډول دخپلی خبری نه ګرځیدو ته تیار ندی.

کلات خان یو ځل بیا داګشاله دکلات شوری اولسی جرګی ته وړاندی کړه او اولسی جرګی په هماغه زاړه طمطراق دکامل استقلال نظریه تاید کړه خو مشرانو جرګی یونرم غوندی تصویب وکړ او وئی غوښتیل چه د پاکستان حکومت پدی خبره باندی دغور او فکر دپاره مونږ تـه دری میاشتی وخت راکړی .کلات خان دپاکستان مشرانو ته ددی پیشنهاد دښودلو دپــاره دخپـل ورور آغـاعبدالکریم احمدزی په مشری دبلوڅو سردارانو یو پنځه لس کسیز هیئت کراچی ته واستاوه خو دپاکستــان حکومت دهیت دهر کلی تــه ځـا ن راکینښ.

۱۹٤۸ ع کال دمارچ په ۸ نیټـه دپاکستان ګورنرجنرال جناح صاحب کلات خان ته یو مکتوب ولیږه اوپه دغه مکتوب کښی ئی کلات خان ته خبر ور کړی وو چه ما په پاکستان پوری دکلات دالحاق دپاره د خارنی اومراقبت نه لاس واخیســت او داخبره می نور د خارجه چارو وزارت ته وسپارله.

دغه مکتوب نه هر چا دا معنـــی واخیسته چه دپاکستان حکومت پدی مسئله کښی نوی لاری چاری غوره کړیدی خودغه لاری چـاری څه دی؟ پدی هیڅوك هم نه پوهیدل مـګر دهمدغه کال دمارچ په ۱۷ نیټه یـــو ناڅا پــه دکراچـی راډیو اعلان وکړچه دمکران خاران اولا سبیلی خانانو په پاکستان پوری دخپل رسمی الحاق اعلان وکړ.

پدی خبره دبلوڅو زړونو پرهارونه نورهم تازه شول ځکه یوخواته خو دایوه دسیسه وه چـه دپاکســتان حکومت وکړه او ددی سره جوخت یی دکلات نه یوه بله بوټی هم دمکران په نامه بیله کړه. مکران دکلات یوه اولسوالی وه. او شهزاده عبدالکریم احمدزی یی حاکم و.

دکلات خان پدی خبره ډیروارخطا شو او سره ددی چه یو پلو یی د شوری دغونډید و امر کړی وو خوشورا غونډی ته یی هم صبر ونـه شو. او په خپل سرئی دبلـوڅـو سردرانو سره دهیڅ قسم مشور ی نه پرته په پاکستان پو ری دکــلات دالحاق اعلان وکړ.

پدی خبره بلوڅ نورهم وپاریدل اودغه اعلان هغوی تر اوسه پو ر ی نه دی منلی ځکه دوی وا یی چـــه دبلوڅو دنالیکی قانون مطابق کلا ت



ښاغلی محمد ابراهیم عباسی دکلتوروزیر ښاغلی میر گـل خان نصیر دبلوچستان دپوهنی اوکلتور وزیر او دده دملګرو په ویاړ په سپوږمۍ کافی کښې ماښامی میلمستیا ورکړه .

خان ددغسی یو لوی کار دپاره په یوائی سر دفیصلی کو لو حق نلری.
دبلوچستان ای جی‌جی کلات خان ته داعلان په سبا خبر ورکړ چه حکومت دخان اعظم اعلان منظور کړی او ما ته ئی لار ښودنه کړی ده چه دخانی دچارو واگی په خپل لاس کښی واخلم.
کلات خان دچارو واگی ای،جی‌جی ته پریښودی.
ای،جی،جی یوه اعلامیه صا در ه کړه او دکلات گرد تشکیلات یی ونه ړول. قلات نیشنل پارټی او کلات شوری یی هم ړنگه کړه. لوی‌لوی مامورین یی برطرف کړل او ځینی غټ غټ بلوڅ مشران یی لکه غوث بخش بیزنجو ، مولانا محمد عمر مولانا عرض محمد، گل خان نصیر او نور بندیان کړی.

دنوابزاده محمد اسلم په ځای ظریف خان نومی یو سړی مقرر کړ. چه په دغه سیمه کښی یی دحجاج بن یوسف غوندی کانی وکړی.
بلوڅو پدی پیښو باندی اور واخیست او تر ټولو اول شهزاده عبدالکریم دکلات خان ورور او دمکران حاکم دهلکونی راهیسته یو گرم نشنلسټ راغلی دی دسلو بلو څوسر دارانو او ځوانا نو سره د افغانستان سر حد ته راغی اودسرلټ په سیمه کښی په نظر محمد خان کاریز باندی دیره شو.

د افغانستان سر حد ته دآغا عبدالکریم خان راتگ خبر په ټو له علاقه کښی دبر یښنا غوندی گړندی خپور شو او په لړو ورځو کښی پنځه زره په وسله جړ اوبلوڅ ځوانا نورته راجمع شول.
دپاکستان حکومت دی پیښی ډیرسخت وارخطا کړ او دنوکو څو کو زور یی ولگاوه شهزاده په خو ږ و او پیسو وعدو وغولوی اوکلات ته یی جار باسی.
شهزاده عبدالکریم دری میا شتی پس بیرته ستون شو او دکلات سیمی ته دننوتلو سره سم دخپلو ملگر وسره ونیول شواو سمدستی پر ی دشاهی جرگی لخوا قیدونه اوجرمونه وختل.
په شهزاده او عنقا باندی د لس کاله بند پنځه زرو کلدارو نقد جرم په لوی محمد افضل ملك محمد سعیدمیر عبدالوا حد کرد میر محمد رئیسانی صوبیدار عبد الرحمان ا و نورو باندی دمختلفو مودو دپار ه د بند او زندان حکمونه وشول.
شاهی جرگی دځلورو تورونو په بدل کښی دوی ته داسزاگانی ورکړی.
یوداچه دوی دخپلواکی اعلان کړیدی بل داچه دپاکستان مشرانو ته یی د کفر نسبت کړیدی. بل داچه مسلح قیام یی کړیدی او څلورم داچه



٥٢٩

افغانستان ته‌او ښتي دي.

کلات خان ونه نيوی شو مگرحال يي‌دبندی نه‌بدتر وو څو موده‌وروسته کراچي ته لاړ چه‌گوندی څه‌لار اوړناوړته پيداشي خو سپړ ميا شتـــي هڅوده‌ته چاسترې مشي‌قدرونه‌ويل .آخر دپاکستان حکومت پـــه جبـر ملکر وملتو ته د پا کستا ن پـــه‌هيئت کښي دغړی په‌حيث و ليږ ه. اوپدی خبره کښي چه‌دپاکستان کوم تبليغاتی مقصد وو هغه دهيڅا نه‌هم پټ نه‌وو مگر کلات خان پداسې‌حال‌کښي چه داهم ورته يوه لويه خبر ه ښکاره شوه او امريکی ته‌لاړ او کال‌پس خپل وطن‌ته‌راوگرځيد. بلو څو په‌کلات کښي خان ته سترې مشـــي‌وويل خو حکومت پری هڅو غوږ ونه گراوه او دی تش په نامه خان ا عظم‌وو.

په ١٩٥٢ کال کښي دپاکستا ن‌حکومت يوه بله لوبه وکړه او دا هم دکلات دحيثيت او قدرت کمو لـــو دپاره يوه دسيسه وه.

داسي تجويز وکړی شو چه دکلات‌مکران خاران لاسبيلی رياستو نه‌دی په‌يوه اتحاديه کښي رايو ځای کړی‌شی او څلور واړه رئيسان به ددغی اتحادي عامل هيئت وی. دکلات خان‌ددی تجويز په‌مقابل کښي هم لا س پښي ووهلی‌خوڅه‌تري‌جوړ نه‌شول‌او دغه‌پروگرام هم‌څه‌موده وچليد.

په ١٩٥٣ کال کښي دپاکستا ن‌حکومت يوه بله بابړی راوويسته ا و هغه داسي وه‌چه داصلا حاتودکميشن به‌نامه يي يو هيئت درياستو نو د وزير داکتر محمود حسين په‌مشر ی‌دغلته راوليږه چه‌د خلکو نظريـا ت واخلي.

خان عبد الصمد خان يو مفصل‌ليك‌دغه هيئت ته دبلو چستان د آيند ه په‌باب له‌زندانه وليکه چه متن يي په بيغام جديد او نورو آثارو کښي‌چاپ شويدی .خو داهم يوه چپه وه ا وتيره شوه.

د١٩٥٤ کال دفبر وری په‌مياشت‌کښي دسيوی دميلي په‌و خـــت د پاکستاني حکو مت ځيني لاس کوسي‌بلوڅ سر داران ولمسول چه حکومت ته‌يو عرض وړاندی کړی او وغواړی‌چه‌ريا ستي سيمه دی په و لا يتـي علاقه پوری وتړ له شي او دغه څلو رواړه رياستونه دی هم دستری‌محکمی دنفوذ په دايره کښي ننو يستل‌شي.

دی خبری دبلوڅو دکر کی اونفرت‌لوخړی نوری هم راولاړی کړی اوپه اخبارونو او مجلو په پلټنو اوجلسوکښي پری يوشديد او عام احتجاج او شوږ او زوږ وشو او ددی‌دسيسي دښنڅو لو زوريي ولگاوه.

درياستونو داتحادي عامل هيـئت‌پاکستان حکومت ته ددی اقدام په خلاف يو ياد داشت واستاوه چه په‌هغه کښي داسي ليکل شوی‌و ه.



ACKU

تاسو ته معلومه ده‌چه دبلو چستان گرده سیمه دتاریخ په‌اوږ دو دور و کبنبی دافغانستان جزء پاتی شویده‌او انګریزانو چه دبلوڅو سره کومی معاهدی کړیدی افغانستان په هغــو کبنبی دفریق په حیث پاتی شوید ی چه‌ددی اولس سره‌دزیات چیږ چاږ په‌وجه به دپاکستان حکومت د غسی مشکلات ځانته پیښ کړی چه بیابه‌یی‌اوارول دامکان نه‌وتلی کار و ی .

سره ددی هم مشتاق احمدګورمانی‌دپاکستان داخله وزیر دریاستی‌سیمی دړنګولو او دولایتی‌سیمی سره دیو ځای کولو اعلان وکړ خو د مسلـم لیګ پارلمانی ډلی ورسره مخا لفت‌وکړ اولدی کبله دپاکستان ګور نــر جنرال جناح صاحب ریاستی سیمی‌ته دمخصوص سیمی نوم ورکړ ا و وعده یی ورکړه چه ددی نه به یوبل‌ولایت جوړوی. خو جناح صا حـب لږه موده پس وفات شو او غلام‌محمدخان ګورنر جنرال هم څه موده پس دپاکستان دمو سساتو مجلس ړنګ‌کړ او داهر څه همدغسی پا تی‌شول.

په ۱۹۵۵ ع کال کبنبی دیو یونټ‌بله دسیسه دپاکستان دحکومت لخوا راولاړه شوه او ددی پروګرام سره‌هم‌بلوڅو پښتنو په‌شریکه مقابله وکړه او دکلات خان لخوا دیو یونټ پــه‌پروګرام باندی امضاء هم بلو څـو په هماغه مخکبنبی دلیل غیر قانو نی‌وبلله او دړنګیدو تروخته یی دیونټ مقابله وکړه.

دیویونټ په‌وجه پاکستان بلو څوته‌یوبل ضرر هم ورساوه اودلاسبیلی ریاست یی دیوی ضلعی په‌حیث په‌کراچی پوری وتاړه چه‌دادی د یـو یونټ ماتیــدو وروسته دخپل اصلی‌وجود سره یو ځای شو.

دبلوڅو دسپری ځمکی دپاســـه‌آسمان همدغسی په چپه تاویده ا و هری پیښبی دبلو څو دپاره لور راوړه‌نه ځوی چه‌له همدی کبله کلات خا ن دبلو څو ځوانانو د جذباتو او جوش‌ترتاثیر لاندی راغی او یوځل بیایی ۱۹۵۸ کال کبنبی دمیری کلاد پاسه‌دخپلواکی بیرغ ورپاوه او بشپړ ه خپلواکی یی اعلان کړه.

دبل خوادپاکستان پوځ په‌بلو څو باندی ورو ختو او غور زنګ دپار ه بیلدی اوپه څو ناست واو دیو هــن‌سره یی پری ورحمله کړه. یوناڅاپی او ځوانمرګ جنګ ونښت. نه‌سوه‌بلوڅ شاه زلمی چه سر داران هــم پکښبی وو شهیدان‌شول. دپاکستان توپونه دخان په‌کوټ باندی ونړیدل دعمرونو ستری بیبیانی سر تور ی‌شوی تر دی چه‌په خپله خان ا عـظم او دهغه میرمن اویو وړوکی ز و ی‌تپیان شول.

کلات خان‌په زخمی ځان بند ی اولاهور ته ورسول شو. مګر دپاکستان پوځ په‌بلوڅو کربلا جوړه کړه پـــه‌زرګونو ونیول شول کورونه لــو ټ



931

ACKU

مالونه تالا اوفصلونه‌په ناپالمبمو ښووسیځلی شول.

دپاکستان شلو زرو مجهـــــز وعسکرو څو کاله دغلته په عملیا تـــو بوخت تیر کړل مگر بلوڅ یو غیرتی‌اوپه آزادی مین قوم دتوری اومړانی یوداسی ریکارډ قایم کړچه مثا ل‌به‌یی ډیر لږ وایډل شی.

بلوڅ مجاهد میر نو روز خــــان‌زرکزی (چه یوځل په ۱۹۲۶ـ۱۹۲۷ کښی یی دمجاهداتو په‌سلسله کښی‌افغانستان ته‌پناه راوړی وه.) دمړ نو بلوڅو دلښکر سره دجاله وا ن‌غرونواو تنگو دروته شو او په‌پاکستانـــی پوځ او پاکستانی تاسیساتو او سرکاری دفترونوباندی یی حملی‌شروع کړی پلونه یی‌والوځول دفترو نه‌یی‌وسیځل تانه داران، تحصیلدا را ن جمادا ران ،سر ویران او منصبداران‌یی بیشماره ووژل یا وتښتول او یو داسی حال جوړ شوچه مه کـــــــوه‌پوښتنه.

دپاکستان حکومت‌یوبل چال‌وواهه میر نوروز خان ته‌یی یو مسلم لیگ لیډر واستاوه‌چه‌ستاسو دقوم‌مطالبات‌منظور دی دادی عهد دقرآن پاك په حاشیه لیکلی او امضاء کـړی د رواستول شو راځه چه‌جوړه وکړو . میرنو روز خان سره دزویه او نور وشاه زلمو مجاهدینو راکوز شول او سمدستی پاکستا نیانو گرفتار کړل‌اوپه ۱۹٦۰ کښی یی‌اوه نومیالی‌بلوڅ چه‌دنو روز زرکزی زوی میر بټی هم‌پکښی ووپه دارو ځیړول او په ځپله میر نوروز خان‌ته‌یی دعمر قید سزاورکړه‌چه هوری په‌جیل کښی پسی شهید هم شو. (دا تفصیل په آخری‌ارمان کښی ولولی.)

بلوڅ زعماء لکه نواب محمد اکبربگټی، میرغوث بیز نجو ،میر گل‌خان نصیر ،حسین عنقا ،خیر بخش مری‌عطا الله مینگل، شهزاده عبد الکریم و داسی نورپه افواهو غذابو نـــووکړول شول چه داکثرو بلو څـــو لیډرانو په وجود او ځیرو پرهر ونه‌اونښانی له ورایه ځلیږی .

پاکستانی حکومت په ۱۹۵۸ کښی‌دکلات خان‌دگرفتاری په‌وخت دخان مشهور زوی میر داود دلندن نه راوغوښت او دپلارپه ځای یی کښیناوه مگرپه قام ددی خبری هیڅ اثرونه‌شواو جنگ تر ډیرو کلونو جاری وو. همداسې کال میر غوث بخش بیزنجوپـــه پارلـمـا ن کښی وو یـــــل چه‌دری کاله زمونږ په‌سر زمین باندی‌پاکستانی الوتکوبمباری جاری‌ساتلی دی. ددی گرم اوتاوده حرکت څنگ‌ته‌په ولایتی سیمه کښی پښتنوبلوڅو سیاسی مبارزه هم ساتلی ده.

په ۱۹٥٤ کښی یعنی هغه وخت‌چه پښتانه بلوڅ دلومړی عا مـــــی گرفتاری (۱۹٤۷ )نه را خلاص شول‌خان عبد الصمد خان اڅکزی د ورور پښتون په‌نامه یوحزب جوړ کړ. یومجله یی دپښتو په‌نامه او یویی‌اخبار



ACKU



ښاغلی محمد ابراهیم عباسی دکلتوروزیر چه دښاغلی میر گل نصیر او
دده دملگرو په ویاړو ماښامی میلمستیاکړی وه دواړه وزیران دخبرو اترو په
حال کښی لیدل کیږی .

دپیغام جدید په‌نامه جاری کړ.

بل پلو شهزاده عبد الکریم احمدزی یوحزب جوړ کړ چه‌نوم یی‌استمان گل (اولس) وو.

دی دواړو ډلو ډیر منظم ډول ملی‌فعالیت وکړ او بیشانه ډیر پمپلټونه او پو ستړونه یی‌چاپ کړل.

پـــه ۱۹۵۷ کښی چه نیشنل عوامی‌پارټی جوړه شوه نوخدایی خدمتگار ورور پښتون او استمان گـــــل دپښتو نستان دعلاقی نه‌یکښی شامل شول اویو ځل بیا پښتنو بلو څـوخپلی مبارزی ته‌مشترك رنگ ور کړ اوبلوڅو په‌ډیره کامیابی او مړا نـه‌خپل کردار اداء کړچه په وروستیو انتخاباتو کښی‌یی نتیجه ډیره ځلانده‌او امید افزایه وه.

پښتنو بلوڅو خپل برا درانــــه‌تعلقات او رشتی نوری هم مضبوطی کړیدی . هیئتونه او جرگـــــی دپښتو نستان په دواړو محکومو برخو کښی ددوی ترمنځ تبادله کیږی اوپه‌ډیرو شاندارو مراسمو او مفصلـــو پروگرامونو یی هرکلی کیږی.

خان عبدالولی خان په خپل ولوله‌انگیز قیادت مو جوده ملی حرکت‌ته یو اوچت شان ښښلی دی چه نه‌یواځی‌په خپله دی دبین المللی درجی یـو پوخ آزادیخواه لیډر منل شوی بلکه‌دده تر قیادت لاند ی نیشنل عوا می پارټی کردار او نقش خورا لوی ا ومهم بین المللی شهرت گټلی دی ا و یو خواته که ددغه ملی نهضت ا وحرکت په‌برکت په‌پښتو کښی نو ی نوی ځلانده ځیری دسیاست پـــه‌آسمان کښی د روښا نه ستـــو رو غوندی راڅرگند یږی نوبل خواته په‌بلوڅو ورونو کښی دمیر عطا ا لله مینگل نواب محمد اکبر بگټی اونورشاه زلمی دملی سیاست په میدا ن کښی خپل ځرگند او غوره مقام‌نیسی‌او دخپل اوچت کردار په‌برکت هره ورځ په‌قومی میدان کښی نوی نو ی‌سوبی اوبری مومی اوزمونږ له‌خولی بی اخبیاره خیژی چه :

په میدان کښی دی داهسی فتــح تــل وی
لــکه د افتخه چه‌وشوه و ا لســـــلا م

ومن الله توفیق

**محمد گلاب ننگرهاری**

ACKU



دقبایلو مستقل رئیس ښاغلی محمد ایوب عزیز دافغانستان داستقلال دورخی په تجلیل کی
دښاغلی نواب محمد خان جوګیزی او محمد عمرخان کانسی سره په کوټه کی ددوی په کور کی لیدل کیږی.

# اوله برخه

## لومړی فصل جغرافیوی حالت !

### دجنوبی پښتونستان لنډه پيژندنه:

بلوچستان د جنوبی اسیا په زړه‌کښی ځای لری دایران ختیځی ډډی ته واقع اوپه جنوبی اسیا کښی‌لوړمقام او خاص اهمیت لری .

د پروفیسور جارج کریسی دوینا سره‌سم اسیا یوداسی براعظم دی چه څنی سیمی‌ئی ډیری سړی ځینی‌نی وچی یوه حصه ئی دزیاتو غرونو دسلسلو څخه تشکیل شوی اوبعضی برخی‌ئی ډیری حاصل خیزی اوأبادی اوځه‌ئی غیری ابادی دی‌نوپه‌دی اساس داسیالوی براعظم دهر یوانسان دزړه څپی ځانته راکش‌کوی سره ددی بیا هم اسیا دلویو براعظمونو څخه‌شمیرل کیږی‌اوزیات‌ښه‌والی اود انسانونو قدیمی تاریخ ئی په خپل لمن کښی تغښتی دی اوډیر پخوانی تمدن په‌دی سیمه کښی تیرشوی‌دی چه ددنیا په دی لوی‌براعظم کښی دپښتونستان یوه لویه برخه (جنوبی پښتونستان) موقعیت‌لری .

**خصوصیات**

دآسیا لوی براعظم یو داسی‌براعظم دی چه‌په زیاته سختی سره نی‌لس ( ۱۰ ) فیصده دکرنی وړده‌چه زیاتره برخه‌ئی د دریابونو په وسیله اوبه کیږی او ډیره لږه‌برخه‌ئی ډیره ښه حاصل خیزه ده لکه د سایبریا- عراق هندوستان- چین-پاکستان- افغانستان اودپښتونستان لږخه کمی‌زمکی‌نو دهمدی‌سببه‌زیاتره‌نفوس‌نی په هغو سیمو کښی‌میشته دی چیرته چه دریابونه اواو بــه‌لــری .

باقی مانده برخی ئیی وچــی اوزیاتره غرونه‌دی چه‌په‌دی برخوکښی تنگ او راتگ‌هم په‌ډیره سختی‌سره‌کیږی تجارتـــی چاری دهـــوا بحـــر اوځمکی له لیاری کیږی چــه دننی‌ساینسی علومو برکت دی.

دا سیا د سیاسی ویــش څــخه ځرگندیږی‌چه‌په نخه‌ړول‌داطرافوخلک دیوبل نه وروسته اوپسمانده پاتی‌شویدی سره له‌دی چــه پــه یــوه جغرافیایی ساحه کښی ژوند کوی‌اووجه اوعلت ئی تنها دغه‌دی چه‌په دی سیمه کښی بین‌المللی دریابونه‌خوړو نه وادیگانی او میدانی ځمکی نشته اود همدی وضعیت په اساس دنظم اونسق‌دپاره زیات‌مشکلات‌منځ

ته‌راخې اوپه زيات مشکل‌سره خلك د کرنې حاصلات لاس ته راوړی اود اوبو دمشکل سره هميشه په‌مبارزه‌ارکوشش کښې ليګيادی .

د جنوبي پښتو نستان دځمکې‌اوسيد ونکو خپل قد يمې حقيقي خصو صيات تراوسه پورې ساتلي‌دي .

دجنوبي پښتو نستان زياتره‌غرونه وچ‌دی اود جيالوجيکي نقطې نظره دبلوچستان سيمه ډيره‌پيچيده‌اوطبيعي جوړښت لری .

دبلوچستان غرونه په کانونو ډك‌اومختلفه آب او هوالري چه همدغه دهوا طبيعي اختلاف ددی سبب‌شويدی چه د مختلفو حيواناتو او مختلفو بوټو او حبوباتو دودی‌لپاره‌ئی‌آب اوهوا مساعده شويده .

دبلوچستان ټوله ساحه (۲۰۱۰۰۰)کيلو متر مربع کيږی اود جنوبي پښتو نستان دترقي اوپرمختګ په‌لاره کښې غير عادلانه رفتار شوی دی دغه‌يوه داسې منطقه اوسيمه‌ده‌چه زياتره خلك ئی دزراعتي موادو په‌کمی اود صحي اوبو دنه لرلو په‌ړجه دسخت مشکل سره لاس او ګريوان دی دانګريزانوپه استعماری‌دورو کښې دبلوچستان خاوره د خپلې ابائي ځمکې (افغانستان) څخه‌جلااوپه لوی هندوستان پوری‌وتړله شوه. انګريزانو دغه کار ددی دپاره‌وکړچه‌بلو چستان دعسکری سوقياتو له‌نظره يوه ستراتژيکي سيمه‌ده اودهمدی مرام دپاره ورنه انګريزانو د خپل استعماری دورو په‌وختو کښې‌ګټه اخيستې‌ده .

سر بيره پردی مهم تجارتی‌مرکزونه يی هم درلودل لکه‌کويټه کلات ـ ګندارا ـ پنج ګړ اوځينې‌نورتجارتي مرکزو نه چه‌په دی ساحه کی يی موقعيت درلود .

يعنې دبلوچستان خاوره دلوی‌هندترمنځ يوه‌لويه‌شاهراه ګرځيدلې وه مګر بياهم سره لدی دغه سيمه‌ډيره وروسته‌پاتی شويده. خصوصا دابياری په‌برخه کښې .

دغې سيمې په‌پخوا زمانو کښې دآبياری له حيثه شهرت درلود ځکه که دبلو چستان کاريزونه‌ويالې اوژور کوهی چه اوس خراب شوی دی . په پخوا زمانو کښې‌مکران دختيځ اولويديځ ترمنځه يو مهم تجارتي مرکز ګرځيدلی‌وو اوپه کلات کښې‌هم زياتره تجارتي‌مرکزونه خراب او له منځه تللی چه ډيره‌روښانه ماضی ئی درلوده . دځينو بڼهانو دوينا سره سم دجنوبي‌پښتو نستان وادی په کلتوری او تمدنی لحاظ سره افغانی تمدن سره‌زيات شباهت لری او دمغلوپه زمانه کښې جنوبي پښتو نستان د زيات‌شهرت مقام درلود .

جنوبی پښتونستان (بلوچستان) اوس هم‌دایران ـ افغانستان اوسیند ډادیګانو ترمنځ‌دیوی‌شاهراه حیثیت‌لری اوددی‌سیمی اوسیدونکی‌همیشه دیوځای نه بل‌ځای ته دمهاجر په‌طورپاتی شوی‌دی‌اونن هم‌دبلوچستان نیمائی او سیدونکی د مهاجر ینوکوچیانو اوپونده په ډول ژوند کوی .

جنو بی پښتونستان دسیند دشادابه وادی اودایران دوچو ډاګونو په وجه دنړی دزیاتو مها جمینو اوفاتحینو لخوا جبران ناپذیر ضررونه اوخرابی لیدلی دی چه‌لدی تهاجم‌کوونکو څخه‌ئی تنها یوڅه کم‌تعداد ئی‌په جنوبی پښتونستان کښی‌پاتی‌شویدی دجنوبی پښتونستان د (۱٤٥٤١٦٧) تنو نفو سوسره په جنوبی پښتونستان کښی تنها یولوی‌ښار دکویټی په نوم‌شته‌دټول ولایت‌دکلیو شمیرئی (۱٥۰۰) کیږی اوس‌په کویټه‌کښی (۸۹۲ر۸۳)تنه استوګنه لری زیاتره‌ئی پښتانه اویوڅه اندازه بلوڅ هم میشته دی‌سره لدی چه د کویټی لس فیصده (۱۰٪)فیصده‌ځمکه زراعتی‌ده‌مګرتنهاد(۱فیصد» ځمکه بی‌زراعتی‌ګرځیدلی ده اودغه ډیره دحیرانتیا خبره ده.څنګه چه دبلوچستان آب اوهواسره ډیر توپیر لری اوله‌دی وجه نه‌ئی دبلوچستان په خاوره ډیرتاثیر کړی دی .

دلته دغه پوښتنه پیداکیږی چه‌آیادجنوبی پښتونستان دتیری‌شوی دوری زمانه به‌بیا راشی اوکه‌نه ؟ددی سوال ځواب داسی ورکولی‌شو چه دغه خبره ناممکن نه‌ده اودبلوچستان زیاتره پرمختګ داوبوپه وجود پوری‌تړلی که‌چیری اوبه پیداشی نوجنوبی پښتونستان یوه ډیره ښه‌اینده لری‌څه اوبه چه په جنوبی‌پښتونستان کښی‌موجودی هغه‌دنمك جهیل ته توئیږی چه دښو ځمکوڅخه دغه اوبه تریږی اوبه په جنوبی پښتو ښستان کښی هرڅه کیدای شی. دجنوبی پښتو نستان غر و نه ا و, خاو ر ه‌د وابښوله نقطی نظره ډیره آباده او زیات شمیر خلك ئی دوابښو څخه‌ګټه اخلی که‌په جنوبی پښتونستان کښی داویو مشکل حل شی نوجنوبی پښتونستان‌دځمکی دزیاتوالی په‌وجه روښانه اینده لری .

دمثال په‌توګه‌دلته ځومشکله چه‌دهغوبه‌وجه جنوبی پښتو نستان یوه شادابه اود نفوسو ډکه سیمه‌ګرځیدلی شی په لاندی توګه ئی خلاصه کوو.

۱ـ په جنوبی پښتونستان کښی‌نفوس ډیرکم اود ځمکی ساحه ئی زیاته که‌داوبو مشکل حل شی‌یوزیا ت شمیر خلك په جنوبی

پښتونستان کی آباد اومیشته کیدای شی .

۲ـ جنوبی پښتونستان دوادیګانو او درود ونو له حیثه ډیر غنی اوکه په نوی فنی ساینسی طریقی سره ددی ځمکی نه ګټه واخیستلی شی دبلو چستان جګ غرونه دزیاتی واوری دلرلو په وجه کافی اندا زه اوبه لری که په عصری توګه ورڅخه کار واخیستل شی دجنوبی پښتونستان بوالك جریبه ځمکه تر اوبو لاندی را ځی.

۳ ـ دجنوبی پښتونستان ځمکه دمیوی دپیداوار دپاره ښه آب او هوا لری که دبلو چستان ځمکو ته اوبه ورسول شی ډیر ښکلی او میوه رونکی باغونه منځ ته راتلی شی چه په آینده کښی به دمیوو دعصری کار خانودلرلو په وجه به ئې خارج ته هم تولیدات صادر کیدای شی .

٤ـ دجنوبی پښتو نستان هغه برخی چه ونی نه لری یو ډول واښه او ګیاوی شنی کیږی چه دپسونو اورمو د ساتنو دپاره زیات موثریت لری که ښه پاملرنه ورته وشی اوپه عصری ډول ورو زل شی دجنوبی پښتونستان دحیوا ناتو ډ ېرشمیر کښی به په کافی اندازه سره زیاتوالی راشی چه هم به ئې دغوښو ـ شیدومستو ـ غوړو څخه استفاده وشی او هم به ئې دوړیو او پوستکو اونوروموادو څخه ګټه واخیستلی شی چه دجنوبی پښتو نستان داقتصادی بنی په تقویه کولو کښی به مهم رول ولری اویوه زیاته اندازه خارجی اسعار له دی لاری نه لاس ته راتلی شی .

۵ـ جنوبی پښتونستان دطبیعی کانونو له نقطی نظره ډیر غنی دی که په کارواچولی شی دروښانه آیندی امید ورڅخه کیدای شی .

٦ـ دجنوبی پښتو نستان اوږ دبحری ساحل دماهی ګیری له حیثه ډیر زیات مساعد دی چه لدی تیاری هم یوه اندازه اسعار لاس ته راتلای شی .

که دمکران او لاسبیلی دسیمو دخښلو د اویو ښه انتظام وشی د دی زیات امکان شته چه خپل پخوا نی شهرت بیرته لاس ته راوړی .

۷ ـ په قدیمی زمانو کښی یونانیانو په خپلو کتا بونو کښی ددی سیمی خلك (اختیو پاګاټ ) په نوم یاد کړی دی .

۸ـ جنوبی پښتو نستان ښکلی تور یستیکی ځایونه لری که چیری دتګ راتګ لپاره دمواصلاتو چارومشکل حل شی زیات سیا حین به ځانته را جذب کاندی .دجنو بی پښتو نستان دغه ټول مشکلات په اوبو پوری اړه لری او دغه ټول مسایل دجیالو جیکی نقطی نظر ه



دجنوبی پښتو نستان دبلوڅــوقبیلی خلك یو قرن پخوا



دجنوبي پښتو نستان دبلو څــوقبيلی خلك په اوس وخت کی ..

حل کیدای شی .

**فزیکی جوړښت :**

بلوچستان د ۲٤ درجو او٥٤ـدقیقو او ۳۲ در جواو څلور دقیقـو په عرض البلد اوړطول‌البلد تخمیناد۲۲ درجواو ۷۱ درجو په مینځ کـی واقع دی اوټـول مسا حت ئـی ـ ۲۰۱۰۰۳) کیلو متره مربع کیږی د بلوچستان پراخوالی ۱۳٤۰۰۲ کیلو متره مربع او دنفو سو شمیر ئی د۱۹٥۱ عیسوی کال داحصائیی‌له‌مخی (۸٥۸۰۰۰) تنه حساب‌شویدی که‌چیری دکیلـو متر پـــه اساس دبلوچستان نفوس وویشل شی پـه هرکیلو مترکښی شپږ کسان میشته‌کیدای شی د۱۹٦۱ عیسوی کال د احصا ئیی له مخی دبلـو چستـان‌نفـوس (۱۱٥٤۱٦۷ )تـنـه ښودل شویدی چه (٦۰۲٥۸۸) تنه ئـــی‌دبلوچستان په ریا ستو نو کښی‌او باقیمانده نور ئی دجنوبی پښتونستان‌په‌نورو برخو کښی میشته اوپه هر کیلو متر مربع کښی یی‌د۸ر٦نه‌تر۸ر۱۱ تنو پوری استوګنه‌کولی‌شی.

جنوبی پښتونستان (بلوچستان)په‌شمال او لویدیځ کښی (٥۲۰)میله دایران سره او۷۲۳ میله دافغانستان‌سره شریك‌سرحد لری

**څلور خواوی یی :**

دجنوبی پښتونستان (بلوچستان)شمال ته افغانستان جنوب ته‌دعربو بحیره ختیځ ته‌ئی دپنجاب سینداوپښتو نستان نور ی سیمی «منځنی پښتونستان » او لویدیځ‌ته یی‌ایران‌پروت دی .

دبلوچستان میدانی سیمی اودایران‌میدانی سیمی دفزیکی او جغرافیوی جوړښت‌له رویه یوډول‌خاصیت‌لری.بلوچستان کښی یوه سلسله غرونه هم شته چـه دبحر دمـځ څخـه(۱۲۰۰۰) فوټه لوړ والی لـری.

دمکران دغرونو لوړ والی(۷۰۰۰)فټه دی . په مکران کښی دغرونو دسلسلو تر منځ مځینی وادیګـانی‌منځ ته راغلی دی چه سور ئی ډیر کـــم دی .

دبلو چستان غرونه دشمال تـه‌دجنوب خواته غزیدلـی دی چـه‌پـه شمال لویدیځ کښی دمثلث پــــه‌توګه دبولان دره اودکچی سیمـی ئی منځ ته راوړی دی دبلی خوا نه‌دشمال ختیځ او جنوب لویدیـــځ او ختیځ تر منځ چه دکلات دریاست‌نه‌چار چا پیره شویدی چه دخپـل طبیعی جوړښت په لحاظ دهمالیـی‌څوکی دبحر داوبو دوچیدلو په سبب په پخوانو پیړیو کښی منځ ته‌راغلی‌لیکن ځینی ځایونه ئی په دی وجه‌چه دریاب تری تیریږی د خا ورو اوختولاتدی پټ‌شوی دی او همد غه وجـه

ده چه دبلو چستان ځینی سیمی اوڅه ځایونه دخوړونو په ذریعه سره اوبه کیږی .

**جیالوژیکی جوړښت :**

په جیالوژیکی طور مونږ دا ویلی‌شوچه بلوچستان په لوید یځه‌همالیه کښی یوداسی خاصیت لرونکی دی‌چه دزمانی پــه تیر یدو سره ئــی ډېرو خاورو اونورو شیانو ځـــا ن‌ته یوخاص شکل اختیار کړیــدی‌چه په حقیقت کښی دبلو چستان خاوره‌دایران دجنوب ختیځو میدانو سره شباهت لری نو په دغه حصه کښی‌ئی جیالوژیکی او فزیکی جوړ ښــت تقریبا سره یوشان دی دجیالوژیکی‌او جغرافیائی څیړ نوڅخه دامعلومیږی چه بلوچستان په دوو حیصو باندی‌تقسیم او ویشل کیږی یوه ئی ډیره لوړه برخه ده اوبله ئی په ختیځ کی‌ښکته برخ ه‌ده دبلو چستان ختیځی برخی اوسیمی دبحردمخ ن ه‌جگــی‌دی چه دغه سیمه دسلیمان دتحـت نه‌شروع کیږی او ترمکران پوری‌ـرسیږی دبلو چستان په دی حصه کښی ډېری کاربو نیك ډوله اوډیری‌سختی دی‌نسبت دجنوبی پښتونستان نورو سیمو ته نو ځکه او بـــه‌جذب‌کوی او ځینی وخت دبارا نونو پــه مو سمو نو کښی سخت سیلابو نه‌راځی چه‌دهغو په‌راتلو سره ځینـــو ځمکو ته تاوان رسیږی .

دغرونو په‌لمنو کښی په زرهاووفوټو ښکته ځینی کانونه‌مو نـــدل کیږی که ددی برخی جــیا لوژیکی‌خاصیت مونږمطالعه‌کړونو معلومیږی چه د کچی په مقام کښی دځمکی‌قشرسخت نــه‌دی لیکن د غــرونو هغه سلسلی چه دسیند وادی تری منځ‌ته راغلی ده دغرو نود سرو څخــه خاوری اوډېری سیلابونه دځان‌سره‌راوړی او دسیند شا دایه وادی ئی منځ ته راوړی د ه .ددی نه وړاندی‌خواته دمری بګتی اوپه لور لائی کی هم دجنوبی پښتو نستان خاوره اودځمکی نور مرکبات ځانته یوبل ډول خاصیت کسب کړیدی .

دبلو چستان لوید یځه برخه ـتقریبا غریزه ده اوپه دی غرونو کی اوبه کمی اوپه وښوپټ دی چه‌همدغه‌سیمه دبلوچستان‌وچه‌سیمه تشکیلوی چه دمکران ترسا حی پوری رسیږی‌او پ ه‌دی ډول دهامون‌دمنځ نه تیریږی دمکران لو یه ساحه‌منځ ته راوړی‌چه‌په‌جنوبی ساحلی بر خو کښی هــم دهغوی اثار لیدل‌کیږی تردی اندازی‌پوری چه‌داوز مورا، پسنی، اوگوادر کښی هم دهغوی اثار شته پــه دی‌تلاقو کښی خوړونه ندی تیرشوی ځکه داسیمه زیات او چتوالی نلری اودغی‌سیمی‌دډنډ شکل‌اختیار کړیدی دغــه سیـــمه ز یــاتـــی او بـــه‌لــری او هـــم د اور غــور ځونکی

غرونه لری دمکران ساحلی سیمی‌دجنوبی پښتو نستان دنورو سیمو سره ډیر توپیر لری‌ی اووجه ئـــی صرف آب او هوا ده اوساحلی‌برخی ئی ځای په ځای بندونه‌لری .

**فزیکی ویشں**

مونږ وړاندی‌وویل‌چه‌په بلوچستان کنبنی دمختلفو فزیکی خواصو پـه سبب مختلف قسم‌فیزیکی ساختمانونه منځ ته‌راغلی‌دی‌دبلو چستان‌دبحر دمخ ځخه (۱۲۰۰۰) فوټه لوړوالی‌اوزیات کانونه لری خوړونه اوتویونه دسرچینی ځخه چـه شروع کیږی‌زیاتی اوبه لری مگر په‌پای کنبنی یی اوبه په شگو کنبنی ورکیږی اوځه‌اوبه چه پاتی شی هغه سیند ته او بالاخره بحرته تویږی. چه‌بلوچستان‌دخپل دغه فزیکی حالت په وجه په څو برخو ویشل شویدی .

بلوچستان په‌عمومی صورت سره‌په ۲ لویو برخواو اوو کوچنیوبرخو ویشل کیږی د بلوچستان میدانـی‌سیمی دشمال نه جنوب ته په اوو برخو ویشل کیږی .

۱ــ هغه برخی‌چه دبحر له‌مخ ځخه(۱۱۰۰۰) فوټه جگوالی لری دغـه سیمه دکانونو له‌حیثه ډیره غنی ده‌چه (کرومایټ) اود ډبرو سکاره‌فلز منگنیز اوسپنه اوځـینی نـورشیان‌پکښی پیدا کیږی دباران او واوری اندازه‌ئی (۲۰) انچو ته رسیږی اودغه سیمه بیاپه ځلورو برخو ویشل کیږی

**دپراخوالی او آب وهوا په‌لحاظ :**

۱ــ شمال ختیځه اوچته سیمه .

۲ــ دکلات میدانی سیمه .

۳ــ دکچی لاندینی سیمه .

٤ــ جنوبی ساحلی سیمه .

٥ــ ښکتنی سیمه .

ددی برخی دځمکی قشر ځـوان‌معلومیږی اود دی امکان شته چه په مرور دزمانی سره‌په طبیعی ډول په‌یوه میدانی سیمه او برخه با ندی تبدیل شی چه‌دغه سیمه بیا په ځولاندی برخو ویشل کیږی :

۱ــ دچاغی سیمه .

۲ــ هامون سیمه .

۳ــ دمکران سیمه .



ACKU


دادی مونږ دپورتنی سیمو څخه‌مره یوه جلاجلا بیانوو .

**۱ـ شمال ختیځه لوړه سیمه :**

دغه سیمه د ستراتیژیکی نقطی‌نظره ډیر اهمیت لری دجنوبی پښتونستان چه د سیند وادی‌ئی په ختیځه ډډه کښی واقع ده .

په لویدیځ کښی ئی هامون‌پروت‌اوهم‌دجنوبی پښتونستان مهم‌غرونه دلته موقعیت لری چه ددی سیمی دغرو سلسله اود هغی اوچتوالی (۵۰۰۰) فوټونه تر (۱۱۰۰۰) فوټوپوری دی جګه اولوړه څوکه ئی د سلیمان دتخت په نامه یادیږی چه۱۱۰۵۸ فوټه لوړ والی لری او مشهوری سیمی ئی کویټه اوپشین‌چه ښه شنه سرسبزی ونی اوزیاتی اوبه لری چه‌ددی سیمی زیاتره اوبه‌کاریزی دی دبولان دری په جنوب کښی دغرونو سلسلی دمثلث شکل‌اختیار کړیدی اود مری بګتی سیمه جلاکوی ددی برخی غرونه ئی غیرموزون شکل لری چار چاپیره‌غرونه اود ځمکی دښوئیدو امکان ئی په‌هروخت کښی موجود دی په‌ددی برخه کښی همیشه باد چلیږی او خاوری‌دوړی دیوه ځای نه بل‌ځای ته وړی راوړی چه دغرونو په دی سلسلوکښی ځینی ئی بی ونو اووچ دی مګر بیاهم دغه ځمکی دزراعت وړدی‌اوپه‌دی وچو وادیو کښی لکه ژوب لورلائی اوانام بار کښی دکرنی‌ښی‌ځمکی شته اود اوبو سطحه‌ئی ډیره ښکته نه‌ده نوپه‌دی اساس ښه‌واښه‌شنه‌کیږی. دغه‌سیمه زیاتی‌چینی‌لری اوهم ځنی رودونه دسلیمان غره او تاکړو دسیمی‌لخواراځی اوهم‌له‌نورو سیمو اوغرو لکه سکو ، دامن‌غـر، کسی‌غر اوتورغر چه بعضی‌وختونه ددی غرونو څخه لوی‌لوی سیلابونه‌راوزی چه مشهوررودونه‌ئی دانام بار اوژوب رودونــه دی ډیـر ژور تیرشوی چه ځمکو ته‌ئی ښی اوبه ندی ورکړی خصوصا دلور لائی په سیمه‌کښی. مګر هغه رود چه‌ښه ګټه‌تری اخیستل کیږی دانام بـار رود دی‌چه نهرونه تری پورته شوی دی .

دژوب پــه سیمه کښی د کانالونواندازه‌د (٤٣٧) نه زیاته‌ده اوژمی په دغه سیمه‌کښی‌د ۱۲ نه‌تر ۲۵ انچوپوری واوره اوری اوپه ځینو حصو کښی ئی داوربښت اندازه‌د ۲۰ نـه‌تـر ۲۵ انچو پوری وی خصو صا دشین غرپه علاقه‌کی مونسونی هوازیات تاثیر لری چه دروم دبحری‌نه راځـی، د سلیمان دغـره سیمی دآسیا په براعظم کښی زیات اهمیت لری په تیرو زمانو کښی هم‌په دغه‌سیمه کښی زیات شمیر کاریزو نه



دجنوبي پښتو نستان والي‌دايالتي‌اسمبلي منشي‌ته د قسمور کولو په
وخت کي .



ښاغلي مولانا صالح محمدداو قافو
او آبکا ري‌وزير .



ښاغلي سردار عبدالرحمن‌دکرني
او آبياري‌وزير .

اوبندونه موجودوو اود اوربنت پــه‌وجه داسیمه د بلوچستان د خاصو سیمونه شمیرل کیده اویوه انددزه‌کاریزونه چینی او سندونه لری چه دشمهوزی سیمی ئی پــه لاندی ډول‌گرانو لوستونکو ته وړاندی‌کیږی .

۱ـ د پشین سیمه: دغــه سیمه‌نسبت ونورو سیمو ته مخکښی‌تللی سیمه اوتر کویټی پوری رسیږی .
۲ـ دژوب سیمه: چه ترټولو لویه‌سیمه ده .
۳ـ اشامباالورلائی: ددغی‌سیمی‌پراخوالی اوپلنوالی نسبت ونوروته زیات دی. او هره یوه‌لاندی په جلاجلا ډول سره بیانوو .

**۱ـ دپشین سیمه :**

دا سیمه دکویټی اوکاکړودسیمی‌ځخه عبارت ده چه لویدیځه خوایی‌د کاکړو اونورو برخو ته رسی .

دغه سیمه دکویټی اوکاکړو ډیره‌تنګه وادی ده خوبیا هم ډیری اوبه لری. چه‌دبحر له مخی ځخه صرف(۳۰) فوټه اوچتوالی لــری لیکن د حاران دخان دسیمی نه ښکته هیڅ‌وخت اوبه نه‌دی تیری شوی چه د کویټی اوکاکړو یوه برخــه پکښی‌شامله ده .

دغه سیمه یوځه‌تعداد نهرونه هم‌لری‌چه دکویټی‌سیمه دهمدی‌نهرونو په‌وسیله خړو بیږی .

**۲ـ دژوب سیمه :**

دژوب سیند یواوږد رود دی‌چه‌د(۲٤۰) میلو پــه اوږد والــی کښی بهیږی‌اودګومل‌په اوږدوکی‌په‌پنجاب کښی‌دسیند درياب‌سره یوځای‌کیږی او تقریبا (٦۰۰۰) کیلو متره ساحی‌ته‌یی‌اوبه ورکړی‌دی دغرونو سلسلی ګرچه شاړی ښکاری خود غرونو په‌مینځ کښی پراخــه میدانونــه شتهٔ چه‌په‌ځینو میدانو نو کښی ښه‌واښه‌ښنه کیږی چه دحیواناتو دپاره ډیر ګټــور دی اوبــه ئــی ژوری نـــه‌دی دغه برخه دهند وباغ ځـــخه دسیف‌اله تــرکلی پــوری ۳۰ میله‌فاصله لری . په دی برخه کښی د اوبــو سطحه د (۳۰۰) نـــه تـــر(٤۰۰) فوټو پوری رسی . آخــرپه شمال کښی ګومل ته دغه سیمـــه‌رسیږی ـچوخان ـکندل سالنــزال اومندا علاقی دچینو داوبو په‌واسطه‌اوبه کیږی دکندز ـاو والی مرغــا دزه په شمال کښی دژوب دری‌سره‌یوځای اوبیا افغانستان په خــاوری پوری ملحق کیږی تر ګومل پــوری‌رسی دلته داوبو وضعیت چنـــدان برابر نه‌دی دسا واز په علاقو کښی‌دبابر غرونه ئی په بله ډډه پراتـــه

دی‌چه‌یوځه‌اندازه اوبه‌پکښې‌پیداکیږی‌مخ په‌لویدیځ ئی اوبه جاری اود-
کیپ په‌شمال کښې ځمکو ته اوبـه‌ورکوی .

دلته نور خوړونه هم شته چه داوبه خوز لپاره مساعد دی او دپسر
لی په مو سم کښې ټوله سیمه شنه‌بنه بوټی او وابنه کیږی چه داوړی
په‌موسم کښې باران پری اوری کـه‌اوبو ته ئی بندونه جوړ شی نوښــه
ګټه تری اخیستل کیږی یوه اندازه‌بندونه دړنه وپه‌شکل موجود اوګرد
چاپیره تری ونی ولاړی دی د ژوب‌وادی په ۳ برخو ویشله کیږی‌اولنی
برخه ٤٥ میله چه داقسمت ئی‌دکال‌په اکثرو وختو کښې‌وچ وی چه وچ
خوړ ورته ویل کیږی تقریبا شـاړه‌علاقه ده .دوهمه برخه ئی تقر یبـا
۷۵ میله کیږی زیات خوړونه لری‌او‌به‌ئی دځمکی دسطحی نه‌د (۲۰) نه
تر (۳۰) فوټو پوری ښکته دی .

دریم قسمت یی د ګول حیدځی‌نه ترګومل پوری دی چه تقر یبا (۱۲۰)
میله اوږدوالی لری

دلورلائی سیمه زیات نهرو نه لری‌چه نوم‌ئی لورلائی اواتام بار دی.
دغه سیمه ددوو موازی‌غرونو ترمنځ‌موقعیت لری چه اخیری برخه ئــی
ډیره پراخه‌کیږی. رودنه نه‌لری‌تنها‌په خوځایوتو کښې داوبوچینی پیدا
کیږی اودچینو اوبه دړندونو په‌دول‌سره یوځای کیږی اود اتام بار په
اخری برخه کښې دځمکی دساحـی‌سور زیاتیږی چـه دبندونو دتړلو
دپاره دغه سیمه ډیره برابره‌ده .

په جنوبی برخه کښې ئی ځمکه‌داوبو دسطحی څخه ډیره جګه چه
یوی خواته‌ئی دلورلائی سیمه اوبلی‌خواته ئی‌اتام بارسیمه پراته‌ده چه
محکوم مرکزی پښتونستان سره هم‌سرحده دی .

**دکلات میدانی سیمه :**

ددی سیمی یوی خواته د بـولان‌دره‌ده چه دلاس بیلی اوکلات خواته
پرتی‌دی چه یوه غریـزه سیمه دهـغه سیمه د بحرنه (۵۰۰۰ نه‌تـر
۷۰۰۰) فوټوپوری لوړ والی لری‌او جنوب‌ختیځه‌سیمه‌ئی‌وچه‌ده‌په‌لویدیځه
مرکزی برخه‌کښې پراخی ځمکی‌لری په‌دغه سیمه کښې زیات سیلابونه
راځی مګر اوبه‌ئی شګی جذب کوی.په‌دی سیمه کښې باران کم‌اوریږی
اوزلزلی ډیری پیښیږی او زیـات‌کانونه لری. دغـه سیمه دلرغونــی
اثارو په‌لحاظ ډیره غنی سیمه‌ده‌سره‌اب اوهوا لری یعنی تقریبا آب‌اوهوا



ACKU

د روم د بحیرې د آب او هـوا ســره برابر کیدلای شي چه په ځینو برخو کښې د باران اندازه پــه کال کښې اوه انچه کیږي. د پسرلي په باراني موسم کښې چینې زیـاتې او حتـی ار به ئې دومره زیاتیږي چه په اخـر کښې رود تري جوړیږي، د دغې سیمې په مرکزي برخو کښې داویه خـور لپاره سیلابونو ته بندرونه جوړیږي او بیا ځمکې پرې اوبه کـوي. مګر اوبه ئې ډیر ژر جذب کیږي د دې علاقې پورتني برخه تقریبا تـنګه لیکن د وادې مرکزي حصه پراخه ده .

هر کلي ئې کوچني نهر لــري د خازي او کندزي منځني برخه د بندونو د جوړولو لپاره مساعده ده دغه سیمه تقریبا (۲۵۰) میله اوږدوالی او یو نیم میل سورلري داوبو سطحې نه (٤۰) فوټه جګوالی لري .

[illegible]

جنوبي ساحلي سیمې د مستطیل شکل ځانته غوره کړیدې چه د پورالي وخارا دې وادیګانې تري جوړیږي دغې سیمې پــه ختیځ کښې چــه د پورالي دوادي سارنده جهیل او ماني هارهم دلته پراته دي د پوزالي میدان تقریبا حاصلخیز او د جنوب ختیــځ خواته پروت دی. چارچاپیره تــري غرونه تاوشوي او ځــای پــه ځای بندونه لیدل کیږي لیکن د دې برخي آب او هــوا د کـلات سره یوشــان نه ده مګر د مون سون د هوا تاثیر په وجه چه د لویدیځ نه راځي یعني د روم د بحرې آب او هوا دلته زیات تاثیر ري. د بحر د نږدیوالي په نسبت د باران اندازه هم دلته فرق پیدا کوي پورالي چه د جاله وان د باندې علاقې نه شروع کیږي اګرچه کوهستاني علاقه ده لیکن بیاهم دغه سیمه ښه او د کرني د پاره مساعده ده دریابونه ئې لکه د بل پات او سنځاوي د سیموپــه څیر چه باراني فصلونو کښې طغیانې کیږي اودا اوبه تــر جنوب پورې رسي. د لاسبیلې خواته بهیږي دلته تري نهرونه ایستل شوي دي داوړي په موسم کښې دلته اوبــه لمیږي لیکن د دې سیمې لویــدیځه ساحه پــه نهرو نــو باندې اوبــه کیږي .

**د بولان او کچي سیمه :**

د ی سیمې هم ځــا ن ته یو میداني شکل غوره کړی دی چــه کچي ورته ویل کیږي په تیروزمانو کښې ګنداوا د دې سیمې مرکز بلل کیده. دا سیمه د سند پــه څـیر آب هوا لري چه اوړي اوژمي ئې ډیــر سختوي پــه نورو موسمونو بــادنه وي مـګر اوړی خاوري اوشګې د

خان‌سره زاوړی او پــه اوړی کښې دلته باران کم‌اوتقریبا دنــه کیدلو برابردی چه‌په‌دی وجه اکثره ځایونه‌ئی‌وچ دی. دخوړونو اوبه‌ئی په‌شګو کښې جذب کیږی اودغه برخه زیات‌کانونه لری ددی سیمی یوی خواته وولان اوبلی خوا ته نــاوی مشهورخوړونه دی .

## دچاغی دغرونو سلسله


دچاغی‌نوم‌دچاه‌نه اخیستل‌شویدی‌چه‌په پښتو کښې ورته کوهی ویل کیږی په‌دی تړوله سیمه کښې داوبودریعه کوهی اوڅاګانی دی دا یــوه کوهستانی سیمه‌ده چه مرکز کښی‌دچاغی سیمه (۸۰٦۱) فوټه لوړوالی لری دغه‌سیمه ځینی اتــش فشانی‌غرونه هــم لــری د سلطان څوکه (۷٦٥۱) فوټه جګه‌ده داتړوله علاقــه(۲٥۰) میله‌ده چه ٥۰ میله‌په‌لویدیځ کښې دروم بحیری دهوا مخی تــه‌پرته‌ده ژمی اوربښت لری ددی‌سیمی کوهستانی علاقی په شمال کښې دبحر دمخ‌نه (۸۰۰۰) فوټه لوړوالی لری چه دچاغی کوهستانی علاقه هم‌پکښې شامله‌ده دوهم دطلاس‌نشیبی علاقی‌دی اودریم ئی دجنوبی وچــی‌بیدیا ګانی‌دی .

دبحر د سطحی نه (٥۰٥۰) فوټه‌جګوالی لری اوافغانستان ته پــری لاری تللی‌دی .

دسلیمان دغره په لمنو کښې داوسپنی سلفر فلز اونورو معدنیاتو امکان شته ځینی نور قیمتی کــانی‌هم‌دلته موندل کیږی. دغه سیمه په دی‌نږدی وختو کښې په ډاګ‌اوښتی‌اوتبدیله‌شویده ځکه چه‌اوبه‌ئی تړولی په زیګ کښې ژبیښل کیږی.

ځینی نوری سیمی هم لری چــه‌وروسته به پــه مفصل ډول غرونه سیندونه اوسیمی وڅیړلی شی .

ACKU



دجنوبي پښتونستان طبعي نقشه
افغانستان
عربي بحيره
ژوب
لورلائي
سيوي
کلات
سراوان
جالوان
لسبيله
۱- سيندونه
۲- غرونه
۳- جهيلونه
۴- د طول البلد او عرض البلد خطونه
۵- بندرونه

# غرونه

دجنوبی پښتو نستان د غرو نوسلسله د انگریز ی ا یس شکل لری او زیاتره غرونه ئی بی‌ونودی چه‌مهم غرونه‌ئی په‌لاندی‌ډول بیانیږی :

**۱ـ سلیمان غر:** چه‌پښتانه ورته‌دکسی غروایی دگومل اود سیند د دریابونو په منځ کښی واقع دی چه‌جنوبی پښتونستان دپنجاب اود محکوم پښتونستان (صوبه سرحد)دشمالی اولویدیځو غاړو څخه جدا کوی .

(۲۵۰) میله اوږدوالی لری چه‌شمالا اوجنوبا پروت‌دی اوځانگی‌ئی شرقا اوغربا خوری شوی دی. لوړه‌څوکه‌ئی دسلیمان دتخت په نامه یادیږی اولوړوالی‌ئی (۱۱۲۹۵) فوټه‌دی. چه‌په جلغوزو اوځینی‌نورو ونو باندی پټ‌دی (مارخور اهوـ غرڅه)ډیری پکښی پیدا کیږی دشین خړ اوژوب ښکلی سیمی په‌دی سلسله‌کښی پرتی دی .

**۲ـ توبی غر:** دپشین او ژوب‌سیموکښی موقعیت‌لری دافغانستان اوجنوبی پښتو نستان ترمنځ پروت‌دی چه (۳۰۰) میله اوږدوالی لری دچمن په‌لور شمالا اوجنوبا پروت‌دی‌چه دلته دخواجه عمران دغره او سولته په نومو یادیږی اود کوژک‌مشهوره دره دهمدی غره دسلسلو په منیځ کښی واقع‌ده اگرچه په‌دی‌غره کښی ونی ډیری کمی دی مگر دمال څړ دپاره وابښه لری اوځینی‌واړه بوټی پکښی پیدا کیږی .

**۳ـ بروهی غر:** دغه غر دجالاوان‌اوسروان دمشهور سیمو اود ژوب اوسولا د رودونو په منځ کښی‌موقعیت لری او اوږدوالی‌ئی (۲۲۵) میله اوعرض‌ئی (۷۰) میله کیږی دجنوبی پښتونستان لوړی څوکی په همدی غره کښی واقع‌دی .

دورغون څوکه (۱۱۷۳۸) فوټه اوزنکوه (۱۱۳۷۵) فوټه لوړوالی‌لری. دبولان او لورلائی مشهوری دری‌ددغه غره دسلسلو په منځ کښی موقعیت لری ـ شمال ختیځی خواته‌ئی داوړی دبانډی دپاره ښائیسته سیمه دزیارت په‌نوم‌شهرت‌لری اوداوړی دگرمی په موسم کښی دکوټی خلك ور درومی ډیر شین او په‌ونو پټ دی. د برو د سکاروکان‌لری اود پنسل په جوړولو کښی هم‌ورڅخه استفاده کیږی او دونودلرگیو څخه‌ئی دسونگ دپاره کار اخیستل کیږی .

**٤ـ کرت های‌غر:** دغه‌غر دجالاوان‌سیمه دسند دولایت څخه جدا کوی اوږدوالی ئی (۱۹۰) میله اوپلنوالی‌ئی (٦۰) میله کیږی اولوړه څوکه‌ئی دزروك په نوم مشهوره‌ده چه لوړوالی‌ئی (۷٤۳۰) فوټه کیږی گوز

اوغرخه هم په دیغره کښې پیداکیږی اما دا غروبی نه لری .

**۵ـ پب غر :** دغه غر دلسبیلی او جالاوان دسیمو په منځ کښې واقع دی اوږدوالی ئې شمالا او جنوبا (۱۹۰) میله دی او عرض ئې (۷۰) میله کیږی لوړه څوکه ئې فراس نومیږی چه (۷۷۵۹) فوټه لوړ والی لری دغه غر په ونو پټ دی زیاتره ونې ئې په جګو برخو کښې ښاون (زیتون) اونوری ونې ئې کیکر اوداسې نوری دی چه ددغه غره په لمنو اولوړو کښې زمې څری .

**۶ـ چاغی غر :** شرقا اوغربا پروت دی ددی غره اوږدوالی (۹۰) میله او سورئې (۳۵) میله کیږی .

دسلطان اتش فشان مشهور غرهم ددی غره په سلسلو کښې پروت دی دهلمند طرف ته ټولې لاری په همدې غره راغلی دی او سوق الحبیشی نقطې نظره ډیر اهمیت لری .

**۷ـ راس غر:** دغه غر دخواجه عمران دغره یوه څانګه ده چه (۱۴۰) میله اوږدوالی لری. لوړه څوکه ئې دراس په نوم مشهوره ده چه (۱۰۰۰۰) فوټه جګوالی لری. دالبندی میدان دچاغی دغره څخه جدا کوی او ونې نلری .

**۸ـ سیاهان غر:** دغه غر مکران دخاران څخه بیلوی اوږدوالی ئې (۱۷۶) میله او سورئې (۲۰) میله کیږی دغه غر هم هیڅ ونې نه لری .

**۹ـ میانه مکران غر:** دمکران په مینځ کښې پروت (۲۵۰) میله اوږد والی او (۴۵) میله سورلری .

**۱۰ـ دخاص مکران غر:** دبحر تر غاړه ۲۸۰ میله اوږد غر یدلی او په اوسط ډول ئې سور (۷۰) میله دی داغر ځای په ځای ونې لری او غرځی هم پکښې پیداکیږی .

**۱۱ـ ګرز غر:ـ** دخاران ختیځې سیمې ته پروت دی چه خاران د جالاوان څخه بیلوی .

**۱۲ ـ مور غر :** د لسبیلې په سیمه کښې واقع اودپب دغره یوه څانګه ده .

۱۳ـ تور غر «سیاکوه: دغه غر جوهرخیلو څخه دلونی تر رود پوری غزیدلی دی لوړه څوکه ئې د مزری دری سر چه (۱۰۰۰۰) فوټه جګوالی لری .

**۱۴ ـ سرخ غر :** د لورلائی په لوید یځه څنډه کښې پروت

دی اود موسی خیلو اواپوزی سیمی‌سره جلاکوی مګر داغر دژوب خلك دسیاه کوه په نامه یاد وی

۱۵ــ **بوج غر:** دکسی یادسلیمان‌دغرو دلویدیځی برخی څخه شمیرل کیږی دلونی او هواد درودنو پــــه‌بینځ کښی اود موسی خیلو ختیځی دږی ته پروت دی .

۱٦ ـ **چورمـا غـر** : د سیف‌الله‌دکلی تحصیل (علاقه داری) د بوری له تحصیل څخه جلاکوی .

۱۷ ـ **ګــډا بــر غــر** : دبــوری‌دتحصیل په‌جنوبی برخه‌کښی پروت اود دوئی تحصیل دبوری دتحصیل‌څخه جلاکوی .

۱۸ ـ **جـا نـــدا ران غـــر** : دکوهلو سیمه دبار کهان څخه‌بیلوی

## سیندو نه

څنګه چــه جنوبی پښتو نستان‌لږی سیندونه نه‌لری کوچنی‌کوچنی رودونه لری چه‌په لانــدی ډول بیــا‌ییږی .

۱ــ ژوب رود :

دکندی له غره څخه را وځی چه‌دا غر دپشین په ختیځ کښی واقــع دی وروسته له(۲٤۰) میلو اوږدوالی‌دګومل درود سره یو ځای کیــــږی او معاړنین ئی زامندی اوساډو ئی‌دی څنګه چه دا رود ډیر ژور تللی وو زراعتی ځمکو تــه ئی اوبه نــه‌رزکولی خواوس‌تری دماشین په‌زور اوبه اخلی .

**۲ــ ناړی رود :**

دسپیره راغی دسیمی څخه‌شروع‌شوی (۳۰۰) میله‌دجنوبی پښتو نستان په خاوزه کښی اوږدوالی لری .

دا رود سیا هــان سره یو ځــای‌کیږی او دانبار په نوم بلل کیږی دمری سیمه کښی دبیجی په نــــوم‌یادیږی دارود ډیر ژور نه دی تیر شوی اوځمکو ته ئی اوبه ورکړی‌دی‌ددی رود مــرسیا لان نــاړ، پــچی ډوا اوشا نګان دی .

**۳ــ لوړی رود :**

دا رود دتوبی دغرونونه راوتلی‌او په پشین او شوراوك باندی‌تیر یږی او چاغی علاقه کښی دلو هړادرود سره یوځای کیږی ددی رود اوږ دوالی (۲۵۰) میله دی ګر چـــه‌دا رود ډیر ژور تیر شوی دی مګر

بیا ئی هم ځینوځمکو ته اوبه‌ورکړی‌دی دملیزا ئی دقبیلو په برخـــو کښی ئی دما شینو په واسطه ځمکوته اوبه ورکړی دی او خلك تـــری استفاده کوی .

٤ــ **سولا رود** : دبـرو هی غرونودهی بوئی له مابین څخه راوتلی او دجالوان او کځی سیمو ته ئی اوبه‌ورکړی چه دا رود (١٨٠) میله‌اوږد والی لری .

٥ــ **پب رود** :

دا رود دپب لـه غرو څخه را وتلی‌اود عربو بحیری ته توېږی ډیرژور تیرشوی دی.

٦ــ **پورانی رود** :

دپب‌دغره‌څخه راوتلی‌چه‌دهغه‌دجریان‌پـه مـخه کښی دجالاوان جنوبـی برخی اولسبیلی ځمکی خړو بیږی‌اوبیاپه بحرکښی توېږی ددی رود اوږ دوالی (١٧٥) میله دی چه یوه ډیره‌برخه اوبه ئی په جهیل کښی توېږی چه په‌دی برخه کښی یوبند هم ورته‌اچول شویدی چه هغه ځای ته‌ئـی اوبه ورکړیدی .

٧ــ **هنګول رود:**

دوادی سوراب څخه را وتلی چـه‌د جالوان او مکران شمـال ختیځو سیمو ته ئی اوبه ورکړی دی ددی‌سیند مشهور مرتسیال مشکی رود دی .دجنوبی پښتو نستا ن دټولـورود ونو څخه ډیر اوږد رود دی‌چه اوږدوالی ئی (٣٨٥) میله کیږی .

٨ **رخشان رود** :

دمکران او سیا هان له‌غرونـــوڅخه راوتلی پنجګوړی او نوروځمکو تـه اوبـه ورکوی اوږد والی ئـی(٢٣٨) میله دی

٩ــ **دشت رود** :

دځو وړ ووړ وخوړ ګیو څخـــه‌جوړشو یدی چه مرستیا لا ن‌ئـی دهنګ اوکـج دی دا رود د کـیچ‌او دادی سیمو ته اوبه ورکـــوی (٢٥٥) میله اوږد والی لری .

## آ ب وهوا :

شما لی سیمی لکه کو ټه پشین‌ژوب سړی دی .لو یدیځی لکه نـو ښه‌ی نـوشکی او چـاغـی ضلـع‌تر ایران پوری ریګستانی عـــلاقی دی اوکمی اوبـه لری ختیځ جنوبی‌پښتونستان چه دکچی‌ــ لورلائی او



دپښتونستا ن ستر مشرخـــــان‌عبدالغفارخان دپښتو نستان دخوتتو
زده‌کوونکو سره لیدل کیږی .



آزادی غوښتونکویوه‌جرگه‌په تو به‌کی

١٦٩١

سیوی په ضلو باندی مشتمل دی گرمه هوا او ډیری ذرخیزی سیمی لری چه سبب ئی دهند دبحر او روم بحری مونسیونی هوا گانی دی .
چه دهغوی دهوا تر تاثیر لاندی راځی .

جنوبی پښتو نستان لکه مکران چه اخیری حصه ئی گوا در تر بند ر یعنی بحیره عرب پوری رسیږی شاړی علاقی دی ځینی اقتصا دی منابع لری او ددی علاقی مساحه تقریبا (۸۰ زره) مربع میله ته رسیږی او گرمه آب وهوا لری .

**جهیلو نه (ولاړی اوبه ).**

جنوبی پښتو نستا ن یو څوجهیلونه هم لری چه په لاندی ډول سره بیانیږی

**۱ـ سارنده جهیل**:ـ دا جهیل نه میله اوږد والی او دوه میله سور لری .

**۲ـ هـود جهیل**:ـ اته میله اوږدا او څلور میله سور لری او په همدی ډول دنمك جهیل اودنصیرآباد جهیلونه مشخیل جهیل هرون جهیل او داسی نور جهیلونه هم لری .

## ځنگلو نه :

بلو چستان هم ځینی ځنگلو نه لری چه ونی ئیی شاون ـ جلغوزی او داسی نوری دی او په زیاته اندازه دمال څر ځایونه لری ځکه چه په جنوبی پښتونستان کی زراعتی زمکی ډیری کمی او دخلکو زیاتره گذاره په مال داری روانه ده نو ځکه د(٤٩٠٧٤٦ جریبه زمکه ورشولری چه مالداران خپل مالونه پکښی څروی .

# اجتماعی وضعیت دوهم فصل

## وگړی‌دین ژبه اومشهور ځایونه:

دبلو چستان ټول نفوس د۱۹۶۱ع کال داحصا ئیی لـه مخـه (۱۱۵٤۱٦۷) تنه تخمین شوی دی چه له دریو مهمو قبلیو څخه‌تشکیل شویدی پښتانه بلو څ او بروهی‌چه‌دهری ژبی ویونکی اود دوی ځـای په لاندی توگه پیا نیږی .

جنوبی‌پښتونستان‌یوه‌پراخه سیمه‌ده‌او مختلفی ژبی او لهجی لری پـه مری بگتی کښی دبلو څی ختیځـــه‌لــهجه ویــل کیږی. د لسبیلی پـه ضلع کښی دسندی ژبی یوه لهجه‌چه لاسی نومیږی د عوامو خلکوژبه ده .دخاران او نوشکی په سیمه کی‌رخشانی بلو څی ویل کیږی پـــه مکران کښی مکرانی لهجه چه تقریباددریو ژبو یو مسخ شوی لهجه‌ده خلك پری خبری کوی. په کلات‌جالووان او سروان کښی بروهی ژبـــه ویـــل کـیـږ ی د بـو ری ضـــلـع‌په‌یوه حصه کښی کهترانی ژبه‌ویل کیږی .دسیوی نه تر نصیر آبــادپوری سرا ئیکی ژبه ویل کیږی .په مستونگ اوکراهی کښی یـوه بـله‌ژبه ویل کیږی چه دیواری ورته ـــ وایی د مستونگ لهجی تـه‌پړانگ‌آبادی دیواری وایی چه دپړنگ آباد یوسف زائی پښتانه هم دغه ژبـه‌وایی .

په جنوبی پښتو نستا ن کښی‌پښتو ژبه ترټولو زیات ویونکی‌لری او پـه دغـه سیمو کښی زیـاتـه‌ویل کیږی یعنی دگومل درود څخه دنوشکی ښار تر شاوخوا پوری اونه چمن نـه تر مستونگ او سیوی پوری چه مستونگ دپښتنو یو زوړټاټوبی بلل کیږی او تراوسه پوری ئی هماغه خپل زوړ خاصیت ساتلی‌دی دجنوبی پښتو نستان خلك‌داسلام دمقدس دین او دحنفی مذهب‌پیروان‌دی دخلکو کړه وړه ئی پوشان دی اورنگونه‌ئی‌غنم‌رانگ‌اومتوسط قدونه‌لری .زیاتره وگړی ئی ملی جا می یعنی کمیس، پرتوگ واسکټ،څادرلنگی ،خولی، څپلی په پښو کوی او دښځو لباس‌ئی اوږد کمیس پرتوگ‌پرونی پښی اوبوټ‌دی چه‌زیاتره‌ښځی ئی گاڼه (پسول) هماچوی .

د جنوبی پښتو نستان تر ټولومشهور اود نفوسو ډك ښار دکویټی ښاردی چه ډیر شهرت لری ځینی‌نور ښارونه اومهم ځایونه‌ئی اپوزی (فورټ‌سنډیمن) چمن– سیوی–کلات‌نوکنډی– دالبندین– پنجگړ–لاسبیله

اور مورا ـ پسنی ـ جیونی ـ گوا درـ ریارث ـ هندوباغ ـ شارغ ـ ډیره بگتی نوشکی ـ خضدار ـ لاهری ـ بور ی،نور لائی ) اوداسی نوردی .

**دبلو څو قبیلوی اداری چاری :**

دبلوڅو ځنی پخوانی دودونه اوتړی درلودی اوهغه ددی سبب شوی چه دکوچی یانیم کوچی په ډول بدوی ژوندون تیر کړی .

مشرانوئی دخپل اقتدار قایم ساتلو لپاره همدغه لار غوره کړی وه .

د بلوڅو پـه اصتلاح قبیلی تـه (نومان) ویل کیږی اوتومان بیا په مختلفو ښاخونو ویشل کیږی اودهرښاخ (ځانگی) مشر ته تومانداروایی چه مقدم په نوم به هم یادیده .

دقبیلی مشر دجګړی اوصلح کوچ کول فیصله مالیه اخیستل او حتی ټول اختیارات ئی په خپل لاس کښی درلودل اود مالیی یوه کمه اندازه به ئی دکلات خان ته ورکوله .

څوموده چه دکلات خانی تشکیل نود احمدزیو لخوا چه کومی ځمکی نیول شوی وی اویا هغه ځمکی چه دنوی احمدشاه بابا اود دوی دکورنی لخوا په جاگیر داری کښی ورکړی شوی وی دهغوی ملکیت وگرځیدی او پاتی نوری ځمکی دبلوڅی اوبروهی قبیلو سردارانو ته ورکړی شوی د ۱۹ پیړی په سرکښی دپورتنیو قبیلو مشرانو دزیاتو ځمکو خاوندان شول اوهغه ددوی شخص ملکیت وگرځیده مالدارانو اوبزگرانو څخه به ئی یوه زیاتـه انـدازه مـالیات اخیستل ،اقتصادی اوتجارتی چاری ئی دسنګر هندوانو په لاس کښی وی چـه دمنتـان او شکارپور نـه جنـوبـی پښتونستان ته راغلی وو. تعداد ئی (۵۰۰) کورنیو ته رسیده چه دټولو آزادیو څخه برخورداره وو .

دی هندوانو به هرډول مالونه دهمسایه ممالکو څخه راوړل او خپل مالونه به ئی لدی ځای څخه دنـړی نورو برخوته لیږل .

سر بیره پردی دپوهنی څخه هم دجنوبی پښتونستان خلك تر ډیره رخته پوری بی برخی پاتی ؤ ـ لیك اولوست ئی په دری ژبه ؤ اومذهبی ژبه ئی عربی وه. پورتنی عوامل سبب شول چه بلوڅی ژبه وروسته پاتی شی او څکه بلوڅی ژبه پخوانی لیکلی اثاردیرکم لری .

**بلوڅی ژبه :**

لکه چه ترمخه وویل شول دبلوڅی لیك ادب دنامساعدو شرایطو له امله پراختیا نه ده موندلی که څه هم یوه لږه اندازه قلمی موجوددی خوهغه دومره

اندازه قلمی آثارموجوددیخوهغهدومرهندی چهددی ژبی پهباب لازم ا و قناعت ور کونکی تشریح ورکـړیشی یوازیپدی وروستیووختو کښی دبلوڅی ژبی چاپی محدود اثار پـهبلوچستان کښی منځ تـه راغلی د جنوبی پښتونستان مطالعی اوڅیړنیه په ۱۹ پیړی کښی همدارنګه د شلمی پیـړی په ۱۹۲۳ کـال کـی دقـدر وړ آثـار خپـاره کـړی دی پهانګلستان کی دبلو څی ګرامر پـهانګریزی ژبه او ور پسی دبلوڅی انګریزی قاموس په۱۹۲۵ کال دهیلبر نس الخواخپارهشوی آثاراوپهشوروی اتحاد کښی پرو فیسری. ی‌زاروبین دبلوڅی ژبی دمطالعی اوڅیړنی بنه اساس ایښی دی چه دنړی په ډیروهیوادو کښی لیدل کیږی .


د محققینو پلټنی پهدی شاهدیورکوی چه بلوڅیژبی دزیاتو اریایی ژبو پهنسبت خپل ډیر لرغونی ژبنیحصوصیات لاتر اوسه ساتلی دی نردی چـه دا خصو صیات دومـرهلرغونی دی چه داژبه داینډو اریایی ژبو سره نږدیکوی دغهخصوصیات دغږیدلو لنډو او اوږدو غږولو پـه باب ښه څرګند دی. په بلوڅی ژبهکښی جملی کومکی کلمو په مرسته افاده کیږی. (یعنی دوروستاړو پهمرسته افاده کیږی). اسمونهی جمع او دفرد لری خود جنس ؟ (تذکیر اوتانیث) کتیګوری نه لری په بلوڅی کتیګوری نهلری په بلوڅی کښیدری ګرامر (لومـړی دوهم او مفـعول) حالتونه موجود دی اواصلی ضمایربیهم داسم اوهم دفعل پوری نښلی خود استعمال دومره موارد نه لریدفعل پـه لـړکښی دبسطی ریښو څخه جوړ شوی فعلونه لری چه داساس پوریدشخص ضمایرو نښلو په مرسته دماضی اوحال (همدارنګه دمستقبل )صیغی ورنه جوړیـږی او هممرکب فعلونه لـری چـه د فعل اسمونه تری دکومکی فعلپهمرسته جوړیږی .

دبلوڅی ژبی بل لوی خصوصیتدایر ګاتیف سیستم دی یعنیدپښتو پهشان په ماضی متعدی کښیفعلیی دمفعول تابعدی نـه دفاعل پـه ختیځو دیالیکتونو کښی دمفعول اوفعل ترمنځ سمون نه لیدل کیږی .

**براهوی ژبه :**

براهوی دیـو زیات شمیر خلکومورنی ژبهده .

مو نږ مخـکښی وو یل چـــه دجنوبی پښتونستان خلك او وګړی اصلا لهدریو بیلوبیلو توکمونو ـ الف(اینډو ـ اریایی) دجنوبی پښتونستان پهختیځ کښی ب: داریایی په لویدیځاوشمال کښی ر ج: دراویدی پهمرکزی



خان عبدا لو لیخان دکا بل پــه هوایی ډګر کښې دځو تنو ا فغا نی
اشخاصو سره لیدل کیږی .



دجنوبی پښتونستان د ګا کــړی قبیلی یوه ډله .

جنوبی پښتونستان کښې) څخه‌جوړوو دریم توکم‌ئې براهوی دی .

استخری دخپل المثاالممالك نومی کتاب په (۱۷٦) مخکښې لرغونی پښتو نستان (جنوبی) کیچ گنداوه‌ته نژدی‌د (ابرهه) په نامه‌دیوه‌کوچی بدوی قوم موجودیت یادونه کوی دیولړ مستشرقینو لکه اکادمیك ؤ . دبارتولداو اونورو په عقیده موجوده‌براهوی قوم‌هماغه دی چه استخری د (ابرهه) په‌نامه یاده کړیده‌براهوی‌ژبه چه اوس براهویان ور باندی خبری کوی اساسا دکلات په سیمه‌کښې اوځه‌ناځه دخیرپور اوحیدراباد په سیمو کښې خپره او تقریبا (۳۳٦٥)زره‌وگړی ورباندی‌خبری‌کوی

هغه ژبه چه‌په مودو مودو له خپلو سکنیو درا ویدی‌ژبو څخه‌چه‌تاتوبی ئې جنوبی اومرکزی‌هندی جلاشوی‌اود اریایی او اینډواریایی ژبو د سختو اغیزی لاندی راغلی ده .دغه اغیزه له‌هرڅه نه‌زیاته په‌لغوی پانگه کښې لیدل کیږی‌په‌فونتیکڅول (په‌صوتی طریقه ) براهوی‌ژبه داریایی اواینډو اریایی ژبو سره‌ډیر نږدوالی لری په‌گرامری جوړښت کی د ر ا ویدی سیستم څرگند دی‌اوپه‌دی باب دبراهوی خپلوی دهند دمرکزی دراویدی (کروه ) او(ملتو)ژبو سره ښکاره ده .

براهویان علاوه پرخپلی ژبی په‌بلوچی‌اوپه ښتیو سیمو کښې په سندی پوهیږی دبراهوی لیک لپاره‌له‌عربی الفبا نه کاراخیستل کیږی اولیکلی‌ادبی اثار یی په‌دی وروستیووختو کښې منځ ته‌راغلی ا و پراختیا کوی.

PROPERTY OF ACKU 4735

## دود اودستور

دجنوبي پښتونستان دبلوچو ـ کاکړو ـ اڅکزو بړیڅو سید ا نــو کاسیانو ترنیازو او بروهیانو ټولقبیلو دود اودستور او اولسي تړی بوتربله ورته دی .

اوزیا ت توپیر پکښې نه‌لـید ل کیږی .

دلته په‌لنډ ه توگه دجنو بـــــي‌پښتونستان مشتر ك دود اودستور رړاندی کیږی .

### ۱ـ دزوی زیږدنه :

چه‌دچا زوی پیداشي نودهغه کلی‌کلی ښځې دبام په سر په‌کلی کښې غږ کړی چه دفلانی زوی پیداشوی‌دی دغی‌ښځې‌ته پړونی اویوڅه‌پیسې دزیری په‌توگه ورکوی وروسته لدی‌چه دکلی له‌اوسیدونکو څخه کوم یو تن اول ټوپك راورسوی دری ټکان‌کوی چه دزوی پلار دغه سړی تــه لونگی ورکوی. اوپه دریمه ورځ ئی‌ملاپه غوږ کښې اذان کوی چه ملاته هم‌څه پیسې اومیوه ورکول کیږی‌په‌همدی ورځ دزوی پــلار خیرات او خوشحالی کوی‌چه دزوی دپلار سره‌یوځای په همدی ورځ دلنگی ښځېتې هم‌یوپسه حلالږی اوددی مراسمو په‌منځ کی دملا لخواپری نوم کښیودل کیږی اوکومی خپلوانی‌ښځې‌چه‌ورته‌راځي وروښی ـ سیزنی‌ـ دستمال ـ پتی اود اووه کورو دټوټو څخه‌ورته یوکمس جوړ کړی‌راوړی په‌مقابل کښېښی ئی دزوی پلارد‌غو خورلنـــوته‌مکمله جوړه اوڅه پیسې ورکوی. کله چه کوچنی سنت کیږی د غـه‌سړی‌ته چه هلك سنت کوی یو څه اندازه پیسې ورکوی اوځینی قبیلی‌چه‌زوی ئې‌دلمانځه دادا کولو قدرت پیدا کړی یولوی خیرات کوی اودخدای شکر اداکوی چه زوی مې د خدای دعبادت داداکولو قدرت پیداکړی‌دی چه‌همدلته دزوی دزیږدنـــی ټول مراسم پای‌ته رسی.

### ـ۲ کوژده او واده :

څه وخت چه‌په جنوبي پښتونستان‌کښې کومه کورنی خپل زوی تــــه واده کوی لومړی دهلك دکورنی‌څوتنه ښځې دنجلی کورته ور لیـږ ی دهغی کړه وړه اود هغی نـــو رخصو صیات‌گوری‌پدی‌ټولو باندی ـ ئی‌چه‌پوره یقین اوباور راغی دهلك‌پلار اوکورنی ته‌وایی نجلی دټولـــو ښه خویو نو ـ اخلاقو خاونده د ه‌وهم یی‌مور اوپلار په‌قوم قبیله او کورنی کښې ښه شهرت لری .

څه‌وخت چه دغه شی مکمل شی‌بس له‌هغه دجلی دپلار کورته‌مرکه ورولی که‌دنجلی دپلارخوښه شو ه‌نو ورته‌وایی چه لورمی درکړه اود مرکی درخصت کیدو په‌وخت کښې‌هلك پلار ته «تار» ورکوی چه ځینی



ACKU

خلك دغه اصطلاح ته‌مالګه اوهو کی‌وایی دمرکی پەښپه د کور ښښتـــن
ټولو راغلو خلکوته ډوډی ورکوی که‌لور ورکوی اوکه‌نه یی ورکوی .
دمهر څخه دلور پلار خپلی لورته‌دکور ټول ــسامان جوړوی او څـو
جوړه جامی ــاو زوم‌ته‌یومکمله جوړه کالی اوحتی دکوره هم ترخپلـــی
اندازی پوری اقتصادی کومك دزوم‌سره کوی .
څه وخت‌چه‌دهلك پلاردواده‌کولوترتیبات نیسی دنږدی قبیلی خلـــك
وزسره مادی مرسته دخپل قدرت‌په‌اندازه کوی‌چه‌دغه ته(خوشی )وایی
هروخت چه‌ورا ټوله شی دهلکـــك‌پـــلار پسونه ــ اوړه ــ غوړی‌ــچای
بوره اونور شیان‌دنجلی دپلار کورته‌وروړی هلته یوه شپه ا و و رځ ــ
خوشحالی کوی ددی‌خوشحالی په‌پای‌کښی دنجلی‌پلار هغه دکور سامان
چه‌زوم اولور ته‌یی تیار کړی وی‌دګاډو په‌شمو لدهلك دقبیلی مشرانو
ته‌یی وزښکاره کوی اوهم ځوقیمتی‌ښګی دهلك پلار ته‌دقوم دمشرانو
لپاره ورکوی چه‌دهلك‌پلار ئی‌بیاپه‌ټبرو باندی ویشی .
دلته نکاح هم ترل کیږی دهلکـــك‌پلار هم په‌مقابل کښی ځوروپی‌دنجلی
پلار ته‌دلنګی په‌ټول‌ورکوی چه‌دخپلوقبیلو مشرانو ته‌ئی‌تقسیم کړی .
کله چه‌ناوی دهلك کورته راوړی‌دلته هم یوه ورځ اوشپه خوشحالی
او اتڼو نه کیږی نـــښـــی ویشتـــل کیږی اوپه اسونوباندی ځغاستی‌وهی.
خلکو ته‌ډوډی ورکوی اوخونی ویشل کیږی او ښځو ته‌چه رخصت کیږی
پړونی ورکوی اوپس لدی‌چه‌در یمه‌ورځ بیا نکاح ترل کیږی او ــ ر ابلل
شوو میلمنو ته‌ډوډی ورکوی په ځینوقبیلو کښی دغه ټول دستور اورواج
دی چه‌دنجلی اباګانی دی‌ته‌په زیا ته‌اندازه پړونی ورکوی چه‌د(٥) زرونه
پورته‌هم‌وی .

۲ــ مړی :

چه‌مړی وشی فورائی‌ټول خپلوان‌خبریږی اود مړی جنازی او نـــو رو
مراسمو ته‌ځان را رسوی هرکلـــه‌چه مړی ته غسل ورکړی تکفین او
تجهیزئی برابر شی جنازه هدیری‌ته‌واخیستله شی دجنازی لما نځـــه
د ادا کولو نه وروسته په‌ملایانو اوخوارانو باندی دسقات پیسی تقسیم
شی اود قران عظیم الشان خـــتـــم‌هم دقبر په‌سر باندی کیږی چـــه
وروسته له‌ختم اودعا ټول خلك په‌هغه خیرات کښی چه‌دمړی دورثـــی
لخواشوی وی برخه اخلی اودلته هم‌دقرآن شریف ختم کیږی .
او بیا وروسته خلك دډوډی خوړ وڅخه خپلو کورنو ته رخصت شی.
په‌دریمه ورځ ئی‌هم یولوی خیرات کیږی چه‌دی مړی دریمه وایـــی



ACKU

بیاځلوېښتې کیږی چه دځلوېښتمې په ورځ هم لوی خیرات دمړی دوړثې له طرفه ترتیب کیږی او نږدې تږلوخلکو ته دعوت ورکول کیږی چه په دی خیرا ت کښې برخه واخلی.

وروسته لدې څخه هرکال تلین نیول کیږی اولوی لوی خیراتونه کیږی چه دغه خیرات څوکاله دو ام کوی یوشی موجود اوهغه داچه د مړی دوارثانو مالی قدرت کمزر وی دهغه دمال څخه خیراتونه نه کوی او نږدې اولس ورسره مادی مرسته کوی چه ددی مرستی نه دهغه ټول مراسم اجراکیږی .

سربیره پردې داهم باید ذکرشی چه په جنوبی پښتو نستان کښې د ښځې توږن اوتورنه ښځه چه مړه شی هیڅ پوراودیت ئی نشته او نه څوک تری پوښتنه کولی شی چه ځله ی دغه سړی اوښځه مړه کړیدی اما زیاتره داسې هم واقع کیږی چه ښځه اوسړی مړه نشی نوموړی هغه ښځه په کورکی نه پریږدی اومجرم(زانی) به ورته دوه ښځې ځلویښت ژره افغانی اوسربیره پردې به یواصیل ټوپک ورکوی مگر که د ښځې سره دلاس واچول شی نو ښځې ته څه مسوولیت نشته مگر توربی مر گه نه پریږدی .

## ٤ـ دجرم واقع کیدل :

که په جنوبی پښتونستان کښې مړی وشی خپل مړی چه قدرت ئی رسیږی نه پریږدی ترڅو چه قاتل ئې نه وی مړ کړی اوکه قدرت ئی پر ی ونه رسیږی اویاد قومی مشرا نو لخوا روغی جوړوی ته مجبوروشی نو په ننواتی قاتل کورته ورځی چه دننواتی په وخت دقوم سپین ږیری اوښځې قران په سر وروړی چه ننواتی قبوله شی په دیت کښې څو ښځې ورکوی چه دیوی نه پنځو ښځو پوری رسی .

دقومی دود مطابق پور ورکوی

کله که سړی ئی گوډ کړی و ی لومړ ئی حتمی گوډ کوی اوکه گوډ ئی نه کړ کله چه فیصله ورسره کوی نو دوی ښځې اودقومی رواج مطابق پور ورکوی .

اوکه سړی په سترگو ړوند کړی نو لومړی ئی حتمی ړندوی مگر که فیصله اوجوړه وکړی نودمړی نیم دیت ورکول کیږی اوکه په نور ډول جرایم واقع شی عین رویه د مقابل لوری سره کیږی .

لنډه داچه دجنوبی پښتونستا ن دخلکو دود اودستور دازاد پښتو نستان اود پښتونستان دنورو سیموسره تقریبا یو شان دی اوزیا ت توپیر پکښې نه لیدل کیږی .



ACKU



دجنوبي پښتو نستا ن ايا لتـــي مجلس د لو مړي غونډې په حا لت کې



دجنوبي پښتونستا ن د کا کـړو مجاهدين
دآزادۍ له پاره دځپلوغرونه مدا فعه کوي.



د ملي عوامي ګونـد مشر خـان عبدالو ليخان ديو شمير افغانانو او
پښتو نستانو سره.

2491

## پخوانی کتابخانی :

د یوملت دسیاسی ـ اقتصادی ـ ثقافتی اونورو چارو دپرمختگ دپاره کتابخانی دمهموضروریاتو څخه گڼل کیږی چه دادی دجنوبی پښتونستان ځینی کتابخانی په لاندی تـوگـه بیانیږی :

**۱ـ دکلات دخان کتابخانه :ـ**

دجنوبی پښتو نستان تـر ټولـو لوړی خانی دبروهی خانانو خانی ده چه کلات ئی مرکزؤ. چه دغه کلات کلات پنجارهـ کلات بلوڅ او کلات نصیر بلل شویدی چه په یوه لوړ ه غونډی واقع دی اویوزوړ کلی چه مرکزیی ؤ پخوانی کلاده چـه په مری کـلاشهرت لری انگریزانو دراتگ سره سم دوی پر کلات حمله وکړه خان میر محراب خان ئی په سنه (۱۸۳۹) عیسوی کال کښی شهیدکړ چه دغوخانانو دافغانستان دپاچاهانو سره ار تـبـاط در لـوده او جـنـو بـی پښتونستان دافغانستان د خاوری جزؤ . انگریـزانو دخپل استعماری قوت په زور دغه خاوره دافغانستان څخه جلا کړه اوپه دی ضمن کښی ئی کتابخانی هم خرابی شوی خولږ څه کتابونه تری پاتی شول .

دغه کتابخانی اوس په دوو برخوویشل شوی چه یوه برخه ئی دکلات دوجوده خان میر احمدیار خان سره ده اوبله برخه ئی دکـویټی دپـاره ښاروالی ته سپارلی شویده .

په دغه کتابخانه کښی زیات په انگریزی ژبه تاریخی کتابونه اواثار شته اودکلات خان په کتابخانه کـښـی ډیرقلمی کتابونه لکه دقاضی نورمحمد گنج آبی دمیر نصیر خان او احمدشاه بابا دسیکانو سره دجنگو نو منظو م تاریخ داخوند محمد صدیق اومیرزامحمد علی تاریخ هم لری .

علاوه پردی هغه تاریخی مراسلات چه دافغانی پاچا هانو اود جنوبـی پښتو نستان دخلکو ترمنځ شویدی لری. اود همدی خانانو پـه کورنی کښی یومشهور او نامتو شخصیت چه سلطان ابراهیم نومیده اود مور له پلوه دمحمدزو له کورنی څخه وؤ یوه جلاکتابخانه درلوده چه سلطان ابراهیم یوډیر علم دوست ښه خطاط اورسام وؤ، ده په کتابخانه کښی د رسامی اثار تاریخی علمی کتابونـه درلودل اودده لـه ټولو مهمو اثـارو څخه یودائرةالمعارف چه دالف نه تر(ی) پوری په حرفو ترتیب اوهـره واقعه ئی رسامی کړی وه چه زیاتره برخه ئی دافغانستان تاریخ دویدی زمانی څخه تـرننه پوری اوحتی داعلیحضرت غازی نادرشاه دشهادت واقعه ئی هم دتصویرونو په واسطه مجسم کړی اودغه دایرةالمعارف څو ټوکه لری .



ACKU

**۲ـ دکویټې دسنډیمن کتا بخانه :** دغه کتابخانه دسنه (۱۹۳۵) عیسوی کال دزلزلې نه پخوا په یو ښه تعمیر کښې وه خو اوس ئې په دوو خونو کتابونه ځای په ځای کړی شوی دی دغه کتابخانه ډیر تاریخی ادبی اجتماعی اونور ډول ډول کتابونه لری که څه هم ځنې ډیر کتابونه د ۱۹۳۵ عیسوی کال په زلزله اود ۱۹٤۷ کال دانګریزانو دتګ په وخت کښې له منځه تللی دی مګر بیائی هم خپل شهرت له لاسه ندی ورکړی .

**۳ـ دجنوبی پښتونستان دسټاق کالج کتابخانه :**

چه دغه عسکری ښوونځی دشلمې پیړی په لومړیو کلونو کښې په نویټه کښې جوړه شوی وه اودغه کتابخانه دښوونځی په نوم مشهوره ده ډیر ښه کتابونه پکښې دی چه جهانی شهرت لری .

**٤ـ دسیوی دکسفورډ کتابخانه :**

داکوچنی کتابخانه ده چه زاړه کتابونه نه لری مګر نوی اوسنی چاپ شوی کتابونه پکښې هم شته دی .

**٥ـ دجنوبی پښتو نستان دسکرټریټ کتابخانه :**

دا کتابخانه دافغانستان اومرکزی محکوم پښتو نستان او جنوبی محکوم پښتونستان د ښې پیژندنې په باره کښې ډیر با درزښته او قیمتی کتا بو نه لری دی کتابخانی څه قلمی نسخی هم درلودی مګراوس ئې درک نشته .

ځینې نوری کتابخانی لکه دبوری (لورلائی) دعبدالرحیم خان کتابخانه دچمن زیارت داپوزی اوداسی نوری هم په جنوبی پښتونستان که موجودی دی .

## اخبارونه ،جرايد اومجلی :

دکسی غره په لمن کښې د ژوب برعظمته سیمه دبوری درنه ناوه د کویټې اوپشین تاریخی علاقه اوځنی نوری پښتنی سیمی په زړه پوری را نغښتی دی چه ځانته ادب تاریخ روایات اوعنعنات لری پدی اساس دپښتونستان په پورتنیو سیمو کښې دغه لاندی مجلی اخبارونه او جرايد چاپ شوی اوچاپیږی .

**استقلال :ـ**

دا جریده دکویټې نه په اردو ژبه خپریده چه مؤسس او مدیرئې خان عبدالصمدخان اڅکزی ؤ او وروسته ئې دغه نور کسان هم مدیران تیر شوی دی لکه ښاغلی قدوسی (صهبائی) ښاغلی الله بخش سلیم ـ ښاغلی شیر محمدخان ـ ښاغلی محمدیعقوب غلزی ـ ښاغلی محمد حسن نظامی ـ

ښاغلی محمد حسین عنقا اوپه اخیرکښی ښاغلی عبدالصمد درانی .
گرچه دغه داردو جریدەوه مگرپەخپلو پاڼوکښی ئی پښتو ژبی تەهم ځای ورکړی‌وو. داستقلال دلومړی‌گڼه ۱۹۳۸ کال دجنوری په میاشت کښی چاپ شوه او اخیری گڼه‌ئی‌د۱۹۵۰ ع کال داگست په میا شـت کښی راووتله او وروسته بیا بندەشوله .

**خور شید :**

داردو ژبی‌دغه مجله هم‌دکویټی‌نه‌خپریده اود پښتوژبی پیاوړی‌لیکوال ښاغلی فضل احمد غازی ئی‌مدیرؤدی مجلی هم دپښتو برخه درلودله چه دپښتو برخی مدیرئی د بوستان‌دسیمی یـو زلمی ښاغلی عبدالحق بوستانی‌ؤ .
د خورشید لومړی گڼه‌د ۱۹٤٦کال‌په ستمبر میاشت کښی راووتله اوبیا دښاغلی کمال الدیـن احمد دمضمون په وجه‌د ۱۹۵۰ ع کـال د جنوری پەمیاشت کښی بنده شوه .

**پښتو :**

پښتو هغه گرانه اودرنه مجلەده‌چه مدیرئی ښاغلی‌کمال‌خان سیرانی او مرستیال‌ئی ښاغلی خدادادؤ چەدددی میاشتنی مجلی لـومړ ی گڼه د ۱۹۵٤ ع کال داگست پـه میاشت‌کښی چاپ شوه اوبیا چاپه ستوگو نه لیده .
دغی مجلی ډیر ادبـی اجـتماعـی‌تاریخی اصلاحی‌اوداسی نورمضامین په ډیر کم‌وخت کښی خپاره کړیدی‌چه ساری نلری

**گلستان :**

تالا خدایه گلستان دپښتو مه‌کـړی
گریوان ځیری‌دپښتو د ژونـدون مـه کـړی
داهـغه شعـر دی چـــه ددی‌مجلی په‌باب ښاغلی‌کرامت شاه‌فولاد ویلی دی. گلستان هـغه درنـه اوخوندوره مجله‌وه چـه ددی مجلـی لومړی گڼه پـه ۱۹۵۷ کـال کښی‌را ووتله مسئول مدیرئی ښاغلـی فضل احمد غازی او همکارئی یوځوموده مولوی عبد الخالق تارنړؤ ددی مجلی وروستی گڼه‌د ۱۹٦۰ ع کال‌دجنوری په میاشت کښی راووتله‌او بیادتل لپاره بنده شوه .

**ظفر اسلام :**

دظفر اسلام دمجلی مدیر ظفرالله‌خان‌وو دی‌مجلی همادبی‌اجتماعی‌دینی تاریخی اوداسی نور مضامین خپاره‌کړی لومړی گڼه ئی‌د ۱۹۵۹ ع‌کال دسمبر په میاشت کښی چاپ شوی‌اوبیا لەدوه کالو وروسته دمیاشتنی

مجلې په ځای داوه ورځنی جریدې په بهراخر گنده شوه .

**هیواد :**

هیواد د پښتو یوه اوه ورځنی پښتـــو جـــر یده ده چـــه لومړی گڼه ئې د ۱۹۵۹ ع کال داکتوبر د میاشتې پـــه ۲۷ نیټه راووتله او مدیر یې ښاغلی سلطان محمد صابر دی او تر اوسه چلیږی .

**اولس :**

دغه هم میاشتنی مجله ده چه لومړی گڼه ئې د ۱۹۶۱ کال داکتوبـــر پـــه میاشت کښې راووتله او تر اوسه چاپیږی اولینی مسئول مدیر ئې امیر عثمان وو اواوس یې احسان الحـــق چنوی چه اوس په بلوڅی ژبه هـــم چاپیږی .

**بولان :ـ** داهغه مجله ده چه اردو، بلوڅی او پښتو دری واړه برخې لری په کال کې داستادانو اوزده کوو نکو لخوا ددوی په گټه چاپیږی لومړی گڼه یې په ۱۹٤۹ کال کې چاپ شویده.

**میزان :ـ**

داردو ژبی اخباردی په اول کښې ئې د پښتو برخه درلوده مگر اوس ئـــی نلری لومړی مدیر ئې مولانا مرحوم عبدالکریم ؤ او اوس ئې دهغه زوی جلوی لومړی گڼه ئې د ۱۹٤۷ کال دستمبر په میاشت کښې راوتلی او تراوسه خپریږی .

**کـــارکـــن :**

دغه یوه دری میاشتنی مجله ده لومړی گڼه ئې ۱۹۵۹ ع کال د جولائی په میاشت کښې راوتلی . مسئول مدیر ئې ښاغلی راجه احمدخان ؤ په بلوڅی اردو او پښتو ژبو خپریږی چه د بلوڅی او پښتو برخه ئې د پښتونستان اولس لپاره ډیر اهمیت لری .

**ژوب مجله :**

دغه هم دزده کوونکو لخوا پـــه ابوزی کښې په کال کښې یو ځـــل خپریږی دغه یوه نوی مجله ده چـــه لومړی گڼه ئې په ۱۹۶۸ ع کال کښې راوتلی پـــه پښتو اردو او انگریزی ژبو خپریږی .

**اتـــفـــاق :**

دغه هم یوه اووه ورځنـــی جـــریده ده چه په ۱۹۷۲ ع کـــال کښې جاری شوی او په اردو ژبه په کویټه کښې خپریږی.

مسئول مدیر ئې یوسف منصور

او مرستیال ئې محمد حنیف خـــان دی .



دجنوبی پښتو نستا ن د آزادۍ غو ښتونکو کا کړو ډله په و سلــه
سمبال لیدل کیږی



دجنوبی پښتو نستان دبلوڅو قبیلی ملی مجاهدین په‌توبه کی

**نوکندور :**

د عبدالکریم شور شــی لخــواخپریږی ډیر په زړه پوری **علمی** ، ادبی ـ اجتماعی مضامین لری .

ســر بیــره پــر دی پــه **جنوبی**پښتونستان کی څنی تــور **نشرات** هم کیږی لکه ماهنامه په **بلوڅی‌ژبه**نعمیر ـ توبه ـ پوکار اوداسی **نور** .

# ملی او سیاسی تشکیلات

جنوبی پښتونستان په څلور ریاستو تقسیم شویدی چه هریو ریاست جلاجلا بیانیږی .

اود ریاستونو وروسته په هغه تشکلات هم وڅیړل شی چه دانګریزی استعماری حکومت لخوا منځ ته راغلی دی .

## دریم فصل ریاستونه

### ۱ـ دکلات ریاست :

**الف :ـ** کلات دجنوبی پښتونستان په منځنی برخه کښی واقع دی د ایران اوافغانستان سره ئی چه پوله نګیدلی نوددی سیمی اهمیت ئی نور هم زیات کړیدی .

**څلور خواوی :ـ** ختیځ ته ئی مری بګتی اود بولان دره لویدیځ ته ئی خاران شمال خواته ئی د کویټی دچاغی ضلع اوپشین جنوب ته ئی مکران اولسبیله موقعیت لری

دنفوسو شمیرئی (۲۸۲۵۰۴٦)تنو په شاوخوا کی کیږی .

دکلات ریاست په دریو برخو ویشل شویدی ـ سراوان ـ جالاوان او کچی .

**۱ـ سراوان :** شمال ته یی کویټه پشین ـ ختیځ ته ئی کچی بولان جنوب ته ئی جالاوان اولویدیځ ته ئی حاران اوچاغی سیمه واقع ده .

### بـ خاص کلات :

دسروان په سیمه کښی واقع دبحر دسطحی څخه لږ زیات جګوالی لری هوائی سړه ده اود کویټی څخه (۹۰) میله لری پروت دی دکویټی نه ترمستونګ پوری داورګاډی کرښه غزیدلی اود مستونګ څخه تر کلات پوری موټر سړك تللی دی .

د دی سیمی ګرچاپیره یو خندق ګرځیدلی چه دری در وازی لری نومونه ئی مستونګی، والدار ګل قنددی. اسپنجی چه دبنګل زائی قبیلی داستوګنی ځای دی دهوا خوری له پاره ښکلی ځایونه او باغونه لری .

**۲ـ جالهوان:** ددی سیمی شمال ته سراوان ختیځ ته ئی کچی او سیند جنوب ته ئی لسبیله اولویدیځ ته ئی خاران اومکران واقع دی .

مشهور ځایونه ئې شوراب ـ ښخاریو ـ خندار ـ نال ـ زهری او مشکی دی .

**۳ـ کچی:** ددی سیمی شمال تـه بولان سیوی ختیځ ته ئې سیوی جنوب ته ئې سیند او لویدیځ ته ئې جالاوان سیمه پرته ده .

دکچی ځمکه زیاتره میدانی شکل لری ددی سیمی هوا گرمه اود اوړ گاډی یـوه پټلی چه دسیند اوپشین څخه راغلی ددی سیمی پـه مینځ کښې تیریږی .

ددغی سیمی مشهور ځایونه بهاګ، کنداوه ډاډر ـ مهری ـ امیر پو ر ـ نصیر آباد ـ حاجی شهرچه شهوانی سردار دسکونت ځای دی .

**۲ـ دمکران ریاست :**

ددغی سیمی شمال تـه دسیاهان غر ختیځی خواته ئې جاله وان جنوب ته ئې بحیره عرب او لویدیځی خواته ایران واقع شویدی .

دغه سیمه د جنوبی پښتونستان دنورو سیمو سره په غیر دلسبیلی یه کلی ډول توپیر لری اود غرونو دسلسلو څخه جوړه شویـده . ددی سیمی زیاتره برخی ئې غرونه دی ددی غـرنـی سیمی نفوس تقریـبا (۱۳۸٦۹۱) تنه کیږی، دساحل غاړه ئې ددوه سوو میلو په شاوخوا کښې اټکل کیـږی، دپښتو نستان مهـم بندرونه دجنوبی پښتو نستان دمکران په ریاست کښې واقع دی لکه گوا دره پسنی چه دغه دوه بندرونه یـی ډیر شهرت لری اوغیر مشهورئې ارمور، جیونی اوځینی نور دی .

دکلات نه یوسړك ترمکران پـــوری تللی اوبیا دپسنی تـر بندر پوری رسیږی .

**۳ـ خاران ریاست :**

دغه سیمه چه زیاتره ریگستانی سیمه ده چه په تخمینی ډول ئې نفوس (٥٤٥٧٣) تنوته رسیږی .

دخاران شمال دچاغی ضلع ختیځ ته ئې جاله وان جنوب ته ئې مکران او لویدیځ ته یې ایران پروت دی .

څنگه چه دغه سیمه ټوله ریگی ده ،وځکه دتګ اوراتګ زیاتی لاری نه لری تنها له نوشکی څخه ترخـاران پوری یوسړك تللی دی .

**د لسبیلی ریاست :**

ددی سیمی سرته غرونه اومنځنی برخه ئې هموار اوږدوالی ئې (٤٠٠) میله اوسورئې (٢٠٠) میله کیږی دنفوسو شمیرئې (٧٨٧٩٩) تنو په شاوخوا کی کیږی .

شمال ته‌ئی جاله‌وان ختیځ ته‌ئی‌سیند جنوب ته‌ئی بحیره غرب او لویدیځ ته‌ئی دیب‌غر واقع دی. مشهور جهیلونه ئی سارنده چه اوږد والی‌ئی نهه میله اوسورئی‌دوه‌میله دښکار مرغان په دغه جهیل کښی پیدا کیږی.

بل جهیل ئی دهود جهیل دی چه اته میله اوږدوالی اوځلور میله‌سور لری.

## څلورم فصل سیاسی تشکیلات:

دانګریزانو استعماری زمامدارانودجنوبی پښتونستان په (٦) برخو ویشلی دی.

**۱ـ کویټی او پشین ضلع:**
ددغی سیمی تحصیلونه (علاقداری) کوټه پشین چمن او شورا رود نومیږی.

**۲ـ دلورلائی ضلع:** ددی سیمی‌تحصیلونه بوری ـ دوکی ـ بارکهان ـ موسی خیل او سنځاوی نومیږی.

**۳ـ دژوب ضلع:** تحصیلو نه ئی ابوزی ـ دسیف‌الله کلی ـ او هندو باغ دی.

**٤ـ دسیوی ضلع:** تحصیلونه‌ئی‌سیوی، هرنائی، نصیرآباد اوکوهلو نومیږی.

**٥ـ دچاغی ضلع:** تحصیلونه ئی‌نوشکی او دالبندین دی.

**٦ـ دبولان ضلع:** ددی سیمی‌مشهور ځای دمچ داوږ ګاډی تم‌ځای دی.


**الف: دکویټی اوپشین ضلع،**
شمال اولویدیځ ته‌یی قندهارختیځ ته‌یی دسیوی اوژوب ضلعی جنوب ته ئی دبولان دره واقع ده داسیمه دبحر دسطحی څخه دری زره فوټه جګوالی لری داسیمه دزلزلومرکز هم دی چه د۱۹۳۵ عیسوی کال په جریان کښی دزلزلی دواقع کید وله کبله (٤۰زره) تنه پکښی مړه شویدی. اوبی شمیره کورو نه‌نړیدلی وو. بله زلزله چه ډیره شدیده وه په ۱۹٤٥ کال کښی‌پیښه شوی‌ده چه‌په‌دی پیښه کښی هم ډیر مالی او ځانی تاوانونه دهغی‌سیمی اوسیدونکو ته رسیدلی‌وو.

ددی سیمی اوسیدو نکی(۲۹۱۲۹۸) تنه تخمین او په‌پښتو ژبه خبری کوی.

ددغی سیمی تحصیلونه دادی:



دجنوبی پښتو نستان دمشرا نو یوه ډله په توبه کی



دجنوبی پښتو نستان دملی سرتیرو ډله په توبه کی

گراني ــسرياب هنــهــ سمنــگلي ــنوحار ــكچلاغ ــبلبلي مشهورځايونه دي دكويټي ښار دجنوبي پښتونستان دمعدنيت مركزدي چه ترټولو ښارونو شكلي اوښې ژړه وړونكي منظــري او ښكلي باغونه لري .

**۲ــدپشين تحصيل:** ددغي سيمي پراخوا لي (۳۰۵۲) مربع ميله دي په دي تحصيل كښي زياتره كا كړــاڅكزي او ترين قبيلي ميشته دي مشهور ځايونه ئي گلستان ــقلعــه سيف الله بند خوشحال خان دي چه دغه سيمه زياتي ميوي لري مشهوركلي ئي علي زائي ــميگل زائــي ــ گالگل زائي ــنزكي ــملكيار ــقلعــه حاجي ــسيكي او داسي نور دي .

**۳ــدچمن تحصيل :** ددي سيمــي زياتره خلك ئي اڅكــزائي دي ددي خلكو كسب زياتره تجارت او ځيني نور كارونه دي .چه د هغه په واسطه خپل ژوند تامين كوي .

دليدلو ځاى ئي كوژك دى يوتونل چه دخواجه عمران په غرو نوكښي كيندل شوي او دكوژك په نـــــوم ياديږي .دغه تونــل دوه نيم ميــله اوږدوالي لري .دغه تونل دانگريزا نو له خوا هغه وخت كيندل شوي چه جنوبي پښتو نستان په جبر ســره دافغانستان له خاوري بيــل كــړي شو. نوځكه به امير عبدالرحمن خان ددي تونل دكيندلو په وخت كښــي ويل چه دغه تونل كيندل دا ســـي معني لري لكه چه ځما په زړه كښي حنجر وهل كيږي او دافغانستــان زړه په هغه باندي سوري كيــږي .

**ب: دلور لائي ضلع :** دلورلائــي رود څنگه چه دهمدي سيمي ته جاري دي نو ځكه دلور لائي دضلع په نــوم ياديږي داسيمه دبحر څخه يو څــه زيات جگوالي لري خلك ئي په پښتواو بلو څي ژبه خبري كوي دنفوسو شمير يي )۸۷٦۵( تنه اود كــو ټــي څخه (۱۳۰) ميله فاصله لري .

شمال ته ئي ژوب ختيځ ته ئـــي پنجاب او لويديځ تــه يي د سيــوي ضلع واقع ده .

**دلور لائي دضلع تحصيلونه :**

**۱ــدبوري تحصيل:** ددي تحصيل تراثر لاند ي دموسي خيلو تحصيل هم دي .

**۲ــ بار كهان :**

**۳ــدوكي تحصيل:** دسنخاوي تحصيل هم ددي تحصيل تحت اثر دي.

**۱ــ دبوري تحصيل :**

دغه تحصيل دضلع په شمالـــي برخه كښي پروت دي چه دزمكـــي زياتره برخه ئي غريزه ده لورلائي ــمنجيترــ مــوسي خيل ئــي دليدلو

ځایونه دی لورلائی یو لوی ښاردی‌چه‌دهر نایی داور گاړی دتم ځای‌څخه (۵۵) میله فــاصله لــری دبــحر دسطحی څخه (۴۷۰) فوټه چگوالــی لــری .

ددی مشهورکلی ډاگی ـ رنگوالــوهار ـ لاهور ـ شبوزائی ـ مرتد ـ او پټانکوټ دی .

ددی سیمی دپټانکوټ کلی یــوه‌لویه چینه اوغټ ډنډ لری چه یــو تورستیك ځای دی اوخلك‌ئی دلیدودپاره ورځی .

د موسی خیلو تحصیل چه‌دبوری دتحصیل تراثر لاندی دبوری پــه شمال ختیځه ډډه‌کښی پراوت‌زیاتره‌برخه‌ئی غرونه اوتیږلنه ده دگرمی په‌وخت کښی زیات باراتو نه لــر ی‌مگر پاالعکس په ژمی کښی‌بارانونه په‌لری .

مشهور کلی‌ئی دورگډ دی چــه‌دموسی خیلو دبازار ختیځی ډډی ته (۲۵) میلو په لیری والی پروت دی‌اوبل مشهور کلی‌ئی راړه شم‌دی . ددی تحصیل زیاتره اوسیدو نــکی‌پښتو ژبی دی دغه تحصل څو ژور کوهیان هم‌لری .

## ۲ـ دبارکهان تحصیل :

د لــور لائی دضلع جنوب ختیځی‌ډډی ته پروت اوډیره حاصل خیزه ځمکه لری چه‌په اوړی کښی ډیــربارانونه کیږی اودژمی په‌موسم‌کښی باران ډیرکم اوری.دبارکهان‌مشهو رکلی حاجی کــوټ ـ جوهر کــوټ ـ ښهرکوټ ـ عیانی ـ اهنی ـ اوراکن‌ــدی اودا ډیر امکان لری‌چه دغه‌سیمه داثار قدیمه له‌نقطه نظره ډیره غنی‌سیمه وی .

## ۳ـ ددوکی تحصیل :

دلور لایی ضلع جنوبی برخی‌ته‌پروت‌دی. ددوکی تحصیل یوڅوړو نی بازارلری اومشهور کلی‌ئی اسماعیل‌ښار ـ بادو شهر ـ جهانگیر ښار ـ مرجانزائی ـ پل‌چټا ـ گهتائی دجناب‌ناناصاحب مشهور زیارت دی چه د کهتائی سره نږدی دماهیانو دپاره‌یولوی ښکار ځای هم‌شته دی .

دسنځاوی تحصیل چه ددو کی دتحصیل تراثر لاندی دی د لورلائی پــه لویدیځ خــوا کښی پــروت دی‌مشهور کلی‌ئی جوتیرا، بــغاو، او پوئی دی سربیره پردی جوتیر یوښکلی ځای دی‌چه دلورلائی دضلع څخه (۴۵) میله لری دزیارت‌دسړك‌په څنډه واقع دی .

**ج- دژوب ضلع :**

شمال او شمال لویدیځ ته ئی زابل اومرکزی پښتونستان اوختیځ ته ئی دسلیمان غر جنوب ته ئی لورلائی اولویدیځ ته ئی لورلائی کویټه اوپشین موقعیت لری .

ددی سیمی نفوس ئی د (٦٥١٢١)تنو په شاوخوا کښی تخمین کیدای شی .

**دژوب دضلع تحصیلونه(علاقداری):**

**١- داپوزی تحصیل :** ددغی سیمی حلك ورته زیاتره فورټ سنډ یمن وایی دغه سیمه دژوب دضلعی ختیځی برخی ته پروت اوددی سیمی دلیدو وړ ځایونه اپوزی اومینادی اوغرونه ئی ډیرسمسور اوشنه دی دسلیمان دغره لوړه څوکه هم په دی سیمه کښی واقع چه دهغی دلیدو دپاره خلك ورځی. دمینا بازار داپوزی له بازارڅخه (٢٥) میله لری په جنوب لویدیځه برخه کښی پروت دی اومشهور کلی ئی شیخان اود اپوزائی کلی دی .

**٢- دهندو باغ تحصیل :**

هندوباغ دژوب دضلع په لویدیځه خوا کښی واقع او پراخوالی ئی (٣٢٧٥) مربع میله اوپه یوجګ ځای واقع دی ددی سیمی انګور- بادام او مندتی ډیر شهرت لری ددی تحصیل دکچوغی سیمه دلیدو ځای دهندوباغ داپوزی دسرك په لوړ سر پروت دی ددی منطقی هوا ډیره سړه ده .

مشهور کلی ئی کان مهترزئی -مرغه فقیر زائی- اور کس- داغه سلطان زائی- یاکل زائی- بابوچینه ارد کان مهترزائی ددی سیمی بادام ډیر شهرت لری اودکنچوغی دره ئی ډیره آباده اویوه ښکلی اوتوریستکه دره ده .

**د قلعه سیف الله تحصیل :**

دغه دژوب دضلع په مینځ کښی پرته ده مشهور ځایونه او کلی یی دسیف الله کلی - میرعلی خیل -مسافر چور- اخترزائی دی چه د سیف الله کلی دکویټی او اپوزی په سرك پروت دی دغه کلی سیف الله جوړ کړی نوځکه اوس هم دده په نوم یادیږی .

**د- دسیوی ضلع :**

ددغی ضلع شمال ته دلورلائی ضلع جنوب ته ئی دسیند سیمه ختیځ

سه‌ئی ډېره اسمیل‌خان او لویدیځ‌نه‌ئی پشین کویټه او کچی پراته دی .

دا سیمه دبحر دمخ څخه دزروڅخه‌تر ۳۰۰۰ فوټو پوری جګوالی لری ددی سیمی نفوس (۲۰۷۵٦۲)ته اټکل کیدای‌شی چه‌په دی‌سیمه کښې د پښتنو- بلوڅو او بروهی‌قبیلی اوسیږی. ددغی ضلعی دری تحصیلونه (سیوی- نصیر آباد -اوکوهلودی) دی .

**۱- د سیوی تحصیل :-** دکچی شمال ته واقع او مشهور کلی‌ئی شهر ګلو، خجك، مرغزائی ګړك، سالکان اودیپال دی .

**۲- دهرنایی تحصیل :-**

لـدکچی شمال ته واقع اومشهورکلی‌یی شهر ګلو، خجك،مر غزا یی- کړك- سالکان اودیپال دی.

دغه تحصیل د سیوی په شمال‌ختیځه خواکښې پروت اوپراخوالی ئی (۱۵۹۵) مربع میله دی دغه‌تحصیل یونوی ښاردی چه دسیوی په (۵۸) میلی کښې واقع‌دی په‌دی‌سیمه‌کی دزراعتی محصولاتوله‌جملی څخه مالتې اوګنی په ډېره زیا ته‌پیمانه پیداکیږی ددی سیمی‌مشهور کلی اوځایونه ښازګ او سورځای(دډبرو سکاره پکښې پیدا کیږی)په ډیر جګ ځای واقع دی چه ددی‌سیمی هوا ډیره سړه‌ده توری مشهوری سیمی‌ئی ګواسی- کچه-کهوسټ پیر ښار دی چه دپیرښار په سیمه کښې دګوګړو دکان چینه‌وجود لری .

**۳- نصیر آباد تحصیل :-**

دغه ځمکه‌په (۱۹۰۳) عیسوی‌کال‌کښې دکلات خان‌ته‌په اجاره ورکړی شوی وه ددی تحصیل پراخوالی ۸۵۲) مربع میله چه (۱۰٤) میله اوږدوالی او ۱۲ میله سور لری دجنوبی پښتو نستان له وچو سیمو څخه شمیرل کیږی په‌دغه سیمه‌باران اوربښت ډیرکم دی. صحبت پوراوسته محمد چه دنوموړی‌تحصیل‌مربوط دی‌ډیر شهرت لری چه د جکیب آباد اولړکانې د کرښې په‌سر پراته دغه ښار نوی آباد شوی دصحبت پور ښار کښې یو جامع‌جومات جوړشوی چه ددغه جو ما ت په جوړولو کی دهلی دجامع‌جوماتله نقشی څخه استفا ده شــو ی ددی سیمی مشهور کلی جټپټ -نصیر آباد- درګی- صحبت پور- دوست پور- مانجی پور- ادم‌پور اوداسی نور دی .

**٤- دکوهلو تحصیل :**

د سیوری دضلع لویدیځی خواته‌پروت او پراخوالی‌ئی (۳٦۲) مربع میله‌دی په‌دغه سیمه کښې د زرکون‌اومری قبیلی میشته دی. دکــوهلو



ACKU



ښاغلی شیر محمد خان
دمری‌بلوخو دقبیلی‌مشر



ښاغلی ملك محمد سعید خان دهوار



ښاغلی میر محمد بلال خان‌بلوخ



دجنوبی پښتونستان دبگټی قبیلی
دپخوانی زمانی ملی مشر

3691

څخه دوکی ته سړك تللی دی‌مشهور کلی‌ئی اور یانی- مکرائی- سر دار بسار- میرنات بنار اود خدایدادکلی‌دی .

په قومی اساس په دوه برخوویشل شوی چه یوی خواته ئی موی اوبلی خواته ئی دبگتی قبیلی‌پرتی دی .

**۱- دمری سیمه :**

ددی سیمی مشهور غرونه‌ئی‌کنړسایو او جانداران دی. دلوړی‌ابیجی ارد داړر رودونه په همدی سیمه‌کی‌بهیږی مشهور کلی اوځایونه ئی کهان- تنگ- کنډی- کمیولی اوپوزه دی .

**۲- دبگتی سیمه :**

دزین - میر دوست بیرا اوکوپ‌غرونه پکښی واقع دغه غرونه بنه بوټی او وابنه لری مشهور کلی اوځایونه‌ئی ډیره‌بگتی- کچوری-لوئی اواچ دی .

**دچاغی ضلع:**

دغه ضلع دجنوبی پښتو نستان‌لویدیځی خواته پرته ده اوشمال ته ئی سرلته غر ختیځ ته‌ئی ساروان‌جنوب ته‌ئی خاران او لویدیځ ته‌ئی ایران واقع شویدی ددی سیمی دبحر مخ نه‌په ځینو ځایوکی‌زر فوټه اوپه ځینو ځایو کښی تر دری زروفوټه پوری رسی .

نفوس‌ئی (۳۹۲۵) تنو په‌شاوخواکښی تخمین کیدای شی. ددی ضلع لویدیځه خنډه دری میاشتی سخت‌بادونه لری چه دمی دمیاشتی څخه شروع دستمبر تر میاشتی پوری‌دوام لری .

ددغی سیمی‌دګوګړو کان‌دسلطان‌په غره کښی دی .

**تحصیلونه ئی :**

**۱- دچاغی تحصیل :** چه دغه‌تحصیل په دوو تحصیلونو باندی مشتمل دی نوشکی اود البدین چه‌دنوشکی تحصیل دچاغی په ختیځ کښی واقع دی .

**و- دبولان‌ضلع:** دغه دیوی‌مشهوری‌دری‌نوم دی‌چه دافغانستان اومحکوم پښتونستان په منځ‌کښی واقع اوهمدغی دری‌په نوم باندی یادیږی .

**څلور خوائی :**

ددی سیمی شمال ته کویټه اوپښین اولویدیځ ته ئی سروان او جنوب ته‌ئی کچی اوختیځ ته‌ئی دسیوی ضلع وسیمه پرته‌ده .

ددی سیمی پراخوالی (۵۳) مربع‌میله‌کیږی دغه سیمه دمچ ترعلاقی

پوری ټوله دغرو څخه تشکیل شوی‌اودمچ دسیمی څخه مخ‌په ښکته د لالاجی هموارهٔ سیمه‌ده چه (۲۵) میله‌اوږد والی او«۶» میله سورلری مشهوری سیمی اوکلی ئی کوهان‌تپه، شګه، نوجوارکندهار اوداسی نورډی دمچ شمال لوری‌ته غرونه دخراسان دغرونو په‌نامه یادیږی په دغه سیمه کښی بادام اوانار ډیرزیات پیدا کیږی .

داضلع دکلات د ریاست تراثـرلاندی ده اومشهور ځایونه ئی‌بولان داورګاډی تم ځای مـچ (دبولان) دضلع څخه دی چه په ۱۹۳۵ عیسوی کال کښی دزلزلی په وجه خـراب‌شوی وو .

# پنځم فصل اقتصادي پرمختګ:

**پوهنه :**

بلوچستان د پښتونستان دلویوسیمو څخه شمیرل‌کیږی چه دزمکی ساحی په نسبت ئی نفوس ډیرکم‌دی‌په بلوچستان کښی‌هم پوهنی ته لکه دپښتونستان دنورو سیمو په‌ځیر خلکو زیاته توجه‌نده کړی‌بیاهم یوتعداد ښوونځی ئی دخپل اولاد دروزلو دپاره آباد کړی‌دی .

**روغتیا :**

په بلوچستان کښی د خلکو دروغتیا دپاره اودخارویو دښی‌ساتنی دپاره ځنی وړی اولویی شفاخانی‌شته‌دی .

د ډاکټرانو شمیر یې «١٦٨» تنه‌کیږی .

**کرهنه :ــ**

ګرانو لوستونکو ته‌به معلومه‌وی‌چه دبلوچستان زیاتره سیمی غرنی ریګستانی اووچی دی نولدی کبله‌دپښتونستان پدی برخه‌کښی زراعت دپښتونستان دنورو سیمو په ځیرزیات پرمختګ ندی کړی‌دغه سیمه دځمکی دساحی‌له‌رویه دپښتونستان‌لویه سیمه بلل‌کیږی. او تخمینا (٢٢٤٤٠٠٠) جریبه ځمکه دکرنی‌دپاره تیاره لری چه‌په‌اوبو خړوبیږی اومیوه جات ئی داب اوهوا داختلاف‌په وجه ډول ډول په کښی پیداکیږی لکه انار- مڼی ناك-انګورالوبخارا- مندتی- پسته- سرده او ګرمه‌ختکی اوهندوانی- بادام-خرما-مالټی- سنتری- نارنج اوداسی نور .

دبندو نهرو کاریزونو او اوبوسیفونونو چه‌په جنوبی پښتونستان کښی موجود دی په لاندی توګه‌دهغوی احصائیه محترمو لوستونکو ته وړاندی کیږی .

| | | | |
|---|---|---|---|
| ١- بندونه | ٤٦ | ٢- کاریزونه | ٤٩٣ |
| ٣- دسیلاب ګرځولوبندونه | ٩١ | ٤- سیفونونه | ٩٠ |
| ٥- طبیعی چینی | ١٨٠٣ | ٦- ویالی | ٧٦ |
| ٧- کانالونه‌اورودوخانی | ١٣٢ | | |

**حیوانات :ــ**

په‌جنوبی‌پښتونستان کی‌ډیرحیوانات‌پیداکیږی چه‌په تخمین ډول ئی شمیر پنځوسو لکو ته رسیږی‌لدی‌جملی څخه ئی‌شل لکه پسونه دی

ACKU

اونور دیرش لکه‌ئی غواوی اوښان‌اسونه اونور حیوانـات دی دمیړو خخه‌ئی په‌کال کښې‌یوه زیاته‌اندازه‌ړی حاصلیږی علاوه پردی چرگی چرگان هم په زیاته اندازه دجنوبی‌پښتو نستان په سیمو کښی روزل کیږی .

وحشی حیوانات‌ئی پړانگ‌ـلیوه‌ـسورلنډی‌ـ گیدړه‌ـ سوئی‌ـ ډول ډول مرغان اوماهیان په‌زیاته اندازه‌پیـدا کیږی چـه خارج تـه هـم صادریږی .

**صنعت :ـ**

په‌جنوبی پښتونستان کی پخواصنعت‌زیاته ترقی نه‌وه کړی ځکه چه‌پـه پخوا وختو کښی صنعتی ټولی‌چاری‌پـه لاس اجرا کیدی چـه د جنوبی پښتو نستان دستنو گنډلو شیان‌جهانـی شهرت لـری مگرنن ورځ څرنگه چه دماشین زمانه‌ده نودټولی‌دنیا لاسی صنایع په ماشینی‌صنایع بدلی شوی چه په همدی اساس په‌جنوبی‌پښتونستان‌کښی هم‌ځنلی‌لویی اووړی صنعتی‌فابریکی جوړی‌شویدی‌مگرڅرنگه چه‌په جنوبی پښتونستان کښی برښناکمه اوټوله په‌یوه‌ساعت‌کښی شل زره کیلو واټه ته‌رسیږی نوځکه همدلته عصری صنعت ترقی‌نده کړی‌مگر بیاهم‌ځه ناځه کارخانی لری. دجنوبی پښتونستان صنعتی‌فابریکی په لاندی ډول دی .


۱ـدمیوی ساتلو څلور کارخانی.

| | | |
|---|---|---|
| ۲ـ ددوا جوړولو | ۲ | کارخانی |
| ۳ـ دوړینو مصنوعاتو دپاره | ۱ | کارخانه |
| ٤ـ درخت دپاره | ۱ | کارخانه |
| ٥ـ دیغ دپاره | ٤ | کارخانی |
| ٦ـ چاپخانی | ٤ | کارخانی |
| ۷ـ دانجینری دموسسی | ٦ | کارخانی |
| ۸ـ داوړو برښنائی ژرندی | ۳ | کارخانی |
| ۹ـ قالین اوبدلو | ۲ | مرکزونه |
| ۱۰ـ دلاسی صنایعو | ۳ | مرکزونه |

چـه ټولی‌ئی (۳۰) کارخانی اوصناعتی مرکزونه کیږی .

**کانونه :ـ**

**څرنگه چه‌په جنوبی پښتونستان**کښی زیاتره برخه غرونه دی نوله دی کبله زیات کانونه لری چه‌ددوی‌په اقتصادی بنه کښی دتقویی‌لپاره ډیر گټور ثابتیږی .



دجنوبی پښتونستان د خلکودپښتونستان دملی و رځی تجلیل
یوبل په زړه پوری عکس



دجنو بی پښتو نستا ن آزادی‌غوښتونکی د پښتو نستا ن دملی
ورځی دتجلیل په‌وخت کی

### ١ــ گــاز :ــ

د پښتونستان په سیمه‌کی ترټولو نویه سرمایه گازدی چــه په سوی گیس سره مشهور دی اودغــه ځکه‌سوی گیس ورته وایه شی چه‌دډیرو په علاقه دسوی په‌مقام پیدا کیږی‌دغه‌ځای یوسپیره اووچ ډاگ‌وو د شپی بــه قافلی پــری تیریدی اودورځی بــه په‌دی ډاگ کښی زیاته گرمی‌وه چه‌هیڅ یوانسان لدی‌دښتی‌څخه نه شوای تیریدلای مگر اوس یــو ډیــر ښایسته کوچنی ښار دعونډیو په مابین کښی جوړ شویدی چه یوه ډیره ښکلی منظره‌ئی غوره‌کړیده .

د سوی دگــاز پــایپ لینونــه دپښتونستان‌ددی برخی‌څخه‌دپاکستان اوحتی‌په‌دی وختوکښی دپښتونستان‌پیښورته‌هم رارسیدلی‌دی. دکارخانو چلولو نه علاوه دکوروںو تودولو اودسوں دموادو په عوض ورڅخه کار اخیستل کیږی .

### ٢ــ تیل :ــ

داسی ښښی‌ښښانی زیاتی‌موجودی‌دی چه دقلات دمکران په برخه‌کښی په زیاته اندازه تیل موجود اوسرډیره پردی دکلات دکچی د گوگرت په مقام هم دتیلو یوه سروی‌شویده‌اود تیلو موجودیت ثابت شویدی .

### ٣ــ دډبرو سکاره :ــ

په کومو ځایو کښی چه پرښښــا اوگازونه نه‌وی نو کار خانی دډبرو په سکرو چلیږی اوهم دسون‌دموادو په‌ځیرپه کوروںوکی تری‌کاراخیستل کیږی اود ډبرو دسکارو مهم کانونه‌په‌لاندی ډول دی .

١ــ سورنج د ډبرو دسکارو کان چه‌مقدار یی ١٠٨ ملیونه ټنه‌اټکل شویدی.

٢ــ سنجدی د ډبرو دسکارو کان‌چه مقدار یی ٤ر٠ ملیونه ټنه اټکل شویدی.

٣ــ دیگاری د ډبرو دسکارو کان‌مقدار یی٠ر٤ملیونه‌ټنه اټکل‌شویدی

٤ــ شاهرگ گوست د ډبرو دسکارو کان چه‌مقدارئی ٥ر١ ملیونه ټن‌اټکل شویدی.

٥ــ هرنای‌مچ د ډبرو دسکاروکان‌چه مقدار یی ٦٢ر١ ملیونه ټن‌اټکل شویدی .

ځنی‌نور کانونه هم لری لــــکــه‌کرو مایت دهند وباغ په‌علاقه کښی پیداکیږی چه‌داوسپنی په‌پاکیــدو درنگسازی فوټو گرافی په‌صنعت‌کښی ورڅخه کار اخیستل کیږی .

دمرمرډبروکان‌چه شاه‌جهان‌اوتاج‌محل‌هلی ددی کان په‌ډبرو جوړی‌شویدی دچاغي په‌سیمه کښی دالبند یــن‌په‌غرونو کښی په‌مختلفو رنگونوپیــدا

کیږی زیاتره ئی نورو هیوادوتـــهصادریږی چه‌په کال کښی تقریبا کم تو زیات (۵۸۰۰) ټنه دمرمرو ډبری‌تری راایستل کیږی سلفر (گوگرد) هم‌په‌بلوچستان کښی دکچی دعلاقی‌دسنی په‌حصه کښی پیدا کیږی او رنګ ئی عموما زیړ اود موم پـــه‌شان نرم وی اوسربیره پـردی د کلات په شتی، دچاغی په‌سلطان غره‌اود مکران په‌دښته کی پیدا کیږی. دلوزایت دمکران پـــه غـره کښی‌پیداکیږی اودشیشی جوړولوپه‌صنعت کښی ورڅخه کار ا خیستل کیږی.

**مګنیزیوم .**

**دکویټی په ژوب کښی دنسائی** په‌سیمه کښی **پیداکیږی چه‌تخمین** (۱٤٤۸) ټنه په کال‌کښی لدی کانه‌ایستل **کیږی .**

**جپسم :**

د کویټی دلورلائـــی سیوی پـــه‌سیمه کښی دپشین تنګی په **علاقه** ددی‌کان ذخیری شته‌چه (٤۰۰۰۰۰) ټنه‌تخمین‌کیدااى‌شي‌اودلورلائى‌دچما **لانګ په‌علاقه** کښی **(۷۰۰۰۰۰)ټنه‌**اندازه شوی دی‌چه **دسمنټو جـــوړ** ولو اولوښو **دجوړولو په صنعـــت**کښی ورڅخه **استفاده کیږی .**

**بیرا ټ:**

دکویټی دسیوی په علاقه کښی د **زیارت په‌غرونو کی یی تخمیـــا** **(۶۰۰) مربع میله ساحه ــ احتو اکړیده .**

دقلات دخضدارګونګا په‌بر خـــه‌کښی یی ذخیر ی شته چه‌اوږدوالی یی له(۲۷۰) فوټو نه ــ تر (۱۲۰۰فوټو پوری اټکل کیدای شی اوپنډ والی‌یی‌دلسو فوټونه‌تراویا فوټوپوری‌اټکل شوی او تخمینی ــ انداز ه‌ئـــی ۱۵ــ لکه ټنه کیږی‌چه‌په‌کیمیا و ی‌صنعتو نو دتیلو ایستلو په‌وخت په توهیانو کښی ورڅخه کار اخلی‌اوسربیره پردی په‌رنګ جوړ و لــــو شیشه‌جوړولو او ربړ‌په‌صنعت کښی‌ورڅخه کار اخیستل کیږی .

**اوسپـــنه :**

دچاغی په علاقه کښی تثبیـــت‌شوی مګر پوره‌اندازه ئی‌تر اوســـه پوری نده معلومه شوی .

**دڅو نی دډبرو کانونه:**

دلور لایی په‌سیمه کښی **ډیرزیات**‌ار په کورونو جوړولو کښی تــری استفاده کیږی . کوم کانونه چه‌ترلاس لاندی اواستفاده تری کیږی د کار ګر لپاره‌کورونه اونور تسهیلات‌برابر شوی اوپه ډیر اسوده حالـــی دخپلو ماشو مانوسره شپی‌اوورځی‌تیروی .



دجنو بی پښتو نستا ن خلـــكدپښتو نستان دملی ورځی د تجلیل
په‌وخت کی .



دښا غلی اجمل ختك دپذیرا یـی‌یوه منظره د کویتی په ښار کی.

٩٦.٦١

**دښوري کان :**

دغه کانچاغي تهٔ ږدي پروتدي .

**سپنه خاوره :**

دغهخاوره چهتباشير ترىجوړيږيپهسپين تنګي اوسوچر کښي پيـدا کيږي .

**رانجه :**

دغه په جالوان خزدار او چاغيکښي پيدا کيږي .

سر بيره پـه پورتنيو ذکر شووکانو نور کانونه هم پـه بلوچستان کښي موجود دي‌لکه درخام ډبره اومالګي کانونه .

سرب ،مس المو نيم اوداسي نـورکانونه هم لري .

**لاري :**

**الف : اورګاډي کرښي :**

دچمن اوکويټي پـه منځ کښي داورګاډي لار :

دغه کرښه جنوبي پښتو نستان‌ته‌د جټ پټ په برخه کښي دسوي مچ ، سپرنډ ، کويټي، بوستان اوسيفالله دکلي څخه تيريږي اوچمن ته رسيږي اوږدوالي ئي دجټ پټ‌نه ترچمن پوري (٢٦٥) ميله دي‌دغه لار دجنوبي پښتونستان دلويولاروڅخه شميرل کيږي سورتـګ ا و هوجك‌پههمدي کرښه باندي واقع‌دي .

**٢ـدکويټي اوزهـدان ترمـنځ داورګاډي کر ښه :**

دغه کرښه د نوشکي د البندين نوکنډي څخه تيريږي او زاهـدا ن ته‌رسيږي ددي کرښي اوږد وا لـي(٤٥٦) ميـله دي چـه د جنوبـي پښتونستان او ايران ترمنځ يولويه‌تجـار تـي لا ر ګـڼل کيـــږ ي .

**کهوسټ او هر نايي کرښه :**

دا کرښه دبوستان اوسيوي‌ترمنځ‌تيره شويده اما اوس‌تنها کهوست اوسيوي ترمنځ تري ـ استفاده کيږي‌اودغه کر ښه دچپر فټ سره نژدي دبوستان اوکهوسټ‌سره پري‌شوي‌اود لوز لائي دضلع تګ‌راتګ هـم لههمدي لاري څخه کيږي .

**٤ـ داپوزي کرښه :ـ**

دغه کرښه ښه اساسي نده جوړه‌شوي اوږدوالي ئي (١٨٤) ميله‌دي اود واورو اوباران په وختونو کښي‌ښده وي ددغه کرښي دتـم ځايونو نومونه دادي .

کهتاني ـ هندو باغ ـ اپوزي کـان‌مهتر زايي‌مروتان ـ عبداللهخـا نـ



ACKU

ګلستان يارو او عيره دي .

**ب : سړ کونه :ـ**

**۱ـ دکويټي‌سيوی ـشکا پـو وسړ ك :**

ددی سړك اوږدوالی (۲۰۰ )ميله‌دی دغه سړك دکهپوز نه‌تر مشکاف پوری دغرونو په‌منځ کښی تللی‌اود سيوی په‌ضلع کښی دبهی لـه دښتی نه‌تيريږی .

**۲ـدچمن اوکويټی سړك :**

دغه سړك چه دجنوبی پښتو نستان‌له‌لويو اوښايښته سرکونو څخه ـ دی (۷۸) ميله اوږدوالی لـری.

**۳ ـدبرشورا ويا رو سړك :**

دغه‌سړك ديارو دتم ځای سره اوچمن نه سړك څخه ـبيل شوی اود پيشين او خوشحال خان بند نه‌بره‌شور ته‌رسيدلی دی .

**٤ ـاپوزی سړك :**

**دغه سړك کچلاغ ته‌نژدی دکويټی‌اوچمن له سړك څخه بيـل شـوی** اپوزی ته رسيدلی دی ددی سړك اوږدوالی (۲۰٦) ميله دی‌دباران‌او واوری ددوريدو په‌وختو کښی‌دتګ‌اوراتګ په‌وسايلو کښی څه‌ناڅه‌څنډ راځی .

**۵ـ دنو کنډی سړك :**

دغه سړك دکويټی نه‌ترنوکنډی پوری(۳۰۹) ميله اوږدوالی لـری .

**٦ـ دکلات سړك :ـ**

دغه سړك همد کويټی دسړك څخه‌بيل شوی اود مستونګ له‌لا ر ی کلات ته رسيږی اوږدو ا لـی ئی(۸۸) ميله دی.

**۷ ـ دکويټی اولورلائی سـړك:**

دغه سړك چه دچو تر له زيـار تاوسملان څخه تيريږی اولورلائی تـه رسيږی چه‌دغه سړ ك (۱۲۲) ميله‌او ږدوالی لری نودغه‌سړك لدی‌کبله حه‌ډيری لوړی اوژوری لری يواز ی‌داوړی په‌موسم کښی تری کـا ر اخيستل کيږی اودنومبر دمياشتـی (عقرب) دلسمی نيټی نه دآپريـل (ثور) تر لسمی نيټی پوری تقريبا بندوی .

**۸ ـسپره راغه :**

دغه سړك دکويټی او اپوزی‌له سړك يعنی خلو ازئی سره نږدی جداشوی و(۱۳۵) ميله اوږدوالی لر ی ،



دجنوبي پښتو نستان د سر تیرو ډله په‌توبه کې

**۹ ــ دهند وباغ سړك :**

دكويټې اپوزي له سړك څخه يعنې دسيف‌اله كلي ته نژدي جلا شوي (۱٦۲) ميــــله‌اوږدوالـي‌لري‌سيف‌الله دكلي څخه ترلورلائي‌پوري (٤۲) اود لورلائي څخه (٤۹) ميـله‌فاصله‌لري دسپيره راغه دسړك‌سره يوځاي شويدي .

**۱۰ــ اپوزي اولورلائي سړك :ــ** ژړ سره تنگي، مرغه، كړي باهر. لكابند څخه تيريږي. اوتقريبا (۲۵)ميله دغرونو په مينځ دلوړو ژورو څخه تير شويدي .

**۱۱ــ دلورلائي‌څخه دباركهان‌سړك:**

دغه سړك چه دسمالن، دوكـي ،تنبد. هـوسړي څخه تيريږي چـه (۱۸۸) ميله‌اوږدوالي‌لري اوباركهان‌ته رسيږي .

**۱۲ــ ددیره‌غازي‌خان اولورلائي‌سړك:**

دغه سړك (۱۷۷) ميله اوږدوالي‌لري دجنوبي پښتونستان اوپنجاب سيمې سره وصل كوي .

**۱۳ــ دلورلائي اوهرنايي سړك :**

دغـه سړك ٥٥ ميله اوږدوالـي‌لـري .

**۱۳ــ دلورلائي اوموسي‌خيلوسړك :**

دغه سړك‌اپوزي اولورلائي‌دسړك‌څخه دمرغه كړي سره نږدي بيـل شوي او (۹۰) ميله اوږدولي لري‌په هغو سيمو كي چه سړكونه‌وجود نلري حمل ونقل داوښانو او **قچروپه**واسطه سره روان دي او د خلكو مشكلات تريوڅه اندازه پوري رفع‌كوي اوله يوځاي نه بل ځاي تـه قافلې رواني وي .

**مشهور بندرونه**

دهر دولت د اقتصادي پرمختگ‌لپاره تجارتي بندرو نه ډير اهميت لـري چه له‌ښه مرغه پښتو نستان‌څلور بندرونه لري اوهغه په لاندي ډول بيانيږي .

۱ــ گوادر .

۲ــ پسنې .

چه دغه دوه بندرو نه بين‌المللي‌شهرت لري .

۳ــ جيوني .

٤ــ اورمورا دغه‌دوه بندرونه‌زيات‌شهرت نلري .

**صادرات واردات :**

جنوبی پښتونستان وروسته پاتې سیمه ده‌په دې‌اساس‌یې صادرات‌کم او وارادت‌ئې زیات دی .

دپښتو نستان‌ددی سیمی‌صادرات‌ګاز۔ پوستکی۔ وړی۔ وچې اوتازه میوی۔ ماهیان۔ دارو درمل۔ خرمااوداسی نور .

واردات ئې منسو جات۔ بورهـ پټرول۔ لوښی ماشین‌الات۔ خوراکی مواد۔ اود انسانانو اولیه ضروری‌شیان اوداسی نور .

# دوهمه برخه :

**شپږم فصل :**

**تاریخي پس منظر :ـ**

پخوانیو اوسیدونکو دغه سیمه یوه‌شادابه ځمکه گرځولې‌وه په‌دې هکله دځمکې پیژندونکو نظریې د جنوبي‌پښتونستان په باره کښې په لاندې ډول سره‌گرانو لوستونکو ته‌وړاندې‌کیږي .

**د ځمکې پیژندو نـکو متخصصینونظریې :ـ**

د جنوبي پښتو نستان ½ برخـه‌دښتې اومیدانونه دي چه زیاتره ئې دانسانانو دبې احتیاطۍ لـه لاسـه‌خرابه شوې مگر کمه برخه‌ئې‌دجوي وطبیعي حوادثو له‌نقطې نظره‌خرابه‌شوې‌ده .

ډیر پخوانې شواهـد موجود دي‌چه په جاله‌وان کښې به خلکو پـه جینو کاریزونو اونورو وسیلو خپلې‌ځمکې خړوبولې اوزیات شمیر خلکو دلته استو گنه درلوده .

دعربو جغرافیه دانانو دخزدارلفظ‌ یات یاد کړی چه دمسیح داومـې پیړی نه پس یوه زرخیزه سیمه وه‌چه‌دوه پراخو میدانونو‌په مینځ‌کښې پرته‌ده یعني دختیځ نـه‌په کچي اولویدیځ نه‌په هانس مشتمله‌وه .

خزدار چه دجالوان مرکزوو عربوبه‌د ۹۷٦ مسیحی کلونو په‌شاوخوا کښې ددې سیمې خلك دسیندیانوبه‌مقابل کښې‌په پوځي‌ډول استعمال کول ځکه چه سراوان اوجاله‌وان‌ډیرستراتیژیکی اهمیت درلود نو خلکو ئې‌هم جهاني جنگونه شهرت ځا نته‌کسب کړی وو .

دکلات سیمه نن هـم ویرانه اوویجاړه معلومیږي چه‌په پخوا زمانو کښې‌ئې دابادی له‌حیثه زیات‌شهرت‌درلود دنفوسو ځخه ډکه سیمه وه بخوانو وختو کې‌چه داورگاډې‌کرښې‌نه‌وې دتجارت یومهم‌مرکزوو ننورځ یوه خرابه او ویرانه گرځیدلې‌ده‌چه‌دځینلو اوبه‌هم په ډیر مشکل سره پکښې پیداکیږي .

داویستا پـه کتاب کښې دپشین‌وادې (دوارا پشین تنها) په نوم‌یاده شویده .

ستترابو اوځینو نورو هم جنوبي‌پښتونستان یاد کړی دی مارکوپولو هـم بلوچستان تـه راغلی اوهـم د مکندر اعظم پوځونـه دمـکران او لسبیلې ځخه تیر شویدي. دنرچس بحري پوځ‌هم دمکران‌په ساحل‌کښې اوز شویدی اود هرگوش مجسمه‌وروسته په کویټه کښې پیدا شوې. به‌دوهمه عیسوي پیړی‌کښې دگریکوچه بکترین ئې پادشاهوو دغه ځمکه

لیدلی اوهغه ته‌په لاس ورغلی ده اودهغه نه پس بودائیانو ته‌پــه لاس ورغلی .

نوشیر وان دخپل سلطنت ساحه‌ترخاران پوری راغزولی‌وه چه‌دخاران څخه‌سیستان‌ته تجار تی‌لارتللی‌وه‌پس‌نه‌دی ثابتیږی چه نوشیروان دخپلی دوری سلطنت ترجنوبی پښتونستان‌ترحدودو پــوری راغزولی‌وو پــه ۷ عیسوی پیړی کښی داسلام دمقدس‌دین لمن ترجنوبی پښتونستان‌پوری راوغزولی شــوه او ځینــی عــربی‌جرنیلان لکه محمدبن قاسم داسلامی جذبی سره دجنوبــی پښتو نستان‌سیمی ته‌داخل‌او بلوچستان‌داسلامی نړی جزوګرځید چه تردی وروسته‌دافغانستان نه‌تره‌هلی پوری داسلام دمقدس دین‌پلوشی خپری شوی‌لدی‌معلومیږی چه‌په مختلفو تاریخی‌دورو کښی په جنوبی پښتونستان باندی‌مختلف فاتحین تیر شوی غیر لدی چــه د جنوبی پښتو نستان داوبــوسیستم ته‌ئی نقصان رسولی وی‌بل څه تری ندی پاتی شوی دعربو قولولښکری کشی دلویدیځ نه ختیځ‌ته‌د جنوبی پښتو نستان پــه لار تیری‌شویدی .

نودجنوبی پښتو نستان‌هغه‌سیمه‌ده‌چه‌مختلفو لښکرکشیو ددوی په‌رسم اورواج ډیر تاثیر غورځولی دی. چه‌یوڅه اندازه هندی تاثیرهم دلته‌پاتی شویدی خصوصا په کلات کښی دهندوانو په‌زمانه کښی ګنداوااسونو زیات شهرت درلود. اویوه اندازه دبودایانو قــدیمی اثــار پــه جنوبی پښتونستان کښی لاس ته راغلی‌دی‌دپرنګی دیوی پیړی په یوه زما نــه کښی چه دافغانانو او انګریزانوترمنځ جنګونه شوی‌وو یوه کمه برخه جنوبی پښتونستان دپرنګی دجنوبی‌پښتونستان په نوم یادیده چه‌دهغی براخوالی (۲۸۸ر۵٤) کیلو مترمربعو، اوانګریزانو ددی څخه دعسکری مرامونو لپاره فایده اخیستته اویوه‌دټورګاډی کرښه‌ئی‌دبولان له‌دری‌څخه ترڅاګی پوری کش کــړی اود هغه‌ځای‌نه زاهدان‌ته رسیدلی په‌لویدیځ اوشمال کښی دژوب دری نــه تیره‌شوی اودغــه کرښه د ستراتیژیکی مرام دپاره جوړه شوی‌وه .

کله چــه دایران ، افغانستان اوهندوستان ترمنځ تجارت په لویــه پیمانه شروع شو نــو لسبیلی اوکلات اوخزدار خپل تاریخی اهمیت له‌لاسه ورکړ اوبین‌المللی شهرت‌ئی‌بایلود .

په لومړی اودوهمه جهانی جګړه‌کښی جنوبی پښتونستان ته بیا د اهمیت په نظر وکتل شول یوازی‌دژوب دری ته چه داورګاډی کرښه دهغی شمال نه تیر شوی اواپوزی‌ته رسیدلی‌وه په دی وخت کښی د جنوبی‌پښتونستان کاریزونه‌کوهیان‌اود اوبو رسولو نورسیستم‌ته زیات



ACKU



د جنوبي پښتونستان مشرښاغلي محمد اکبربګټي دکابل باغ بالا کې دځو تنو پلو ځواو پوځن افغان‌سره یو ځای لیدل کیږي.

نقصان ورسید .

د جنوبی پښتو نستان تجارت‌صرف دکوچیانو په لاس کېښی‌وو ، چه ایران او افغانستان ته جاری وود افغا نستان او ایرا ن نه دخپلو رمو سره راتلو او نتیجه‌ئی داسی‌شوه‌چه دجنوبی پښتونستان‌ځنګلو نه په میدانو باندی تبدیل شول چه‌اوس هلته یوازی وانښه او ګیاوی شنی کیږی اوبس. پس نو په‌دی‌وجه دځمکی تناسب هم‌په جنوبی پښتونستان کښی فرق لری اودمنکیت ډول هم‌بالکل فرق لری او رجه‌ئی یوازی هغه تاریخی تبدیلی‌اودوری دی‌چه‌په جنوبی پښتونستان باندی تیری شویدی .

**۱ــ زمیندار:** هغه خلکو او قبیلوته ویل کیږی چه هغوی خپلی‌ځمکی په‌خپله کری اوپه څلورو سیموکښی‌اوسی لکه کلا ت ـ پشمین‌ـسنځاوی اوساه رنګ کښی چه تعداد ئی(۳۲۳۳۰) تنو ته رسیږی اود لویو اویولویو ځمکو خاوندان دی .

**۲ــ غریبان:** هغه طبقه‌ده چه‌دوی‌شریکه ځمکه لری اوزیاتی ذمه‌واری په‌غاړه لری .

**۳ــ حکومتی لامالك ځمکی:** چه‌دغه ځمکی حکومت په لاس کښی لری اوډیرکم خلك پری میشته دی‌یعنی زیاتره قبضه‌پری دحکومت‌اود رياستی مقام وی .

**دپخوانو زمانو داوبو ویش :ـ**

په جنوبی پښتو نستان کښی‌داوسیدلو مهم اومشکل داوبو نه‌لرل دی دجنوبی پښتونستان ښارونه اوکلی دانګریزانو په زمانه کښی په جنوبی پښتونستان کښی منځ ته‌راغلل اوداهغه وخت‌ؤ چه انګریزان دخپلو عسکرو دمفادو دپاره هلته‌اوسیدل اوبیا پردوی نورخلك هم راتول شول اماپه هیڅ وخت کښی‌دقحطی مسئله‌په جنوبی پښتونستان کښی منځ ته‌نه‌ده راغلی مګر داوبودمشکل سره مخامخ شویدی ځکه چه‌په‌جنوبی پښتونستان کښی‌دیوی‌خوانه اوبه نشته اوله بلی خوا مواصلاتی کرښی په ممکمل صورت‌وجود نلری .

په جنوبی پښتونستان کښی(۸)قسمه ژبی ویل کیږی او مختلفی قبیلی لری په جنوبی پښتونستان‌کښی په ۱۹۰۸ عیسوی کال کښی په هغه سیمه کښی چه ترقابولاندی‌وی داوبو رسولو طریقی رو یکاره شویدی مګر سره لدی هم‌په دی‌سیمو کښی داوبو ډیر کمی دی‌هر کله چه هند او پاکستان سره جلاشول یوزیات شمیر مهاجرین په جنوبی پښتو نستان کښی آباد اومیشته شول

نن ورځ په جنوبي پښتونستان کښې داوبو استعمالولو دپاره لاندې ښځه طريقې په کار اچولې شوې دي .

۱ـ دسيلابونو مخه نيول اودهغوی نه غنمو اوربشو پنبې ته اوبه رسول چه دغه ډول زياته گټه اوفايده لري مگر يوه اندازه مشکلات اوخطرونه هم لري .

**۲ـ داوبو ډنډونه او زخيرې :** په تيرو وختونو کې بهٔې درووډونو اوخوړو نوپه منځ کې ديوا لونه جوړول دهغوی اوبه ئې ډنډکولې او بيا به ئې دځپلو زمکودپاره ورڅخه استفاده کوله مگر نقص ئې دغه ؤ چه ژر به خرابيدل او له منځه به تلل مگر يوائې په ځينو کې به لږڅه اوبه پاتې کيدلې.

**۳ـ دځمکې دلاندې اوبوڅخه استفاده:** دغه طريقه په کوټه پشين او دچاغې په سيمه کې مروجه ده چه دپنځونه ترلسو جريبو پورې ز مکو ته به ئې اوبه ورکولې اويوه انـدا زه مصارف به پرې راتلل چه ددې مصارف خورا ډير زيات وو اودغه ځمکه چه ژور کوهې پکښې په فنې ډول کيندل شوي وو د ناکامې سره به کله کله مخامخ کيدل ځکه چه دغه لاندې دلايل ئې درلودل .

۱ـ دباران اوزيدل دډيرې سختې گرمې په وخت کښې .

۲ـ دباران په وخت کښې سيلابونوسخته خاوره ياشگې دځان سره راوړې چه په زراعت کښې داستعمال نه وې .

۳ـ په ځينو وختو کښې داوبودسطحې ښکته کيدل چه دغه کار به هم مشکلات منځ ته راوړل .

٤ـ داوبو طوفانې کيدل هم په ځينو و ختو کښې مشکلات پيدا کول .

٥ـ زلزله هم داوبو درسولو پروژو دځنډ سبب گرځيدله مگرسره ددې هم کاريزونه دجنوبي پښتونستان په خلکو کښې رواج لري .

٦ـ کانال. چه دغه طريقه يوازې دسيوی اونصيرآباد په سيمو کښې مروجه اووجه ئې دادهچه ددې سيمې ځمکې ښې دې دجټ پټ سيمې ته دسيلابونو پواسطه اوبه رسيږې مگر په کوم فنې طور کانال نه لري. لنډه دا ترڅو چه دجنوبي پښتونستان داوبو مشکل نه وي حل شوی هلته به آسوده اوعادي ژوند منځ ته نـه شي راتلای دپښتونستان ددې سيمې لپاره نه دانگريزانو په وخت کښې څه کار شوېدي اونه دهغوی دباز ماندهگانو لخوا مگر اوس چه ددې سيمې اختيارات ددوی په خپل لاس يعنې دپښتونستانيانو په لاس ورغلل ددې اميد پيداشوی چه دجنوبي پښتونستان سيمه به په هر ډگر کښې زياته ترقي وکړي اود پښتونستان دنورو سيمو نرځنگ به ودريږي.

# پښتانه او بلوڅ:

بلوچستان د بلوچ او (ستان) د کلمو د اشتقاق څخه جوړ شوی چه بلوچ د قوم نوم دی او ستان د پخوانی اریائی ژبی توری دی چه د اوسیدلو دځای په معنی راځی استو گنه استوګن- استیدل- استانه له همدی کلمو سره تړون لری .

د محترم کوثر غوریاخیل د تحلیل له مخی (بل) د (قوت) او (سیك) معنی ورکوی چه په سانسیکریت کښی هم دغه کلمه په همدغه معنی ده او (اوچ) د (اوچت) په معنی یعنی غښتلی- قوی او اوچت وګړی .

ځینی عقیده لری چه د (بلوڅ- بلوچ) کلمه له دوو توکو جوړه ده (برز- لوړ- برهسك- واچیه ویل) یعنی لوړ غږ (دلوړغږ خاوندان)

او بیا ځینو خلکو او پوهانو دغه کلمه چرګ د ککری څخه اخستی ده ددی نظرئی لرونکی وایی چه پخوا به بلوڅانو خپلی خولی د چرګو په بڼکو ښکلی کولی نو له دغه ځایه دغه خلك په دغه نامه یاد شول .

مګر دغه خبره هم د یادولو وړده شایه چه زیاتره خلکو چه بلوچستان نی نه وی لیدلی په دی هول فکرو کړی چه بلوچستان د بلوڅانو وطن او خاوره ده اما په دی شان حقیقت نه لری څکه چه په دی سیمه کښی سر بیره پر بلوڅو پښتانه لکه کاکړ- ترین - کاسی - اڅکزائی- خو ستی سیدان- بړیڅ بروهی او داسی نوری قبیلی شته او هلته استو ګنه لری .

او دغه موضوع دلته د تاریخ -جغرافیایی او ژبی له نقطه نظره څیړل کیږی .

د جغرافیایی نقطه نظره جنوبی پښتونستان په برصغیر کښی ډیر اهمیت لری څکه چه په جنوب کښی بحیره عرب شمال کښی د افغانستان اولویدیڅ کښی د ایران او ختیڅ کښی د منځنی پښتونستان پنجاب او سیند سره هم سرحددی په جنوب ختیځ او جنوب لویدیځ کښی د ایران د سرحد څخه د پنجاب ترسرحد پوری یعنی که ساده وویل شی له مستونګ څخه تر بحیره عرب پوری ټول بلوڅ اوله سرحد څخه تر مرکزی محکوم پښتونستان پوری ټول پښتانه آباددی چه د بلوڅو او پښتنو نفوس (البته تنها د جنوبی پښتونستان) د پنځلسو او شلو لکو تر منځ اټکل کیدای شی که مونږ ټول هغه پښتانه چه د نسلی لحاظ پښتانه اوله لسانی او ثقافتی اعتباره له ډیری زمانی د بلوڅو او بروهانو په سیمو کښی د استوګنی له وجی نه په بلوڅو او بروهیانو په قبیلو کښی د استوګنی

لەوجی نەپه بلوڅو اوبروهیانو پــەقبیلو کښی جذب اومنحل شوی‌دی همپښتانه وګڼونوبیا پښتانه‌دبلوڅواوبروهانو سره مساوی کیږی اوکه هغه‌جلاوګڼل‌شی نودبلوڅواوبروهانوشمیر لږڅه زیاتیږی .

لکه چه‌پــه خپله دبلوڅو مشهورموورخ ښاغلی سردار ګشکوری پــه خپل تاریخ (هسټری اف‌بلوچ) یعنی‌دبلوڅو تاریــخ کښی ئــی پښتانه شمیرلی دی لکه ریسانی، بنګلیزی، بادوزی، ساتکزی،زرکزائی اوداسی نــور .

لاکن بیا همدغه اوس بروهان اوبلوڅان دی څکه چه دغه یوه منلی خبره ده چه کومه قبیله چه په بله‌کښی جذب اومنحل شی دهغی جز ګڼل کیږی چه‌په دی‌باب ډیرمثالونه‌شته. په‌هرحال‌په‌جنوبی پښتونستان کښی دری قبیلی ډیــری زیاتی اومشهوری دی لکه بلوڅ ـ پښتانه او بروهی چه بلوڅ او پښتانه یوبل‌ته‌دهرڅه نه‌نږدی دی‌چه دسانسګریت سره هم‌نږدیوالی لری مګر بروهی‌ځانته ژبه‌ده .

پښتانه دجنوبی پښتونستان په‌شمال کښی میشته دی بلوڅ پــه جنوب کښی او بروهی قــبیله پــه‌مینځ یعنی مستونګ ـ کچی ـ خاران کلات کښی ترخضدار پوری آباد اوپراته دی .

اوس به ببرته خپل اصل مطلب‌ته‌راشو اوهغه داچه دتاریخی‌اسنادو څخه دامعلومیږی .چه دری زره کاله‌پخوا دپښتنومرکز دکسی (سلیمان) غــرۇچه‌په جنوبی پښتونستان‌کښی‌واقع‌دی او جنوبی پښتو نستان د پنجاب څخه جلاکوی دغــه پښتانه‌څوکوو! دغه‌غره ته دکوم ځایه نــه اوکله راغلی وو؟ په‌دی ټول اتفاق‌اوهم عقیده دی چه‌دغه غردیو لوی قوم چه قاسیان یاقیسیان نومیدل دهغوی په نامه موسوم شویدی .

اوس سوال دادی چه کاسیان‌یاکیسیان څوکوو اودی غره ته‌له‌کومه اوکله راغلل؟ که‌په دی لړکښی‌مونږ دجغرافیایی ـ تاریخی ـ ثقافتی ـ او لسانی‌نقطی نظره څیړنه‌وکړو نوڅرګندیږی چه داریایانولومړی مهاجرت حه‌په اتــه اولس زره (ق ــم) کښی‌اتکل کیږی .

دغه قبیله دسابیریا دلوړو څخه‌دحزر دبحیری خواته راوخوځیده او دکوم ځایه چه راروان شوی وو هغه‌کانسک نومیده‌چه اوس هم‌په‌همدغه نامه دروس په نقشو کښی خوندی‌دی اوددی قبیلی رواج وو چه‌هــر چیرته به میشته شول نو هغه ځای‌به‌ئی په‌خپل نوم بللو نوڅکه دحزر دبحیری کومه منطقه چــه دوی هغه‌کښی‌میشته شول‌نو هغه‌ئی دکاسك په‌نامه یاده‌کړه چه‌په روسی نقشوکښی خوندی پاتی‌ده او اوس هم‌په



دجنوبی پښتو نستان یوروحا نی‌شخصیت .

هماغو ټومونو یادیږی .

وروسته تاریخونه وایی چه دغه‌قبیلی دزاغرس‌په غرونو کښی‌چیری چه بیاکرد قبیله هم ورسره یوځای‌اود دوی سره‌ئی یوځای ذکر راغلی ؛ی‌په ١٧٤٥ قبل‌المیلاد کښی دوی‌خپل مشر گانداش په مشری‌کښی په بابل قبضه وکړه اوتقریبا ٥٧٣ ګاله ددوی ٣٦ پاچاهانو له گانداش څخه ترالیل نادینږهه پوری‌حکومت کړیدی چه‌په نتیجه‌کښی داشوریانو ایلامیانو اونورو قبیلو په گډه ددوی‌سره جنگ وکړ اود ماتی وروسته چه کردهم ورسره وو دخلیج فارس‌خواته ولاړل مګر دلته چه څه موده دوی ورسیدل دغه دوره‌ئی لږشانته‌تیاره معلومیږی .

دایران مشهور مورخ حسن پرنیادایران په تاریخ کښی فقط په یوزر (١٠٠٠) ق‌ـم کښی د کا سیا نـووجودئی په ایران کښی تائید کړی مګر وروسته ئی پته نشته او دری‌زره ق‌ـم کښی ئی په ایران کښی ستوگنه ثابته شویده .

جنوبی پښتو نستان په دی‌وخت‌کښی په دریو برخو ویشل شوی ؤ نه مستونگ څخه دجنوب خوا چه‌مرکزئی مکران وو دجدر وشیا پـه

نامه له‌مستونگ څخه دشمال‌خوائی‌دارکوزیا په‌نوم یاده شوی اوختیځه سیمه‌ئی له‌سیوی‌څخه ترسویزپوری‌سیوستان په نامه یادیده او شمال علاقه چه ارکوزی‌ده په‌هغی‌کی ټول‌پښتانه میشته ؤ چه دفردوسی لـه شاهنامی څخه هم معلومیږی چه‌په‌دی خاوره افغانان اوسیدل لکه چه وایـی .

چنین گفت دهقان دانش پژو    مرا این داستان‌راز پشین‌گدوه
بیکسوی اودشت خـرگاه بود    دگر دشت زی هندوان‌راه‌بود

یعنی یوی خواته‌ئی دخرگـاه اوبل خواته‌ئی یوه‌بله صحرا چه دلوی هند لوری ته پری لارتللی‌وه اوس‌دابایډ واضح شی چـه دا دښتونه چیری‌وو ؟

**فردوسی وایی :**

یکی قلعه بالای آن کـوه بود    که‌آن حصن ازمردم انبوه بود

یعنی دیولوی غره اود غره په‌سر دیوی لـوئی کـلا دوجـود خبری کوی چـه زیات‌خلك پکښی‌اوسیدل‌اوبل‌ځای وایی‌چه دغه‌ځای ته‌له‌زابل نه‌د دریو ورځو لاروه :

که‌نزدیك زابل سه روز راه    یکی کوه بدسر کشیده به ماه

چه تقریبا دکندهار او زابل ترمنځ (۸۰) میله واټن اوله کندهار تر کویټې پورې (۱۵۰) میله لریوالی‌لري پس نتیجه داسې کیږي چه له کویټې نه زابل تەد (۲۳۰) میلوفاصله لري اودغه واټن داسونو په واسطه په دریو ورځو کښې وهل‌کیږي اود فردوسي ددې شعر نه معلومیږي چه همدغه کویټه‌وه چه جنوب خواته دمستونگ دخرگاه دښته اوجنوب ختیځ ته‌ئې هغه‌دښته‌ده چه‌د بولان ددرې په خوله کښې پرته‌ده. اود لوی هند خواته پرې‌لویه لاره تیره شوې‌وه او فردوسي بل ځای وایي :

نشسته دران دشت بسیارکوچ    زروغان ولا چین وکرد وبلوچ

چه په دې دښتو کښې کوچ-افغان- ولاچین - کرد اوبلوچان اوسیدل اودغه خبره هم په اثبات‌رسیدلی چه اقتدار دافغانانو په‌لاس کښې‌وو او مشرئې یو پیاوړی افغان‌اود جنگ په چارو کښې ئې پوره مهارت درلود او نوم ئې کك‌کوهزاد ؤ .

ورا نام بودی کك کوهزاد    بگیتی بسی رزم بود ش بیاد

نود فردوسي داشعاروڅخه معلومه‌شوه چه دوه زره کاله پخوا دکویټې په شاو خواکښې پښتانه اوکوردیان‌اوسیدل .

چه بالاخره ددې‌خبرې ثبوت‌کړی‌چه کاسیان اوکردیان یوځای په‌سنه (۱۰۰۰) ق-م کښې راغلي دي چه‌کاسیانو دکویټې ناوه ترکچلاغ پورې نیولی‌وه چه اوس هم دغه‌ځمکه زیاتره ددوی‌اود دوی کلی‌پرې آباددی لکه کتیر- سمنگلی او نورکرد، بولان په دره کښې او ددې درې په شاوخوا کښې آباد شول‌چه‌اوس‌هم پکښې آباد دي .

په همدغه زمانه کښې ځینې‌ښاخونه لکه کند- زمند او ځنې‌نور دکویټې په ناوه کښې میشته شول نور ښاخونه‌ئې دافغانستان خواته خاص دغور خواته ولاړل چه دوخت‌له تیریدو وروسته په نوروځانگو وویشل شول‌اویوی‌خوا اوبلی‌خواته‌خواره واره شول .

څه وخت چه دوی دفلسطین اوخلیج فارس اوځینې نورو خواو ته ولاړل ایلامیانو دوی سره سخته‌دښمني در لوده مونږ اصل مطلب دجنوبي پښتو نستان پښتانه دي‌نومونږ بیرته کویټې ته راگرځوچه دکویټې په ناوه کښې کوم کاسیان‌اوسیدل هغه دوه لوی ښاخونه در لودل کند اوزمند چه دوی اول ځل‌دخضدار په سیمه کښې معلومیږي

خکه چه دخضدار په جنوب اوختیځ کښی دوه دری دکند دره اوداریاب دره ددوی په نومونو موسوم شوی‌اواوس هم‌په دی‌نامو یادیږی کندئی بوه قبیله‌وه اواریاب ددوی‌دمشرانولقب‌وو کومو چه‌په دوی کښی زیات شهرت درلود لکه دهندوانوبرهمنان‌په مسلمانانو کښی سادات اوداسی نـور .

مگر دوی په دی سیمه کښی لږه‌موده پاتی شول او آبادو سیمو ته ئی هجرت شروع کړ یعنی د ـجنوبی‌پښتونستان شمالی سیمو ته یی‌په تدریج شروع وکړه په‌کو یتهـــه‌کښی اباد شول کله ئـی چه‌نفوس ځ‌په‌زیاتیدو شو دڅوب سیمی ته‌ئی‌مخه وکړه اوکسی دغره (سلمان‌غره شنو امنو او اوږشو گانو کښـی‌اباد شول نودا غرئی په‌خپله نامـه یعنی دکسی دغره په‌نامه وباله. هرو دوتس په‌سنه ٤٠٦ ق ٠ م کښی داراکوز یا په‌سیمو کرځیدلی اود کسی دغره شاوخوا ئـــــی دپکتیکا پکتیا (پښتو نخوا )په‌نامه‌یاد کړی اوپه خپل تاریخ‌کښـــــی ئی لیکلی دی چه‌ددی سیمی خلک‌پکتان یاپکتیا ن نومیدل دځرمنو به ئی کالی ووغشی اولیندی‌به ورسره‌وی اودیر جنگیالی اوپیاوړی خلک وو نوسوال داپیدا کیږی چه‌پکهت‌یاپښت نوم څرنگه راپیدا شو .
په‌دی حکله دمورخینو اختلاف‌دی دادریایی نظر یی طرفداران وایی چه ددی توری ماخذ بخت ـ پخت یاباختر دی .

په‌هرصورت هره نظریه چه ومنل‌شی نوباید پوښتنه وشی چه‌اریایی قبایل ولی خواره واره ـشول اودمختلفو لارو نه‌یی دکسی غره‌تــــه ځانو نه‌راورسول څنگه‌چه‌دوی په‌دی‌په‌سل کاله کښی سره بیرته یـــو ځای شوی دی اوددی خبری ثبوت‌دنامتومؤرخ استرابو (سنه ٢٤ق،م) دعه بیان دی چه‌وایی .
په‌اریانا کښی دفارسی میدیا پکتریا،وسفریان څنی برخی هم شاملی‌وی داځکه چه‌ددی ځایوانو خلکو په‌یوه‌ژبه خبری کولی .
بل یونانی مورخ اوجغرافیه دان‌په(١٤٠ ق٠ م) کښی ویلی دی چه پکتیکا (پښتو نخوا ) داراکوزیا چه‌له‌غزنی څخه دسلیمان ترغره پـوری علاقه پکښی شامله ده اوبیا تـــراندوس پوری رسی اواراکوزیاداریا زانو یو ولایت دی
دافغانستان په‌پخوانی تار یـخ‌لومړی ټوك کښی په (١٠٦) مخ کی ایکل شویدی چه داریایانو په لسوقبیلو کښی یوه بهلا نایان نومیده‌چه دجنوبـی پښتو نستان دبولان دره‌هغه‌په‌نوم موسوم‌شوی اوهلته‌اوس

دهغې قبيلې خلک اوسي .
سراول اسټين وايي چه دسيند په ناوه بلوچستان او اکسوس (امودرياب) په شمالي سيمو کښې دخذر اوفارس دخليج ترمنځ اولږ څه وړاندې تربين النهرين او عيلام پورې چه کوم حفريات وکېند نې شوي اوڅه موندل شوي دي هغه ديلمند (هلمند) سيستان او هامون له پخوانو اثارو سره ډيره نږديوالي لري نوموړي دي نتيجې ته رسيږو چه (٦٠٠ – ٥٠٠ ق م) کښې چه کوم کاسيان له کويټې څخه ترژوب يعني دکسي ترغره (سليمان) پورې وزرسيدل نو په دې وخت کښې هغه کسيان چه افغانستان ته تللي وو بوه برخه ئې دپکتيکــا په شمال کښې ميشته شول او په جنوب ختيځ کښې ئې دجنوبي پښتو نستان کاسيا نآباد شول په بل عبارت ويلي شو چه هغه څوک چه که دپکتيکا يانو او يا آسيانو (قيسانو) په نامه يا ديدل سره يوځاى شول په دې اساس چه نوم يووو اونوموړونه ئې زيات و و نوځکه دمورخينو او ليکوالو تر منځ اختلاف پيدا شوى دى مگر دد وى قوم يو وو مدنيت ئې يووو ژبــه کلچر او عنعنات ئې سره گډوو.

څرنگه چه وړاندې مووويل چــه دبلوچستان په پښتنو کاسيانو کښې کند ــ زمند شا م اوځنې نورشامل وو اوبيا له دوى سره کرد هم يــو ځا ى را غلي وو نــو کــر د د بــولان پــه دره کښې مــيشته شــول قبيلې لکه زمنډ کندشام دژوب خواته وخوځيدل دشام په هندو باغ کښــې پاتې شول چه وروسته دشا منديناو شام خيل په نامه يادشول چــه يو ښاخ ئې په مخ ولاړل اود کسي دغره په لمنو کښې سره تيت اوپرک شول .

ترکومه ځايه پورې چه دکاکړ وخبره ده تاريخ وايي دکاک نيکه قبر به هرات کښې دى ددې معنى داهم کيداى شي چه کاک نيکه پــه هغــو آسيانو کښې هرات ته تللى دي چه په سنه (١٠٠٠ ق م) شاخوا کې ــ هرات اوغوزته تللي وو .

اگرچه دکاسيانو په باره کښې ډيرتاريخو نه ليکل شويدي مگر مونـږ دلته تنها پــه جنوبي پښتو نستان کښې دپښتنو دقدامت اثبات کول غوښتل اوبس .



پښتانه پیغله په ملي جامو کې



بلوڅې پیغله په قامي‌ملي لباس کې

## لرغونی تاریخ :

دمیلاد نه مخکښی په ورروستیوپیړ یو کښې دمیلادی لومړ یو ز رو کلونو لومړی نیمایی پو ری له دریواساسی قو مو نو نه مرکب وو .

۱ـ ایندو ار یایی قو م: پـه‌جنوب ختیځ او ختیـځ جنـو بـی پښتونستان کښی .

۲ـ اریایی : په لویدیځ اوشمالی، جنوبی پښتو نستان کښی.

۳ـ دراویدی : چه اکثره یې‌په مرکزی جنو بی پښتو نستان‌کښی میشته وو .

البته ځینی دجنوبی پښتونستان په نورو سیمو او همدارنګه‌کرمان په ختیځ او جنو ب کښې هم‌اوسیدل‌دبلوڅی ژبی د ټولنی تشکیل پـه کرمان ـ مکران کښی دهغو اریایی‌کوچیو بلو څیانو دتهذیب سره اړه لری دکومو لومـړی ټاټوبـی چـه دکسپین دبحیرو غاړو ته نږدی‌سیمه وه له هغه ځایه ددوی مهاجرت نیټه‌او علت پیژندل په بشپړ ډول‌خرګند نه دی امکان لری‌چه علت ئی دلومړی‌خسرو نو شیروان هغه یر غلو نـه وی چه دګیلان او آذر بایجان پـــه‌او سیدونکو باندی یی کول اویا د بفتلیانو هغه حمای وی چه دایران‌په شمال یی کو لی په دغه صور ت کښی دبلوڅو دیوه ګروپ( اریایـی‌بلو څانو) مهاجر ت تقریبا‌په میلادی (٦) او (٥) پیړی کښی شـوی وی‌مګر غالبه داده چه دمهاجرت‌علتونه یی نور وی او دغه مهاجرت له د ی‌وخت نه ډیر پخوا شویدی په دی برخه کښی دستر‌ابو ن روایت هـم‌په زړه پو ری دی دی وایی چه د کرمان او سیدونکی بیل کړه وړه اوژبه لری داسی چه زیاته برخه یـی فارسی او میدی ده د بلو څا نو ژبه‌یی دیوه هغه اریایی توکم ژبه ده‌چه په میدیا او پارفیا کښی او سید ل‌دغه روایت ددی ټکی تقویه کوی چه دبلو څانو لومړی ټاټوبی دکسپیـــن‌بحیری ته نږد ی سیمه وه دغـــه لرغونی ژبه له یوی خوا دپارفیانـو‌دژبی سره نږدی خپلوی لری او له بلی خوا دځینو ژبنی خصو صیا توله مخی ورنه لری کیږی دکسپیـــن نږدی سواحلو ته له نږدی سیمو نه‌دبلوڅانو مهاجرت دا هم ښبی چـه ددوی ژبه دهغه ځای دنورو اریایی‌دیا لکتیکونو ( فاروی) او (خوری) سره زیاته خپلوی لری داسلامـــی‌دوری مؤرخینو لا داو ه‌ی پیړ ی‌په نیمایی کښی ددغو سیمو دفتوحاتودیادونی په ترڅ کښی ( دکوفیچانو ددغه ځای دلر غو نو ایندو ارو پایی‌قبیلو دپا تې شونو) دکرمان دغرونو او درو دمحدودی سیمی اوسیدونکی‌په نامه یاد کړیدی دلسمی پـیړ ی تر آخیره پوری دوی یواځی دکرمان‌لویدیځی او شمالی سیمې فتح‌کړی وی . حال دا چه زیات شمیربلوڅان‌دا وخت هم په سیستان اولویدیـځ



ACKU

مکـران کښې میشته ؤ د بلوڅانو ژوند اساساد کوچیانو یانیم کوچیانو
په څیر روان وو عر بي فاتحانوورو په ورو په دوی کښې اسلام خپور کړ
مګر اسلام ددوی په خاورو کښې ډیرپه تدریج سره ریښې و غزولی دوی
ډیر وخت په خپلو زړو عقایدو ولاړوو . دلسمی پیړی مؤرخینو دهغه
وخت دبلوڅانو په باره کښې لیکلی دی چــه دوی مسـلـمـا نـا ن
دی په جنو بی پښتو نستان باندی دعر بی فاتحانو واکمن ( دجنو بـی
پښتونستان یوازی مرکز او محکمو کلابندو سیمو کښې) دلسمی پیړی
تر پایه موجوده وه په ۹۷٦هـ کال کښې دعر بو په لاس کښې دجنوبی
پښتونستان لړی برخی وی ابن هیکل دعـربـو تـعرف کښې یـوازی د
کیکانان (معاصر کلات) یا دونه کوی تر هغی وروسته ډیر ژر دغز نی حاکم
سبکتګین د جنو بی پښتو نستــان شمال ختیځ په خپل تصر ف کښې
راووست په یو لړ منابعو کښې مونږ دهغه دخلف (حقدار) په نوم پــه
جالوان کښې مو ند لی شو کوم چه دسنځر جګړو نه وروسته دغز نوی
محمد الله له لاسه ماتې وخوړه. اودده تا بعیت یې ومانه دا هم څرګنده
ده چه دمکران حاکم دغه سلطان ته مالیه ورکو له په سیستان اوخاران
باندی دبلوڅانو یرغلونه ددی سبب شول چه د (۱۱) پیړی په سر کښې
دغز نو یانو کرمان ته دلیږل شویو عسکرو دها بس په سیمــه کښــې
بلو څان سخت وزړل دغسی پیښې دیو لسمی پیړ ی په نیمایې کښــې
دسلجوقیانو له خوا تکرار او دد ی سبب شوی چه دبلوڅانو یوه برخه
دسیستان او کرمان دشمال نــه دلویدیځ خوا مکران ته ولیږی او په
لویدیځو سیمو په انچکوړه کښې یولړ بلوڅان مشته شی په معاصـــر
بلوچستان کښې د بلوڅانو میشته کیدل ددوی د ملیت دتشکیل مهـم
تاریخی عصر دی په دغه ځای کښې په لسمو او دیار لسمو پیړ یو کښې
دبیلو بیلو تو کمنو دګډون او پــه یو ځای ډیر وخت را ټو لیدل دیوی
ګډی ټولنی او شریکې ژبې دمنـځ ته راتلو او تشکل سبب شول او د
(بلوڅ) او لس جوړ شو .

په دی ځای پلټو ن په لاســورغلی فلکلو ری روایات هم په زړه
پوری دی چه دهغو له مخې دبلوڅانو په ۱۱ او ۱۲ پیړی کښې پخوانــی
نیکه میر جلال خان څـلور زامـــن(ایند ـ لشی ـ خوت او کورای) او
یوه لور ( جاتو) در لودل او له دغو څخه دبلوڅانو لو یی څانګی څپری
شوی داسی ښکاری چه په دغه وخت کښې ( دبلوڅ) داولس دجوړونکو
او لسو نو یو والې منځ ته راغــی .دغزنو یانو غوریانو او خصوصـــا
دمغلو یر غلو نه د ۱۳ پیړی پــــه نیمایی کښې اساسا دافغانستان په
لویدیځو او دایران دختیځو سیمو په اوسیدونکو بلوڅانو کیدل او ددی
سبب شول چه دبلوچستان ډیر ی زراعتی ځمکی تشې شی او څوملوك

الطوایفي لکه توران ( په ختیځ بلوچستان کښې ) چه مرکزي (خوزدر) ؤ کندا بیل ( معاصره کنداوه) او کچ ( په جنوبي مکران کښې) دغه پیښې ددې سبب شوې چه بلوڅي قبایل له مکران نه وړاندې د شمال اوشمال ختیځ په لور داباسین او پنجاب تر پولو خپاره شول .

په مرکزي بلوچستان(کلات)کښې دبلوچو مهاجرت چه دبراهوي قبایلو دسخت مقاومت سره مخامخ شول په دوو پېړیو نوو ویشل شول یو بهیر یې د څوارلسمې پیړۍ په پیل کښې لاندینۍ اباسین او بل یې معاصرو دیره جاتو سیمو ته وه .

په ۱۴۷۰ع کال کښې میشته کړل . د ۱۵ پیړۍ په پای کښې اسماعیل خان فتح خان او غازي خان ددریو ښارونو اساس هلته کیښود چه تر اوسه دغه ښارونه ددوی په نومونو یا دیرې ددوی د نفوسو ډیرښت او دځو ځایونو کمې دد ې سبب شول چه دوی وخت په وخت نوي نوي سیمې لاندې کړې مغلوب کړو په دوی اسارت مانه او یا به نورو سیمو ته کو چیدل دبلوڅو سره دهغو جګړو فکر او احساس ډیر زیاتیده چه په ۱۰ــ۱۱ پیړیو کښې یې ددوی په مقداراتو ښه نقش لو باوه او په نتیجه کښې بلوڅ دیوه توزن قوم په صفت تبارزوکړ.

دمغلو او دهغوی داخلافو ملوك الطوایفي حکمرانانو دسختو او بې رحمه یرغلو نو او خرابیو په نتیجه کښې چه دبلوڅو زراعتي ځمکې شاړې شوې دخړو بو لو کانالو نه وران او وچ شول او له نفو سوډکي سیمې تشې شوې ددې پیښو په اثر بلوڅانو د کوچیانو یا نیم کوچیانو په ډول ژوند روان کړ او دځمکو دکرلو په ځای یې مالداري په ملي اقتصاد کښې ځای ونیو او دبلوڅانو ژوند تقریبا خپله پخوانۍ بدوي بڼه غوره کړه .

دیوه حکومت اوقوي حکو مت نشتوالي ددې سبب وو چه بلوڅان په خپلو ځانو او دمالو دساتنې دپاره او دهغوی ددفاع د پاره په قومي بدوي روابطو تکیه و لرې . ددو ی ددفاع وسیله تکړه او توروزن ځوانان وو .

داسې تصور کیږي چه دبلوڅي فیوډالي ټولنې تشکیل ۱۳ نه تر ۱۵ پیړۍ پورې شروع شو دا هغه وخت دی چه په معاصر بلوچستان کښې دهغو بیلو بیلو ټپو تر منځ یووالي راغی چه ځایي ( بومي)خلکو ځمکې یې تر لاس لاندې کړې وې.دځمکو اشغال د دې سبب شو چه ددوی د قومي اتحادو نو ځای سیمه ئیز اتحا دونه ونیسي . دم.ګ. پیکولین په عقیده د ۱۶ پیړۍ په پای کښې دختیځو سیمو دبلو څو یوه



ACKU

مجاورتې ټولنه جوړه کړه قو مي هغه واکمن کسان چه ښې زراعتي ځمکې او ودان ځر ځايو نه يې په لاس کښې وونه يوازې دابادو زراعتي ځمکو ــ خاوندان بلکه غر يب شوى کوچيا ن يې هم دخپل لاس لاندې کړل او په دغه تر تيب په بلو چستان کښې يوه ملوك الطوايفي ټولنه جو ړه شـــوه ولسي واکمنې دځو کورنيو په لاس ورغله چه دبلــو څې پــه اصطــلاح (پخاگ لوگ = دپگړ ى دخا وئــدگور) چه دخانې سمبول دى د يــوه نسل نه بل ته په ميراث پاتې شو.

د (دپگړيو دکورنيو) په مشرۍ او دبلو څو زلميانو په هغه مهارت چه په جګړو کښې يې لاره دکړما ن دکيرتها او سليمان دغرو نو ترمنځه چه دا يو ه سيمه ده چه دمعاصـــر بلوچستان يوه ځانله سيمه اوځانته ملت وړو وړو منځ ته راغې .

جنو بي پښتو نستان چه لـــه ځو وړو وړو خانيو او ملوك الطوايفي ټولنو څخه جو ړ شوى ؤ دنفو سوتمر کز يې له هر ځاى نه دکلات پــه شمال ختيځو اوجنوب لويديځوسيموباندى وو د جنو بي پښتو نستا ن په لويديځ کښې دژوند اقتصا دى او کلتورى مرکزو نه يې دبا ميــور کسر ،کسند، کيچ اود پنجګوړه حاصل خيزې سيمې وې مار کو پو لو چــه څو کا له په ختيځ کښې گر ځيدلي او دغو سيمو ته هم ورغلي وو پـــه خپلو ياد داشتو نو کښې ددغـــوځايو په باب يا دونه کوى چه دخلکو شغل يې کرنه ( دغنمو اووريجـــو پالنه ) او همدارنگــه مالــداري ده تجارت او کسبو نو هم پکښې پراختياموندلى ده .

دنرۍ ډير سو دا گر هم دو چې او هم دبحر له لياري دلته خپل مالونه د تجا ر ت له پار ه راو ړي او له د غه ځاى نه نور ما لونه دځان سره وړى .

دجنو بي پښتو نستا ن دجنوبي خوا ډير لو ى ښارو نه په دغــه وخت کښې چه له پنجبور ــ بنات پوراو فنا ژپور ( معاصره پنجگوړه) وو.

داسلامي مؤرخينو په قو ل دجنو بي پښتو نستا ن په اقتصا د کښې ز يا ته بر خه دخرما ووحاصل لرلو اوکر نه اساسا للمي نه بلکه دو يا لى کا نا لو نو په ذريعه وه .دجنو بي پښتو نستا ن په شما ل ختيځ کښې اقتصادى او کلتو رى مرکز هغه و خت (کچ ــ گنداوه ) حاصل خيزه سيمه وه چه دختيـــځ له خوا نه د سليمان دغرو نو لمنې ور غزيدلي وې . دغه ځاى مر کـــز گندا بيل ( معاصره گنداوه وه) په دغه مر کزو نو کښې دبلو څانو دتمرکز سره څنگ په څنگ دنورو ځايو نو قو مو نه جذب اوبلوخ کيدل(پښتانه ــ اورمړ ــ تا جکان) ډيــرو



ACKU



داوښانو يوه قافله دجنو بـی پښتونستان دغرونو په لمنو کی ليدل کيږی

ایندو او ار یایی قومو نو(سیندیانو پنجابیانو) دراویدی ژبو ( براهوی) او حتی عر بو پانی شوی وو خپلی ژبی هیری کړی او دبلو څانودتړولنی جوړونکی عنا صرو گرځیدل .

دیو زیا ت شمیر محققینو پهعقیده دبلو څانو د یو ی موجودهلوړ تپی (ماری) په تشکیل کښی هغهپښتانه او کهیر لی ډیره برخه لری کوم چه دبلو څانو د تصر ف نـــه پخوا دسلیمان د څوکی په جنو بی لمنو کښی اوسیدل .

دبلو څو دمزا رع تپی جوړ ولوکښی دبرا هـوی تپی یـوه څانگه (کرد) برخه لر ی چه دغه متعلـــق باید وویل شی چه بلو څان دبراهوی ژبه دی ( کرد ــ گالی ــ کور ــ گا لی) په نامه یا دوی . دبراهوی قبیلی بله څانگه رو خشان دبلو څو په بلـــه قبیله ( رینډ) کښی جذبه شویده دبلو څانو د یو ی بلی مهمی څانگی(گیچکی) او ( دو دری) په جوړولو کښی سند یان گډو ن کوی .

او دبو لید څانگی په جوړولوکښی د عر بو پا تی شو ی قبیلـــی گډون لری .

ددی ټـولو څانگو ستهـه بـلوڅ او هیواد یی د(جنو بی پښتو نستان) په نامه یا دیږی .

بلو څا ن په خپلو منځو کښی په دوو لو یو ټڼا دو نو یاندیویشل کیږی .

۱ــ شمال ختیځه سیمه او څانگه ( سلیمانی) .

۲ــ جنو ب لو یدیځه څانگـــه(مکرانی) دلو مړ ی څانگی په تشکیل کښی یو شمیر بلوڅ شو ی پښتانه او ر مړی او همدارنگه یو شمیـــر سندیان او پنجا بیا ن هم شا مـــل دی .

ددو همی څانگی په جوړښت کښی دافغانستا ن د لویدیځ اوایران دختیځو سیمو او لسونه بر خـــه لری .

دد غی پیښی انعکا س نه یوازی دد وی په کړو و ړو اجتما عـــی روابطو کلتو ر ی دو دونو کښی بلکه په ژبه کښی هم لیدل کیږی .

دمار گینستر ین په عقیده دجنو بی پښتو نستا ن په شما ل ختیځو د یا لیکتیکو نو داور مړ ی ژښته لو یه اغیزه پر ته ده . ددو ی پـه لـغوی اړخ د جـنوب ختیځـو دیا لیکتو نو په نسبت دایندواریایی ژبو لغو ی ا خیستنی دی او زیا ته اغیزه یی کړیده با المقابل پهجنوب لو یدیځو دیا لیکتو نو د فار ســی لغو ی اغیز ه ډیره دهدختیځوبلوڅانو علمی تخنیکی معیار ی دکر نی اودانسی نو رو اصلا حا تو له فارسی

څخه اخیستل شوی یدی .

**( اوسنی تاریخ ته یوه کتنه)**

په ۱٦ــ۱۷ پیړۍ کښې په بلوچستان کښې یو لړ سیمه ئیز حکومتونه منځ ته راغلل چه په سر کښې یې د بلوڅو دا سی خانان او مشران وو چه د مغلو او نورو واکمنو د لاس لاندې وو . د ۱۸ پیړۍ په نیمايي کښې د نادر شاه سقوط او د مغلو امپراطورۍ د کمزورۍ په نتیجه کښې داسې شرا یط منځ ته راغلل چه دغه یو والی د کلات د هغو لویو او مقتدرو خانانو د تول بلوچستان په یو والي او اتحاد تمام شول . دغه یووالی اتحاد د کلات د هغو لویو او مقتدرو خانانو او احمد زیو ( د کورني موسس او لمړی احمد او په ۱٦٦٦ــ۱٦۹٥ کال کښې واکمن وو ) یا کمبراني وو .

د دغو تولو په لړ کښې مقتدر خان نصیر خان بلوڅ وو د نصیر خان دفاعي او نظامي اتکاء د براهوي د هغو پنځو تپو په کنفدراسیون باندې وه د کوم مشر دارانو ته چه بــــه سراوان او جاله وان کښې ځمکې ور کړی شوې وې په لویدیځ کښې با مپور کسر کند او دیزك په شمال کښې شال (معاصره کویټه) همدارنګه د غازي خان جنوب ته ) په شمال ختیځ کښې خراسان او داجل د نصیر خان په تصرف کښې وو همدا رنګه په جنوب کښې د لاسبیلې او کچ خانان هم د نصیر خان تر لاس لاندې وو . خپله نصیر خان که څه هم د دو زاني دولت واکمنو تر لاس لاندې وو خو د ی همدو مره مکلف وو چه د درانیانو لښکر او عسکري خدمت ته خپل یو شمیر تکړه زلمیان ور ولیږ ی . د د غــه په بدل کښې دو راني دولت نصیر خان ته د شال (کویټې) مستونګ خاران او داجل اداره ور پریښو دې وه او د کلات د خانانو په کورنیـــو چارو کښې د درانیانو لاس نه وه د ۱۸ پیړۍ په دو همه نیمايي کښې د نصیر خان مرګ نه وروسته د بلوڅو د سر دارانو تر منځ اوضاع خړه پړه شوه او د کلات لویه خانۍ رنګه او په وړو وړو خانیو وویشله شوه علت یې هم دا و و چه هر خان غوښتل چه تر خپل لاس لاندې سیمې ته پراختیا ور کړی د نصیـــر خان کالنی عایدات چه له دری ملیو نه رو پیو څخه زیات وو دده د زوی محمود خان (۱۷۹٥ــ۱۸۱٦) کالني عایدات (۳٥۰۱) زره رو پۍ کیدلې څکه چه دا وخت د کچ پنجګور لاس دیزك او خاران خانانو دما لیا تو له ور کو لو نه ډډه و کړه او په خپلو سیمو کښې خپله وا کمني قا یمــه کړه . د ۱۸ پیړی پــه پای او د ۱۹ پیړی په شروع کښې د بلوچستان لوی خصوصیت دا وو چه دغـــــه

تولنه په وړو وړو ټپه ایزو ټینګـوروابطو و لاړه وه . بلو چان کـــه څه هم لکه چه تر مخه څرګندهشوهله یوه تو کم او له یوی وینی څخه نه وو . خو بیا هم په ټپه ایزو د لوویشل ور کښی بیخی څرګند وو . یوازی په سیند او پنجاب کښــیمیشته شو ی وو دبلو څو تر منځه دغو ټپه ایزو روابطو خپل ار زښتتر زیاتی اندازی له لاسه ور کړی وو . دهری د لی په سر کښی داسیمشران واقع وو چه دنورو دتسلط خپلواك او دخپلی ټپی اداره یی پهخپل لاس کښی وه د شمال ختیـځ بلوچستان دتــپو تــر منځه وخــتپه وخت ځمکی سره بد لیدلیدځمکو بدلون دجر ګو په ذریعه کیده د جرګی غړ ی به دکو رنیو او ټپــو مشران وو .

په مکرا ن کښی تو ل اقتدارپه لو یو خانانو پو ری منحصر وو دټپو وړو مشرانو په اثر خپل واك له لاسه ور کاوه او دلویو خانانــو رعیت اوهسایه به ګڼل کیدل. پــهختیځ بلو چستان کښی بلو څان د هغو غیر بلو څو ټپو او خیلونو دمشرانو یعنی دهغــو تا جیکانـــو سیند یانو او پنجا بیا نو تر لاســلاندی وو کو م چه یا خواصلا ددغو سیمو اوسیدونکی وو او یا د هغــوپنجا بیا نو اوسیندیا نو له نسلــه وو دکو مو نیکو نو چه به سیند اوپنجاب کښی د محلی واکدارانو له کبله بلو چستا ن ته پناه راوړیوه.

له حقو قو بی بهری بیخیهغهوکړی وو چه یا بــه پــه جګــړو او یر غلو نو کښی نیول شو ی مر یانشوی او یا به په پیسو اخیستـــل شو ی وو . تاریخی منابع دداســیکسانو د زیات شمیر په مو جودیت شاهد ی ور کو ی په ۱۹٤۷ کا لکښی کله چه انګریزانو غو ښتــل چه هند پر یږ دی بلو چستان لـــهسیاسی او آزادی له نقطی نظره په دوو بر خو و یشل شوی وو .

۱ــ لومړی انګلیسی بلو چستان ( ٥٤٠٢٨٨) کیلو متره مربـــع ساحه چه دکو یټی بو لان ژوبپشینکاکړ ستان او دبلو چستان دا خلی خاوری شمالی برخه دافغانستان پهجنو ب کښی دایران تر سر حـــد پو ری سیمو څخه جو ړ شــوی وویوه زیاته بر خه یی د جنــو بـــی پښتو نستان سیمی وی چه دکو یټیڅخه دهند د وایسرا دنمیاندهلهخوا اداره کیده .


۲ــ بلو څی بلو چستان . چه دکــلات خان نشیــن او دخــاران او لاسبیله خان نشینی سیمی دهغــهتابع بلل کیدلی ددی سیمیمساحت او پراخوالی ۱٤٦٠١١٢ کیلو متــرهمربع کیږی . دهند د ویش په وخت

ACKU

کښېنې بې لدې چه عمومې اراوو ته مراجعه و شي دانګلیسي بلوچستان اداره د پاکستان دولت ته وسپارله شوه چه نو موړی ډېر ژرخپل نفوس دکلات خاران او لاسبیله په ځانګړي نشینو باندې په جبر او زور سره قبول کړ او دهغه ځای ټول خانا ن او مشران یې له منځه یو وړل او ټول بلوچستان یې دپاکستان جزاعلان کړ مګر څرنګه چه دغه پرېکړه او فیصله دبلوچستان دخلکو دارادې په خلاف شوې وه نو د پښتونستان د نورو سیمو خلکو سره یو ځای په ګډه ددغه اقدا م په ضد په مجادلو پیل و کړ چه تر او سه پورې دوام لري .



دجنوبي پښتونستان يوه پيغــــله
دناويتوب پموخت کي



يوه بلوڅي پيغله په ملي جامو او
پسول کي ليد له کيږي ٠

# بلوڅ

بلوڅ دجنوبي پښتونستا ن یوه‌لو یه قبیله او مشهوری ځا نګی یی په لاندی ډو ل دی :

۱ـ ګور چانی .

۲ـ بوګټی .

۳ـ مزاری .

چه ددی ځانګو څخه یی بیـاهره یوه څو څو طایفې او عشیر ی لری چه دلته په خلص ډول بیانیږی‌ګـورچانـی (۱۱) طایفـی او (۱۸) عشیری بوګټی (٦) طایفی او (٤٤)عشیری او مزاری (٤)طایفی او(٥٧) عشیری لری .

ممکن دغه تقسیمات هم‌ترډیره‌حده پو ری مکمل نه وی مګردغـه شی دبلو څا نو واضح او ځرګندی‌چه د دی قبیلې خلك تور یالـی ـ جنګیالی ـ دیو بل احترام سا تـل‌او خصو صا کشران دمشرانو ډیر قدر کو ی او دهغو ی فرمانبـرداردی سر بیره پر دی باو ځان دخپلو وروڼو پښتنو په څیر میلمه دو سته‌وکړی دی دماری او بو ګټی پـــه غرو نو کښی خپلی زمی او ګلـــی‌ځرو ی او د ځا ر ویو په رو زنـــه بوخت دی .

بلو څ په آسیا کښی د ډیر ی‌قدیمی زمانی څخه تر نن و رځـــی پو ری د یوه کو چی (خانه بدو ش)قو م په حیث ژوندکړی دځینو مؤرخینو دخیال مطابق‌ګیدلی‌شی چه د (بلوڅ) و چه تسمیه هـم دغه خانه بدوش یا با دیه نشین‌وی.

په ایران کښی د (تبریز) څـخه د( لبرز) دغرو په لمنوکښی‌ترمشهده پوری تیت وو .

دو ی مالدار او په چار چاپیروزرخیزو سیمو کی میشته وو. دیوه انګریز مصنف دو ینا له مخی‌دقدیمی‌زمانی بلوڅ د تندرست بدن‌خاوندان بهادر او ډیر زحمت کش او آزادژوند به یی خو ښو لو . دعسکری په فن کښی ډیر ماهر او دخپلـــی‌آزادی په خاطر هر وخت لـه خپل سر او ما ل څخه تیروو . یومشهورمتل دی چه هغه څوك چه دخپل‌سر څخه یی تیریدل زده وی دهغه بـه‌هرو مرو دا هم زده وی چه څنګـه خپل ځا ن د غلامی دځنځیر څـخه‌وساتی .

دو ی دایرانیا نو سره ډیـرجنګو نـه کړیـدی اود هغوی لـه لا سه یی ډیری سختی ګا للی دی ..

دمیر قمبر خا ن ترمشری‌لاندی‌دسیستان ـ رودخانی ـ چاغی او د

خاران څخه تیر او دماراپ سیاه‌گنب‌او دجا له وان په غرو کښې میشته شول ځنګه چه بلو څ یوه غر نـی‌قبیله ده ورو ورو دوی دسوراب‌ـ ماراپ ـ سیاه ګنب او دکلات ګیره‌چاپیره آباد شول .

دا یو نا قا بل انکار حقیقت دی‌چه د هغې زمانې‌بلوڅ‌به دغیر بلو څې قوم سره ازدواجی رشته تړل ډیربد ګڼل. لاکن دا قبیله مجبوره‌شوه چه خپل هغه لرغو نې روا ج‌پریږدی‌ځکه چه ددوی ډیری‌ښځې اوجینکې دایران د عسکرو د لاسه دمنځـــه‌تللی وی او څه چه ژوندی پا تـــی شو ی وی دهغه شمیر ډیر لږ وو.پس د بلو څو د پاره ددی ځا ی د قدیمی خلکو څخه ځان ګوښه ساتل‌تقریبا نا ممکن وو . نو لدی سببه دو ی مجبور شو ل او دنورو قبیلوسره ګډ شول او دی ځمکی‌وروسته بیا دبلو چستان‌په نوم شهرت‌وموندیومستقل حکو مت یی جو ړ کړ او د ی ځا ی د قدیمی خلکو سره د (روانو) سره یی تعلقات پراخ کړل .

ځینی مؤرخین برو هی قبیلــه‌ځانته جلا او بیله قبیله بو لی . په برو هیانو کښی زیات شمیر دهغی‌زمانی څخه دملك پدی برخه کښی آباد دی .

افغانی او بلو څی قبیلی ګډی‌شویدی . چه پس له څو پیړیو څخه یی حپلی مورنی ژبی هیری کړیدی‌اوبراهوی ژبه ددو ی مورنی ژبـــه وګر ځیده .

همدا رنګه د میر چا کر رندسره چه کوم بلو څی قبایل دملتان ډیره جات او ډهلی په شا وخواکښی‌آباد شو یدی هغو ی نن هم دهغه ځای ژبه خپله مور نی ژ به خیا ل‌کوی او پر ی ګرېږی . او دبلوڅی ژبی نه دو ی داسی بی خبره دی‌لکه‌څرنګه چه دهغه ځای ډیره وال یا خالص هندو ستانی وی .

دبلوچستان په عین سر حدبلو څی یا براهوی ژ بی خلك چــه دیوی یا دو پیړ یو څخه په سیندکښی آباد شویدی . هغو ی هم‌خپله مورنی ژبه هیره کړیده .

لنډه دا چه دبلو څو قبیلی دخپلو جنګجو یا نه صفاتو په وجــه د (ګدر) سوراب ـ سیاه ګنب اوکلات په شا و خوا علاقو کښی‌تیت او آباد شول .

ددی قبیلی خلك د سیو ی دراو ړو او جدګالوځمکی یی‌واخیستی او په آبادولو یی شروع وکړه اوپه غرو کښی به یی رمی ساتلی .

کله چه د بلو څـو دسر کوبی‌لپار ه ایران یو لښکر را وایســت بلو څو ته یی ما تی ور کړه اوهغوی‌یی دایران د سر حد څخه وایستــل

دایران نه دو تو ځخه پس دا قبایل‌مکران ته راغلل په (منډ) او دهغه شا او خوا علاقو یې قبضه و کړه هلته یې سکو نت اختیارکړ. سردار جلال خان پس له څه مودې څخه‌همدلته و فات شو . د سر دارجلال خان رند ـ لا شار ـ هوت‌ـ او کرنومې څلور ځامن او ما یې جتونومې یوه لور وه . چه کومه سر دارجلال‌خان په خپل ژ وند مراد نومې ته ورکړی وه .دسردار جلال خان‌دمرګ‌څخه وروسته بلو څو په شریکه (میررند) خپل سر دارو ټاکه‌اوترڅوپیړوپو ری په مکران کښې‌اوسیدل.

دمکرا ن دسر حد څخه دعباس‌تر بندر پو ر ی او د چا غی‌دسرحد نه تر سیستان پو ری او دافغانی اوایران دسر حدا تو څخه تر هرات پوری د بلو څو نوری قبیلی دقد یم‌څخه آبادی وی لکه نارو یې بلو چ دڅینو مؤ ر خینو په خیال (نارویی)یوه قدیمه اصطلاح ده چه په میدانی علا قو داوسیدونکو قبایلو لپاره‌استعما لیده . غالب ګمان کیږ ی‌دا درست وی . ځکه چه هغه علاقه چه‌نارویی قبایل پکښې آباد دی تقریبا میدانی ده. مونږ دانتیجه هم‌اخیستی‌شوچه په هغه وختو کښې دبلوڅو یوه بله غر نی قبیله‌هم آباده وه .

همدغو قبایلو به‌په خپل منځ کښې‌دامتیاز ساتلو لپاره میدانی بلو څو ته به (ناروهی) بلوځ ویلی و ی .

نارویی قبایل تر او سه هم په ی‌سیمه کښې آباد دی .

مونږ و یلی شو چه نارو یی‌بلو ځ دملك پدې حصه کی له قدیم څخه آباد دی ځکه چه فر دو سی‌هم ددو ی ذکر کړیدی .

لنډه دا چه که یو طرف دفـردو سی ددی بیا ن یا داستا ن څـخه دا خبره وا ضح کیږ ی چه بلـو ځ‌دپخوا زمانی څخه پدې خاوره کښې میشته وو .

دبلو څو قبیلی په لاندی ډول‌بیانیږ ی .

مزاری ـ دریشاکی‌ـ بو ګټي‌ـګورجانی ـ لا غاری ـ خوشابې ـ لوندی ـ بز داری ـ کسرانی‌ـخوشاچتهان ـ لوند لو ـکاسرانیو ـماری‌ـ ختران‌ـ لوانی‌ـ موسی خیل اوداسی‌نور .

دبلو ځانو یـو تعـداد خلـك‌تجارت ـ ځینی ما لداری او یوتعداد بې په کرنه او رسمی کارو نو بوخت‌دي . دبلو څو دټو لو طایفو اوځانګو اندازه ګران لوستونکی د لاند ی ګرافونو څخه معلو مو لای شی .


## بروهی

دجنو بې پښتو نستا ن دزړو قبیلوڅخه ده چه ځانته بیله ژبه لری او دو ی خپله سجره میرابراهیم تـه‌رسو ی ګر چه دپښتنو او بلو څـو


سره یو ځـا ی او سی ځو په خو ی اړ عا دا تو کښی سره جلا دی .
دبرو هی قبیلی مشهوری څانګی په دی ډو ل دی .
۱ــ کښرانی .
۲ــ احمد زایی .
۳ــ میراویی .
٤ــ قلندران .
٥ــ سما علانی .
٦ــ کرګاړی .
۷ــ منګــل .
سره لدی چه احمد زایی طایفه له قنبران څخه راوتلی بیا هم پــه جلا نامه مشهوره ده د کلات خا ن دا احمد زایی طایفی څخه دی او په دی ترتیب یی سلسله شرو ع کیږ ی میر قنبر ــ میر زرك ــ میر ابراهیم ــ میر ګهرا م ــ میر حسن چه ( دمیرابراهیم لمسی دی) او دبروهی قبیلی سلسله له همدی ځایــه شــرو ع کیږی .) میر سنجر میر ملوك میر قنبر میر احمد میر شورو میر احمدمیر لیتا ( له دی څخه اسازی طایفه راوتلی ده ) میر کیچی ــ میراستارمیر احمد خان اول (۶۷ــ۱۶۶۶ع د جلوس تاریخ) محراب خان او ل ــ(۹۶ــ۱۶۹۵ع د جــلوس تاریــخ ) سمندر خا ن (۹۸ــ۱۷۹۷ع د جلوس تاریخ ) احمد خان ثانی (۱٤ــ۱۷۱۳ ع دجلو س تاریخ) عبدالله خــا ن(۱۶ــ۱۷۱۵ع دجلو س تاریخ محبت خان (۳۱ــ ۱۷۳۰ دجلوس تاریخ )محمد نصیرخان (۵۱ــ۱۷۵۰دجلوس تاریخ ) محمود خان اول ( ۱۷۹٤ــ۱۷۹۳ دجلوس تاریخ ) محراب خان دو م (۱۷ــ۱۸۱۶ دجلوس تاریخ )میر شاه نواز خان ( ۱۸۳۹ د جلوس تاریخ) نصیر خان ثانی (۱۸٤۰ ــدجلوس تاریخ)خدا داد خان (۱۸۷۵ دجلوس تاریخ) محمود خان ثا نــی(۱۸۹۳ دجلوس تاریخ) محمد اعظم خان ( ۱۹۳۱ دجلوس تاریخ ) او موجوده خان یی میر احمد یار خان دی .


**((دبلوڅی حکومت ابتدا ))**

دبلو څی حکو مت تاریخ دهغی(برز کوهی) یا (برا هوی) بلوڅــی طایفی څخه شرو ع کیږی کو مه چه درند بلو څو نه ډیره پخوا دکلا ت په شاو او خوا کښی آباده شوی وه.
د (۱۵) پیړ ی په نیمایی ځه وخت چه دمنګو لو ( مغلو) سیلاب راغی دسیوی کورنی هم دد وی د تباه کاری څخه بچ نه شوه . مغلــو دی کورنی تــه شکســـت ورکــړ .




بلوڅ
موسی خیل
حریف وال
یا
ایتیال
دالوزی
عمرزی
غکازی
نقیب زی
متی زی
خدا زی
حسن خیل
برام خیل



بلوچ
بگٹی
ڈونکی
مہتران
بکسی
مری
جمالی
کھوسہ
لاشار
عمرانی
مچکی
کودری
رئیس
ACKU





68912




بگٹی بلوچ
شعبانی
میزی
مدی
گولہ
دیناری




عمرانی
علیانی
کہلول
جوگیانی
جچیانی
بجانی
عمانی
کیوانی
شیروانی
قائیانی
عمرانی
جمالی
مسجانی
احمدزی
ولانی
میروانی
لکھونی





بغدارے
برہند
برہمانی
دیناری
گبول
غازیانی
گسکوری
جمرانی
جکھرانی
شاری
محمدزی
بشکو
سنگانی
نالانی
وزیرانی



شرین
گاجانی
دھیلانی
بوتان
شاھانی
جوھانی
قراکانی
بجارانی
علی زئی
عوض زئی
فتحانی
بالاچانی
احسانی
جووزی



عمرانی بلوچ
سنگیانی
ستانی
لشوب کانی
مغانی
حلیانی
وردرهانی
بالاچانی
بختیارخان زی
بهارخانی
بهارخانزی
وزیرزی
باهوستانی
سکوهانی
پروزی
سنگیانی
کمکی بلوچ
بهارخانزی
دلاورانی
پولیانی
جنگانی
دینارزی
تونگ
ورازی
صدیقانی
شیرمحمدزی
عیسایی
شیرانزی
قاسم
بلوچانی
مغانی
شاهوزی
لادرزی
بهارخانزی
رضامحمدزی
رضامحمدزی
میرمحمدزی
احمدزوری
مدوزی


جمالی بلوچ
بخش عیسیٰ
بہدانی
پلجری
جھلگری
دستی
درتانی
جلادانی
چلپانی
لاشاری
مدرانی
قاسم زئی
مدانی
شاعلزئی
شاہ زئی
شیر خان زئی
مورانی
کھانی
لاشاری
سلیمانی
دوگرانی
شیکانی
تلمیرانی
بجازئی
گمبول
مرجا
پہانی
حافظانی
جانانی
نانسرانی
چلوانی
غلامانی
حیدرانی
کلچپانی
جونگانی
گھرانی




بامکانی
بنگولانی
کلمانی
کولا
گوجانی
حاجیبی
تعصری
ماگیرانی
کتوهہ
لوگولانی
کوفانی
کولاچی
کولی
نغاری
لوهار
مبزی
مموزی
سپانی
دبلی
مستانی
شاهرانی
گرهبانی
بتمان


68910




68911


بلوچ نرمندی
یاسینی
سحمدزی
میر اسمعیل زی
مهان زی
کمان زی
حاجی زی
گورزانی
فولاد
علی زی
ملازی
شیرو زی
میروزی
دادزی
دلمراد
شرف عبد زائی
عبدوزی
کهارزی
پیرمحمدزی
فولادزی
علیزی
شیرزی
بوکزی
چنگیزی
کارزی
شترزی
فقیرزی
ولی محمدزی
زهروزی
عمرزی
شمسولوزی
کهرزی
ندرزی
عثمان زی
شکرزی
احسازی
کمتادی
مولوزی
داد احمد زی
ولمرد
غلام شاه زای
شامدوست زی
هوتک زائی
فطوزی
کهزی

خو نکه چه ددوی عادت وو دسیوایی‌ښ او ښځې لوی او واړه یې ټــو ل قتل کړل .

میرو چه دمیر قمبر له نسله‌څخه وو چه اولاد یې وروسته پــه (میروانی) مشهور شو پدی زما نی کښې دبراهوی طایفې سر دار و . میرویو موقع شناس او بها درسړی‌و ، ده لدی انقلاب څخه استفــاده وکړه دخپلو قبایلو سره یې دمغلوملاتړ وکړ دد وی لپاره یې جنګونه وکړل په همدی تو که یې دمغلـــوطرفداری حا صله کړه . میرو لـــه چهېر ، زیارت او دشت کوران‌څخه‌دماران دواړو او دماراب سیاه کښب کډ ز ووسوراب څــخه جـد کا لا نوایستل . دمغو ی په خمکو یې‌قبضه وکړه ددی انقلاب په وجه پدی ځای‌کښې دمیرو نو م ډیر مشهور شو او طا قت یې لا پسې زیات‌شو .

له څو کالو وروسته چه پــه‌هندوستان دمغلی سیلا ب مخ‌پـــه کمیدو شو او دهندوستان څــخه ددوی د حکومت نوری وریځې پــه لری کیدو شوی . دکند هارداروغون‌کورنی په‌کلات حمله وکړه هندی مغلو نه یې ما تې ورکړه زنون بیک‌په کلات قبضه وکړه پدی وخت‌کښې سر دار میرو مړ شوی وو او دهغه‌زوی میر عمر د بلو څو سر داری کوله چه لدی ځایه څخه دبلو څـی‌حکومت تاریخ شرو ع کیږی .

ACKU

## دکلات دحکمران محراب‌خان قتلول

کله چه انگریزانو دافغانستان‌دخاو ری نیو لو ته ستر گی خړ ی کړی نو انگریزی پــو ځونه د خیرپور نه را روان شو ل دافغانستا ن دمختلفو سر دارانو خانانو اونوروخلکو په عنوان یې دشاه شجاع‌سره دمرستی په باب او دهغوی‌په‌مرستهٔ‌یې دانگریزی پوځ نه دوی ته خبر ور کړی وو او په عین الزمان‌کښی‌یې د ډول ډول و عدو ذکر هم کړی وو ددو ی نه یې غو ښتی وو چــــه‌دامیر دوست محمد خان سره‌دکومك نه لاس واخلی اودشاه شجاع سره‌همکاری وکړی چه ددی وعدو پــــه وجه ځینی خلك د شاه شجاع سره‌ملگری شو ل او امیر دوست محمد خان بر خلاف یې په ملك کښی‌اوازی‌او پرو پا گنډی شرو ع کړی اودغه آوازه یې خپره کړه چه انگریزا ن ډیر لو ی طاقت او دهغوی مقا بلــه په تشو لاسو ډیره مشکله ده نو په‌دی ضمن کښی دانگریزانو پوځونه چه دسیند لــه لیــاری جنــو بــی‌پښتونستان ته رانږ دی کیدل ددوی اطمینان به لا پسې زیاتیده چــــه دانگریزی لښکرو سره ویلیم مستر میکناټن په افغانستان‌کښی‌دبرطانیې‌سفیر او خاص نماینده په حیــــث نامزد شوی‌ؤ .

کله چه انگریز ی پوځ په لوی‌تعداد کښی شکارپور ته راورسید نو دشاه شجا ع سره دغه لوی‌پوځ‌دلفټیننټ جنرال سرجان‌کین‌دمشری لاندی راجمع شوی او په دی وخت‌کښی برنس‌هم‌ددوی‌سره یوځای‌شو.

مگر څنگه چه دمیکنا ټن او برنس تر منځ اختلاف موجود ومیکناټن مشر او دټولو چارو داجراء ذمه‌واروو نو برنس نه غوښتل چه‌دمیکناټن سره یو ځای په افغانستان حملــه‌وکړی ـ مگر لوی قو ماندان‌سرجان کین وویل چه بر نس په افغانستان‌کښی پوره معلو ما ت لری حتمابايد پدی کار کښی بر خه واخلی .په‌دی‌وخت کښی میکناټن په خپله‌نوموړی دکلات دوالی محراب خان سره د معاهدی کو لو لپاره هلته ولیږلو نو دبر نس خیال دا شو چه هر کله زه‌دجنو بی پښتو نستان مرکز تــــه دجنو بی پښتو نستان مرکز تــــه‌ورسیږ م نو بیا به زه هم‌افغانستان ته ځم میکناټن هم دغه خبره‌منظوره‌کړه او برنس د نصیر کلات‌ته پــه خپل کار پسی روان شو .

دانگریزانو پوځ د شکار پورنه‌حر کت وکړ او د ډاډر په خواکی‌یې د غرونو له منځ نه دبو لان دری ته‌دداخلیدو د پاره روان شو .

دغه سیمه له ستراتیژیکــــی‌نقطی نظره ډیر اهمیت لری که‌چیری

دانگریزی پوځ دلته لږ څه مقا بلــه‌شوی وای نو امکان یی دز لود چه دانگریز ی پوځ نه یو تن هم ژوندی‌نه وای پاتی مگر د لته پښتنو ددوی مخه ونه نیو له او انگریزی پوځونه‌بی له‌کومی مقابلی دبولان لــه دری څه تیر شو ل او له بلی‌خوا برنس‌او دمیر منشی موهن لعل او میر محراب خان را روان شو ل‌دمعاهدی‌کولو د پار ه چه شرطونه یی دغه دی .

۱ـ میر محراب خان به‌په خپله‌سیمه باندی با قاعده حکومت کوی خو دافغانستان د پاچا تر اثرلاندی‌به وی .

۲ـ انگریزا ن به میر محراب‌خان ته دکال دوه لکه روپی‌ورکوی او په خپله سیمه ( بو لان دره )کښی‌به دانگریز پو ځیانو حفا ظت کوی او ددی کار لپاره به فعلا دوه زره‌رو پی ور کو ل کیږی .

۳ـ بل دا چه میر محراب‌خان‌به اوس کو یټی ته دشاه شجــاع او میکناټن سلام ته ورځــی او د انگریزی پوځ دخوراك څښناك دپاره به دانگریزانو ددو ست په ډ ول‌پوره‌انتظا م کوی .

انگریزانو دهغه سره د غـــه‌اقرار هم و کړ چه انگریزانو بـــه ستا سو دښمن شا هنواز خا ن دبلو څو د خان په صفت نه‌پیژنی .

کله چه انگریزانو افغانستـــان‌ونیولـــو دسر تامس ولشا یر تــر سالاری لاندی‌په کلات حمله وکړ ه‌میر محراب خان په جنگ کښی د انگریزانو له لاسه په ۱۸۳۹ع کال‌کښی شهید کړی شو .

دهغه په عوض یی شا هنوازخان مقرر کړ او کپتان لو ړی یــی دهغوی په مرکز کښی دمستقــــل‌ریزیډنټ په حیث مقرر شو .

انگریزانو دمیر محراب خا ن‌بر خلا ف دغه الزام لگو لی وو چــه سره دهغه قرار داد چه زمونږ‌سره‌یی کړ ی وو د بــو لان دره یــی د انگریزانو د تگ او راتگ د پاره په‌امن کښی و نه ساتله او دهغــو ی ډیر گماشته‌گان دجنو بی‌پښتونستان‌دخلکو له لاسه مړه شــو ل مگـــر وروسته چه تحقیقات و شول دغــه‌شی غلط ثابت شو ځکه که چیر ی دده مخالفت یی کړای وی هیڅ‌یو‌به‌دبو لان له دری نه ژوندی نه وای تیر شوی دانگریزانو هغه غصه هم‌وه چه کند هار ته د تلو په وخت کښی محراب خان مونږ له دخر ځی‌هیڅ انتظا م نه وو کړی او له دی کبله زمونږ ډیر خاروی اوسړی د لوږی او تندی نــه مــړه شول ولی برنس او مکناټن دواړو په خپلـــوتحریرونو کښی دا خبره تسلیـــم کړیده چه انگریزی پو ځونو دخپل‌راتگ په وخت کښی په لاره دتلو علاقو فصلو نه تباه کړی وو او په‌ټول ملك کښی شین ډکی په نظر نه را تلو . دا هم هغه محراب خان‌وو‌چه شاه شجاع له یی د کندهار د

شکست نه پس په (۱۸۳٤) کنبنی پناه ور کړی وه کومه تبا هــی چه انگریزی پو ځونو د بلو چستان پهعلاقه کنبنی کړی وه دهغی حـــال دمیکناټن ددی خط نه ښه معلومیږی کو م چه هغه په ۱۹ مارچ دباغ دمقام نه لار ډاکلینډ ته لیکلی وو .

کمپ باغ ۱۹ مارچ

دقلا ت حاکمان ما په ډیرخراب حالت کنبنی بیا موندل دغه تری صفا معلو میدل چه زمونږ دښمنانو هغوی سره ساز او باز ساتلی دی و لــی مونږ ته دهغوی دخفگان کافـــــی وجوهات مو جود وو .

دهغو ی فصلو نه ټو ل تباه شویدی او کومی اوبه چه دهغوی په پټو کنبنی دابیاری دپاره وی هغه مونږ دخپلو پو ځونو داستعمال د پاره دهغوی نه را واړو لی . په دی کنبنی اکثره نقصانو نه زما په خیال لابدی وو مگر ددی نقصا نو نود اثردکمو لو یا دخلکو درضا کو لودپاره هیڅا هیڅ کو شش نه دی کړ ی پهدی ملك کنبنی زمونږ افسران او زمونږ کار روایی دواړه د چا خوښی نه دی او زما سره دا ویره ده چــه هسی نه چه سرایگزنډر برنس دخان دغیر دوستانه رو یی متعلق هسی دخلکو په افواه گانو پسی لاړ شیاودخه نو ی کار روایی نه چه مو نږ ته دکو مو مشکلاتو دپیښیدو احتمال دی هغه سړ ی په یقینی طور سره نه شی ویلی . شپه او ورځ زماتمام کوشش نه دی خبری پسی لگیدلــی دی چه ددی ملك ټول با اثره خلك دزمونږ د پیش قد می سره ر ضا کړی او په دی کنبنی زه کا میـــاب شوی هم یم مگر نه صرف خلکو ته دهغوی دسخت نقصان دعوضانــی دور کو لو د پاره به ډیرو پیســو ضرورت وی بلکه حاکمانو تــــه درشوت ورکولو دپاره هم لاټ صاحب دپه دی باره کنبنی په ماپوره اعتباروساتی چه زه به دسرکاری مال نه یوه رو پی هم زیا ته خرڅه نه کړم تر څو پو ری چه دهغوی لگو لاشد ضروری نه وی .

ډیرو ن نه را دی خوا سرجان کین د ښا رو یو دکمی په وجه سخت تکلیف کنبنی پروت دی او زه د دی خیال کو لو نه هسی نه شم پا تی کیدلی چه هغه سره دبنگال افسرانو بلاو چه او نا جایز تغا فل کړیدی .

زه نن سحر په خپله بهر تـــه ووتم کو م نقصان چه فصلو تو تــه رسیدلی دی دهغی معاینه وکړ م دفصلو نو تبا هی بی حده ډیره زیاته شوی وه .

په کلات باندی دانگریزی پوځ دحملی په وخت نا صر خان دمحراب خان زو ی و تښتید او دخپل پلار دحکومت داخیستو د پاره دیــــوی مناسبی مو قع په تلا ش کنبنی شو .دی خوا د بلو څو قو م دشاه نواز

خان په خانی باندی با الکل رضاءنه‌وو . هغه دپرنگیانو په لاس کښی‌یو بې طاقته او بی اختیاره سړی وواوهم په دی سبب هغه دبلو څو قوم عزت او قدر نه شو حا صلو لـــی‌چنانچه هر کله به چه هغوی‌له‌موقع په لاس ورتله‌نوپه‌پرنگیانواو دهغوی‌په سړو به یې حملې کولې تر دی حده پوری چه یو ځل بلو څووالپول کلارك یو انگریزی افسر سره‌دهغه داو ښانو یوه قا فله باالکل تبـــاه‌کړه .

ددی نه پس هغوی او کاکړودکویټې محاصره و کړه او ناصرخان دخپل پلار دبدل‌اخیستو دپاره‌میدان‌ته راووت . ټول قبایل دهغه‌دجنډې لاندی راټول شول ځکه چه دهغـــی‌علاقی دټولو پښتنو دایقین وو چـه محراب خان بیگناه پرنگیانو قتـــل‌کړیدی او دهغه په ځای باندی یـــی دخپل لاس یو ه گو ډگی زمونږ په‌سر باندی کینبنو دلې ده ناصر خان په لږه موده کښی دیو قومی تحریك‌آزادی مشر شو . او دو مره زوویې پیدا کړو چه هغه په کلات باندی حمله و کړه لفټینټ لو ډی ډیر ځل خپل حکومت ته دامداد دپاره ولیکل‌خو دبلو څو قبیلی په برسنده هـم حمله کړی وه او دتگ او راتـــگ ټولی لاری یی بند ی کړ ی وی.پـــه دی سبب حکومت هند د پاره کلات‌ته امداد اوکومك وارسول نا ممکـــن وو .

دیو څو ور څو محا صر ی نه‌پس کلات دنا صر خان لاس تـــــه راغلو شاه نواز خان دبلو څودخانی‌نه لاس‌واخیست. ناصر خان‌لفټینټ لوډی گرفتار کړ اوبالاخره څـــه‌وخت چه انگریزی پو ځو نو یـــو څو میاشتی پس په دادر باندی بیـــاپیش قدمی وکړه نو دهغه لا ش‌یی دیوه او ښ په شاء باندی قتل‌شوی‌پیدا کړ .

## میر بلوچ خان نو شیروانی :

دمکران جنو ب ته بحر او لویدیځ ته یې ایران واقع دی اوزیاترو بخوانیو تاریخ لیکونکو اسطخری-المقدس ایرانی بلو چستان-سیستان بندر عباس - چـهبار او مـوجوده‌مکران دهمدی مکران علا قی‌اوسیمی گڼلی دی . دیو نان سکندر اعظم دمکران اولس ته ماهی خواره ویلی دی او دغه سیمه دګډ روشیا په نو م‌یاده کړیده . او ځینو نورو مورخینو مکران ار موکارنو م یاد کړی دی اوپه دری او فارسی کتا بو نو کښې دغه دره او علاقه دما کا په نامه‌یاده‌شوی ده .

مګر یو نانی مشهور تاریـــخ‌لیکونکی هیرو ډتیس مکران تـــه مکانو نو م ور کړی دی مارکو پولوپه خپله سفر نامه‌کښې کیس‌میکوران ورته ویلی دی .

عر بو و رته مکران او له‌بلی‌خوا ابن بطوطه او شرف الدین‌دکڅ مکران په نامه یاده کړی سرتوماس‌هور ډش: داکتر بلیوء ایسوریسنټ جان ویلی دی چه‌ددی‌ملك نوم‌ددری‌دلفظ ماهی خور څخه اخیستی شوی دی .

لارډ کور زن ویلی دی چه‌دغه‌دراوړی ژبی‌لفظ دی اومیجرسایکس داسی فکر در لود چه مکران د سنسکریټ ژبی دلفظ میکارنیا څخه اخیستلی شوی دی .

یا قو ت ابن عبدالله دمکران‌په‌باره کښې نظر یه لری چه مکرا ن ابن فارك بن سا م بن نوح چه‌ورورېي وو یاد شوی دی او یله نـظریه لری چه مکران جمع دمکر اولی چـه‌عربو په خپل دور کښې ددی په‌باره کښې شعر ویلی دی او تر جمه یې‌په لاندی ډو ل وړاندی کیږی .

(( که ته مکران ته ولا ړی نوهغه ستاسو دعلا قی څخه ډیرلیری دی او زه هلته د تلو تکلیف په‌ځان‌نه ور م و لی چه هلته زما دپاره‌هیڅ سامان نشته او دهغوی سره جنګ‌نه شی کیدای زه دهغی علا قی پـه حقلـه ضرور دو مـره ویلا ی شـم‌چه که هلته ډیر خلك و لیږ ل شی دلوږی څخه به مړه شی او که کـم‌ولیږل شی دهغوی مقابله‌به‌و نه شی کړای .

دغه خبره حقیقت ته نـږدی‌کیږی څکه چه د جنوبی پښتونستان ساحه ډیره لو یه او پراخه مګـــرنفوس یې ډیر کم‌دی‌اوعلت یې دادی چه یو غرو نه اوبل ډیری سوزانده‌دښتی لری چه کرنه پکښې زیا تـه مروجه نه وه دننی ورځی عـصر ی‌وسایل هم نه وو مګر اوس وخت‌یی

فرق پیدا کړی دی او دجنو بـــیپښتونستان خلك مخ په تر قیروان دی .

مکران دبلوڅ قو م مرکز تیرشوی او په همدی ځای کښی دغه مړانی بلوڅ سرداران تیر شویدیلکه سر دار اعظم میرچاکـر خان ـ میرمیرك خان ـ حسن مو لا نگ ـمیر جبتان او حمل جنید ـ په ځیر زړه ور مشران او پـیاوړی خـلكتیر شویدی چهدجنوبی پښتونستان تاریخ به پری دهمیشه دپاره د دوی‌په میړانه فخر کوی .

ددی جملی ځخه مونږ یو تـنـدنو لسمی عیسوی پیړ ی په اخیر کښی زمونږ ستر گو ته چه دلمرپهشان رو ښان ځلیـږی میر بـلوڅ نو شیروانی دی هغه وخت تیرشویچه انگریزانو په جنوبی پښتونستان باندی نو کی ټینگی کړی چه پهدیوخت کښی دکلات دخان اقتدار هم دپخوا پشان زیات نه وو دمکران اوایران په سر حدو نو بلوڅ قا م د انگریزانو دمکر او فریـب ښکـــه شوی و او دایرانیانو او بلو څـــو ترمنځ به اکثره جگړی دانگریزانوپهتحریك کیدلی او د مکران خلکـــو مشرانو دغه خبره حس کړی وه چهتر څو چه انگریزانوته ماتی ورنکړو ترهغه وخته به په امن ژوند ونشوکو لا ی ځکه چه انگریزانو دجنو بی پښتو نستا ن مهم بندرونهلکهگوادرپسنی جیو نی او ارموړ باندیقبضه کړی وه او انگریزانو هم خپل یـونماینده په کچ کښی کینولی وځکه چه د کچکی سر دارانو تر منځ هم‌انگریزانو نفاق اچولی ؤو .

په ۱۸۸٤ عیسوی کال کښیدمند درندانو او کلات دخان دخلکو ترمنځ لو یه نښته و شوهدمندرندانډچاکر خان ددو ری نه وروسته هم په مند کښی اوسیدل خو هغو یهمدسیوی او کچی درندانو په شان د نوی حکومت اثر قبلو لو ته تیار نهوو مگر دکلات خان په رندانو زور اچو لو چه هغو ی دمیر چوهر تـهمالیه ور کړی او حکومت به هلتـه په مند کښی خپل یو نائبکښینوی‌انگریزانو ددی واقعاتو نه استفاده وکړه سر رابرټ سنډ یمن مکرا نته مخه کړه او دغو اختلا فو نوتهیی نوره لمن هم وو هله او دخپلو گټولپاره یی دغه اور نورهم زیات کـړ مگر دجنو بی پښتو نستان خلکو دانگریزانو اسارت ته غاړه نه شوی ایښنود لای نومیر بلوڅ خان خپلهتوره له تیکی نه را وایستله او پـه ۱۸۸۹ ع کال کښی یی د جهاداعلانوکړ غو ښتل یی چه د چاکر خانیاد بیا تازه کړی او نه یی غو ښتـــلچه دانگریزانو نا پاك قدم دیزمونږ په خاوره کښی کیښودل شیلومړییی د تر بت په کلا حمله و کړه او دانگریزانو گماشتهگان یی ونیول اوسزاگانی یی ور کړی او دکلاتك په

ACKU

غرونو کښې یې په (بورن) نو مې‌پرنگی کیپتان حمله و کړه دهغوی نه یې ځینې مړه کړل او ځینې یې‌ژوبل او بند یا ن یې کړل غازیانو دانگریزانو نه یو زیات شمیر مال په‌غنیمت یو وړ ، انگریزانو لار بد له کړه او دپسنی بندر خواته روان شول کله چه انگریزان له دی‌واقعی نه خبر شول د کرنیل مین‌په مشری‌یی څلور سوه (٤٠٠) مجهز پوځیان سره دتو پو نو پسنی بندر ته‌ولیږل‌چه د لا سبیلی له لیاری مکران تــه ورسیږی .

دمیر بلوڅ خان غا زی لښکردگوگ پروش رینج غرو نو په منـځ کښې مور چې نیو لې وی دانگریزی‌پوځ سره مخامخ شول دانگریز ی پوځ لومړی د جنگ نه ډډه کو له اودجنو بی پښتو نستان غازیانو ته‌یې ویل چه صلح به و کړو تاسو ته‌به‌هیڅ ډول زیان او نقصان‌نه رسیږی مگر غازی میر بلوڅ خان ځــواب ورکړ چه مونږ کفنونه دځان ســره زاوړی او تو ری مو دتیکو ځخـــه‌را ایستلی او بیر ته په تیکو کښې اچو لو ته مونږ کو م دلیل‌نه لروزمونږ مقصد د خپلی مشروعی‌آزادی ساتل دی یا به مرو او یا به خپل‌دغه حق ساتو او بس او نه غواړو چه په مونږ باندی دغه عز تی‌غرونه‌او کلاگانی دبی عزتی‌گواهی‌ورکړی. انگریزانو ته چه دغه ځواب ورسیدنو انگریزانو دجنگ تیاری شروع کړه او خپل پر مختگ ته یی دوام‌ور کو لو ځای په ځای جنگو نــه کیدل . مگر خپلو ملگرو غازی میربلوڅ خان ته وویل چه دشپی باید په انگریزانو حمله و کړو مگر ده قبوله نه کړه او ورته یی وویل چه دغه به بیا مونږ ته یو پیغور پاتی‌شی چه‌په دښمن‌یی پټ په‌پټه حمله وکړ ه نو مونږ‌به په رڼا ورځ ددښمن‌سره جنگ کوو او دخپلــی خاوری ځخه به یی باسو .

او ځینو ور ته وویــل چــه دانگریزانو قوت ډیر زیات دی بایــد صلح وکړو اویا په شا شو مگــــرمیر بلوڅ خان ور ته‌وویل :کو م گا مونه‌چه په وړاندی باندی‌ایښودل‌شوی دی هغه په شا کول له مونږ سره نه ښایی زه پو هیږم چه مونږ‌په دی جنگ کښې مغلوب کیږ و خو مغلوب‌کیدل خو دو مره سختــه‌خبره نه ده لکه د جنگ ځخه پــه شا کیدل مونږ به دمیړنو په شان‌جنگیږو او په خپله خاوره به وینی تری‌کوو نن‌هم دگوگ پروش غرونه‌دمیر بلوڅ خان او نورو غازیانو په میړانه باندی شهادت ورکو ی‌غازی‌میر بلوڅ خان په دی جنگ کښې‌په شهادت ورسید او په همدی ځــای‌کښې دخپلو ملگرو سره دفن شــو ځکه یی اوس خلك نوم په ډیر عزت‌سره یا دوی او دجنو بی‌پښتونستان تاریخ به پری دتل لپاره فخر کوی .



ACKU



ښاغلی حاجی گوهرخان جوگی‌زائی



ښاغلی پایوخان



ښاغلی محمد رسول خان کاکړ



ښاغلی حاجی عبدالمالک‌خان کاکړ

## خـانمیر خـدا داد خان۱۸۵۷ع کال نه تر۱۸۹۳ ع کال پو ری :

کله چه میر محراب خان دپرنگیانو سره په جنګ کښې شهید شو دهغه ماندینه بیگم بی‌بی‌خدیجی‌دسر دار ملا محمد خان دربار ته په داسې حال کی‌چه حامله هم‌وه پناه‌یوړه. د ۱۸٦۵ ع‌کال دجنوری پـه میاشت کښې دهغې زو ی پیدا شوچه میر خدا داد خان یې نوم پری کیښود . کله چه غازی میر نصیرخان پس له ډیر کوششونو خپـل وطن ته راغی میر خدا داد خان‌میره‌نی‌ ورو یې هم راوغوښت.میرنصیر خان یې‌سر پرستی په غاړه‌واخیسته‌پدی وختو کې انګریزانودافغانستان دپاره دسیسی جوړ و لی او جنو بی‌پښتو نستان ته یې هم ستر ګی‌خړی کړی وی چه دلته ددوی راتګ ډیـرمهم وو .

میر خدا داد خان چه یو هـوښیار او ډیر زیرك انسان و هغه په ملکی سیاسی اونـورو امـورو اومعاملاتو کی ځان ورسو لو او دمیر نصیر خان دوفات نـه‌پس په سنه۱۹۵۷ ع کال کښی د کلات خان شو میر خدا داد خان په دغه وخت‌کښی۱٦ کلن ؤ. څرنګه چه یـــو لا یـق انسان ؤ دخپل پلار ټول وفا دا ران‌یی را جمع کړل مګر دکلات ځینـی سرداران دده مخالف شول‌انګریزانودهغوی طرفداری کو له او دغـــه اختلافونه تر ۲۱ کلو پوری دوا م وکړ انګریزانو کوشش در لود چـه ځه ډول میر خداداد خان تر خپـل‌تاثیر لاندی راولی مګر پدی‌کار‌کښی پاتی راغلل . آخر پرنګیانو میــــرشیر دل خان په لاس کښی ونیو او میر شیر دل خان د ۱۸٦۳ع کال دمارچ په ۱٦ نیټه په میر خدا داد خان باندی ناځاپی حمله وکـړه اودټوری په ذریعه یې میر خدا دادخان شهید کړ .

## خان میر شیر دل اخان ۱۸٦۳نه تر ۱۸٦٤ع کال پوری :

میر شیر دل خان دسید محمداعظم خان زوی او دخان میرخداداد خان دتره زوی ؤ . په ۱۸٦۳ع‌کال‌کښی دهغه دو ژلو نه پس د کلا ت خان شـــو د سراوان او جالـــه وان‌سرداران دهغوی په دی سازش‌کښی شامل وو . شیر دل خان سم‌دلاسه‌دپرنګی د حکومت څخه ډ غوښتـل چه دی د کلات د میر په حیث‌وپیژنی‌لیکن پرنګی پدی کار کښی له‌ځنـډ څخه کار واخیست او بالا خره‌پرنګی‌میر شیر دل خان دځان او خپلـــو مقاصدو دپاره ګټورو نه ګڼلو اوپه‌دی و جه یی دهغه د قتل سازشـ جوړ کړ په ۱۸٦٤ع کال کښی چـه‌میر شیر دل خان د کچی ددوری نه

کلات ته را وپس کیده دنړ کی په‌مقام کښی د پرنګی طر فدارانو د هغو ی په خیمه باندی حمله وکړه‌اومیر شیر دل خان یی شهید کړ . د میر شیر دل خان جنازه کلات تـــه‌ورسول شوه او هلته خاورو تـــه وسپارله شوه .

### میر محراب خان ګچکی :ـ

میر محراب خان ګچکی دګیچ‌قبیلی مشرانو سر دار ؤ د۱۸۹٦ع کال دجنو ری په ٦ نیټه دپر نګــی‌په خلاف راپور ته شو او په ګیــچ کښی یی ټول پر نګــیان او ددوی‌حامیان ونیول . په ۱۸۹۸ع کال‌کښی دپرنګی په خلاف دګو ګ پروش په‌مقا م کښی و جنګیده . د جنو بی پښتو نستا ن څخه دایران خوا تــه‌ګوګ پروش په جنګ کښی میـــر محراب خان شکست وخوړ فــرارشو یو کال مکمل د فراری په‌حالت کښی دپرنګی‌سره وجنګیده ورروسته‌د ۱۸۹۹ ع‌کال د جنو ری‌په میاشت کښی پرنګی دعا م معافی اعلان وکړاو میر محراب خان او دهغو ی‌ملګرو ته دا مو قع پیدا شوه، چه خپــــل‌وطن ته راشی . میر محراب خـــان خپل‌پا تی‌ژوند په جنو بی‌پښتونستان‌کښی تیرکړ لیکن دپر نګی حکومت ترآخر دعمر پوری پری بی اعتبا ره‌او دپر نګی دښمن یی بللو. دمیـــر محراب خان چه هر څه د لاسه‌کیدل‌دپرنګیانو په خلاف یی دریغ نه کړل د ۱۹٤۸ ع کال داګست په ٦نیټـــه‌په شاهرك کښی و فات شو .

### سردار خیر بخش مری :

سر دار خیر بخش مری‌دنواب‌مهر الله خان مری زوی دی په۱۹۰۲ ع کال کښی د خپل پلار دوفات نه‌وروسته دمری قبیلی سر داروګڼل شو سر دار خیر بخش مری یوساده‌او آزاد طبیعته انسان ؤدوی دخپل قوم خدمت په ځان فرض ګڼلو اوپدی و جه یی زیات عزت‌کیده‌سردار خیر بخش مری دانصاف صداقت اوعدالت په و جه په ټول جنو بـــی پښتو نستان کښی شهرت پیدا کړدپرنګی سد خت مخالف ؤ پرنګیانو دهغه راضی کو لو دپاره ډیر‌کوشش‌وکړ لیکن پدی کار کښی پاتی‌راغلل په ۱۹۰۳ ع کال کښی دبر طانیـــی‌دشاه د تاج پو شی په وخت کښی دوی ته دخان بهادری لقب ور کړی‌شو او بیا دنواب لقب او د۱۹۱٥ع کال دجو ن په میاشت کښی دو ی‌ته د (سی، ایی، ای) په لقب یـــاد شو لیکن دی ته لو نوازشو نو پــه‌ده باندی کو م اثرونه کړ هر کله‌چه په ۱۹۱٦ ع کال کښی دبر طانیـــی‌حکومت په عمومی جنګ‌کښی‌دبلوڅو کومك او مرسته و غو ښتله‌سردارخیر بخش او لنی سری وو چـــه

دپرنگی‌په خلاف راپورته شو.دکمبزاجنګ یی ډیر مشهور دی دسیو ی مشهوره واقعه کښی یی ګورنـــرجنرال و څغلاوه چه د سر دار خیر بخش مری د کار نا مو نمـونه ده .
ګورنر جنرل د بلو څو د سر دارانوځخه و غوښتل چـه دهغـه بګـی داور ګاډی استیشن پوری ورسو ی‌میر خیر بخش مری او لنی سړ ی‌و چه ددی اقدا م مخالفت یی و کـــړپدی بها درانه اقدا م میرخیر بخش مری په ټول جنو بی پښتو نستان‌کښی ډیر شهرت و موند شاعرانوپه خپلو اشعارو کښی دسر دار خیـربخش‌مری ددی اقدا م ستاینه‌کړیده.
دبلوڅ قوم دا مشهور سر دار پـه۱۹۲۵ع کال کښی دجنوری په ۲۸ نیټه وفات شو او دهغه جنازه پـه‌کاهان کښی خاورو ته وسپا ر لـه شوه .

## نورا مینګل :ـ


نور محمد چه دهغو ی عر فی‌نوم نورا دی د چاله وان دسیمـــی اوسیدونکی اودمیرحمزه پهلوانزایی‌مینګل زوی دی . دی یو آرا م او بهادر انسان ؤ . په ۳۲ کلنی کښی‌میر نور الدین مینګل چه پدی وخت کښی په ملیشه کښی ؤ. دودسیمی‌ملك مقرر شو په دی حال کښی هر کله چه سر دار شکر خان او میـرنورالدین خان دبرنګی حکومت لخو ا ونیول شول نو نوراهم تانه خـا لی‌کړه دمیر جنګی او میر علم خان پـه لښکر کښی شا مل شو او بیا ټول‌عمر دپر نګی په خلاف وجنګیدل .
میر خان چه دنورا دمشهور وملګرونه ؤ دهغه صفات پدی ډول بیانوی نورا به پیاده په غرونو کښی‌ګرځیده‌او په ګوریلائی جنګ کښی یی‌زیات مهارت در لود په ټوپك ویشتلـــوکښی ما هر نښان ویشتونکی ؤ د خپلو ملګرو سره به یی همیشه پـه‌خندا خبری کو لی په جنګ کښـــی میړنی ؤ د ۱۹۰۸ع کال نه تر۱۹۱۷ع کال پوری نهه کاله دپر نګی‌سره نورا و جنګید بیا وروسته سر دارحبیب الله خان نومو ړی په خپلـــه حجره کښی ونیوه او پرنګی ته یی‌وسپارلو ددی خدمت په مقابل کښی پرنګیانو حبیب الله خان ته د نواب‌لقب ور کړ .

په ۹ ـاګست کښی د کلا ت‌جرګی دنورا د پاره‌دعمری بنددجزاء غوښتنه وکړه او وروسته په۱۹۲۱ع کال کښی دنو مبر په ۳۰ نیټـــه کښی نورا دحیدر آباد سیند پـــه‌بندیخانه کښی وفات شو .

**میر محمد اعظم‌خان ۱۹۳۱ ع‌کال‌پوری .**

دمیر محمود خــان دوفات نه‌پس‌دول عهدی پــه نیولو جگړه پیــدا شوه څکه چــه هغه خپل جانیشین‌نــه‌ؤ ټاکلی . گرچه نارینه اولادئی درلود خود بلوڅو په رواج کښی دوینځی اولاد تــه‌خانــی نــه شوای رسیدلای نوپدی وجه میرمحمود هم‌ولیعهد نه‌ؤ ټاکلی. میرمحمود خان خپل ورور میرمحمداعظم خان چه‌په‌جلاوطنی کښی ئی ژوند تیرولو د ولی‌عهد دپاره ونه ټاکه .

گرچه دمیر محمود خان دوفات‌نه‌پس لازمه‌داوه چه میرمحمداعظم‌خان دهغه جانشین شوی‌وای دمیرمحموددوفات نه پس انگریزی نماینده د کلات دسردارانو سره یوه معاهــده‌وکړه اوپدی صورت میر محمداعظم خان دکلات دخان په‌حیث و پیژندل‌شو میرمحمد اعظم خان دمستونگ دمشهور جنگ په زمانه کښی پــه‌سنه ۱۸۷۰ ع کال کښی زیږیدلی‌ؤ اود عمرپــه اول وخت کښی دملکی‌کارونواو سیاست‌نه بی‌خبرؤ. لیکن دپرنگی دقید په زمانه کښی کله‌چه‌دسخت ژوند سره مخامخ شو پــه ۱۸۹۳ ع‌کال‌نه‌تر ۱۸۹۸ ع‌کال‌پوری‌میرمحمد اعظم‌خان پــه بوری کښی دخپل پلار سره‌نظر بندؤ په ۱۸۹۸ع‌کال کښی دوی ته‌فقط دومره‌قدری اجازت‌ؤ چه کویټی تــه تگ راتگ‌وکړی ځانونه‌ئی غلی نیولی‌ؤ نوځکه انگریزی نماینده په دوی اعتباروکړاوهغه‌ئی د ژوب سیمی د سیاسی نماینده‌گی د مرستیال په حیث‌مقررکړپه ۱۹۰۲ ع‌کال کښی محمداعظم خان دپرنس په‌بلنه برماته سفروکړاوپه ۱۹۰۳ ع‌کال نه‌تر ۱۹۰۸ ع کال پوری دوی دوباره ونیول شول پــه‌۱۹۰۹ ع‌کال کښی‌کله‌چه میرخداداد خان دوفات نه‌پس هغوی ته‌په‌کویټه‌کښی داوسیدلو اجازت ورکړ شو په ۱۹۳۱ ع‌کال کښی کله چه‌دی دکلات خــان انتخاب شو پــه کویټه کښی ؤ‌په ۱۹۲۲ ع‌کال‌کښی انگریزی‌حکومت‌دی دمیر مهراللـه‌خان په‌ځای ئی دمکران ناظم مقرر کړ‌دلته‌ناکام‌شو پدی وجه دهغه ځای نه دوباره وغوښتل شوپه ۱۹۳۱ ع‌کال کښی‌د بلوڅو اتحادیــه جــوړه شوه او محمداعظم خان ددی تحریك مشرپه‌حیث وپیژندل شو. میر محمداعظم یوپرهیز گار اومتقی سړی‌ؤ دتوری‌اود قلم خاوندؤ دجلا وطنی اوبندپه وجه دزیاتی حوصلی څښتن‌ؤ دخپلوقدیمی روایاتــو اورسم او رواج او عاداتو باندی‌ډیر پابندؤ دخپل‌هیوادسره‌ئی زیاته مینه درلودله او اخر په‌خپل مقصد کښی ناکام شو پــه‌۱۹۳۳ ع‌کال کښی دیو لنډی مودی دپاره دکلات خان شو او ورو سته‌دیوی لنډی ناروغی نــه پــه همدی کال کښی وفات شو .





دجنوبی پښتونستان دکلات میری کلی‌دوه نمونې .

**میر احمدیار خان ۱۹۳۳ ع کال :** میراحمدیار خان دمیر محمداعظم خان زوی دی کله چه میرمحمداعظم‌خان مشر زوی لیونی شو نو هغوی خپل کشر زوی میر احمد یار خان‌خپل ولیعهد وټاکه. دهغوی دوفات نه پس‌د ۱۹۳۳ ع‌کال په ۲۰ ستمبر په رسمی ډول دهغوی خانی مراسم په ځای شول میر احمد یار خان په ۱۹۰۱ ع‌کال کښی په لورلائی‌کښی زیږیدلی دی. دهغه داسلام دمقدس‌دین داساساتو او قوانینو یوسخت طرفدار اوپابندؤ. میراحمد یار خان‌په کور اوسیوی کښی دینی علوم یاد کړل په انگریزی کښی هم‌پوره‌لاس لری میراحمدیارخان ډیر ذکی انسان دی کله چه دکلات خان شودجنوبی پښتونستان دغه‌سیمه ډیره وروسته پاتی سیمه‌وه ملک‌ئی آبادکړ اود دوی دکوشش په وجه بلوڅ قوم کښی بیداری پیدا شوه‌دیرنگی حکومت دمیر احمد یار خان دی کار ډیر وارخطا کړل دهغه په‌خلاف‌ئی په سازشونو شروع وکړه لیکن احمد یار خان پدی خبره پوه‌ؤچه دهند دتحریك دشاملیدونه په غیر دهغوی دپاره دیرنگی مقابله‌ډیرسخت کاردی نو لدی وجی په ۱۹۳٦ ع‌کال کښی دکلات ستیټ نیشنل‌بارټی‌تاداؤ ایښودلو وروسته‌داپارټی دنیشنل عوامی کانگرس پارټی سره‌شامله شوه دیرنگی حکومت هرکله چه‌پدی خبره پوه شو نود هغوی‌مخالفت ئی شروع کړ ددی کاردپاره میراحمد یارخان سردارانو ته زیات‌اختیارات وسپارل . بیگارئی بندکړ ځینی ټکسونه ئی معاف کړل ده‌ته‌دجنوبی پښتو نستان دخلکو دښو احرا آتو اووطن دوستی په وجه داعظم لقب ورکړ په ۱۹۳٦ ع کال خان اعظم دهندوستان سیاسی‌گوندمسلم لیگ سره شریك شو په ۱۹٤۷ ع‌کال کښی هندپه دووبرخوویشل شو پدی وخت کښی ریاستنو ته دخپل سرنوشت‌دټاکلوحق ورکړی شو لیکن خان اعظم‌پدی وخت کښی ددوه ډوله مشکلاتو په‌منځ‌کښی گیرؤ یوطرف‌ته دپاکستان دحکومت الحاق اود بل طرف دکلات‌دریاست خلکو عامه رای دجنوبی پښتونستان کلات ریاست دپاکستان‌سره دشاملیدو مخالفؤ. لیکن پدی زمانه‌کښی دخان اعظم‌خان وزیراعظم‌محمد اسلم خان داسی پالیسی اختیار کړه. خان محمدیارخان په‌خپل یوه لیك کښی وایی چه‌وزیر اعظم محمداسلم‌خان په‌داگه دوی‌ته‌وویل چه دپاکستان حکومت ترهغه وخته پوری ددوی سره دخبرودپاره تیار ندی ترڅو چه دوی دالحاق اعلان دپاکستان سره ونه‌کړی. ځنی‌سرداران د پاکستان سره دالحاق طرفدارانؤ لیکن‌ماغوښتل چه‌دکلات خلکو عامه رائی معلومی کړم



خان اعظم میراحمد یارخان دکلات خان

مګر زما صدراعظم دی خبری ته تیارنهؤ دپاکستان د افسرانو سره ئـی پټ‌سازش شروع کړ وروسته‌په ۱۹٤۸ کال کښی محمد علی‌جناح دسبیوی سیمی ته راغی او خان‌اعظم‌ورسره ملاقات وکړ هرکله چه‌محمد علی‌جناح صاحب ده ته‌دالحاق‌دپاره‌وویل نوده ورته وویل چه زه ددی خبری نه انکار نه‌کوم لیکن بایـد‌خلکو رای معلومه کړی شی اوپدی معامله کښی باید دچال بازی نه‌کاروانه خیستل شی. پدی وخت‌محمد علی‌جناح‌صاحب دوی ته وویل چه‌دپاکستان حکومت یوه بله‌الحاق‌نامه داصلاح اوترمیم سره تیاره کړیده‌هغه وګوری هرکله چه خان اعظم دا الحاق‌نامه وکتله نوپدی‌خبره حیران‌شو چه‌پـه هغه کښی دانګریزانو حکومت دانګریزی دوری‌د ۱۹۳۵ ع‌کال دمعاهدی حواله ورکړی شـوی وه اوهغه یوه اصلی مسوده نه‌وه چه‌دکلات دپاره خاص جوړه کړی‌شوی وه‌دی شی دکلات په تاریخ بانـدی‌بداثر درلود. وروسته خان اعظم په ذاتی طور سره دپاکستان سره پـه‌الحاق مجبورشو لیکن دکلات‌امتیازی حیثیت دپاره‌ئی په صراحت سـره‌غوښتنه وکړه اووی‌ویل چه‌باید د هغوی ددی خـواهش احترام وشی‌لیکن حالات‌ددی برعکس وګرځیدل. وروسته بیا دیوان عام‌اودیوان‌خاص‌په نماینده‌ګانو مشتمل‌یو ۱۵کسیزه هیئت کراچی ته‌ولیږل شو. لیکن دپاکستان حکومت دا اعلان وکړ چه هغوی ددی هیئت د استقبال دپاره‌تیار ندی. ددی نه پس معلومه شوه چه د پاکستان حکومت دکلات پـه‌خلاف یوداسی سازش جوړ کړ چـه دی سازش دجنوبی پښتونستان په‌خلکو باندی یـو سخت بـد تاثیـر وکـړ .

د ۱۹٤۸ ع کال دمارچ دمیاشتی‌په ۱۷ نیټه دخاران لسبیلی‌اومکران دکلات دریاست څخه‌په غیردپاکستان‌سره دیوځای کیدو اعلان وکړ نوددی اعلان پـه اوریدو سره خـان اعظم‌احمدیارخان په امیدونو او ارزوګانو باندی خاوری ودریدی .

انګریزانو چه لسبیله او خاران‌دکلات ریاست څخه پدی غرض بیل کړل چه طاقت‌ئی کمزوری شی مګرسره لدی‌همذکر شوی دوه‌ریاستونه دکلات جزبلل کیدل‌اوددی ریاستونوسردارانو به دکلات دخان دخانـی په مراسمو کښی ګډون کاوه .

۱۹۹٤۷ ع کال کښی دجون پـه ۳نیټه انګریزانو اوخاران بیرته‌دکلات حکومت ته‌وسپارل چه‌پدی کارباندی‌دذکر شویو ریاستونو سردار ا نـو کوم اعتراض ونه کړ .

مکران تراخیر پـوری د کـــلا ت‌دخان ورور شهزاده عبدالکریم ددی سیمی والی ؤ .

## دپاکستان غیر قانونی لومړیگام پــه خاران لاس بیلی او مکـران

پــه خاران لاس بیلی او مکـران(مستقیم) الحاق پهحکله ئی دکلات دحکومت برخلاف اولنی غیرقانونیقدم پورته کړ اورنگارنگ دلایل‌ئی وړاندی کړیوو. اوویل ئی چهدغــهشی دکلات‌حکومت‌دقبایلی سردارانو دیورضا کارانه فدریشن لهحیثه‌منځ‌ته راغلی دی چه ددی فدریشن هر رکیل چه څه وخت وغــواړی دخپل‌مرکز څخه جدا کیدلی شی حال‌داچه د پاکستانی حکومت دغه بی بنیادهدلیل دانگریزی دوری د وخت سره مشابــه دی چــه د محکوم مرکزی‌بښتونستان سرهئی کړیوه. ځکه‌چه دایو قانونی حقیقت نهؤ بلکه یواځی‌دکلات دخان‌میر خدادادخان دمقابلی لپاره سردارانو ته امداد ورکولو دخپلی مداخلی لپاره دجواز پیداکولو په خاطر منځ ته راغلیؤ. ځکه دخان‌میر خدادادخان د حکومت په وخت کښی‌کله‌چه‌دخان اوقبایلی سردارانوبه‌منځ کښی اوږدی خانه جنگی‌پیدا شوی‌وه انگریزی حکومت دکلات پهداخلی معاملو کښی دزیات نهزیات دلاس وهلو موقع په لاس‌ورغله .

چــه پــه خاصه توگه د قبایلی‌سردارانو اودکلات‌خان تعلقات‌دبحث وړدی تردی پوری چه دمیر احــمــدخان دحکومت تردوری بلکه تر هغه وخت پوری کله‌چه انگریزی‌حکومت‌دی ملك ته خدای پامانی وویله دا مسئله دبلوچستان دانگریزی‌افسرانواودهند دحکومت‌ترمنځ تربحث‌لاندی پاتی شوه محکښی لهدی څخه چــهوتړ پهدی مسئله باندی بحث‌وکړو داډیره مناسب اود تاریخی نقطــی‌نظره مهمه معلومیږی چــه پــه دی سلسله کښی د انگریــزی حکومت‌نماینده انگریزانو درسوخ اظــهار وکړی شی .

۱ـله ۱۸۵٤ څخه‌تر ۱۸٦۹ پوری‌دهند برتانوی حکومت دکلات پــه معاملو کښی‌د (نه مداخلی) پالیسی‌غوره کړیوه برطانوی حکومت پــه قانونی طورخان دبلوچستان دمطلق‌العنان حکمران په حیث په رسمیت پیژندلو اود قبایلو سر داران ئی دخان درعیت په حیث دزیاتو حقوقو خاوندان نهگڼل د هــنـد برطانــوی‌حکومت داپالیسی غوره کړی وه چه تر ډیره حده پوری دی دبلوچستان‌په کورنی معاملو کښی مداخله ونه کړی شی .

مگر بیاهم که‌کله‌په ناگزیرصورت‌حال کښی د مداخلی کولو ضرورت پیښ شو بیابه دخان پــهصلاح اومشوری سره دهــغه د اقــتــدار او



دملی عوامی ډ لی څو تنه قومـــی‌مشران:

حکمرانی دقایم ساتلو په نوممداخله‌وکړی شی .

۲– په ۱۸٦۹ ع کال کښی سرهینری گریــن دسیند د سرحداتو پولیتیکل دهند اوبرطانوی حکو متددی پالیسی مخالفت وکړ چه دهغه په نزد خان یو مطلق العنان حکمران نــه ؤ .

بلکه په‌سردارانو باندی دپاسه‌ئی‌یو سړی گڼلو پس ددی لپاره هغه تجویز ونیولو چه دهند بر طانوی‌حکومت دکلات پوری مربوط خــپله پالیسی بدله‌کړی دبلوچستان دخان‌پــه مقابل کښی د غیــر مطمئینــو سردارانو سره دی داخلاقی امدا دپــه صورت کښی دانصاف رویــه اختیار شی .

۳–دسیند کمیشنر کرنل مسیری‌ویــدرد سر هینری گرین ددی رای سره‌ئی مخالفت ښکاره کړ هغه په‌دی رایه ورکړه چه که‌چیری خان‌د یوتش په نوم په حیث په رسمیت‌و پیژندل شی بیاهم په حقیقت کښی خان په قانونی طور سره یوحکمران‌دی. په‌بلوچستان کښی خان‌یواځنی هغه شخصیت دی چــه دهغه سره‌زمونږ معامله کول دی ولی چه ددی څخه مخکښی د۱۸۵٤ ع‌کال تړو ن‌خاص دخان سره شوی دی.
مونږ ته دخان او دهغه دسر دارانودمعاملا تو په منځ کښی په قانو نی توگه دمداخلــی حــق نشتــه دی دبلوچستان په دی دور یعنی دخداداد خان د حکومت د سیاسی صو ر تحال تجز یه کړی میری ویدرولیکل: چه بلوچستان له یوی داسی مر حلی‌څخه تیریږی چه په هغه کښی لازما داسی واقعات ښکاره کیږی چه دیوښه حکومت دقیام په لاره کښـــی جاگیر دارانه طاقتونــه دمرکــز ی حکومت سره تصا دم خوری .زمونږ پالیسی دانه ده چــه دخــان لا س‌کمزو ری‌کړو بلکه هغه لا پسی‌قوی کول پکار دی او مونږ باید دخــان‌دباغیانو خبری هیڅ ونه منو.

٤– دمستونگ اقرار نا مې‌په رڼا کښی خان میر خدا داد خــان او دبر طا نو ی حکومت په منځ‌کښی‌د (۱۸۷٦ع) کال تړون دعمل لاندی راشی د دی معا هدی ورو سته چه‌په هغه باندی دخان او دبرطانو ی حکومت د تعلقا تو بنیاد کیښو دل‌شی . دهند بر طا نو ی حکومت په (۱۸۷۷ع) کال په بلو چستان کښی‌دخپل نماینده په نو م په (۵۰) نمبر لیك کښی دخان قا نو نی حیثیــت‌وستایه او په دی الفاظو یی تعر یف وکړ .

« دکلات سیاسی تنظیم یو جاگیر دارانه نو عیت لری یعنی‌دا چه خان مستقیما په عوامو حکو مـــت‌نکوی بلکه دقبایلی سر دارانو په یو

مخصوص تعداد باندی حکمران دی‌چه ددی سر دارانو په خپلو قبیلو کښی اختیارات شته دی لیکن پــه‌قبایلو باندی دسر دارانو اختیاراتو واضح تعریف نه شی کیدلی . البته‌په عملی توګــــه دوی دلویدیځــی سوسیا ئیتی دجا ګیر دارانه عــهددلویو نوابانو مشابه (په‌څیر) ورته ویلی شو .»

٥ــ سر،ای، سی بیلی دهنددبر طانــو ی حکومــت دا تعریــف صریحا غلط ګڼلی او لیکلی‌یی دی :

(( دکلات خانی جا ګیر دارانه‌نه ده بلکه و فاقی ده که څه هم‌ددوی جاګیر دارانو په لحاظ د کلات کو مخانان وخت په وخت سر دارانـــو ته . . . ور کوی سر دا رانو تــــه‌دخان مأ تحت جا ګیر دار ویلـــی شو . ))

لیکن بیا هم سره لدی سر دارانو ته په خپله سیمه کښی‌دحکومت خود اختیاری شته دی . سر داران‌قبایل تعینوی اګر چه دا انتخا بات دخان په منظو ری پو ری ضرور اړه نه‌لری سره‌لدی بیاهم سرداران‌خان ته مسئول او په خارجی پا لیسی کی‌دمرګ د سزا په باره کښی دخان رایه اخیستل حتمی او هم دلښکروپه برابرو لو او غونډ و لو کښی په معین تعداد دخان په نزد مسئو ل‌دی .

٦ــسر رابت سنډیــمن د هنــدبرطانوی حکومت ته په بلو چستان پوری متعلق په خپل اولنی انتظامی‌رپوټ کښی دکلات په باره کښــــی داسی لیکلی دی چه :

((دکلات متعلق دهند حکومت‌جا ګیری و ضع کړی شوی نظر یه نه یوائحی غلطه بلکه له شر څخه‌ډك‌شرایط منځ ته راوړی . دملك‌دتاریخ مطالعه اودهغه شهادتونو په بنا چه‌دهغه و جود تر اوسه پو ری با قی دی په دی کښی هیڅ شك نه پاتی‌کیږی . چه دبلو چستـــان (کــلات) قانونی و فاقی دی او جاګیر دارانه‌ندی په دی باره کښی سنډ یمن‌نور دلایل و ړاندی کړی او لیکلی یــی‌دی چه :

((بیګلربیګی چه دخان خطاب‌وی. د هغه معنی ده دامیرا نو امیر. چه دبلو چستان په و فاقی قانو ن‌باندی د لا لت کوی .

سنــډ یمــن جنــو بــی پــښتونستان د یــو سلطــنت پــه حیــث پیژندلی اوټول داخلی اوخار جــی پالیسی په حکله خان ته قایل‌وو)).

٧ــ د١٩١٤ داګست پــه ٣٠نیټه په‌بلو چستان کښی دګور نــر جنرل ایجنټ سر جان ریمنری پــه‌خپل ٥٧٨ لیك کښی دکلات دقانونی حیثیت په باب دهند حکو مت تــــه‌ولیکل چه داکلات دقبا یلی‌سردارانو یو کانفدریشن دی‌چه دکلات خانی‌یی لو ی مشر دی. په هر وخت‌کی

خان ته دمتحده کانفدریشن(وفاقیه)لوی خیال موجود وو . لیکن په بل وخت کښی هغه ډیر منظم پوځ سپه‌سالار او دنورو سره په جنګ‌کښی ګډون درلود . دمیر محمود خــان(دوهم) په منځ ته را تلو سره او په کلات کښی دپو لیټکل ایجنټ پهمقرر کیدو سره دخان اختیارات او رسوخ کم شو تر دی پو ری چه په(۱۹۱۲ع) کښی دهغه هیڅ نښه‌پاتی نه شوه .

۸– په ۱۹۲٤ع کښی کله چه‌کلات خان میر محمود خان بانــدی انګریزان پوه شو ل چه ډیر ژر بــه‌دهغه دیو نوی خان سره واسطــه جوړه شی چه دتیرو ۲۵ کلو نــوور کړی شوی اختیارات‌دغیرقانونی وبولی دی ته تیار نه دی . بیا هم‌سر جانتهن په بلو چستان کښی د ګورنر ایجنټ کرنل کینر دکـــلات‌پولیټیکل ایجنټ په کومك سره د کلات دقانو ن مطالعه له سره‌شروع‌کړه . او بالاخره دی نتیجی تـــه ورسیدل چه د (۱۸۷٦) کال تړو نړ د ۳ او٦ مادی څخه علاوه کلات تر هغه حده پو ری دیو آزاد او مستقل‌ریاست په حیث و پیژنی تر کومه حده پو ری چه په تیره شوی زمانه‌کښی دهغه تعلقات دافغانستان د حکومت سره قایم پاتی شوید ی هغه و لیکل چه په اصولی تو ګــه دکلات سره همدغه معاهده زمونږ دتعلقا تو بنیاددی لیکن اوس پـــه عملی طور سره دی تعلقاتو با ألکل‌یو بل شکل اختیار کړیدی )) سر جانتهن داسی اظهار کړیدی .

(( نوی خان دیو زیات قو ی‌کردار لر لو په وجه سره به هغــه خپل حق‌وګڼی چه د۱۸۷٦ تــړو نمطابق به عمل وکړی او زمونږ څخه به دیولو اختیاراتو غو ښتنه وکړی.

چه دی معاهدی هغه ته ورکړی دی‌امکان لری چه نوی خان په ټولـــو داخلی چاروکښی زمونږ دنه مداخلی‌غوښتنه وکړی . او زمونږ مداخلت به تر هغی اندازی پو ری بند کړ ی‌تر څو پو ری چه هغه ته در خواست (عرض پاڼه) وړاندی نه‌کړی شی.))

لکه چه سر جانتهن ددی پـــه‌بنا دهند حکو مت ته داسی تجویز وړاندی کړی .

( دبر طا نو ی حکومت تـــه‌دسیند او پر شیا ( ایران) په سرحد باندی یو داسی پسمانده ریاســت‌لکه څنګه چه په دی وخت کښــی کلات دی دو مره آزادی لکه چـــه‌د۱۸۷٦ کال دتړون په اساس هغــه ته ور کړی ده او دهغی دغو ښتنی

دنوی خان سره یو نوی تړو نولرو.خان حق لر لو نو اوس باید موتږ دمیر محمود خا ن داو ږ ده عــلا لت‌په وجه سره که څه هم ددی نو ی

تړو ن نو بت رانــه شي ليکـــن سرجانتهن دنو ی خا ن دانتخاب لپاره لهوخت څخه پخوا دهند دحکو مــتڅخه ديو داسې حکم نا مې منظوری واخيستله چه هغه دخان ميرخداداد‌خان دمعزولۍ په وخت د ۱۸۹۳ کال دجرګی سفا رشو نه او دکلات پهانتظاميه شوو تبديليا نو په قبلو لو دقبا يلو په سر دارانو او کيــدونکی‌خان يی پا بندی کيښو د له لکه چه ددی حکم نا مې په آخر سر کښی‌سردارانو تهمحض دومره قدردرا ی ور کو لو حق ور کړی شوی وو چههغه داسې رايه و رکړی چهدموجوده حکومت دنظا مسره برابروی او د هغوی اثر په ځان او دبر طانيې پــه تعلقا تو پر يو ځی .

۹ــ په ۱۹۲۶ع کال کښې د اکتو بر په مياشت کښې درستـــم زی قبيلی په سر دارانو کی تناز عهپيښه شوه رايې بې ور کړی. کرنل کينر د کلات په قانو ن باندی‌يومهم‌نوټ و ليکلو :


(( په دی نو ټ کښې کر نل‌کينر دکلات نظام ته دپاد شاه‌جنگجو اوکار اداره يعنی خان دقبايلو دخان‌هغه ځمکه چه چا به کرله په دغــو کرونکو باندی تقسيم په صورت‌کښی‌مخکښې کړله او ويې ليکل . چــه دکچی بو لان اونوری ځمکې د خا ن‌دبزګرو هم شته دی چه خان پــه اقتصاد ی تو ګه سره د دی جوګه‌کوی څو هغه دقبايلی کو چيانـــو خدمت حاصل کړی .

او خاص دابز ګران دی چه په‌قبايلی انعا مې ځمکو باندی کارکوی کوچيان قبايل دخان دپو ځی خدمت‌دپاره فارغ کوی او خاص يوازی دا خان دی چه دا دوه عناصر سره يوځای کوی دا داول تصير خان‌رواج دی . خو دا رواج سنډ يمن دکلا ت(بلوچستان) قانون (آئين) په حيث فکر کولو .

دکر نل کينر په نزد کښــی‌کلات يو کثير العنصر وفاقی‌رياست ؤ . چه يو ساده و فاقيه نه ده دسراوان او جاله وان نيابتو نه او کچی پردی حصو کښی کو م قبايل چــه‌دخان په دی قببلو کښی ( مرواړی‌ــ دانعا مې علا قو څخه د باندی دی اوقمبراړی ــ سما لاړی ــ قلندراوړی او په ګر ګاړی کښی خان يو مطلق‌العنان حکمران دی دکچی په انعا مې علاقو کښې هغه يو جاګير دارفرمان‌والا دی او په قبايلی علاقو کښی‌هغه په کنفد راسيو ن باندی غټ دی .

مګر با و جود هم دهغه حيثيت دلوی‌مشر څخه زيات دی .

۱۰ــ پــه ۱۹۳۱ کال پــه بــلــوچستان کښی داصلاحاتو دجاری‌کولو په باره کرنل پلو ډن دکلات دخا ن‌په قانو نی حيثيت باندی دنوی‌سره تحقيقات او ډير ژور فکر او غور شروع کړ مګر که څه هم دهغه‌کار



ښاغلی میر گوهر خان زادکزئی



ښاغلی میر عبدالواحد خان کورد



ښا غلی میر عبدا لعزیز خان کورد



ښاغلی محمد حسین عنقا

يواځې دمستجاري علاقو په باره کې‌دخان دقانو نې‌حيثيت جايزه‌اخيستل ؤ . ځرنګه چه دمستجاري علاقــوقانوني حيثيت ځخه نه شو جــــد ا کيدلی نو له دغه کبله په ټولومسئلوباندی دنو ی سره څيړنه اوتر بحث لاندی را غلی لکه مو چه په دغــــه‌باره کښې دکر نل کينر درای‌تائيد شوی کرنل پلو ډن دهند دحکومت‌دغه نظريه چه خان دبلو چستان د کلات خان مطلق العنان حکمران نه‌دی بلکه‌يو وفاقيه يعنی‌دکنفدراسيون مشر دی چه په کلی صورت ســـره‌غلطه ثابته کړه کرنل پلو ډن په‌دی سلسله کښې دپخوانيو مسو دو ځخه زيات اقتبا سات و ړاندی کړی دايی ثابته کړه چــه دبلو چستــان‌سردارانو خان ته پاد شاه و يلی‌دی او هغه يی په رسميت پيژندلی دی‌دمثال په تو ګه هغه سر دارملامحمد رئيساني دسراوان دسر دارانو پــه‌خبرو کښې چه هغه دسند يمن پــه موجوده ګې کښې دکلات دخا ن ميرخدا داد خان سره وخت په وخـــت کړی و ی لاندی اقتبا سو نه يی دسند په حيث وړاندی کړل مو نږ دسر وان خلك ستا رعيت او تــــه‌زمونږ پاد شاه او مالك يی مونږددی لپاره ستاسو دروازی ته را غلی‌يوچه مو نږ ته دتيری شويو غلطيــــو معافی را کړی زمونږ دا اميد دی چه‌تاسو به زمونږ خطا ګانی و بښی‌او په دی حالاتو باندی غور وفرماياست‌چه له بده مرغه مو نږ ته پيښی‌شوی دی او په مونږ باندی ر حم و کړی‌او دا چه تاسی اعليحضرت زمو نږ پادشاه ياست مونږ ستاسو ر عيت‌يو په مونږ باندی رحم وکړی چــــه مونږ ډ ير بد قسمته يو او ډيـــر مصيبتونه مو ګا للی دی . مو نـــږ ستاسو په پښو باندی لويږو اوددی‌دربار په يادداشت کی چه سند يمن کوم انتظام کړی وو چه په هغــــه‌کښې خان مير خدا داد خان او د بلوچستان ټول سر داران مو جودوو . سند يمن په ځپله اعتراف‌کوی چه دسردارانوډير لوی‌فرمانبردارانه‌فرمانونه او تقريرونه وکړل . اوپه زوره سره يی خان ته وويل چـــه مونږ ستا رعيت يو تا سو ته مونږ په‌وفا داری باندی اميد لرو مطمئـــن‌اوسی .

له دی نه علاوه کرنل پلو ډن‌نور زيات مثالو نه وړاندی کړی او ليکلی يی دی چه :

الــ ف دبر طانوی حکومت‌سره‌ټول تړونو نه يواځی خان کړيدی.

بــ دکند هار داور ګا ډی دمشګاف بو لان داورګـــا ډی او د نوشکی داورګاډی‌دتعمیرلپاره صرف‌دخان ځخه اجازت غو ښتل شويدی حال دا چه داور ګاډی زياتره لــــه‌قبايلی علاقو ځخه تيريږی .

جــ په بلو چستان کښې‌داسند‌او فرما ن د سر دارانوسره‌دمشوری

کولو څخه به غیر صرف خانجاری کړیدی چه هغه هو لو سر دا رانو منلی دی .

د ــ په ۱۸۷۷ع کال کښی دډهلی په در بار کښی خان میـــر خدا داد خان دنورو هندوستانـــیشهزادګانو سره نه دی کښینول شوی . دهغه د پاره یی دنا ستی یومخصوص ځای تعین کړی ؤ اودهندی حکومت له خوا هغه ته دایقین ورکړیشو چه هغه دبر طانیی څخه جلا او یو خود مختار حکمران دی چه هغه تعلقات دبر طانیی حکومت سره د تړون په ذریعه ټینګ دی .

لنډه دا چه پلو ډن په خپلـــوزیاتو یاد داشتو نو کښی دهنــــد حکومت ته دا خبره ثابته اوڅرګندی کړه چه :

(( دکلات خان نه یو و فاقیه سربراه دی او نه یو جاګیر دارانه حاکم بلکه د بلو چستا ن مطلـــق العنان او آزاد حکمران دی . ))

۱۱ــ د۱۹۳۵ کال دجنو ری د۳۰ نیټی په لیکل شوی یـو اوږد یاد داشت کښی چه دسمجی مرسله ده دهند د حکومت پـه نـوم پـــه بلوچستان کښی دګورنر جنرل ایجنټ سر نـار مــی کــیټـر د کــلات او (بلو چستان) پرائینی حیثیت پوری مربو ط دکرنل کینر رپوټ تر یوی اندا زی پو ری تائید کړی او لیکلی یی دی چه :

(( دکلات په ائینی حیثیت پوری متعلق دکرنل کینر رای تر یوی خاص حد پوری صحیح ده . چه کلات یـو کثیر العنصر و فاقی ریاست دی . ښکاره خبره ده چه په قبایلی علاقو کښی دخان حیثیت دیو وفاقیی څخه ډیر زیات دی په دی ترڅ کښی چه په هغه باندی کوم بندیزو نــــه لګول شوی دی هغه قانونی ندی .

بلکه د ځینو عملی اقداماتو نتیجـــه ده د خان حکمرانی په کلات کښی له مخکښـــی څخـــه قایـــمه وه او دکانفد ریشمین نه ورو سته جوړه شوه په وفاقیه کښی شامل کسان او قبایل دخپلو مفا دو لپاره هروخت دهغه تر بیر غ لاند ی راجمع شوی دی . ورو سته له هغه اصل بـــدل کړی شو یعنی د خان او لس بزګری غوره کړه او آزاد کوچیان دخپلـــو سر دارانو په سر کرده ګی خان ته دجنګ لپاره سړی ور حاضر وی چه په دی شان ورو ورو په خپله خان ته ور نږ دی شو ل .

دی آزادی غو ښتو نکو سردارانو ته په خاص کـلا ت کښی جاګیرونه ور کړی شو ل . هغو ی دخپل خا ن سر ه یو ځای کــــړ ل سر نار من کینر و راندی و لیکل چه کوم وخت سنډیمن دخان اوسردارانو ترمنځ دروغی جو ړی کوشش کولو .

سر دا را ن پو هید لو چه هغه دخان برابر ندی . نو بیشکه هغوی خپل

ځانو نه با غيا ن ګڼل . د بر طانوی حکومت د نماينده انګريزی منصبدارانو د رايو څخه معلوميږی چه په بلوچستان کښی دخپل حکومت دلمړی دو ری څخه تر اخيری پـو ری انګـريز ی حکومت دخان داينی حيثيت معلومولو په لړ کښی ساکته پا تی شوی اوتر اخيری وخت پ وری دهغه کو م واضح قطعی تعريف ونه شو کړای. دانګريزی مد برانود ناکامی وجوهات په لاندی ډول ښودل کيږی .

۱ـ دانګريزی حکومت منصبدارانو دخان د ټولو قبايلی سر دارانو اجتماع يا خود غوبې سوسا ئيټـی جاګير دارانه نظام و ګڼلو او يايی هغه بيا يو وفاقيه فرض کړله. ليکن په دی لړ کښی دکانفدريشن ممبرانو دکانفد راسيون مشر يعنی دخان اودعوامو دتعلقا تو بنيـا دی ټارو نو ته هيڅ متوجه نه شول او هغه پـه اختياراتو پو ری متعلق بنيادی .

معا ملاتو دحا صلو لو اصـلاهيڅ کوشش و نکړی شو يايی ځان بی خبره اچولی ؤ . پس دغه نتيجـه شوه چه تر خپل اخيری دور پوری هغوی هيڅ قطعی رايه قايمه نکړای **شی** .

۲ـ بر طانوی حکومت دخپـل ملك و سعت غو ښتـو سره يوائين پسند حکومت ؤ. تر کومه حده پوری چه هغوی ته خپلو سامراجی غوښتنو اجازه ورکوله . هغوی تر خپل وسه پوری دخپلو تر لاس لاندی خلکـو باندی چه کوم ظلمونه کړيدی له هغی جملی څخه جنو بی پښتو نستان او با الخصوص دبلو څو دخان په خلاف ئ دهغه د طاقت دماتو لو او اقتدار دختمو لو په لړ کښی سنډيمن او نور نيم پوځی انګريزی منصبدارانو دبر طانوی حکومت دشاندار وروایاتو په خلاف دهندی حکومت رضا اومنشاء په خلاف چه کوم غير قانونـــی حرکات کړی وو . بر طانوی حکومت هغه ته دحقيقت په نظر نه کـتل .

نوله دی کبله هـغه دخپـل پشرو منصبدارانو ددی غير قانو نی اقداماتو لپاره دبلو څو دخان او دبلو چستان په ضد شويدی. دقانو نی جواز د موندلو په و خت کښی دبلوچستان رسم اورواج او قبايلی ملی تنظيم يی بالکل په هير اچولی وو دهغه د منشاء مطا بـق يی وو يل چه هغه د ګانی دغوايی په شان د شپی ورځی دچورليدلو سره کوم منزل ته نه شــی رسيدلی .

دا سوال پيدا کيږی چه آيـه چيری دبلو چستان قانو ن دغه نه وی چه انګريزانو مخکښی کړ او دخان حيثت دانه وی چه هغه انګريزی حکومت دتعين کو لو کوشش وکړ. نو دبلو چستان قانو نی او دخان قانو نی حيثيت څه شی دی ؟ چـه ددی سوال دصحيح ځواب دراپيدا کو لو دپاره به موئږ د پخوانـــی بلو چستان د قبايلی تاريخ پلو ته

رجوع کول ضرور ري وي د، معلومه‌خبره ده چه تر ټو لو دمخه لومړ ی پ‌ه‌بلوڅو کښې دسر دار میرو کــې‌په مشری چه میرو ړی قبیلی تــه ورته دی . بزرکو هی یا بلوڅ‌قبیله‌په دی خاو ره کښې‌میشته وو .اوبیا ورو ورو دجنګجو یانه څو یونو د عظیم قو ت دبر داشت‌څخه‌دکوچیانو په څیر ګرځیدلی دی دخپل سردارمیر عمر څخه وروسته دمیر بجار په سر کرده ګی کښې په دی خاو ره‌باندی د بلو څی حکومت داغ وغور ځولو . دبلو څو دی جنګیالو ـمستقل‌مزاجو او جنګ از مایلو قبیلی‌تقریبا په ۱۵ عیسوی صدی کښې کلات اودهغه دچارچاپیره علاقی نغاړه‌سوراب او دجاله وان ټولی برخی فتح کړی‌هغه یې په خپله قبضه کښې‌راوستې او په دی فتحه شوو علاقو باندی دخپلی قبضی دمستقل او محکم‌ساتلو لپاره میر بجاړه میر واړی هغه پــه‌خپله قبیله پو ری ړ تړلی چه‌کرنل کینر دخان او لس ویلی دی . ددی‌لپاره چه په اطمینان سره ژوند تیر کړی ددی علاقې د حفاظت اوساتنې‌لپاره یې زیاته پا ملرنه و کړه چه دهغه ورځی څخه را په دیخوا هغــه‌قبایلی علاقی منځ ته راغلی چه هغه ته قبایل خپــله قبایــلی یا پــلرنی‌میراث وایی په دی خبره کښې هیڅ شك نشته دی چه په هغه وخت‌کښې‌په کلات باندی دبلو څو قوم‌حکومت نه وو میر بجاړ میر واړی منحیــث‌المجموع د بلو څو دبرو هی قبیلی یواځینې سر دار ؤ دخپل او لســ‌څخه یې هیڅ ما لیه او ټیکس نــه اخیستو دمعاش دګذاری لپاره یــی‌دسوراب د علاقی نغاړ ــ مـاراب ــ سیاکنب اوکلات دعلاقی چـپر او دچشمو دمو دران تر زیارت پوری یې یو ځا ی شوی وی خاص دبرو هــی‌قبیله یا دخــان داو لســ اونــورو سر دارانو چه اوس هم موجود دی‌داول میر نصیر د حکومت په دو ره کښې مینځ ته راغلل .

اول میر احمد خان په (۱٦٦٦نه تر ۱٦۹٥ع کال ) چه داحمد زی دمو جوده خا ندان څخه دی لکه چه‌سر نر من کیتهر هم پــه رسمیــت پیژندلی وو اونور قبایل دخپلوګټوردساتلو لپاره په خپله خوښه‌په‌رضا کارانه تو ګه شا مل شوی وو. چه‌له هغه څخه ددی قبیلی طا قت ډیر زیات شو او لــه بنــه مرغــه او ل‌میر احمد خان چه یو بهادر مو قع شناس او هوښیار سر دار په‌نصیب‌شو . خو هغه خپل قبایلی طا قت په کار واچو لو دېر له پسی فتحوپه‌ذریعه یې خپلی علاقې ته پراختیــا ورکړه او دمیر بجاړ په تقلید کښې‌یې ټولی نوی فتح شوی علاقی یې په خپلی نوی ورورولی کښې یې دسرپه اندازه دمیراث په تو ګه تقسیــم کړلې ددی فتحو څخه دشهرت اوعظمت سره سره دمیر احمد خــان قبایلی جنګی طا قتونه هم څوچنده‌زیات شو هغه اوس یواځی دیــوی

بلوڅي قبيلي مشر نـه دي بلکـــه دبيشمارو دبلو څو قبيلي دخپل تاثير لاندي راوستلي دبلو څو د حکو مت په نوم ديوی پراخه علاقي حکمران دي او داسيا په خاوره کښي يي د بلوڅي حکومت دور راوستي د ی .
د (۱۷۱٦ نه تر ۱۷۳۱ع) په فاتـح مير عبدالله خان داول مير احمدخان دبلو څي حکومت دقايم شوی مملکت حدونه دهغه ځای پو ری ورسول تر کو م ځايه پوری چه په آسيا کښي بلوڅي ژبه ويل کيدله . يا اوس چه په (۱۹۵۵) کښي ويل کيږی چه ددی عملي طريقي دآسيا په خاوره کښي يي چه له مخکښي څخه آباد وو تقريباً ټول بلوڅ قبايل کليوال او کوچيان دامير عبدالله خان دبلو څي حکومت دتاثير لاندی راغلل اودڅلوروخواوو گاونډی هيوادونو مير عبدالله خان دبلو څو خان او په آسيا کښي دبلوڅو دقوم ديو واحد حکمران په حيـث وپيژندل شو داول مير احمد خان دحکومت ددو ری څخه دفاتح ميــــر عبدالله خان دحکومت تر ختميـــدو پوری دبلو چستان دتاريخي مطالعي څخه څر گنديږی چه د٦٥ کلو نو په دی اوږ ده تاريخي زمانه کښي دخان څخه پر ته دکوم يو مشهوراومعروف يا غير معروف قبايلي سر دار نوم هم نه دی او ريدل شوی چه هغه په حکو متي نظام کښي څه مداخله اوزول لو بو لي و ی لـه دی څخـــــه څر گنديږی چه دفاتح مير عبدالله خان دحکومت تروخته پوری دبلو چستان خان ياد بلو څو خان يو آزاد اومطلق العنان حکمران ؤ دمير عبدالله خان تر مرگ وروسته دهغه دری زامنو مير محبر خان ـ مير اهلتاز خا ن او دمير نصير خان تر منځ دکلات دتخت نيو لو لپاره زور ازمايي او مخالفتو نه پيدا شو ل له هغه و خته يعنـــي د(۱۷۳۱ نه تر ۱۷٤۹) دمير محبت خان دحکومت ددور څخه ځيني قبايلـي سرداران د تاريخ په رڼا کښي راغلل چه دهيواد په چارو کښي به يـــي مداخله کو له ليکن دکوم يوی اتحاد يی يا و فاقيي دما مور په حيث نـه بلکه دمملکت ديو با رسوخ فرد په حيـث يـــا د يو ه د اســـي په حيث چه خان يی دخپل پاچا او حکمران په حيث پيژندلو اول مير نصير خان چه (۱۷٤۹ نه تر ۱۷۹٤) پوری ؤ دورکړی شو ی صلا حيتونو او قابليتو نو ښښتن اويو لوی انسان وو چه هغه دخپل حکومت په منځ ته راتلو سره دخپلو غير متــر قبـــه صلاحيتونو په وړاندی ددی دور دټولو حکمرانی رهجا ناتو په عکس دبلو چستان مطلق العنان حکمران ته ديوه جمهوری او قانونـــي حکمـــران حيثيت ور کړ هغوی دهری قبيلـــي څخه يو سر دار مقرر کړ او په دی تو گه به چه کو م سر دار منتخـــب شو دهغو ی څخه به يی يو مجلس دمصا حبين په نو م يعنی (ايوان بالا) او **يو مشاورتي مجلس «لاندينی ايوان»** منځ ته راوستل چه درو غي او جنگ او دآمن په وخت کښي دمملکت په

خارجي او داخلي انتظامي سيا سي چارو کښي به يي خان ته مشوره
ورکو له څنګه چه سر دار به دخپلي قبيلي په رايي سره انتخاب کيده
نو په دي توګه هغه دقبايلو صحيح نماينده ؤ په دي ځير دمصاحبينـو
مجلس دبلو څو په دوه عنوانو باندي مشتمل او يوه قانوني او قو مي ملي
اسامبله و ه چه په دي کښي شامل سر دار د کو م و فا قي ممبر نـه وو
بلکه د قبايلو منتخب نماينده ؤ چـه دخپلو قبايلو اوخان په وړاندي جواب
ده وو اول مير نصير خان دخپلـو ټولو ما تحتو بلو څو قبيلو پوځـي
تنظيم و کړ او پو ځي خدمت لپاره يي د قبايلو لښکو مقرر کړ چه دهغه
په عوض کښي دغم ده قبايلو تـه په خپل حکومت کښي دمعاف غمي
ارا ضياتو ما ليه ور کړي چه دا يوازي دقبيلي دسر دار دپاره نه وومخصوص
کړي شوي ليکن دقبيلو ټول سترافرارد يي د حيصي په اندازه په هغه
کښي شريك کړل داول مير نصيرخان دمرګ څخه وروسته دهغـه
زو ی او جانشين اول مير محمودخان په انتها يي توکه سره کمزوري اود
اول مير نصير خان دقايم کړي قانون مطابق يي د حکومت دنظام چلو لو
دپاره نا اهل ثابت شو چه له هغه څخه د بلو څو حکو مت شيـر ازه
کمزو ر ی تار په تار شو ه اوقبايلي سر دارانو چه کو م طاقت حاصل
کړي ؤ اوس مطلق العنان او خود سره شو ل قبايلي سر دارانو داول
مير محمود خان د حکومت څخـه استفاده و کړه په خپلـو قبا يلي او
موروثي ځمکو با ند ی نا جـا يزه قبضه شرو ع کړه او په يوه لنـډه
موده کښي يي دقبايلو کـمزو ري افرادو ته ددي ځمکو په حکله ز ټ
اوسخت ځوابونه ورکړل دهغو ی په موروثي قبايلي ځمکو په يوه لو يـه
حصه باندي يي قبضه و لګوله چـه دا سلسله د دو هم مير نصير خـان
(١٨٤١ نه تر ١٨٧٥) دحکومـــت دوران تر ختميدو پـو ری جـار ی
وساتل شوه په ١٨٣٧ کله چــــه انګريزانو لومړی قدم په دي خاوره
باندي کيښود ل شو چه هغوی دبلو څو خان ديو څو قبايلي سر دارانو پـه
حلقه کښي را ګير و ليد چه په لويو لويو انعامي قطعاتو ځمکو بانـــدي
قبضه لګو لې وه سر دارانو دغـــه ځمکي چه دقبايلو څخه غصب شوي
وی هغه يې خپل ذاتي جاګيرونـــه وبښودل او دانګريزي حکومت افسر
دهغوی په دي دروغو وعدو باند ی يقين و کړ او به دی شان دخپلـی
غلطي فيو ډالي تيوري ( جاګيردارانه کليه) وضع کړه مير نصير خان د
حکومت په وخت دبر طانيي تسلط په خلاف دآزادي جنګ اوبيا په سيند
باندي دقابض انګريزي افسرانـــو شاطرانه چلو نو او داقدا ماتو څخه
دمدافعت دذرايعو په اختيارولو کښي تر سره شوه چه دهغوی لپـاره د
بلـو چستـان قبايلـی سـر داران خوشحاله او مطمئن دخپل ځان سره

ACKU

یو ځای ساتل ډیر ضرور ری بلکــه ناګزیروو نو له دی لپاره دو هـــم غازی میر نصیر خان ته دقبایلـــی سردارانو ډیر غل څخه د محفــو ظ ساتلو طرف ته دتو جه فر صت پیدانه کړی شو لاکن ډیر وخت دیولوی او قوی دښمن په مقابل کښی یی دقبایلو او سر دارانو په معاملو کښی دچشم پوشی او در ګذر څخه کاراخیستلو چه لدی څخه دسر دارانو حوصلی زیاتی شوی او په حکو متی چارو کښی دمغوی مداخله پراخـــه کړی شوه دسینـــد او دجنـــو بـــی پښتو نستان متعین انګریزی افسرانو چه پو څی زیات اوسیاسی نفر یی وو دبلو چستان په حکومتی چاروکی دسر دارانو پراخه عمل او د خـــل لیدلی د بلو چستان حکو مت ته یی دخان اوسر دارانو یوه و قاقیه اودبلو څو خان یی ددی و قاقیه محض سر براه یا لوی مشـــرو ګڼلـــو. اوددی غلطی نظر یی په اساس دخان اوسر دارانو خپل تعلقات محکــــم ساتل شرو ع کړ ل خان میرخداداد خان له ( ۱۸۷۵ نه تر ۱۸۹۳) دسیند دانګریزی افسرانو داطرز العمل چه دمغه بنیاد په کنفد راسیو ن په غلطه نظریه باندی ولاړ ؤ خوښ نه شوه هغوی داغلطه نظریه چه له هغه څخه دبلوچستان په حکو متی معا ملــو کښی دسر دارانو اعمال او دخل ته قو ت ور کاو ه له بیخه و باسی اود لوی کو لو په غرض دسر دارانو په اقتدار باندی پر له پسی ګذارونه شروع کړل ددی غرض لپاره ترټولو څخه زیاته کار ګره وسله سرداران په مالی تو ګه باندی کمزو ری کو لو و چه له هغه څخه دقبایلو غصب کړی شوی میراثی ځمکو دبیر تـــه اخیستلو په صورت کښی ممکـــن ایدلی شو .

خان میر خدا داد خان اسلحه دسر دارانو په خلاف استعمال کړله. مګر په یوه غلطه لاره سره او هغـــه دسر دارنو په خلاف مؤثره واقـــع نه شوه . خان میر خدا داد خان تـــه داګول په کار وو قبایلو چه دهغه په میراثی غنو غنو ځمکو باندی غاصبانه قبضه کړی وه یو ځای کړی او د سردارانو په مقابل کښی یی ودرولی وای .

لیکن دبده مرغه هغه داسی ونه کړل . دقبایلو طاقت یی نظر انداز کړی وای دخپل تنخواه خور پو ځ دبرای نام طاقت څخه دسر دارانو سره تصادم وکړ . چه له هغه څخـــه قبایلو او سر کاری غصب کړی شوی ځمکی دسر کار په حق دضبط کولو کوشش وکړ .

چه دهغه معکوس راوتلو . اودقبایلو دلیری حصی همدرد یانی په خپله سر دارانو ته پیدا شوی . چه نتیجه یی دغه شوه . چـــه تـــر ۲۱ کلو نو پو ری دبلو چستان پـــه میدانونو او کهسارو نو کښی دوینو بهیدلو با وجود میر خدا داد خان په خپل مقصد کښی کا میاب نه شو .

چه له هغه څخه ددی غلطـــیوفاقی نظر یی ته دهغه خان یادهغه په خلاف متحارب قبایلی سر دارانوهم کله تصدیق او تاید ونه کړ . په انګریزی حکومت کښبی یواځی دخپل سا مراجی حکومت(مستبده) دحاصلولو لپاره قوت پیدا شو .

تردی پو زی چه هغه بی‌بنیاداو غلطی نظر یی خنه پیدا کړی په (۱۸۷٦ع) کښبی سنډیمن سر داران‌دخان برابر شریکا ن په حیث سره مخکښبی کړل دبر طانوی حکو مـت‌لپاره یی دهغوی په منځ کښبی ددریم واحد اوچت مقام حاصل کړ . پـــه‌دی اساس د ذکر شوو صحیـــــح تاریخی شواهد و، په رڼا کښبی‌مونږ‌دی واضح نتیجی ته رسیږو .

چه دبلو چستان قانو ن داول‌میر نصیر خان د حکومت په دورا ن کښبی جوړ شو چه په هغه باندی‌بغیرپه استثناء دانګریزی حکومت ټو ل منصبداران او غټ خـلك اعتـراف‌کوی . داول میر نصیر خان ددی غیر محرره قانون یا رواج تـــــه دبلوچستان ټول سر داران په غیر د بهانی او حجت قبـول کـړی او دبلوچستان دائین په حیث‌په رسمیت سره پیژندلی دی . چه ددی ائین‌له مخی دبلو چستان دکلات خان‌نه دیو جاګیر دارانه ریاست مشـــردی.

نه دکومی و فاقیی سر براه اونه دکوم یو غیر دیمو کراسی مملکـــت مطلق العنان حکمران دی . لیکـــن‌دهغه بر عکس خان د بلو چستان د منتخب نماینده ګانو دسر دارانـــومنتخب کړی شوی یوائینی‌حکمران دی . چه داول میرنصیر خان دغیرمحرره ائین مطابق په ټول بلوچستان باندی بلا لحاظ اولـس، قبا یـل اوسرداران دحکومت کو لو یو شان قانو نی حق لری‌کلات‌چه دانګریزانودوران شوی جنوبی پښتونستان دو هم نوم دی یوهندوستانی‌ریاست‌نه دی بلکه دایران او افغانستا ن په حیث دجنو بی پښتو نستا ن یوقطعی او ځانته آزاده خاوره ده . چه دهغه په متذکره غیر محرره ائین‌کښبی‌کوم یو دبلو څو قبایلی سردار تـه داحق نه دی ور کړی شوی چه کله‌هغه و غواړی خپله علاقه دبلو څو دمرکز ی حکومت (کلات) څخه جلاکړی . او دبلو څو دحکومت څـخه پرته دکو م یو بل حکومت سره‌دیوځای کیدلو اعلان وکړی .

### دپاکستان دغیر قانو نی اقدام‌نه پس

دخاران لسبیلی اومکران دجداګانه الحاق منظور و لو نه پس د پاکستان حکومت نواب میر بایـی‌خان چـه دکیـچ ددری دمشـــهورو سر دارانو څخه شمیرل‌کیده‌دمکران‌والی مقرر کړ .

**دوزیر اعظم پہ خلاف دخلکورو یه .**

په دیوان عام او خاص کښې دوزیر اعظم دتقرر پس دکلات تعلیم یافته خلکو او ځوانانو دهغو ی سخت مخالفت وکړ . او دهغه خلاف شول او وروسته دا بر خلافې سخته شوه په دی و چه په ۱۹٦۸ع کال کښې دمارچ په لسمه نیټه خان اعظم دکلات دوزیر اعظم نوابزاده محمد اسلم خان دوزیر اعظمی نه سبکدوش شو .

**دکلات الحاق .**

دخاران لسبیلې او مکران دالحاق داعلان نه پس دکلات خلك د پاکستان سخت مخالف شول او دا اقدام دپاکستان یی دکلات دحکومت په خلاف یو سازش و ګاڼه . په ۱۹٦۸ ع کال کښې دمارچ په ۲۷ شپه دکلات خان احمد یار خان ،خان اعظم باندی د پاکستان حکو مت د کلات په جبری الحاق اعلان دپاکستان سره وکړ . لیکن دخان کلات په دی غیر مترقبه اعلان باندی دکلات خلك حیران شول او په هغه باندی دخلکو اعتبار له منځه لاړ . ددی نه پس دپاکستان حکومت دګورنر جنرال نماینده دا اعلا ن و کړ چه دپاکستان حکومت دکلا ت دالحاق منلو سره دکلات ټول انتظام په خپل لاس کښې واخیست ددی نه پس ددی حکم سره سم دکلات د وزارت کابینه په اته ساعتو کښې ړنګه شوه او د پاکستان حکومت دلوری نه یو افسر محمد ظریف خان دکلات دوزیر اعظم په حیث وټاکل شو .

دپاکستان حکومت پدی اقدا م باندی خلکو ته زیا ته صد مه ورسیده ددی نه وروسته دپاکستان حکومت ذمه وار افسر په کلات کښې ګرفتاری شرو ع کړ ی او هغه افسران چه دکلات دنیشنل پارټۍ سره یی تعلق لازه هغوی یی تقاعد کړل چه په هغه افسرانو کښې میر غوث بخش بیزنجو مولا نامحمدعمر ،میر ګل خان نصیر فورا ګرفتار شول او ملك فیض محمد خان ملك عبدالرحیم خان حاجی بهرام خان میر لعل بخش مینګل سید احمد شاه هاشمی ملك محمد پناه اوپه سونونورخلك و نیول شول او دنوی متحد ریاستو نوخلکو سره هم ډیر زور زیا تی وشو . او کلات نیشنل پارټۍ یی په ټو ل پاکستان کښې دقانو ن خلاف ګوند اعلان شو .

**شهزاده عبدالکریم او دهغوی مجاهده .**

شهزاده عبدالکریم دخان اعظم احمد یار خان کشر ورور او دمکران دعلاقې والی ؤ هر کله چه دپاکستان حکومت دخاران لسبیلې او مکرا ن دالحاق اعلان د پاکستان سره وکړ نو دنورو بلو څی وطن دو ستو سر دارانو په شان شهزاده عبدالکریم هم دا اعلان دخپل قومی و قار او

عزت سره زیاتی او بی عزتی وگڼله او دټولو نه علاوه شهزاده عبدا لکریم دبلو څو دقوم پرست کسانو یوه اتحادیه جوړه او هغوی ته یی ویل چه دا ریاستو نه دکلات دجسم اعضاء دی او دهغوی بېلېدل مونږ نه شو بر داشت کو لای . دوهم شهزاده عبدالکریم وویل چه او س دپاکستان حکومت مکران هم دکلات نه بېل کړیدی ، هغوی وویل چه مونږ دنواب با یی خان ګچکی دغیرقانو نی حرکت دمنلو دپاره تیار نه یو او مونږ پدی اقداماتو باندی د پاکستان دحکومت سخته غندنه کوو. هرکله چه شهزاده عبدالکریم دخان اعظم احمد یار خان دالحاق اعلان



شهزاده عبدالکریم

واورید. نو د مکران نه کلات ته لاړ لیکن دی زیات په غصه کښی ونو لدی کبله د ۱۹٤۸ ع کال دمی په ١٦ نیټه ریښتیا کو ګاب له لاری نه افغانستان ته لاړ اوسر لټ کښی دنظر محمد خان په کور کښی دیره شو. شهزاده عبدالکریم خان په ټول جنو بی پښتو نستان کښی خلکو ته ډیر ګران ؤ . ده دهغوی دتګ سره سم په ټول جنو بی پښتو نستان کښی زیات غم پیدا شو اوزیات خلک افغانستان ته راغلل او په سرلټ کی دینځو زرو کسانو په شمیر کی سره را جمع اوټول په اسلحه سمبا ل وو . دهغه ځای شهزاده عبدالکریم کابل ته راغی په ۱۹٤۸ع کال دجون په اتمه نیټه بیر ته کویټی ته و لاړ دپاکستان سیاسی نماینده کله چه دا خبر واورید نو دهغه دګرفتاری حکم یی ور کړو او زیات پوځ یی دنورو ځا یو نو نه را و غوښت . ددواړو ډلو تر منځ یو معمولی شانته نښته و شوه مګر دنښتی وروسته دجوهر بو یی په کلا کښی یوه معاهده وشوه شهزاده عبدا لکریم خپل پوځ رخصت کړ او صرف دوه سوه کسان ورسره پاتی شو ل لیکن وروسته د پاکستان حکومت دشهزاده عبدالکریم سره دبی انصافی نه کار واخیست اودپاکستان پو ځیانو شهزاده عبدالکریم او محافظین یی په ګیره کښی راوستل اسلحی یی تری واخیستی بیا شهزاده عبدالکریم دخپلو ملګرو سره و نیو ل شو او

کلات ته یې بوت او دمچ په بندیخانه کښې یې بندي کړ .

دشهزاده عبدالکریم دنیو لوسره په جاله وان اوسراوان کښې خلك دپاکستاني حکومت په خلاف پورته شو ل او جنو بي پښتونستان له هري سیمې نه خلك راغله اودمیرگوهر خان تر قیادت لاندي یې په جاله وان کښې فعالیت شروع کړدور ځی او شپې به یې په خلکو حملې کولې او په لنډه موده کښې په برګټ کښې زیات خلك جمع شو ل لیکن کله چه دشهزاده عبدالکریم د گرفتارۍ پوره خبر واوریدل شو میر گو هر هم خپل لښکر ته دمنتشر کیدلو حکم ورکړ . او دکلات حکومت ته یې ځان وسپاره لیکن بیا په ضمانت دوباره آزاد شو . دشهزاده عبدالکریم دگرفتارۍ نه پس مستر ډي وایي نل دکلات وزیر اعظم ته داستعفی حکم ورکړی شو او اخطار ور کړی شو چه گرد جنو بي پښتو نستان نه ووځي د شهزاده عبدالکریم او دهغوی دملگرو دمقدمې داورو لو دپاره یوه خصوصي جرگه و غوښتل شوه او دا فیصله یې و کړه شهزاده عبدالکریم اومحمدحسین عنقا دلسو کلو دپاره د بند اعلان او سر بیره پر دی هر یو شهزاده پنځه زره رو پۍ دحسین خان عنقا یو زر روپۍ جرمانه او هر یو دلسو زرو رو پو په ضمانت ورکولو وروسته دلس کا له بند نه آزاد کړی شي .

مولو ی محمد افضل ذگرمینگل ، ملك محمد سعید ، میر عبدالواحد هریو داوو کا لو دپاره قید اودپنځه سوروپودجرماني په ورکولو او دقید دتیریدو وروسته هریو دپنځه زرو رو پو په ضمانت خلاصید لای شي .

میر محمد خان رئیساني تحصیلدار دری کالو قید اودوه سوو روپو جرماني او دقید تیرو لو نه وروسته ددوه زرو روپو په ضمانت آزادیدلی شي .

صوبه دار عبدالرحمان پنځه کاله قید پنځه سوه جرمانه مګر په بندیخانه کښې دښه سلو ك په وجه ددری کا له قید نه پس ددوه زرو روپو په ضمانت آزادید لای شي .



ACKU

مولو ی عبدالرحمان ، مولوی‌فقیر محمد ، مولوی الله یار، مولوی داد محمد ، مولوی محمد اسما عیل،مولو ی فتح محمد اورحمت اللـه


هریو پنځه کاله قید دوه سوه‌جرمانه‌لیکن دنیك نیتی په ښودلو دیوزرو روپو په ضمانت پس ددریو کا لـوقید نه آزادیدلای شی .

تکری محمد و فا شا هوانـــی‌تکری پسند خان سر پره تکرمحمد وفا لانگو او باقی ۱۲ دتکری قبیلی‌کسان هر یو ددوو کالو قید او دوه

سوو رو پو جرمانه او دښه نیت په‌ښودلو سره دیو زر روپو په‌ضمانت دیو کال قیدنه‌پس آزادیدلای شی.شی .

تکر فتح محمد سر پره دکرگاپ جمعه داز محمد او مینگل خـان سوار هریو یو یو کال قید اوپنځـه‌سوه روپی جرمانه شول .

ACKU



عطامحمد ،اقامحمد او سلطان محمد په قوم جوګی زا ئی

# دریاستی اتحادیو قیام

انگریزانو دخپل حکومت پـــه‌وخت کښې کـلات د (بلوچستان)له حدود څخه جلا کړ د لاس بیلې اوخاران دوه بیل بیل ریاستو نه یـــې جوړ کړی وو . لیکـــن دپاکســتا ن‌حکومت‌دو خت ددیموکراسی‌غوښتلو برعکس دانګر یز ی حکومت د قایم‌کړی شوو ریاستو نو دتعداد پـــه ځای دکلات سر غوڅ کړی په هغـــه‌کښې دمکران دریاست په نوم‌زیاتی راوستلو . په دغه وخت کښې‌دکلات‌لسبیلې- خاران اومکران‌دبلوچستان څلور ریاستو نه جوړ شوی وو .
دپاکستان دجو ړیدو وروسته‌دهغه‌حکومت نظام مخکښې څخه هـــم زیات خراب او پراګنده شوی وو.
اوس ورو ورو زیات نا کاره اوناقابل‌برداشت جو ړیدل ددی ریاستو نو عایدا ت ډیر کم کړی وو او په دی‌کښې دبیل بیل حکومت دنظام د ساتلو اخراجا ت ډیـــر زیـــات وو .

دریاست دوالیانوزیاتی اونازبرداری‌او دنورو ذاتی اخراجاتو لا دپاسه شو . دریاستې اوسیدونکو د ډېر لوغربت او افلاس او پریشانی څـــخه دبلو چستا ن په دی حصه کښې‌یوی‌داسی مسئلې سر راپور ته کړی ؤ. چه له هغه څخه پاکستانی حکو مت‌تر ډیره و خته پوری بی نیاز نشې پاتې کیدلې . او ددی ډېر لوکوتاهیواو نقصا نو نو څخه علاوه دجنو بی پښتو نستان خلك د پاکستان څخه‌غیر مطمئن اونا امیده وو . ددوی‌دا همه ګیره ما یو سی‌په امیداواطمینان‌بدلول او هغه دپاکستانی حکومت سر ه درو غې جوړی اودوستی اوهمدر دی داطمینان تر لاسه کو لو یوه داسې سخته او غور، وړمسئله‌وه چه دهغه خواته هم معظم خـــا ن په بار بار دپاکستان د حکومت‌ارباب‌سبت او دښمنی ته نه یواځې توجه وړ کړی شوی وه بلکه دهغه پـــه‌مخکښې یې خپل سخت او کلـــك تجویزونه هم و ړاندی کړ ی وو . په‌دی وخت کښې دمیر احمد یار خان دکلات دخان دیا دو نه دا ؤ. چه په‌هغه باندی هغه پـــه دستـــور سره ټینګ وو چه دبلو چستان ټـــو ل‌ریاستو نه مستجار ی علا قې او د بلو څو قبایلې علاقې دکلات پـــــه‌ریاست کښې مدغم کړی .
چه دکلات دی خاو ری ته‌دهغه‌اصلی نوم جنو بی پښتو نستا ن (بلوچـــستان )ورکـــړی شو . او دکلات خان دی‌دبلو چستان د آئیـــن خان او حکمران په حیث په‌رسمیت‌وپیـ ژنی . او هغه سیمې چه په‌پښتو

ژبه خبر ی کوی په بلو چستان کښی‌شا ملی دی . په دی ور ځو کښی په کلات کښی دمحمد ظریف‌وروستەداغا عبدالحمید دکلات وزیر اعظـم مقرر شو . چه نسبتا لوړه ختیځـه‌نظریه یی در لود له . لکه چه هغه داعظم خان تجویز د پاکستان‌حکومت‌ته په ډیره دیانت داری سره تـــر کومه یی چه دلاسه کیدل وړانـــدی‌کړ . چه تر یـوی انـــدازی پـو ری کامیاب‌هم شو. لنډه دا چه‌دپاکستان‌حکومت دیو ځه ترمیم سره دلو ی خان تجویز په بل رنگ کښی‌قبول‌کړی .

په ۱۹۵۲ع کښی داپریل په ۹نیټه د لاندنی تر کیبی اجراآ توځخه دبلو چستان دریاستی اتحاد یـــی‌دقیام اعلان وکړ .

**۱ــ دکلات ریاستو نه :**

دمکران خا ران او لسبیلـــی وا لیان دځپلو ریاستو او سیدونکو مجمو عی مفاد او دځپل ریاست‌دنظم‌اونسق او دسیاسی او اقتصادی‌ترقی په مخکښی نیو لو سره دی نتیجی‌ته رسید لی دی .

چه دذکر شوو ریاستو نو له‌اشتراك ځخه دی یو متحده ریاست چه دبلو چستان دمتحده ریاستو نوپه نو م یا دوی دهغه قیام دی عملی کړی شی . چه دهغه حکومت عامله‌نظام عدلیه او مقننه په یو وی.لکه چه هغو ی په دی لړ کښی‌په لاندی‌میثاق باندی امضاوی کړیدی .

۲ــ دمیثاق کونکو ریا ستو نووالیانو دمیثاق‌کونکو علاقوریاستونو اودهغه عامله نظام عد لیه مقننه اوځپل ټو ل اختیارات یی په یووخت کښی دمدغم کو لو په غرض فیصله کړیدی . چه دو حدت دبلوچستان د متحده ریاستو په‌نوم به یادیږی

۳ــ دبلو چستان دمتحده ریاستو نو په نوم حکومت او دهغـــه تنظیـم او نســق ساتـــل کونســل‌حکمرانانو ته وسپارل شو . چـــه دهغه ار کان به دمیثاق کونکـــــوریاستو نو حکمرانان وی .

الف‌ــ کونسل حکمران به په‌ځپلو منځو کښی دځلورو کلو نـــو دپاره یو مشر مقررو ی چه امیر به‌ورته و یلی شی .

بــ دکلات موجوده خان ترځوپوری چه ژوندی وی دبلو چستا ن دمتحده ریاستو نو مشربه وی. اودامیر په ځای به خان اعظم و رتـــه ویلی شی .

۴ــ په متحده ریاستو نوکښی‌به یو قانو ن ساز مجلس وی چـــــه (۴۰) غړی به لری چه لــه هغــو ی‌ځخه به ۲۶ تنه دسن قانونی رای ور کو لو په اصو لو باندی منتخب‌کیږی او ۱۴ تنه به انتصابی غړی وی .

انتصابي غړي يوائي سر داران کيدلی شی او دهر رياست‌غړی په لاندې ډول دی .

| کلات | مکران | لاس‌بيله | خاران |
|---|---|---|---|
| ۸ | ٤ | ۱ | ۱ |

ټول = ١٤

٥ـ خان اعظم ( امير) اوکـونسل حکمران دځپل فرض دانجام کولو په غرض او کونسل حکمرا ن‌به يو اعلی مشر مقررولی شی چـه وزير اعظم به ورته ويلی شي .

٦ـ دمتحده رياستو نو د حکومت دکار او بار په چلو لو کښی د کونسل حکـمرانانـو د حکومـت اومشو رې لپا ره به يوه کابينه مقرر کړی شي . دوزيرانو تقرربه‌کونسل‌حکمران کوی . چه دو زيرانو تعدا د به له پنځه تنو نه زيات نه وی . اودهغو لپاره به دقانو ن ساز مجلس رکن ضروری وی . لږ تر لږه در ې‌وزيران به دقانو ن ساز مجلـــس‌د منتخب غړو څخه مقرر کيدلی شی .

٧ـ په دی ميثاق باندی‌دامضاکو لو له نيتی څخه په يوه مياشت کښی دننه دننـه دميثـاق کونـکوریاستو نو هر حکمران دځپل‌رياست دنظم او نسق او دحکمرانی ټـو ل‌اختيارات به کونسل حکمرانانو ته سپاری .

٨ـ ددی قا عدو په ضابطو اولاز ښو نو لاندی چه مرکزی حکومت به يې په دی سلسله کښی وخت په‌وخت جاری کوی . دمتحده رياستو لپاره لښکر او عسکرو جمع کو ل‌اودهغه تنظيم او انتظا م او نـــورو کارونو دسر ته رسو لولپاره‌کونسل‌حکمرانان ذمه وار دی .

٩ـ کونسل حکمرانان ژر ترژره او په هرحال‌ددی ميثاق دتکميل څخه په يوه مياشت کښی دننه‌دننه‌دمتحده رياستو نو له طر فه بـــه تکميلوی .

د ١٩٣٥ دګور نمينټ افـاينډيا اسکيـټ داول فهـر ست د اوم جدول او په دريم فهرست کښی چه‌کو م کارو نه شا مل دی دهغــــه متعلق دقانو ن سازی حق په قانون‌ساز مجلس پو رې مربو ط وی .

١٠ـ ددی ميثاق دما دو مطابق‌بـه کونســل حـکمرانان دمتحـده رياستو نودپاره يوعارضی دستو رترتيبوی داعارضی دستور به‌دمتحده رياستو نو دقانو ن ساز مجلس په‌اول اجلاس کښی‌دامضا لپاره‌وړاندی کولی شی . ليکن دمرکز ی حکومت‌داجازی څخه په غيـر هـيڅ قـسم

تبدیلی نشی کو لی .

۱۱ـ تر څو پو ری چه‌دمتحده‌ریاستو نـو دقانـو ن ساز مجلس اختیارات قانو ن سازه او محدودوی‌کونسل حکمرانان ددی حق لر ی‌چه دمتحده ریاستو نو دنظم او نسـق‌لپاره ځینی ضابطی (حکمونه‌مادی) مقرری کړی او هغه جاری کړی .

۱۲ـ دمتحده ریاستو نوانتظام او دحکو مت دکارو نو لپاره ټول احکا م دکونسل حکمرانانو په نو مسره جاری کولی شی .

۱۳ـ دمیثاق‌کو نکو ریاستونودریاست هروالی ددی حق لری . چه هغه یوازی دخپل ځان لپاره دمتحده‌ریاستو نو له عوایدو څخه په کا ل کښې په هغه اندازه پیسی وا خلی‌چه هغه دمیثاق په جدول کښې‌تعین کړی شویدی .

۱٤ـ هر والی ته داحق‌ورکړی‌شویدی چه دخپل ذاتی منقو ل او غیر منقول جایدادو نه استعما ل‌اوځنګه یی چه خوښه وی هغه تصرف کړی .

چه ددی حقو قو دمحفو ظ ساتلو ضا من به مرکز ی حکومت‌وی .

۱٥ـ دریاست هر والی او دهغه جانشین شوو دهغه دکو رنـی خاندان ته به هغه ټول ذاتی‌اعزازونه‌حقوق او مراعات حاصل وی چـــه پخوا دو فاق په وخت کښې هغو ی‌ته حاصل وو .

۱٦ـ الف . دپاکستان دحکومت له خوا دریاست هر والی تــه ددی خبر ی ضمانت ور کول کیږی‌چه دهغو ی د راتلو او دهغو ی د چوکی نشین دجایز وزارت حقو ق‌او اعزازو نه به خوندی ساتی .

بـ کچری دکوم یو ریاســت‌دوالی دوراثت متعلق څه جګړ ی او لانجی پیدا شوی نو دهغه فیصلـــه‌به په ریاست پو ری مربو ط‌قوانینو او دخاندانی رواج مطابق به والـی‌کوی چه دهغه فیصله به قطعی وی .

۱۷ـ په دی میثاق‌باندی دامضاکولو څخه په مخکښې معا ملوباندی دحکومت او ریاست دقرو ګذاشـــت‌متعلق دکو م یو حکمران په خلاف دمتحده ریاستو نو له طرف څخه به‌نه څه پو ښتنه کیږی او نه په‌متحده ریاستو نو په کوم یو عدالت کښې‌څه کار لرل کیږی .

۱۸ـ دمتحده ریاستو دمیثاق‌کو نکو ریاستو نو دمستقل‌نوکرانو او دعمالو خدمت به دهغه په‌شرایطوباندی جاری د ساتلی شی چه لدی میثاق دتکمیل له نیتې څخه دمخـه‌هغوی ته حاصل وو .

یا کچر ی دهغو ی دنو کـری‌څخه بر طر ف کړی شی . نوهغوی

ته به دهغوی دمخکښې ملاز مت د شرایطو مطابق معقو له عـو ضـــــ ور کولی شي

۱۹ــ دمیثاق کو نکو ریاستونودکوم یو نو کر په خلاف دهغه یــو داسې کار متعلق چه له هغه څخه دخپلو سر کاري فرایضو دسر تــــه رسو لو په لړ کښې دمیثا ق دتکمیل‌څخه پخوا منځ ته را غلی وی بغیر دکونسل او حکمرانانو دمنــظو رې‌څخه کو م یو دفتر یا پوځی کاروایی نشي کیدلی .

۲۰ــ په دی میثاق کښې چــه‌څه شی لیکل شویدی بیا هم ددی ریاستو نو را تلو نکی مستل‌دستوربه هغه وی چه دستور ساز مجلـــس له خوا دنورو مختلفو علاقو لپا رهمرتب او نا فذوی . ددی نوی‌دستور دجاری کو لو لپاره چه کوم تاریخ‌دستور ساز مجلس مقرر کړی وی. دهغه مطابق به هغه نوی‌دستور په متحده ریاستو نو کښې‌هم‌جاری وی .

## دجا گیر داری ختمول

درياستو نو دالحاق داعلا ن‌نه‌پس د پاکستان حکومت په نمایشی ډول دهغه ریاستــو نــو خلــکو اوحکمرانا نو نه تشکر و کړ اگر چه‌په ۱۹٤٧ع کال نه پخوا پــه پر نگـی‌حکومت هند ته د آزادی و عـــــده ور کړ ی وه چه په ۱۹٤٧ ع کال کی‌دپاکستان تړ لو ریاستو نو ته دحق ټاکلو یعنی په‌خپله خوښه دهر یــوملك سره د شا ملیدو اوالحاق کولو او یا ځان له جلا ریاست پــه حیث‌اوسید لو حق ور کړی شو ی وه پر نگی گر چه یو غیر اوبیگانه قو م‌وولیکن دبشریت حقوقو منلو اوهغه داحترام کړ لو اوساتلو ته قایل وولیکن پاکستان حکومت سره لدی چه مسلمان وو دی تړ لو شیانـــوباندی ستر گی پټی‌کړ ی او په‌جبر اوسازش باندی یی دټو لوریاستونوالحاق اعلان و کړ او دهم‌دی اعلا ن سره سم یی وویل چه په جنو بی پښتو نستا ن کښی جاگیر داری‌پس لدی نه ختمه ده لیکن ددی ټو لــواقدا ماتو په پرده کښې دپاکستا ن خپل شخصي اغراض او مقاصد پټ‌وو دجنو بی پښتو نستان دخلکـــو سره یی کومه همدر دی نه‌درلوده.

ددی نه پس پاکستانی‌حکومت‌په خپلو ناوړو اقدا ماتو لاس پوری کړ هره و رځ مختلف سازشو نـــه‌کیدل آخر په ١٩٥٤ع کال کښې د فبروری‌په١٦ نیټه پاکستانی‌حکومت‌یو ځو تنه سر داران طرفدار کړل دی سر دارانو یو در خواســت د پاکستان حکومت په مشوره اوتجویز جوړ کړ او خپل دادر خواست یــی‌دپاکستان گورنر جنرال نماینده ته

چه په سیوی کښې مقیم ؤ وړاند ی کړ پدی درخواست کښې چه سازشی جوړ شوی وو دا مطالبه شوی وه چه باید جنو بی پښتونستان په پاکستان کی مدغم کړی شي دپاکستان حکومت دسر دارانو دانا جایزه اقدام یی وستا یلو او پدی خبره ډیر خوشحال شول اگر چه ځینی سر داران په خپله دی غلطی باندی وروسته پوه شول او خان اعظم احمد یار خا ن څخه یی معا فی و غوښتله لیکن دپاکستان حکومت دسر دارانو پخوانی در خواست په زور او شور نشر کړ تبصری یی پری و کړ ی او پد ی سلسله کښې د پاکستان دحکو مت له خوا مشتاق احمد گورمانی کویټې ته راغی دزیاتو خبرو اترو نه پس دسر دارانو او جنو بی پښتونستان دخلکو ترمنځ دخوا هشاتو برخلاف دکونسل ممبرانو په یوه غو نډه کښې دجنو بی پښتو نستان دریاستو نو داتحادیی دا دغا م اعلان وکړ پدی خبره دحکمرانانو کونسل سخت احتجاج و کړ او ده ته یې دا هم وویل چه پدی موقع کښې با یددبیری نه کار وانه خیستل شي .

اومونږ ته بایددا موقع راکړی شي لیکن دپاکستان حکومت دا خواهش ونه منلو ددی نه پس د پا کستا ن حا لات نورهم خرا ب شول اودجنوبی پښتونستان ریاستی اتحاد په پـــه مو قتی طورسره ختمه شو ه .

میر احـمد یارخـان د جنـوبـی پښتونستا ن په تا ریخ کښـــی د مشهورو کسانو څخه گڼل کیږی اودنړی د لویو اشخا صو د جملی څخه شمیر ل کیــــږی دی د بلـو څ قوم یولوی خد متگار دی اود بلو څ په قبیله کښې به ډیر کم دغه شان خلك وموند ل شی ده د جنو بـــی پښتونستا ن دترقی په هر اړخ کښې نه هیریده نکی خدمتو نه کړیـدی . میر احمد یا رخا ن سره ددی چه په قو میت ایما ن لری یو ا ســـلا م دو ستنه انسا ن هم دی اوهغه تـــول تعصبا ت چه د جنوبی پښتو نستان دخلکو په منځ کښې مـوجـود وو دمنځه لیرې کړ ل میر احمد یار خان دجنوبی پښتو نستا ن بیړی لـــه ډوبیدو څخه خلا صه او نجات یی ور کړ اود خلکو تعلیمی سویه ئی ډیره لوړه کړه.

میراحمد یارخان په ۱۹۳۳ع کال داکتوبر په میاشت کښې یی دکا بل دمحمدزی کورنی دسردار علی جا ن دلورسره واده و کړ چه اوس هغی نه شهزاده محمد دا ود، شهزاده محمد محی ا لدین، شهزاده عیسی او شهزاده موسی او ښځه لو ښی لری میراحمدیارخان ساده ژوند خو ښوی. ساده جامی یعنی عموما کمیس پر تو گ او واسکټ اغوندی او خوراك یی ډیر ساده دی. ډیر میلمه پال انسان دی او ډیر صوفی طبیعته او اوس دمسجد په منځ کښې ناست او عبادت کوی. په اوه ژبو لیك لوست اوخبری کولی شی بلوچی، بروهی، پښتو، دری، اردو ، عربی او انگلیسی.

**میر یوسف علی‌خان:**

په ۱۹۰۸ ع کال د جنوری په‌میاشت کښې زیږید لی د نوا ب قیصرخان مگسی‌زوی دی‌په‌ښوونځی‌کښې‌یې درس نه‌دی لوستلی بلکه د خپل پلار خخه‌یې تعلیم زده کړی‌دی‌څرنگه چه‌یو ذهین انسان وو له‌دی کبله د وړو کوا لی نه یی دری اوعربی زده کړی اوپه‌دی ژبو کښې‌ئی خاص مها رت حا صل کړودانگریزی‌دپاره‌یی ښوونکی ونیوه په ۱۹۲۳ ع کال کښې د پلار سره جلا وطن‌شوتر۱۹۹۲ ع کال پوری د پلارسره‌په ملتان کښې اوسیدهٔ لیکن دد وی‌جلا و طنی دهغوی شهر ت لاپسی زیات کړ هر کله‌چه‌خپل و طن ته‌را غلل نود لو مړی خل د پا ره‌یی دجنوبی پښتو نستا ن‌په‌نامه مضمون‌خپورکړ دامضمون دلا هور اخبار همدرد نشر کړ پدی‌وجه‌په ۱۹۳۰ع‌کال کښې مو صوف‌په لسوزروروپو جرمانه محکوم شو او یو کا ل‌دگټ‌په‌سیمه زهری کښې نظربندشوددی نه‌پس میر یوسف علی خان دخپلوملگروسره چه‌په‌هغوی کښې‌میر عبدالعزیز کورد نوابزاده عبدالرحمن‌بگتی محمد حسین ملك فیض محمد یو سف را یی محمد نسیم تلوی‌اومحمدحسن نظامی اونور گڼ کسا ن شامل‌وو دانجمن ا تحاد بلوخ په‌نوم‌یی‌یو سیاسی تنظیم جوړ کړ میر یو سف علی‌خا ن د گوند رئیس ،میر عبدا لعزیز خا ن ، منشی منتخب شول پدی خبره د کلات‌وزیراعظم میر یوسف علی خا ن د نیو لو احطارجاری‌شو لیکن میر یوسف‌علی‌خان مخکښې دهغی نه جیکب‌آباد ته‌لا ړ او هلته مشهور مگسی ایجی‌تیشن شروع‌کړ دمیریوسف‌علی‌خان په تحریك د ۱۹۳۲ کال دد سمبرپه‌میاشت کښې دسند او جنوبی پښتونستا ن د خلکو یوه غونډه په‌جیکب آباد کښې و شوه اوخا ن عبدالصمد خان اچکزای اونور بلوڅ‌زعما پدی غونډه کښې شر کت وکړ نوموړی ښه ادیب وو د نوا ب‌قیصرنه‌پس چه‌د هغه پلاروو دمگسی‌قبیلی دسردا رانو په‌حیث و پیژند ل شو.په ۱۹۳۳ ع کال کښې په حیدر آباد کښې یو: تنې غونډه ددوی‌ترمشری‌لاندی وشوه په ۱۹۳٤ع کا ل دو ی یو ږپ ته لا ړ ل اوپه ۱۹۳۵ کا ل‌کښې‌و طن ته راغی‌اوپه ډ یر جوش سره‌یی د جنوبی پښتو نستا ن داتحاد د پا ره شروع و کړه په‌۱۹۳۵ کال کښې د کویټې په مشهوره‌زلزله‌کښې‌دمی دمیاشتی‌په۳۱ نیټه‌دهغوی کور ولوید او نومو ړی سره د ډیروارمانونو دخاورو لاندی شو د هغه قبر په‌کویټه کښې د کانسی‌په‌هدیره‌کښې ددو ستانو زیا رت گاه ده.

انالله .انا الیه را جعون .

## دجنوبی پښتو نســتـان آ زا د ی‌غوښتونکی نو میالی مشران

**جناب میر غوث بخش بیزنجو :**

دانګیالی بلوڅ دمجا هدینو سره‌دکومك کولوپه جرم ۱٤ کاله قید او په‌پنځه زره کلداری نقده جر یمه دپاکستان دحکومت له‌خوا مجکوم شوی دی. او دمجاهدینو پرکومك سر ه‌بیره‌وایی چه‌دی ننګیالی بلوڅ دپاکستا نی کلدارو پرنوټو داشعار و نه هم‌لیکلی‌او خپاره کړی وچه «ون یونټ توړدو، یعنی یویونټ مات کی (بلو چستا نی‌عوام کوانکی حقو ق وا پس کړ دو)



ښاغلی میرغوث بخش بیزنجودجنوبی پښتونستان والی اوپیاوړی مشر.

یعنی دبلو چستانی او لس حقوق بیرته‌ورگړی ( پرای دا ړی ما رو کونکلو ادو) یعنی‌پردی داړه مارا ټوباسیء .

جناب غوث بخش بیز نجو: په تیرو انتخاباتو کی دقلات دعوا مو له خوا دمرکزی شوراوکیل تا کلی‌شوی‌ؤ خوچه څو واره یې په‌شوراکی د مظلو موبلوڅانو دحقوقو او پر هغوی‌باندی دپاکستانی‌پو څونودبی‌رحمانه بمبار یو اوتیریوخبری پورته کړ ی‌په‌رسمی او غیر رسمی توگه یې شکایتونو څر گند کړه نو له همغی‌شورا څخه دپنهی زندان ته‌واستو ل شو.

جناب میر غوث بخش بیزنجودژوند زیا ته برخه د جنو بی پښتو نستا ن د مختلفو د لولکه انجمن وطن، کانگرس، نیشنل عوامی پارټی او نوروسر مپه ملگری کی‌تیره شوی ده او دپاکستان د پاکستان حکومت له‌خوایی څو ځله‌نورهم بندونه‌اوزجرونه تیر کړی‌دی.

دمارچ په۲٤ نیټه‌جناب میرغو ث‌بینزنجودوروستی ځل دپاره کراچی کی‌د جناب عطاالله خان مینگل له خا یه گرفتار کړه شو، او دپاکستان دځینو اخبار ونو نمایندگانو دپاکستا ن دحکومت په اشاره له‌دوی څخه پوښتنه کړی وه‌چه :تاسو به په آینده کی په‌کومه ډله کی برخه اخلی ؟یعنی په پیپلز پارټی کی یاپه نیشنل عوا می‌پارټی کی. یاپه مسلم لیک کی ؟»

جناب میرغوث بخش بیزنجو ځواب‌ورکړی وچه:(مسلم‌لیک خوپه‌حقیقت کی‌کمه سیاسی‌پارټی نه‌ده‌بلکه دغه‌خودظلم دطوق یو ځنځیر دی چه تر اوسه دخلکو پرغاړه پیچلی شوی دی‌پاته شوه پیپلز او نیشنل پارټی هغه خود حکومت‌نیت تراوسه جمهوریت‌ته نه‌دی راگرځیدلی. اونه هنگامی حالت ختم‌کولو ته تیار دی. فقطیوځه سر مایه داران برسر اقتدا ر دی‌چه‌په‌هر چا یی جرم و لگاوو څوك یی ځواب نه‌شی ویلای .نو څکه زمونږ شا ملید ل په‌کومه‌پارټی کښی‌تراوسه لاپخوا له وخته د ی ، مگر وروسته په‌ملی عوامی گو ندکښی شامل شواو په مو جوده وخت کی‌د جنوبی پښتو نستا ټوالی‌دی.

**جناب عطاء الله خان منگل :ـ**


دا ننگیالی بلوڅ کله‌چه‌هم دپارلمنټ‌غړی او دمرکزی شورا وکیل وو څو څکه چه‌ده هلته په‌شوراکی دپاکستان‌استعماری رویه غندله اوپه‌رسمی او غیر رسمی توگه‌یی دپاکستان له‌استعمار ظلم او غاصبی څخه خپل شکا یتونه دننه په‌وطن او دباندی‌په‌نورو هیوادو کی اعلان کړی د ی نو څکه دپاکستان سره له دی چه د مدشورا دوکالت مصونیت درلود زندان



**ښاغلی سردار عطاالله خا ن مینګل دجنوبي پښتونستان وزیـر اعلی.**

تهوا ستاوه ددی دپاره چه پربلوڅانو خپل احساس باز او ځان ته‌یی جلب کړی نو جناب مینګل یی‌له زندانــــه ویوست . خو ځنګه چه دبلو څـــو ننګیالی او آزاد یخواه اولس‌دپاکستان دحکومت په استعماری چلو نو ښه‌پوه شوی دی نوځکه دجناب مینګل پـــه خلاصیدو ددوی ملی مبارزه لا تود ه شوه او اوس هم جناب عطاء الله‌خان په ډیره میړانه قومی تحریك پر مخ بیایی اوفعلا دولا یتی حکو مـــت وزیر اعلی دی.

**نواب محمد اکبر خان بګتی مری:** دانګیالی چه یو وخت دپاکستان د حکومت په‌کابینه‌کی وزیرو. خوهغه‌وخت چه ورته څرګنده شوه چـــه د پاکستان حکومت دده دقوم بربادولو ته‌ملاتړلی ده. او هم یی دخپل او لس مظلومیت پخپلو ستر ګو لیده تـــووزارت یی پریښود او دخپل قـــو م‌د



ـدجنوبی پښتونستان پوه ا وپیاوړی مشر ښاغلی محمد اکبرخان بګتی.

نجات په‌فکریی قومی تحریك شروع کړ. او زیاریی یوست چه بگټي قوم له‌حکومت څخه لیری‌و ساتی .

دپاکستان حکومت چه‌دده په‌د غه‌کوښښ خبرشونو لومړی یی‌دده‌کور تلاشی کړ هرڅه یی تری لوټ کړ ه‌اوبیایی دی‌گرفتار کړ.
خوچه دبند موده یی پوره شوه او راخلاص شو بیایی په خپلی قو می مبارزی لاس پوری کړ او داو ختی‌یی‌نودمری قوم دکاهان په‌غره‌کی یو باقاعده دمبارزی محاذ جوړ کړ. اودپاکستان دحکومت پرهغه محاذ پرله پسی بمباری وکړی اوبیایی نـوا ب‌صاحب جیل ته‌واستاوه .خو دد ه. قوم خپله مبارزه همغسی جـار ی‌وساتله. اوچه دپاکستان دحکو مت وس په‌و نه رسیدنو گورنر امیرمحمدیی‌برطرف کړ. اومری قوم ته‌یی‌وویل چه دغه ټول ظلمونه پرتاسی ا میـرمحمد پخپل امر کول او جناب بگټی صاحب یی بیرته خلاص کړ. ځنگـه‌چه بگټی صاحب دپاکستان‌داستعماری حکومت په مکر اوچل پوه‌و. نو ځکه‌خطانه وت. بلکه‌په کلکه‌یی‌دخپل‌قوم دحقوقو دپاره مجادله شروع کړه اوورسره ورسره یی خپل قوم مسلـح کړ اوپرحکو متی ځایـویی حـملـی‌شروع کړی. اوهم له‌بلی خوا یی‌زیار یوست چه بلوڅ قوم‌له پښتنو سر ه‌یولاس کړی. او دهمدی احساس په اغیزه می په ٤ نیټه چه خان‌عبدالصمدخا ن له بنده راخلاص شوجناب‌اکبر خان بگټی اوخیر بخش مری د هغو ی‌استقبال دپاره ورغلل اوله ډیـر و بلوڅانو وروڼو یی په‌استقبالیه‌جلوس‌کی‌گډون وکړ. چه‌دهمدی گـډو ن په سبب دهغی ورځی دشپی پر دووبجو دکویټی په ښار کی دپاکستا ن حکومت دده پرکوټی زرتنه عسـکرشاو خوا راوگرزول. او ورو سته تر هغه چه دنواب صاحب نه یی دوه‌تنه گرفتار کړل او پخپله نواب یوازی ورته راووت چه‌داډیرعسکر یی ولیدنووی خندل اووی پوښتل .
«زه خویو سړی وم. دادونه‌عسکرو ته‌څه ضرورت و!»
ډی. ای .جی ورته وویل چـه :صاحبه: چه ستا یوازی نیول دزر و تنو سره سم دی،که ته هیڅ بد هم‌نه‌کوی خوپر حکومت دی دونه و هم پروت دی‌چه موږته دتنها راتلواجازه‌چانه راکوله»

نوده ورته وویل چه: (دونه‌بیریږی‌نودخلکو حقوق !و وطنونه و لی‌قبضه کوی؟) هغه وو چه سهار دحکو مت‌له‌خوا اعلان وشو چه «نواب بگټـی دډیفنس اف پا کستان رو لزله‌مخی گرفتار شو. ترڅوچه دی حکومت ته ډا ډ ورنه کړی تر هغو به‌بندی و ی»اونوموړی دپاکستان دجیـل په سی کلاس‌کی بندی وو .

(۱)ښاغلی نواب‌محمد اکبرخان بګټي‌په لند ن کښې په لاهور کښې د چاپیدونکې، نوا ی وقت‌ورځپا ڼــــې‌نماینده ته د پښتو نستا ن په‌با ب دهغه د یوی پو ښتنې په ځواب کې‌وویل .

دېنګله دیش‌نه و روسته بــــه‌پښتونستا ن جو ړیږی. هغه وویل دنړی هیــځ قــوت د پــښتونستان‌جو ړیدو مخه نه شی نیو لی .

هغه‌وویل خا ن عبد، لو لی خان دپښتو نستا ن په‌باب په‌سیاسی‌لهجه خبری‌کوی اود پښتونستا ن‌دنهضت‌غړ.هیڅکله نه‌شي غلی کید لی .

هغه وویل اوس دولایت خودمختاری دروغی جوړی په‌شکل عمل کیږی چه‌دپاکستان دمو جوده شکل‌بد لو ن ورته ویل کیدای‌شی‌اویوځه ختم به ولری‌خو آخر به‌پښتونستان‌ضرور جوړ یږی .

نوا ب بګټي ددی پو ښتنې پــه‌ځوا ب کښې چه تا سی دچا نه‌آزادی غواړی وویل، له پنجا بیا نو نه چه‌ټول عمر یې خپل شاو خوا اولسو نه استثمار کړی دی. هغه وویل‌پښتانه‌او بلوڅ له پنجا بیانو نه جدا یــــو قومیت دود، دستور، کلتور لری .اومذهب دغه کلتور سره یوشان نــه شی‌کولی

ښا غلی بګټي دورځپا ڼې نما ینده‌ته ددی پو ښتنې په ځواب کښې چه په پا کستا ن کښې د یوی دا سی‌روغی جو ړی په لړ کښې مرسته وکړی چه پا کستا ن‌ته دهندوستان‌نه خطر و رك شی وویل :

چه پا کستا ن تجز یه کیدونکی‌دی دبنګله دیش تر آزادی وروسته به پښتونستا ن جو ړ یــــږی اوپښتونستا ن چه جو ړ شو نومسئله به‌حل شی .

---

«۱»هیواد کویته ۸می ۱۹۷٤ شماره-۲۵

ACKU

# دریمه برخه:
## اوم فصل ادب

### بلوڅي ژبې سندرې او آوازونه

«غرونه دبلو څانو حصاردي اوددوی‌لوړی څوکی له هره ډوله دجګړ‌نو اوپوځ نښې دي دغه دانګ‌دا ـ نګ‌اوښکلي غرونه‌ئې زمونږ دوستان او تنګي درې زمونږ ملګرې دي. زمو نږاوبه دغرونو له صا فو چینو څخـه اوبستر مو داغزو بوټي دي »

داکرښې دبلوڅي یوه رزمی‌غزل نـه‌چه دحسن بلوڅ لخوا د دښمن پــه ځواب کښې ویل شویدي تر جمـــه‌شویدي چه دبلو څانو له اصلی‌کرکټر او دمحیطي او جغرافیایي تا ثیرا تو نه نمایندګي کوي.

دتوریا لیو بلوڅو ځمکه ، غرونه‌بید یا ګانې او شنې درې تشکیلوی‌د بارانو اوریدل لږ اودکور پچ بادونه‌په‌ژمی کښې ډیر چلیږي . دا بادو نه دیوی ډلی دلږدونې او هجر ت‌سبــب ګرځي چه‌له مختلفو ځا یو څـــخه د سیوي خواته ځي‌په منی کښـــی د(لوار)تیز بادونه چه‌دانسان او نبات دپاره مضر دي شروع کیږي.دافزیکی‌شرایط په جنوبي پښتو نستان کښې ډیر تاثیر لري او دبلوڅانو د ثبا ت‌او استقامت سبب شویدي چه‌دهرراز سختیو او مشکلاتو په مقابل کښې‌صبر له‌لاسه‌ورنه کاندي اودنامساعد محیط سره تر و رو ستي سلګــــي‌پوری مجاد له وکړي.کله‌چه طبیعت دوی ته چغلي مهربانی ښکار ه کړی‌بهادربلوڅان دطبیعت دزامنو په‌څیر خپل دزړه احساسات دنخاءاوآوازونو په‌وسیله ښکاره کوي مګر هر کله‌چه طبیعت اومحیط نامساعد وی ددې نانامالایمی په‌ډیر صبر او ورین تندی هرکلی کوي.

دهری ژبې دادبیاتو یوه لویه برخه‌دهغی ژبې ملی سندری او آوا زو نه دی له ملی سندرو څخه دیو او لس‌ملی دو دونه او عنعنات ، جذبــات ، احساسات او ددوی محیط اوچاپیریال‌ځر نګوالی څر ګندیږي او دا یی یوه غوره صفت دی .

بلوڅي ژبه هم دنورو آریایي ژبوپه څیر ځانله ملی سندری او آوازونه لري چه ددی ژبې سندر غاړی بیګاه‌اوسبا په خپلو سمسور و درو،غرونو او شپې به غونډو کښې وا یي . که‌مونږ دبلوڅي ژبې آوازونه تر غو ر لاندی‌ونیسواوهغه ښیګڼې چه‌د نوروژبو په‌ملی آوازونوکښې‌شته‌دبلوڅانو دملی سندروپه زیاتو برخو کښی‌لیدل کیږی. ددې ژبې په‌ملی سند ر وکښې مذهبی ،تصوفی ،اخلاقی ، اد بـــی‌عشقی،بزمی،غندنې او ستا ینـــی



ACKU

پیدا کیږي ، چه‌په لنډه ډ و ل د لته بیانیږي :

**۱ـ لیکو:**

دا ډول سندري دپښتو لنډ یو په‌شان کوم خاص ویونکی نه‌لري بلکه دټول اولس مال دی چه دزمانی پـــه‌مختلفو دوروکښی اوپه‌بیلو بیلوځایو کښی دمختلفو کسانو له خوا ویـــل‌شوي اوپه خو ږ وتشبیـــهـــا تو او استعا روکښی مزیتی‌دی.دلیکومطلب زیاتره حماسی او عشقی دی اودومره جوش او قوت پکښی لیدل کیږي چه‌بلوڅي اوسنی شاعـــران ددی ر ا ز سندرو دویلو نه عاجز دی .

**۲ـ لاړ وك :**

داډول سندري ډیري مشهور ی‌او تاریخي اهمیت لري مطالب یی عشـــق ښکلا او توره ده.

هغه وخت چه قبیلوی عداو ت ا ودښمنی په بلوڅانو کښی عمو میت درلود اوبوه قبیله دبلی قبیلی پـــه‌مقابل کښی دجنګ او جګړي ا علا ن کاوه اوددوا ړه خواوو توریا لـــي‌ځوانان دمبارزي میدان ته حاضریدل نو بلوڅو پیغلو ددوی دتحریك دپاره‌په‌ګډه داډول سندري ویلی څو چـــه ځوانان دجنګ په میدان کښی ما تي‌ونه‌کړي. دغه دنفاق اور تر ډیـــري ـودي پوري ددغه بد قسمت قام پـــه‌ټولنو کښی بل ؤ او ددی اور دسون له‌کبله ډیري بیبیانی کونډی ډ یـــر مشومان یتیمان او ډیر کلي اوکورونه تالاشول مګراوس چه‌دوخت اوزمانی‌په ایجاباتو دهغو قبایلی‌جګړوتغرټول شویدی نو دا ډول سندري دوا د ه په‌شپو او ورځو کښی ویل کیږ ی تر څو چه‌نوی‌نسل تري دعبرت‌درس واخلی‌دادی اوس دلته دلاړوك یوه تر جمه دنمونی په‌ډول بیا نوو .

یوه بلوڅه پیغله وایی.

خپل محبوب ته سترګی په لار ی‌یمه.

چی‌دسوبی او بری زیری را تـــه‌راوړی.

زما محبوب توریالی ځوان دی

اوپه تیراندازی کښی لوی لا س‌لري.

هغه کولی شی‌چه‌په‌خپل ټوپك‌باندی‌ددښمن بورجل وران کړی.

کله چه ددښمن سره مخا مـــخ‌شی.

نو پر دښمن باندی ډا ر ووېره‌غلبه‌وکړي.

هغه دسوب او بر یالیتوب وعـــده‌راسره کړیده .

زه یقین لرم‌چه سو به اوبر ی‌ددده‌دی.

ځکه چه دهغه په رګونو کښی دبلوڅ وینه بهیږي.

۳ـ هالو :

هالو دوا ده په‌وخت یاکله چه دچاپه کور کښې کوچنی پیدا کیږی نو نوری ښځې دماشوم دپلار کره‌ورځی‌اود مبارکی ور کو لو په ضمن کی داسندره په‌لوړ آواز وایی مگر پــه‌اوسنی زمانه کښې‌داسندره یواز ی په‌واده کښې‌ویله کیږی.ددی‌سندری‌مطالب دزوم صفات دناوی ښا یست اوښکلا اودوی دژوند دنورو ور ځــو توصیف دی کله چه‌زوم پرتخت باندی کښینوی اونوی کالی ور واغو ندی‌نو نارینه او ښځې دده شا او خواته را غونډ شی اوپه داسی حال کښې‌چه‌دهری خوانه دټوپکو ټکهار او د ډهل او ډمبکیو ډمبهار آسمان اوځمکه په‌سر اخلی ورته مبارکی وایی اوهریو دخپل توان په اندازه خوږی یا توری‌ایکی. دزوم په‌سر باندی شیندی اوپه پای کښې ښځې او نارینه بیل بیل‌داتڼ (بلوځی چاپ) دایری جوړو ی اوپه‌ا اتڼ پیل. کوی دغه دخوښی‌دری ورځی وی.

**دهالو نمونه :**

موردخپل زوی په واده کښې‌وایی:نن څه ښایسته ورځ‌ده .

زما دبهما در زوی واده دی.

هغه پس لدی نه‌دخپلی محبو بــی‌سره دګډ ژوند ورځې شروع کو ی‌او ددواړ وپه ماغزو کښې ددغو ور ځوځا طری ترابده پا تی شی .

دهالو په مقابل کښې په پښتوژبه‌کښې بابو لالی اونوری ملی سندر ی دی.

۴ـ مودګ یاویرنی :

مودګ دماتم اوویر نی سندره ده‌دمودګ مطا لب د شخصی اوعمومی تاثراتو ښکاره کــــول دی ، ددی‌خاورینی نړی بی‌وفایی او د متوفی دژوندانه دچارو او دده داخلا قـــو مطالعه ده دهغه د شرافت اوشجاعت ستاینه‌کوی. مودګ د ښځوله‌خواپه ګډه ویل‌کیږی او دغه دسوګوار ی‌دود په‌عمومی توګه دوه دری ورځی دوا م‌کوی.

مودګ دوی برخې لری لومــړ ی‌برخه یې په‌لوړ آواز او دو همه‌برخه یې په‌کراره ویله‌کیږی دمودګ‌په‌پای‌کښې دمړ ی روح ته درود او دعــــا استوله کیږی او دهغه پاتی کسا نو ته ډاډ ورکول کیږی.

۵ـ للو یالیلو :

للو په‌مکرانی لهجه للو بلله‌کیږی. للو دنړی په‌ټولو ژبو کښې شتــــه مطالب یې دمیند و زړه سوانـــــدی‌احساسات او محبت دی. په لـــلو کی‌یوازی‌دانه‌چه‌خوږی مفکو ری شته بلکه دبلوڅو دایه یالو هندار ه ده بلوڅی میندی غواړی چه‌په آینده‌کښې‌ددوی زامن په‌جګړو کښې دلـــو ی

قهرمان په ځیر میدان ته راوو ځـي او ددښمن دستر گو اغزي وي. نو د زانگو دزنگولو په وخت کي یوځـای پدي برخه کښي دده د روزني دپاره توجه کیږي او په خپل خوږ آواز دزړه آوازو او دبها دروا وتوریا لیو کسانو قصي په للو کښي وایي .

دللو ترجمه دنموني په حیث :

ای بچیه زما زویه دتیري توری خاوند شي.

توره اوټوپك دتا اصلي گانه ده .

ای بچیه ته په گړ ندی نیلی باندی سپور ئي.

دغه ډول احساسات او دمیړا نی او توری سبق پښتني میرمني هـــم خپلو ماشوما نوته ورکوی ځکه نـــوایـــی :

توری به نه کړو نو به څه کړو چه مونږ شدی د پښتنې رودلی دینه

## ٦ـ سبیتې یاستا یني :

دسبیتې کلمه دلغت دکلمې معادله ده چه په خاصه توگه دخدا ی(ج) او پیغمبر (ص) ستاینی او صفت کښي کیږي هر کله چه دکوم سړي په کور کي ماشوم پیداشو نو گاونډیان یې مبارکی ته ورځي او ټولي شپه دسبیتي په ویلو دې مبکیو او ساز سره تیرو ي چه دادود اوه شپې دوام لري مگـــر دارسم نن ورك شوی. دسبیتي د سر بیت ترجمه :

لوی څښتن د هر راز مد حې ا وستاینې وړدی.

دلوی خدای (ج) او پیغمبر خوښي دهر ډول زحمتو نو دگاللو وړ ده .

## ۷ـ مور ویا دورشو سندره :

مور وپه دوو مختلفو آوازو نو دپوښتنې او ځواب په ډول ویله کیږي په دی ترتیب چه یو سړی د مورو یوه برخه (پوښتني) اوبل یی دمـــور و دو همه برخه (ځواب) په لوړ آ و ا زوایي. مگر کله کله دواړه برخې یی دیوه سړي په واسطه له شپیلی سره ویلي کیږي پخوا دی سندری په بلو ځی قبایلو کښي خورا محبو بیت در لوداو ددوو مینو لخوا به ویله کیده .ددی سندری مطالب په هغه وخت کښــي عشق او محبت ؤ مگر اوس تصو فی اوخیا لی شکل ئی غوره کړیدی : ددی سند ری یوه و ړه نمونه .

زما محبوبي !آیا پوهیږي چه ستادفراق او بیلتون اور زما په زړه کښي بلدی اوددغه اورله تاثیره، زما زړه ویلی کیږي.

معشوقه ، هوکي په دنیا کښـــي هیڅوك دناساز گاری طالع ســـر ه جنگیدلی نه شي.

دمورو مشهور ډول داستا نك دی دوړوکی غزل شکل لری اونمونه یـی دغه ده چه یو شپون وایي:یوه گړی هلته ځنډ کوم څوچه ستا ښایسته

مخ وګورم اود ویالی شنی غاړی‌ته‌کښینم.
سوزنده تبه دمرګ نښه ده .
وریځ بارانونه دځان سره راوړی.
او مستی دمحبت نښه ده.
راشه چه‌پد ی سمسور او ګلا لی‌دښت کښی سره سره کښینو او د زړه حال یوبل ته‌واوروو .
که‌ته را غلی زه‌به‌دد غه رنګارنګ ګلانو څخه امیل درته جوړ کړم .
ددغو شنو ورښو نه‌به تاته بستــر کړم.
دواړه به‌سره کښینو او ددی‌دښت دګلانو ننداره به وکړو.
نه‌به کښینی او زه به د زړه‌وړونکو نغمو په څیر دځپلی شپیلی په‌واسطه در واوروم.
**۸ـ نایتا شیر :**
داډول شعرونه قصص ارمان اوسمبولیک‌غزلو نه په پرکی نیســـــی مطالب یی‌دلوی څښتن حمد او ثنـــاودپیغمبر (ص) او اولیا نو دمعنو ی قدر تونو توصیف دی نائیتا شیـــر هغه شعرونه دی چه دبلو چا نـــو د ژوند اخلاقی قانون تمثیلوی دا ډول‌سندری په مذهبی ټو لنو او مقدسو مراسمو کښی دسرندی او یا دمبوری‌سره ویلی کیږی په‌دی ډول سندرو کښی مذهبی پندونه او اجتما عـــی‌وزمونه ډیردی.
دنایتا شیر نمونه :
شرافت یولوی خدایی صفت دی‌اواو حسد یو اجتماعی او مذ هبـــی جرم‌دی.
هغه کسا ن چه دنیاز مندی پـــه‌وخت کښی دنورو سره مرسته کوی او دحیواناتو سره‌له‌ترحم‌نه کاراخلی‌په‌آخر کښی ځای‌یی‌په‌جنت‌کښی‌دی.
خودغرض او حریص خلك دو ز خ‌ته استول کیږی.
۹ـزهیردك :
داډول سندری دبیلتون اوفراق‌په‌به‌وختو کښی کله‌کله دساز اوزیاتره یی‌بی سازه ویل کیږی .
**دزهیرك نمونه :**
یوه ښځه وایی :
داوښکو ډکی سترګی می تا لټوی‌مګرته‌نه ښکاری توری وریځی ددرو هسکی فضاوی ونیولی اوپه‌ماباندی‌دغم‌ژلی اوری . مګرته ښکار ی ستا دبیلتون او فراق او ښکی می پر باړخوګانو روانی دی. خو ته‌نه ښکاری.
داوی دبلوڅی ملی سندرواوآوازونویوڅو نمونی .

**دبلوڅی نژاد نظم :**

پدی‌نظم کښی دبلوڅ قوم دمهاجرت‌اود هغوی لومړنی حالت‌په‌مفصل‌طور سره‌بیان شویدی د ژبی په لحـــاظ‌معلومیږی چه‌دا نظم په ۱٤- او ۱٥ پیړیو کښی ویل شویدی‌لیکن‌دوخت‌په‌تیریدو سره پدی نظم کښی نوی اشعار هم زیا ت اوځای کړی شوی‌دی اود هغه وجه صرف داوه چه د بلو څی قوم تاریخ اود هغوی‌ابتداءنوره هم روښانه شی. وروسته داته لسمی او نو لسمی پیړی شا عرانوهم ددی نظم‌په تبدیلو لو کښــــی کو ښښښ کړید ی ادا نظم تر اوسه‌پوری‌د بلو څی قوم‌په منځ کښی‌شته ددی نظم کوم اصلی شا عر معلــوم‌ندی. مونږ ددی نظم څو کرښــــی دپښتو تر جمی سره لیکو صر ف‌دشا یقینو دد لچسپی د پا ره :

شکرالله حنـــــدا گـــــزا را ن بـــا د پشا ه ملکـی و یس
ســی جہـا ن ها خ و گل بی وت کوشتی( نند ی)وهش‌دلا
مامریدونږ یاعلی (رض) ئــــی دین او ا یما ن سیو ئیــــن
اکثو ن پا کتین نه د ی ئـــی که‌جهانی وا ژ ه هیــــــن
اولاد میرین حمزه یی نمون صو ب در گاه ها گور د یــن
صو ب در گاه ها گور د یــن اژ جلبا پها د کـــــا یـــو ن

**پښتو ترجمه :**

زه‌دخدای (ج ) شکر کوم اود هغه‌حمدوا یم هغه ددی جهان ما لک‌دی. دا دنیا په‌یوه‌و رځ ویرانه و لی شی‌لیکن صرف دخدای‌نوم پاتی کیږی. مونږ د حضرت علی (رض) مریدا ن‌یوزمونږ دین اوایمان محفــو ظ او مضبوط دی. مونږ بلو څان‌دحضرت‌محمد(ص) امتیان یو مونږ دمیرحمزه (رض) او لاده‌یو اوبری به هم آخرزمونږ په‌نصیب وی . مونږ د صعب دملك نه‌را غلی یو اود یزید ســـره‌جنگید لی یو .

دغه‌نظم ته په بلو څی ژبه کښی‌دپتر شیرویل کیږی .

**دمتهها نظم :**

دانظم دمتهاخان مزا ری په واده‌کښی ویل شویدی ،ویل کیږی چه دانظم دخانی اودانی په‌خوله ویـــــل‌شویدی، حانی‌دمتهاخان مور اودانی دهغه‌اناوه . دادی د لته مونږ ددی‌نظم څو کر ښی دنمونی په‌طورگرانو لوستونکوته وړاندی کوو.

خدائی داتهدا او قبــو لان خدا دادان د یا در منده غا نرا
خدا بچان دیا محتا ج د لا نرا کبزان دوست همین‌شاه‌زادگان
سوه کفین بور همون نیخ او بدا را

**پښتو ترجمه:**

دخدای در کړی شوی بخششونه‌ئما قبول دی ، الله محتاجانو تـــه

خو شحا لی او بخشش و بخبنـــی،خدای‌پاك ځوی محتا جو كسانو ته ور كوی، اوشهزا‌د گانو ته‌به بنـــه‌ماندینه وركوی خدای‌پا ك د بنه‌اوبد دتمیز كو لونه بغیر تو لو ته بنـــه‌اسونه‌ور كوی .

**ځوانی او سپین بزیری توب :** داهم یوبل پخوانی بلوڅی‌نظم دی، دا نظم حیدربا لا جانی مزاری‌ویلی دی دا یو ډیربنكلی اوخوږنظم دی په‌دی نظم كښی شا عر سپیـــن‌بزیری توب غندلی دی اود هغی نـه دانتقام اخیستلو د پا ره ئی خپله‌نظریه ښودلی ده او یو سپین‌بزیری دزړو ارمانونو ذكر كوی، دا نظـــم‌په‌بلو څی‌ژبه كښـــی دورنـــایی‌دی دهشیر په‌نوم مشهور دی .

بیا اهتو سا لوخ دزو شیمن بجان　　دونرادی گید هر ین هـــو تـا ن
دز سابا لا دا مه رنجین هیـــــن　　اره بهان نا ن نی چنده‌ده‌بی‌زینان
ژاملان نی بنكلین نـیـــا دا ن　　رژ امبران نی سا تهاو دیوان‌نان
پی‌دره هلاپاه نادی منـان داد ه　　همین نی مشر د په منی رند ین
كپهتی منی با لا دا مكو كی اء

**پښتو تر جمه :**

ای بنكلی ځوانه را څه ای‌دزمری غوندی‌بهادره ځلمیه،تر‌هره‌حده پوری چه ستاوسه رسی ځان مه ،محرومه ، د ښو او ښكلو آسو نو سوا ری كوه ، دښكلو سره صحبت‌وملا قات كوه د امیرانو په مجلس كښی شریك شه .

گوره سپین بزیری‌توب خپل اثرپرماپریښودی دی، داظالم په‌ماپسی‌شوی دی اومانه پریږدی .

**حضرت موسی او سلطا ن زم زم**

دی نظم ته په بلو څی ژبه كښی‌مهتر مومنی وه سلطان زم زم شعر ویل كیږی. دانظم د ډیرو پخوازمانونه‌د بلو څو په منځ كښی رواج لری اوپه ډیر شو ق سره ویل كیـږ ی‌پدی نظم كښی د ظلم او تشدد بدی نتیجی اود دو زخ سزا گا نی نقشه‌ایستل شویده دا نظم د ١٨ لسمی پیړی په شاوخوا كښی معلو میږی‌ددی نظم ویونكی هم معلوم ند ی. دادی ددی نظم څوكرښی‌د نمونی‌په‌ډول وړاندی كیږی .

**مهتر موسی واته گون بازین چرغا**
دوشمی‌چران ناپه شكاران‌نی‌سیله‌ها
**كوپری هدی دیته برین بی ویهان**
سیاسرین كرمان هندكهت‌گوشای‌بهتا

ACKU

کدههین چمپرانتیاژحاخ او نخا
لو کمهین دنژان جاه کهت گران ان نبی‌نها
کشکین دتهان رتکهٔ غنتاژدرین‌دنا
مهترموسی‌یاغرض کهت اژ پا کین خا وندا
توکهت همی‌عرضا خداوندا‌الی‌منظور کهتا
سنی عرض‌اسین که سا هادی حا خی‌بنده‌نما

**ترجمه :**

حضرت موسی (ع) د گر ځیده‌وسره زبا ت شو ق در لود یوه ورځ دگرځیدو په‌وخت کښې هغوی یوه‌انسانې کو پړی په‌بیابا ن‌کښې‌ولیده چه‌دغوږونو په ځای یی سره چنجی‌ژنگیدل. دهغې‌د ستر گو ځای خا لی وو ،سپو ږ می ار ته بیر تـه ده،غا بنونه ئی تك سپین ښکا ریدل شونډی ئی رژید لی و ی. حضر ت‌موسی (ع) خدای پاك ته په دعا شو او وی ویل چه ای پاکه خدا یه دی‌کوپړی کښې دو باره ساه وا چوه.

**دبازاو کوترو نظم**

دی نظم ته په بلو څی کښی‌بازاو کپوت شعراو یا علی انصـا ف شعرویل کیږی دا نظم د خلقودخولی‌غلام محمد بالا جانې لیکلی دی دنظم مو ضوع دحضرت علی انصا ف ده‌دانظم په ۱۸۸٤ع کال‌کښی‌غلام‌محمد بالاجانې نقل کړی‌دی .ددی نـــظم‌شاعرمعلوم ندی لیکن په بلوڅی‌ژبې کښې ډ ر ته په د ر نــــــــه‌سترگه کتل کیږی‌اویو قدیمی نظم دی. دادی ددی شعر څو کر ښــــی‌دنمونې په ډو ل :

بان‌زی کفوت بی چا ره غیـــــن هردو مران ر پهه غنـــت
پیلشی سوال بـان زاکهت جــی شا هی مردا ن یا عکی
ته بیشك منی نه یی و لی منه چك شدی اشتہ ســـرا
اژ هفت دریا آ ن کــــر ه غـــا او ایر ښین ور شکنی سره
منه چهتان دین ناانکه خان جاهی شککاری ا ست گـــرا ن
یه گژ نه عنین چکا ن بــــران منی شیری شکا را تو مـه زن
که احوا ل کلی گو ر تہوا ن

**ترجمه:**

بازاو کو تره‌په‌هوا کی‌دیوبل‌سره‌جنگ‌کی بوخت‌دی نالثاپه دپاد شاه په‌غیږ‌کښې، ولویدی‌باز عرض وکړچه‌ای‌پادشاه زما بچیان وږی دی. ما خپل بچی وږی پری ایښی دی‌هغوی‌ددریاب په‌هغه خوازما انتظار با سی دیوی‌ونې‌په‌او چته څانگه کښې ز ماکوردی او زه دخورا ك‌په تلا ش کی



ACKU

دلنه‌را غلی‌به چه خه‌شی شکار کړم‌او خپلو‌وزو‌بچیو ته یی‌یوسم‌زماخخه دانبکار‌مه‌اخله ته‌خود ټولـــو په‌راز‌بوهیږی .

**کهو سنځ‌او غازی جنګی‌ککړشعر:**

دانظم په‌ډیره اسمعیل خـــان کې‌دکهو سه‌او‌لیغاری قبیلوله‌خواویل شوېدی. پدی نظم کښی ددی قبیلی‌شا عرانه خپلی شجری اوزړه‌ورتوب ستاېلی‌دی. پدی‌نظمو تو کښی هـم‌بلو حی شا عرانو د خپلو شجری په باره کښی ویلی دی اوددی نه‌په‌ولسی‌ادب‌کښی د بلو څو تا ریخ ته اشاره کوی . دا نظمونه هم د بلو څو په‌منځ کښی شته ، دا نظمونه نسبت نورو نظمونو ته ګران دی. قافیه‌اوردیف هم پکښی لید ل کیږی . ددی نظمونو شا عرا ن هم معلوم ند ی. لیکن په بلو څی اد ب‌کښی دانظمونه ډیرلوی همیت لری . د‌ددی دنمونی‌په ډول یی مونږ ئی یو څو بیتونـــه وړاندی کوو .

دهر کشمن زیلان‌شادمان شاغابیار    منیین‌سلاما‌به‌شما هر گا هی از دیئی
نشتودره‌غانی زداناو هش کهو نی    ای‌اکهی سیرا گومنراچون‌تول‌کنئی
بوجهوری‌دلان کلا ت‌نامه گــــر ی    هنه‌منر‌ین باران‌راونها کنس دیئی
جوابك ازدان نی‌رغازا روشی کهنی    ان‌هبن شیرها تهی‌زغساچتهاتغمهی
شیره چاپولا اژکهږن تهلا کــز ئی    گوسنان صیربی زمیناجا هی لهی
پیش‌کدمنین سملوا نی‌دیمیان هو ئی    اغ تها دم بی زمینا بجائزه کنهتی
دوبهرین زحمان ناوهشنین‌جاها‌رسی    شنګرشانګر لشکران دیم‌اودیم‌کهونی

**ترجمه.**

خوشکلو زیدان څیسا رنګی‌سره‌خما؟ سلام ګاهی شا عته ورسوه او ورته وایه چه‌ته ولی خپله ژبه اوخــولـه‌په‌درو غو برانیږی د حیرانی‌خبره ده چه‌ته څرنکه من د سپین سره برا بر ګڼی ته طعنه ور کوی د بهر چړ ی؟ هغه‌و رځ نا ته یا ده ده‌چه‌ته‌دجوانك دفوځونونه په‌زور راغلی . هغه تا د پیل غونډی تر خپلو‌پښو لاندی‌کړ. دهغوی‌دمځ اود هغوی د توری‌طاقت مایو دیوی تنګی غونډی هغه‌خواته؟ ګټو ر کړل او تابل جهان‌ته‌روان‌کړ. هغه‌ورځ چه‌زما اوستا ترمنځ صلحه‌وشوه لیکن تر هغه وخته پوری‌ته‌زما ددښمنی نشا نه‌وی .او که‌په‌ما ځان خلا صو ل غوا ړی نود ستا د پاره دا ښه‌دی چه‌پدی علاقه باندی خپله ناجایزه قبضه مه‌ثابتوه اوددی ځا ی نه لاړ شه .

اوکه نه یی منی نوزه به خپله توره را وباسم اوستا نه به خپل بدل اخلم اوتاته به دستا دزیاتی سبق درکم .

**توکلی مست هر شعر :**

توکلی مست دبلوڅو دمری قبیلی دپخوانی زمانی ډیر مشهور شاعر تیر شویدی . نوموړی دخپلی زمانی یو پوخ درویش وو دی دتوکلی مست دقبیلی دمری ځانگی دشیرانی خاندان سره تعلق لری . نوموړی دوړوکوالی نه شاعرانه جذبات درلوده چه دد ی وجی نه دوی ته مست ویل کیده او وروسته هم په همدی تخلص باندی مشهور شو . دده قبیله جنو بی پښتونستان دمست سیدانگری په مقام کښی ده هرکال هلته خلک زیارت دپاره ځی اوقربانی کوی توکلی مست په یوه ښځه باندی مین شو لیکن دی په خپل عشق کی تر آخری سلکی پوری ناکام ؤ لیکن ویل شوی دی چه عاشقی صرف دهغوی یوه بهانه ده هغوی غوښتل چه پدی رنگ دخپلو جذباتو اظهار وکړی. دهغوی ټول اشعار تصوفی اثر لری توکلی مست دهندو ستان دټو لو صوفیانو زیار تونه کړی او هر ځای ته پیاده تللی دی .خپل ټول عمر یی په درو یشی کی تیر کړ یدی پدی وجه دهغه کوم کتاب نشته اوکه چیری دهغه ټول اشعار راټول کړی شی نو یو لوی کتاب تری جوړیدای شی .لیکن دهغه اشعار صرف دهغو سندر غاړو په خولو ویل کیږی چه په کلیو یا بانډو کی اوسیږی دده دشعر نمونه .

**(توکلی مست هری شیر)**

پیری په بیوا ن نی منا کـــاتکـــا ز
رمستران نـی کـــو ه بـنـــو کـــورا ن
دان دمــی تر ی پان میر کهتاودا
منـه گور گر دین سملئی لو غـــا
نهی مــر و گر غون نان کیامنین نـــان
وهـــک کهت شکران یا شاوین نـا ن
تول کهت چاری آن چـیـاری نـان
پاد پشامـــا لـو م بیتهمنی تـختــا
پکهـ غنین باغ په تالی او بختا
هر کدین جـــا منو و بی سواین مان نی
زمه ورایی جا کهه هان بیا بان
مـــاراالله هـــو یاعلی یـا شین

اژید دوست او دوژ منـــا ن کانئین
تان گرا گردیـــن سمله بیلــــی
نئین گنــو خ پرین اسپهـــانگــو سننی
نیشـــن که منه ییزا ن پهرنگی ایی غان
نشته گور چو نمـی ادهـــدهنگـا
او دگوری عالی پو تر دین هـو تان
شیو جما ل هـان نی ننگر ین هوتان
بانگهوی ســد او صاحـــه وی بـیته
هسـر ا ن پیشـی کـمـــربستـــه
سمبران پــه مئی زیر یـــن را هـــی
کانختو مـه کجهی لد هریــن شاهری
دیروه بـــازارا گر ون بـــا هـــر ی

**ترجمه:**

پرون زه بیرته تللی وم درستراني دغرونو او دریابونو نــه تیر شوم او دغه وخت دپاره مـــی هلته آرام وکړ اوچار چاپیره مـــی سیل وکړ .ماوکتل چه دخپل محبوب کورته نږدی شوی یم ؟ لیکن ماتــه شك پیش شو او جاسوس می ولیږی هغه ټول ځایونه می ولټول . پادشاه چه په تخت ناست( پدی خبره پوهیده چه ښه میوه صرف خوش بختو حلقوته رسیږی .

کوم مقام چه پوخونو مخکښی ټاکلی ووهلته راغلل او راټول شول او مونږ دالله او حضرت علی ؤرض) یادونه کوو اودخپل دو ست اودښمن تر منځ فرق کولی شو .

چیرته ده ځما محبوبه زه لیونی نه یم زه به دخپل یار تلاش تر اصفهان پوری اکوم. دیرنگی بندی نه یم.
هغه وخت چه زه دچوتی په غرو نـــوکښی ارسیدم .اودهغی بهادری قبیلی په علاقو کښی می هستوگنه کوالـــه نوزه دبهادر حجال سره اوسیدم .
معتبرو خلکو دهغوی حضور ته دورتلو تیاری وکړه او بیا دهغوی حضورته راغلل مونږ یو ښار تــــه راغلو چه دهغه نوم ډیره اسعمیل خان وو او دغه ښار دخرماوو نه ډکو و.

**مذهبی نظمونه «دبراهیم» شمباني نظم:**

دا نظمونه داسلام دمذهب په باره کښی ویلی شویدی ددی نظمو نـــو دویلو نه معلومیږی چه ددی نظـــم ویونکی شاعران دحضرت حسین(رض) طرفداران وو .

اولنی نظم براهیم شمبانی ویلی‌دی چه دبلوخویو قدیمی شاعر دی دوهم نظم شکران جتکان ویلی‌دی.پدی دواړه نظمونو کښی دسیا ست جنت او دوزخ ددری واړو نـقشی‌بیانی شویدی چه څرنگه شخص جنت او څرنگه شخص دوزخ ته ځی‌ددی نظمونو څخه معلومیږی چـــه بهادری فراخ دلی او سخاوت پـــه‌بلوڅی ادب کښی کوم مقام‌او حیثیت لری همدا رنگه معلومیږی چه بلو څ‌دپخوانه حرص او طمع ته دنفرت په سترگو کتل اویوناقابل‌عفوه‌جرم‌گڼل کیده .دادی ددی جوړو اشعارو یو څونمونی چه گرانو لوستو نکـوته‌وړاندی کیږی .

**دبراهیم شمبانی شعر :**

منه ده حد انی بنـده غـا ن	نـنـدا ن الله کـهنـــا ن
نامـا حـــدا یـی اگـــرا ن	شاه مر تضی سور یی غقـا
لـــهـر ی دا تهـمـنی دلا	پا کیـن نبی سخـت ســرا
نشسته پر ی عـلا و شو ع	دریـــن حـدا مطرا جبه وا
آن جو فـــه او حر ص نیـا	نیـن مات گو هـار پهگورا
منه سی نه یـان زایا که یـا	کچه گـگ منـان مـالـو نیـا
پنج فر شته غان انتی خدمتا	آن نشسته غنـت جنده گرا
بردخت کـــه حکم منه غـا	پکـی وحی گو عـر زیله وا
سیمی خـوا جـه خـــدرا	آن چیـاری تو تـو و فـــا
گواتهی کـــه کشا ن ترو ا	شیطان وه بیگـــا ړه غـــا
په عالما کهنیـن نـــه غـا	آن مـړ نـنـدی ایـــکه وا
چوبی لـه وکهت لیکـــهـــوا	گـدا حکما وا عـــر زه ایپدا
سا هـان گیړ یـــه بـــرا	آن مړ نه گند هیچ نیخ‌اوبدا
مهـرا ن نـــه منـی مشـــا	بچا ن باړ تها ژما ت او پتها
زران نه زیری گو میش اوبزا	باړ تهمـړ دما کلیسی ســرا

**ترجمه:**

ترجمه : زه دالله بنده یم ناست‌یم او الله الله وایم او دخداوند (ج) دنوم اخیستونکی یم ما حضرت نامه‌یاده کړه زما په‌زړه کښی یو طوفان پیدا شو .ماپاك نبی په تخت ناست‌ولیده چه هغوی دشریعت په مطابـق عدل کاوه نه طمع ورسره او نه‌حرص‌زه نه پو هیږم چه دهغوی په ذات کښی څه شی‌دی اونه زه دهغـــوی‌دطاقت اندازه‌کولی‌شم‌دهغوی دخدمت دپاره څلور فرشتی مقرری دی چه‌دهغوی ترڅنگ ناستی دی او تولی همیشه دحکم کولو دپاره تیاری‌دی .

اولنی دالله پاك حکم راوړی دوهم‌عزرائیل دریم اصرافیل چه دهغه‌دو

دتورم غړولو سره شیطان تنبتی هغه‌شیطان چه انسان له‌ښی لاری باسی.
هغه ذات یواځی دی دانسان‌دنیك‌اوبدو اندازه لګولی شی .او عزراییل نه‌حکمورکوی‌چه‌دهرانسان ساه‌وباسی‌دخپل فرض داداء کولو دپاره هغه دنیك اوبد رعایت نه‌کوی او نیست‌اوزاری هم نه‌منی اولاد له مور او پلار نه‌جداکوی مال او بدی‌نه‌قبلوی‌اواخر انسان ځان سره بل جهان ته‌وړی .

**دبجارانی قبیلی دپر نګی سره‌دجنګ نظم سنه ۱۹۱۹ .**

رحم علی دبجاران مری قبیلی‌مشهور شاعر دی په شلمه پیړی کښی په‌بلوڅی شاعری کښی دلوی‌لاس خاوند وو . په دی جنګ کښی میر خداداد خان چه دپرنګی په خلاف‌جنګیدلی دی . پدی جګړه کښی پرنګیانو دتوپ اوټوپك نه علاوه ه‌لوی لوی هوایی جهازونه هم‌استما ل کړی‌دی پدی جنګ کښی‌میر خدادادخان اودده ورور میر ببرك خان میرنهالان خان دشپږ سوه قبایلی‌مشرانو سره شهیدان شول او دهغه بل ورور میرباهر خان سخت ټپی‌شو .دانظم نورو شاعرانو هم ویلی دی .دادی دنمونی په‌توګه ددی ږول‌شعریوه نمونه‌ګرانو لوستونکوته وړاندی کیږی.چه شاعریی معلو م‌ندی .

میر خدا او کـر کهتسنګـی ــــ کافره تو پان نـی وخا نندی
سنیـن سلا مان حینرنا دیتهان ــــ انه نوه‌کاشی نه کایان ننی‌ولدی
کشته غان بیور غـا سخن‌رندی ــــ ګړ کهنـغ میارین دژمنی کندی
میر خدا دادا ګون پلـوان بندی ــــ بڅ فتح خان بیته غان ږنـدی

**ترجمه:**

ترجمه : میر خدا دادا خان جنګی‌جامه واغوسته او دتوپونو دنښا نی په مقابل کښی بی خوفه کښینا سته‌هغه وویل چه زما سلام خیربخش خان ته‌ورسوی او ورته ووایی چه‌نه په خپله را ځی او نه‌سلام را رسوی .

او وویلی یـی دی چه‌تښتیدل شرم دی او دښمن په مونږ پوری خاندی هغوی دمیر خدادادخان‌سره په مورچه کښی ناست دی دا رنګ دفتح خان زوی دنورو سره یوځای ددښمن دګولی نشانه وګرځیده دپلنګی دجنګ نظم (پلنګی جنګ‌شیر.)

پلنګی اتکـه مورا ن نـا ــــ جغلا ن اړ تهتوران نـا
بهنـی بی غیر تیـن جهان نا ــــ وطـن اشته مسلمـا ن نـا
مار ی اپته پینچـان نـا ــــ ولایت بیته تـمګـا یـی
تیر ی او سنګـك او بتا یـی ــــ وتش دا تهیش پـه مستانی

کهته پـه پیسوان بها یـی　　　هنـر ش باز یـن تهگـا یی
یهودی کار یـن درد هـا یی　　　گهـین ذاتـا نـه لوتا یـی
انـصا مادا ت پـهـرا یـی　　　هوان کـه نو کرا ن جا هـی
دیان مردان پـچـنـدا نـی　　　درو هـان نـی صلاح یکیـن
چهـر دیـن پیسه وو یکیـن　　　همودا ډهـو نه دی سکین

**ترجمه:**

ترجمه: دپرنګی حکومت دو مر ه‌ورو ورو خوریږی چغل خوراوغدار خلق دهغوی لاری جوړوی پدی‌میدانی‌سیمو کی اوسیدونکی بی غیر تـه خلق دهغوی په رهنمایی کښی‌دارنګ‌معلومیږی چه مسلمانی په ملك کښی ختم شویده اوځان ددی اژدهار نه‌خلاصول مشکل کار ګنی ددی بـی غیرته خلقو په حال افسوس دی دی‌بی غیرته خلکو دهـر قسم تـکس ورکولو دپاره ځان تـیار کړیـدی‌دوی خپل ټول حقوق دپیسو دپاره خرڅ کړیدی ددی منافقانو فریـب‌خوك نه شی قبلولی دیهودی خلکـو غوندی دوکه ورکول ددوی پیښه ده‌انعام او اکرام صرف دی خلکو ته‌دی ولسی خلکو ته یی څوك نه ورکوی‌اصیل خلك غلامی اوچاکری نه شی کولی بی همتو ټولو په‌یوه خبـر ه‌باندی صلاح کړیده .او ددی روپـو دراټولو دپاره راټولیږی خلك دپیسوداخیستو دپاره دارنګه راغوند یږی لکه مردار خواره ځناور چه په مرداره‌راټولیږی .

# اوسنی شاعران

## میر ګل خان نصیر

دژبی او قلم خاوند دسیا ســت‌دمیدان لوی سپاهی ښاغلی میر ګل خان نصیر دنوشکی دمینګلو له قام‌څخه دی ښاغلی نصیر د۱۹۱٤ ع کال دمی دمیاشتی په ١٤ ورځ دنو شکی‌دپاینده زی په کلی کښی‌پیدا شویدی ابتدایی تعلیمات یی تـر څلـور م ټولګی پوری دنوشکی په ښوونځـی کښی کړیدی وروسته له دی ځـای‌نه دتحصیلاتو دپاره داپوزی پـــه ښوونځی کښی شامل او بیا دعالی‌تحصیلاتو دپاره لاهور ته‌لاړ دشعـر او شاعری برخه له ابتداء نه‌ورسره‌وه هره‌ورځ دده قامی جذبه او جوش زیاتیده په ۱۹۳٤ ع‌کال‌کښی دکلات‌نیشنل پارټی جوړه شوه او ښاغلی نصیر پدی پارټی کښی دفعال غړی‌په‌حیث برخه واخیسته . سر بیره پردی ده څو کلونه پـه کلات کښـی‌په بیلو بیلو ماموریتونو تیر کړل .

ګل خان نصیر په اردو فارسـی‌او بلوڅی داشعارو خاوند دی . کلـه



**ښاغلی میر گل خان نصیر دپوهنی صحت‌او گلتور وزیر**

چه ښاغلی نصیردسر کارنوکرو پوه شو چه سیاست اونوکری نه سره جوړیږی .هماغه و چه له‌نو کری نه‌یی ځان خلاص او دسیاست په ډگر کښی داخل شو . دسیاست په گیرو دار کښی څو واره دجیل میلمه و کله کله دجلا وطنی شپې ورځی هم دده په کور میلمه شویدی . دانگریزی استعمار په دور اوله انگریزانو نه وروسته هم دی درازراز کړ اونو سره مخامخ و مگر سره‌لدی کړاونو او ربړونو نصیر وطن پرست ادیب په خپل ښیر قام او اولس تـه‌دآزادی او خپلواکی په‌لاره لاربښونـه کوله .

**دنصیر شاعری :**

ښاغلی گل خان نصیر بی له دینه‌چه په سیاست کښی استاد اودخپلی پارتی (نیشنل عوامی پارتی) یوفعال‌غړی دی دشعر او شاعری په دنیا کښی دبلوڅی له ټولو شاعرا نونـه‌مخکښی دی .

گل‌خان نصیر په بلوڅـی او اردوکښی ډیرو آثارو خاوند دی چه اوس دده دآثارو څونوموته‌دنمو نـی‌په‌ډول اخلو .

۱ـ دبلو چستان تاریخ پـه اردوژبه ،

۲ـ ددوستین او شیرین نکل پـه‌بلوڅی ژبه .

۳ـ دانقلابی شعرونو مجمو عــه(گلبانگ)

٤ـ شپ گروك .

سر بیره پردی دده ډیر شعرو نه‌په مختلفو مجلو او کتابو نو کښی چاپ شویدی .

دادی اوس‌دده یو قامی شعر دکلام‌دنمونی په‌حیث دلته راوړو .

قـدم قـدم روان ببـت     دلیرو پـهـلـوا ن ببـت

پـه شنا ن مادر و طـن     فدا گون جسم و جان ببت

په نام و ننگ آبـر و     سر آن وتـی دیان ببت

کلد میا چه در کپت
قدم قدم روا ن ببت

گر آسمان شمی سر ا ... پر و فتنه بر غضب بیت
گرند واوړ و برق و باد ... تپاړ و تیره شب بنت
ز مس بست جواچشا ... زما نه بی ا د ب بست

و ی شما منز لا
قدم قد م روا ن ببت

تسنکی تیر و توپ و بم ... شمی سوا به گور گا
د ل و حکر بینت ... نظر منیت به غار ما ه
روا ن ببت جوی خو ن ... فلك بکنت ندا ر کا
بهشت حور ما پ یښا
قدم قدم روا ن بیت

ای ر ند کی کلا می ... به مو منا ن حرا م خرام
تشا ن نه رفت ای مو منی ... ببت دشمنی گلا م
خم نکشته ا ج و تا ... تصمر گشته اج گلام
بهمو منا نی منز لا
قد م قد م روا ن ببت

**ترجمه :**

و رو ورو روا نیسر یې ... زړه وراو پهلوان اوسې
دموږنیی و طن د پا ره ... خانه په قربا ن کړ یې
دحمل ننګ او عزت‌دپاره ... سرو نه و ر کړیې
دغلا مۍ دنجات په لا ره
و رو ورو روا نیسر یې

که آسمان پر تا سو پاندی ... خدا په غضب کینی وی
تا لندی او طو فا نو نه ... توره شپه جوړه کړی
ځمکه داوړ په خیرو ی ... زمانه‌هم تا سو بانه وی
مګر تا سود منزل‌خوانه
و رو ورو روا نیسر یې

که‌د توپك کو لی‌اوبموږنه ... سر تا سو واوړ ی
زړونه تو کړ توکر شی ... اوډ چا ړی فر صت‌نه‌وی
دوینی ویالی رو انی شی ... چه‌حلك ددی منظری ننداری وکړی



ښاغلی مولوی غلام حیدرخان بلوڅ



حاجی فیض محمدخان



ښاغلی عبدالوهاب خان اڅکزی



ښاغلی لاکوخان اڅکزی

دا جنت دحورو او ماښو پهعیله
و رو ورو روا نیـــږ یٔ

داد غلا مې ژ و نـــــــد    مو منانو ته حرا م د ی
داد مو من نښه نه د ه    چهد دښمن غلا م وی
دا خبره له څانه نکو ی    نصیر د کلا م لهمخیوایی

نوتاسو دمومنانودمنزل خواته
و رو ورو روا نیـــږ یٔ

**۱ــ موسی تور .**

ښاغلی موسی تور دبلوڅی **ژبــیدشاعرانو پهقطار کښی لوړ مقــام** لری .موسیتور پهجنوبیپښتونستانکښی پیدا شوی او په **هغه ځایکښی** یی خپل **تحصیلات کړیدی. نوموړیدخپلی** ژبی دېر **مختګ دپاره دقدروړ** خد متونه کړیدی .

توریوازی شاعرنه دی بلکه دوطن‌دآزادی **مجاهد اوپهدی لاره کښـــی** یی‌ډیر زیاراو زحمتونه **گاللیدی اودوطن ددښمنانودلاسهده دژوندډیری** شپی اوورځی په جلا **وطـــنـــی اوپردیسی کښی تیری شویدی .**
**دښاغلی موسی تور له اشعاروڅخهدده** کامی احساسات او **ملیجذ بـات په ښه توگه** ځر گندیږی **هغه وخت**چهد ما ر شلا له لا سه پهو طن کښی دظلم سور او **ربــل** و مــوسی **تــورافغانستان ته راغی اوڅه موده پــه افغانستان کی پاتی شو.**

دالاندی دپښتونستان ترانه **ددهد**نمونی په حیث دلته راوړو .

ای می وطـن پښتو **نستا ن**
تو می **سکون رو ح و جـا ن**
دستا وتی گر زا کنیـــن
**تــی بیر غــا برزا کنیـــن**

**ما ن دشمنان سر بــان کنین**    پر تــو ترا **قربــا ن کنیـــن**
**اج دشمنان ازار ت کنیـــن**    چو ن پهـل ولال **آبات‌کنین**
**خوشحاه ختك افغـــا ن ملك**    شاعر اتهـك ر **حـما ن ملـك**
**چترال گــون با جـو ړ شیله**    کو هیــن **کــلات گون بیلـه**
**گلگـت گون داریـل کند یا**    نو شکــی **وخاران اندیـــا**
**ضلع هزاره تـــا کـــــلا ت**    پسنی و گــوا در **تابه سوات**
**ازا تــی ر نگـــا کـــنیـــن**    گون دشمنا جنگـــا کنیـــن

ACKU

ما تور شوا ن یـــاد کنیـــن وتہو کنین مردا ن یاد کنین

**تر جمه :**

ای زما وطـن پښتو نستا نه
ته مو نـرو دروح آرام یـــی
پهخپل‌لاس‌به ستا بیرغ‌اوچت کـړم

له دښمنه بــه دی کړم آزاد او دگلستان‌په خیریه‌دی‌کړم‌آباد
دښمنان به دی تار په تار کړم . داخپـل سر بـــه له ستاجارکړم
ای دخوشحال خـتک و طنـــه ای‌دشاعر اتك «رحمن بابا»وطنه
لــه کلاته تر لسیبلی پـو ری گلگت داریـل کندی‌نوشکی اوخاران
له ضلع هزاره نــه تــر کــلات پسنی گـــوا در تـر سـوا ت
ستا دآزادی دپاره هری قربا نــی‌نه تاریم او یقین لرم چه زمـــا
(تور) داسو زنده اشعار بیده خلـك‌بیداروی .

**بشیربیدار:**

په جنوبی پښتونستا ن کی‌بشیربیدار ملو خی ژبی لوی شا عر او لیکوال گنل کیږی د بنا غلی بیدارله‌اشعا رو نه دده قا می احسا سات اودو طن سره مینه معلو میږی ددی‌شا عر آثار مونږ ته‌ندی معلو م مگر له‌هغو اشعا رونه‌یی چه‌په بلو خی‌مجلو کښی چا پ شوی څرگندیږی چه ښا غلی بیدار په‌ادب کښی‌دلوی‌لاس خاوند دی . دی په یوه شعر کښی چه‌د ۱۹۷۲ ع کا ل د ( زمانه‌بلوچی) په‌دوهمه گڼه کښی خپـو ر شوی دی خپل قام ته دا سی وایی:

کسبی‌جدوکیش دگه‌تاگ اوپارنه‌کنت
گرانین سکی‌یان دگه‌سکی‌سربازنکنت

هلتك‌ظلم وتہاری غذابا نـــی ودا ر
سہردپین بامی سرا سیا هی شپی‌کاری‌نکنت

**تر جمه :**

دی‌نه‌و رو سته به‌د ظا لم د ظلم‌اود جابر له جبره شکایت نـــه‌وی، سختیو باندی نوری سختیگا نـــی‌زیا تیږی خکه چه ،د ظلمـونـــو او عذا بونو دو ره ختمه شـــوه اودسپیدی په رڼا باندی شپی تـیـاری تا ثیر نه‌شی کو لای.

**عبدا لکریم شو رش :**

دبلو خی ژبی خوږ ژبی شا عراودآزادی د سنگر تورپا لی سپا هی به قام‌او‌وطن تنگیا لی عبـدالکریم‌شورش سر بیره پردی چه خپل‌قا م

ته د آزاد سرنوشت د تا کلو پهلاره‌کښې شاندا ره لا ر ښووونی کړی د خپلی ژبی‌اوادب د پا ره یی‌هم نــه‌هیریدونکی خد متونه کړی دی. اوځه رنګه چه‌د ښا غلی عبدا لکریم‌تخلص‌شورش دی دده په اشعا رو کښی‌هم ډیر شور او زوږ لید ل کیږی .

عبدالکریم شورش د(نکین دور) دجریدی چلوونکی دی کوم موضوعات اومطالب چه دده‌په‌کو ښښ‌اوزحمت‌په‌دی‌جریده کښی خپریږی‌رښتیاچه‌د قام دپوهی او بیدا ری د پا ره ستراهمیت لری دا رښتیا خبره‌ده چــه شا عرته له‌خپل محیط او چا پیره‌یال‌نه متا ثر کیږی اوپه بل عبارت‌شاعر دخپل وخت‌دمحیط دحالاتو هندا ره‌ده‌ځکه نوفامی‌شاعر تل‌په‌خپلواشعارو کښی‌د خپل محیط حا لا ت بیا نوی‌د شور ش شا عری هم دمحیطــــی حا لاتونه متا ثره شوی اودده پــــه‌اشعا رو کښی عشقی برخه ضعیفه ده مګر قومی اشعار ئی خورا زیـات‌او دومره قو ت لری چه‌دویلو په وخت کښی په انسا ن کښی شوراوجذبه پیدا کوی.

دادی اوس دده دیوشعرخوبیتونه‌دنمونی په ډو ل راو ړوچه‌د۱۹۷۱غ کال دمړد میا شتی د (نو کین‌دور)په‌دوهمه ګڼه کښی خپور شویدی.

بلو جستا ن او لس را مبـــا رك    په‌ای مستا ګ و شینا ن میا ر ك
ګل ګلزا ر می ډیـهه و ډګا را    بلو چستا ن می پا کین د یـا را
وطن پا کین برا سا ن ګو نهوارا    په‌شان وشرف بلوڅی نام و توارا
بزوریت بیر ك شا ن بلو چستان    بیات شیږ رش سنګ و بیـــلا ن

**تر جمه :**

دبلو چستان‌او لسه دا زیـــری دمبا ر ك شه بلو چستا ن زمونږ پاك دیا ردی اودا زمونږ ګلزارو طن دی‌نوای وطنوالو ورونو دخپل شان او شرف ننګ او عزت په خا طر راځی‌دشورش ملګری شی چه‌دبلوچستان دشان اوشرف بیرغ اوچت کړو.

**تا ریخی میر منی**

ځنګه چه‌د پښتو‌په تا ریخ کښی‌دملا لی مـزز غونی را بیا او نورو پښتنو میر منو او پیغلو نو مونــه‌لوی او درانه دی اوددوی نو مونه دهر چا له‌خو لی او ژبی ځخه‌اوریدل‌کیږی دا سی‌بلو څی میر منــــی او پیغلی هم دزمانی او تا ریخ‌په‌هــره‌دوره‌کښی دخپل و طن او خاو ری دمنحوسو دښمنا نواو تیری کوونکودستر ګوا غزی اود خپلو تور یا لیو ځوانانو سره یی په هره‌معرکه کـــی‌برخه اخیستی او په دی لاره کی د خپلو پښتنی خو یندو ځخه وروسته‌نه دی پا تی شوی .

هلته که د پښتنو په رو ښــا ن‌تا ریخ کښی ملالی زر غونه را بیا



ACKU

نازو انا او دا سې نورې خوېندې د پښتنو تاريخ د افتخار عناوين دي دلته بيبو، بي بي بانو، بي بي زينب، بي بي گنجان، بي بي مريم، چاګلي مايي مورتي او نورې بلوڅې ميرمنې او خوېندې د بلوڅانو د تاريخ د ښايست ګاڼه ده چې دادې اوس دلته په ډېر لنډ ډول د دوی په برخه کښې څو خبرې کيږي .

## ۱ـ بيبو :

د لرغوني کلات په رياست کښې څه رنګه چه شهيد مير محراب خان او مير نصير خان د جنګ د ميدان توريالي او جنګيالي کسان تېر شويدي همدغه رنګه نوموړې رياست کښې مجاهدې ميرمنې چه د خپل وطن او خاورې شاړې ځمکې يې په خپلو وينو اوبه کړې دي ليدل کيږي. له دغو ميرمنو څخه يوه ميرمن بيبو ده چه د کلات د خان لومړي مير احمد خان خور وه .

هغه وخت چه مير احمد خان د سيوي د بارو زيانو سره په جنګ اخته وو او له پنځو جګړو وروسته يې ماتې وکړه نو بيبو خپل ورور ته پيغور ورکړ. مګر سره له دې پيغورونو مير احمد خان حاضر نه شو چه د بارزيانو په مقابل کې ودريږي .

بيبو د مير احمد خان لښکر تر خپل قيادت لاندې د بارو زيانو د مخنيوي د پاره تيار او د جګړې ميدان يې تود کړ. په دغه وخت کښې د ټولو قبايلو خلکو احساسات وپاريدل او بيبو په داسې حال کښې چه خپل ورور مير احمد خان يې په کلات کښې پرېښود د خپل لښکر سره سيوي ته روانه شوه. وايي چه بيبو يوه هوښياره پوهه او مجاهده ښځه وه. او د جنګيالي په څير د جنګ په وخت کښې د دښمن په مقابل کې ودريده له د بارو زيانو يو سړي (شيخ فاضل) په خپله منظومه ګنجنامه کښې د بيبو په حق کښې داسې وايي :

يکي خواهرش بود بيبو به نام — چو مردان به ديوان نشستي مدام
همه مردمان کرده او را سلام — به گردش همه مردمان خاص و عام
زني بود دانا بسي هوشيار — به مرداني در جهان اشتهار

څه وخت چه بيبو خان سيوي ته ورسېده د بارو زيانو سردار ميرزا خان د هغې مقابلې ته راووت او دواړه لښکرې په (ببري) کښې سره ونښتل او په دې نښته کښې بيبو تر هغه وخته پورې مقابله وکړه تر څو چه په خپله يې په جګړه سر کېښود. او څه رنګه چه د بلوڅو د لښکر مشره او لار ښوونکې وه بې سرپرسته پاته شو، نو مقاومت يې ونشو ای کړی

ACKU



نظام محمد او شجاع محمد جوگی زائی

ماتی ته مجبور شول .

څه موده وروسته بی‌بی بانو دمیراحمد خان‌لور دخپل ورور سره یو ځای دجنګ تیاری ونیوه ددغی‌جګړی پروګرام دبی‌بی بانوپه مشوره جو ړ شوکه څه هم دالومړی وار وو چه بی‌بی بانو دجنګ میدان ته راوو تلـه خوبا رزویان ددغه ښځی په تدبیر دداسی شکست سره مخامخ شول چه ددوی سردار میر زنګی خان رئیسانی‌او میر قلندر خان رئیسانی سره‌کلات ته‌لاړل‌اودکلا ت دخان قیادت یی‌ومانه.

## ۲- بی‌بی زینب :

بی‌بی‌زینبه دمیر محمود خان پـه‌زمانه کښی یوه مجا هده ښځه تیره شویده بی‌بی زینبه که‌څه‌هم‌دمیرمحمودخان خور وه دحکومتی سیاست سره سخته مخالفه وه اوله همدی و جهـی‌یی‌دخپل منځوی ورور میر مصطفـی خان په کلاکښی استو ګنه درلوده.ددی کشر ورور میر محمد رحیم د مصطفی سره مخالفت شروع کړ ا ومصطفی یی‌ووواژه . کوم وخت‌چه‌بی‌بی زینبی ته‌ددی خبری پته ولګیده‌نو میرمحمد رحیم په خلاف یی لوی‌لښکر راغونډ او په (ګنداره) کښی یی پـه‌میر محمد رحیم خان باندی یر غـل ووړ او دهغی نښتی په اثر چـه ددواړو خواوو ترمنځ وشوه په نتیجه کښی میر محمد رحیم د خپلودیرشو تنو ملګرو سره ووژل شو.

## ۳- بی‌بی ګنجان :

دا مجاهد ه ښځه د میر محرا ب‌خان شهید ماندینه چه‌دوطن‌دآزادی‌او قام دنجات په لاره کښی په بلو څی‌تاریخ کی دبیل فصل میرمن ده وایی چه بی‌بی ګنجان په هر وخت کښی‌دخپل توریالی میړه سره دجګړ ی‌په میدان کښی یو ځای وه هغه و خت‌چه دپرنګی لوی استعمار له مجرا ب خان څخه وغوښتل چه ددوی‌منحوسی‌هیلی ومنی او محراب خان چه د قا م او وطن دآزا دی دخپلوا کی میـــن‌مجاهد وله‌دی کار نه‌انکار و کـړ . انګریز ی استعمار دخپلو استعمار ی‌مفادو سر ته رسولو دپاره پر کلات باندی یرغل وکړ پدی جنګ کښـی‌ګنجان دمیر محراب خان سره‌روژه په خوله یوځای دانګریز انو مقابلـی‌ته رااووتله اوتر هغه وخته پو ری د دښمن په‌مقابل کښی مقاومت و کـړ ترڅو چه دپر نګیانو توپونو د کلا ت دیوالونه ونړول او دبلو څو لـــو ی‌مجاهد او په آزادی مین شخصیت‌میر محراب خان یی شهید کړ په آ خـر کښی بی‌بی ګنجان هم ماتی ته مجبوره شوه.

**٤ـ چاگلی :**

دلاسبیلی دسر دار (پهار خا ن )ماندینه‌وه اوله‌سردار پهار خان نـه یی وروسته دحکو مت زمام په لا س‌کبنی ونیو که څه هم جام علی خا ن ددی مخالف ؤ مگر بریالی نه شو تر آخر پوری حکومتی نظام ددی‌مجاهدی میرمنی په‌لاس کښی ؤ.

**٥ـ بی‌بی مریم :**

بی‌بی مریم دمیر نصیر خان مو ر وه. داکتر میررقب په تواریخ بلو څ کښی لیکلی چه په ۱۷۷۹ ع کا ل چه‌احمدشاه‌بابادعلی مرادخان دمقا بلی دپاره دجنگ تیاری‌نیوه نو میرنصیرخان۲٤ زره جنگیالی میړو نه داحمد شاه ابدالی له قواو سره ملگری کړل‌چه دډیری سختی جگړی په‌پای کښی علی مردان خان ووژل شو او فتح داحمد شاه بابا پـه بـــر خـــه شوه دعلی مددان خان دمقا بـلــی‌وروسته احمد شاه بابا ا بدا لـی د میر نصیر خان دمور بی‌بی مر یمـــی‌پوښتنی ته‌ورغی ځکه چه دامیرمنه په خپله دابدالی کومك ته‌ورغلی وه ا واحمد شاه بابا ورته موروېلی وه.
داوی‌دپخوانو میر منو د فدا کا ریو لنډی نمونی چه‌بیان شوی هغسی چه دپخوانیو میرمنو په ماغزو کښـــی دخاوری دساتنی حس او جذبه موجوده وه اوسنی وخت کښی هم دغه جذ به‌او جوش په ښکاره ډول لیدل کیږ ی او دآزادی او خپلواکی په روا نـــو مجادلو کښی بلوڅو میرمنو او پیغلو برخه اخیستی وه او اخلی به‌یی .

دمثال په‌توگه د ۱۳۳۷ کال د میر نو روز خان دآزادی دغو ښتنی پـه نښته کښی چه دده او د پاکستا ن‌دحکومت تر منځ په‌جاله وان اوزهر ی کښی وشوه (پیغله مایی مورتی) دجاله‌وان اوسیدونکی دبلوڅو دیو څو نورو پیغلو سره‌دشپی‌الخوا پر دښمن‌باندی یرغل وکړ او ددښمن‌له‌عسکرو څخه یی شپیته تنه دلاس په بمو نوووژل.

# کاکړ :

دکاکړ و قبیله دپښتنو دقبیلو یوه‌لویه قبیله ده چه‌په‌جنوبی‌پښتونستان یعنی کویټه افغانستان ، بنګال‌اوځینی نورو سیمو کی اوسیږی چه دنفو سو شمیر یی دنیم ملیون نه زیا ت دی. زیاتره کاکړ په‌کویټه ژوب لور لایی پشین، سیبوی، هر نایی، زیارت ،چاغی ، مستونګ ، او دافغانستا ن په کندهار ،زابل ،اورزګان ،فراه اوهرات کښی اوسیږی مګر دهـــرات کاکړ وجمشیدی او تیمنی خپله ژبه‌هیره کړیده او په دری ژبه خبر ی کوی او کاکړ وپښتنو ځینی څا نګی په‌بلوڅو ورګډی دی لکه سنځرا نی سانګزی او ځینی نور او ددی نـــه‌علاوه پیښور، ایبټ آباد دنو ښار او سوات په‌سیمو کښی او دهند په‌باندشهر حیدر آباد دکن اوتر یوی‌اندازی پوری ځنی یی دایران دخراسان پـــه‌کائینات نومی سیمه کښی اوسیږ ی.

دجنوبی پښتو نستان پـــه اواروعلاقو کښی ددوی ګذاره په‌کرنـــه کیږی اوپه غرونو کښی‌یی دمالدار ی‌دنده اختیار کړیده دکاکړ و ځینـــی کسان په‌رسمی مامور یتو نو اوتجارت‌باندی هم بوخت دی علاوه پر دی یو تعداد کاکړ دپونده (کوچیانو) په‌دول‌دیوځای څخه بل ځای تـــه ځـــی او راځی او دغلجی کوچیانو څخه ددوی‌توپیر په خبرو او جامو کښـــی د ی ځکه چه داکثرو کاکړ وچه کوچیا نوی ښځی یی جامی سری اغو نـــد ی او دغلجو کوچیانو ښځی توری جامی‌استعمالوی .

کاکړ هم دنورو پښتنـــو پـــه ځـــیرسخیان او میلمه دوسته خلك دی‌ځکه چه دوی دقول او دوستی دپاره یو ه‌اصطلاح لری چه کاکړ (بول) یا کاکړ (ګای) وایی چه دیو متل په حیـــث‌استعما لیږی.

**دکاکړ و مشوری علاقی په لاند ی‌ډوګه دی :**

**۱ـ دپر شور دره :**

چه‌د (لوړی) چینی څخه راشرو ع‌شویده او دپشین ترحده‌پوری‌غزیدلی ده شمال یی دتو بی په حددو پوری‌نښتی دی په دی ځایو کښی دکا کړ قبیلی د(تره غره) او (سنتهیا) طایفی‌اوسیږی .

**۲ـ دهنه دره :**

د (شمال) دعلاقی سره لګید لی‌ده دغه عـــلاقه اعلیحضرت احمد شاه بابا دکلات نصیر خان ته دهـــغـــه دخدمتو نوپه بدل کښی ورکړی وه .

**۳ـ دکنچوغی دره :**

دغه یوه تنګه دره ده چه دکنهدغره‌امر لویدو خواته واقع او تخمینـــا

ACKU

دیرش میله اوړ دوالی لری. بنــــه‌حاصل خیزه او دکاکړ و دقبیلــــی سینتیا قبیله پکښی میشته او دمشر اوخان داوسید و ځای یی (اور کس) دی.


### ٤ـ بوری دره :

دبوری علاقه هم ښه پراخه‌زرخیزه‌علاقه‌ده‌او یو رود هم پکښـــــــــی بهیږی او دکرنی ځمکو داوبه کو لواو ښنلو لپاره ځو کاریزو نه لری. توره مرغه، ترین او توکی یی هــم‌مشهوری علاقی دی.


### دکاکړ و مشهور خیلونه :

دکاکړو دقبیلی شجره غر غښت‌بابا ته‌ر سیږی او ترکاك نیکه‌وروسته یی مشهور خیلونه دادی :

شام خیل ،یونس خیل، موسی‌زی‌تره غری، سر گړی، دری خیل،دومړ جلال خیل، ختن خیل، انچزی، چرمی‌خیل، پندار ،کرکزاتو، سین سوراڼ عیسی زی، لی‌زی، کبیزی، تاړن ،زن‌غوزی ، ښادی خیل، باجو خیل،ایوب خیل، مندوزی، تاجوزی، مماخیل ،مستك، سمی خیل، سنځر خیـــل ، یونخیل، سالار خیل، سودان زی ،ښادزی، انکوزی، فاطمه زی، انوزی ابابکر، حسن علی خیل، برات خیل‌هرم‌زی، اتما نخیل، کیوی، حضـــر خیل ،اربی‌خیل، عبدل زی، آدم زی‌عمر حسام، ستام، سنتیا، الیاس زی یوسف عیسی، پین مرزی، غوری زی‌بدازی، ښاد وزی، حسین خیـــل، یاسین خیل، شمس الدین، شموڼزی، اتوزی، محمد زی، اجزی،ابابکر سوای، ملی‌زی، امیزی، شـــازی،ترکوزی ،پوخی زی، اکان‌زی،شمعوڼ مردان زی، جلال‌زی، رومـــی زی ،عین الدین المعالی، پیش الدیـــن ، ښادی، روخیل، اتمان، شکور خیـــل‌داړر ،سباك، تبرك، شیراد ،جد رام چه له لاندینی گراف ځخه په پور ه‌ډول ځرگند یږی.





13591



سرکاکړی
هارونزائی
اسحقزی
مندازی
سامرزی
صالح‌زی
داودزی
کبرزی
مجبورزی
ملی‌زی
مرجانزی
شیغگل‌زی
عمرزی
دویزی
داودزی
شموزی
ولحزی
الوزی
بهلولزی
کتوزی
میرحازی
ملی‌زی
علی‌زی
حسن‌زی
غازی‌زی
پینزی
تاجوزی
ندازی
موسی‌زی
غیب‌زی
مرکوزی


ACKU

13572




ACKU


ترلغزای
عباس خیل
بارد زی
احمد خیل
سلیمان خیل
سورزای
میرداوزی
قطرزی
داوودزی
دهقان زی
کرم زی
اختر زی
مالک زی
گلی زی
کرم زی
علی زی
یوسف زی
سکندرزی



لوانی
شکون
غورښنی
کھنوال
پلاوه
دسکزانی
عمرانی
شکرزی
جاموزی
سوریانی
ملی زی
سیوری
ندی زی
علی زی
جعفرزی
عیسانی
پیرزی
حمل زی
وترزی



مرانی
حسن خیل
ادرخیل
خولی خیل
سوریانی
کانسی
ثابت زی
قایم زی
اچوزی
تلیب زی
مرخیل
عیس
سنگی
احمدخان زی
اکازی
میرزی
گدر زی
بلازی
اکازی
کیتر
موسی زی
تکی زی
علازی

# اڅکزی

اڅکزی دجنوبی پښتو نستا نخورا پیاوړی او تورزنه قبیله د ه چه‌په دوهم نسل بارك نیکه ته رسیږ ی دکند هار ولایت او جنوبی پښتونستان په‌ویش باندی میشته دی یعنی یوه‌برخه یی په افغانستان اوبله برخه‌یی په جنوبی پښتونستان استوگنه‌لری. ډیره جنگیالی او باتوره قبیله ده په اومړی برخه کښی په‌دوو برخوویشل کیږی (گوجن) او بله‌یی (بادین) د ه چه‌هره څانگه یی بیا ځانته بیل بیل ښماخونه لری چه‌په‌لاندی‌ډول‌بیانیږی.



مرحوم غازی عبدا لله خان اڅکزی

۱ـ دگوجنو مشهوری څانگې :

الوزی، علی‌زی، احمدز ی، رسی‌زی‌سلیمان زی، ادرکز ی، میلزی،متکزی کتوزی خواجی‌زی، اردوزی،، عثما ن‌زی، صالح زی او داسی نور.


۲ـ دبادینزو مشهوری څانگې :

غیبیزی ،شمشوزی، پاتی ز ی ، کاکوزی، شابوزی، بیران زی،اوغیره اخك نیکه سر بیره پربادین اوگوجن‌یوبل زوی هم درلود چه «علی شیر» نوم‌یی درلود مگر اولاد تری نه د ی پاتی. داڅکزو، اشزی، علی زی ، ملیزی، کاکو زی، حمید زی طایفـی‌دجنوبی پښتونستان په‌چمن پشیـن او دهغه ځای په ځینو نورو سیمـو کښې‌میشته دی. متکزی، عثمان ز ی، او ادوزی په افغانستان کښې میشته‌دی !

داڅکزیو کسب اکثرا مالداری د ه‌مگریو څه تعداد یی په تجار ت هم لگیادی ،آبی ځمکی لری لری مگر دپسونو رمې اوگلې یی دخواجه آمران په‌لمنو اودجنوبی پښتونستان پـــه‌ریگونو کښې څری.

غازی عبدالله‌خان اڅکزی یی‌مشهورغاز ی‌او مجاهد تیر شوی چه دکابل دشیر پورپه جنگ‌کښې‌یی دانگریزانولخوا دشهادت جام وڅښلو. او قبریی دڅهار دهی دولسوالی دسرخ دیوا ل‌دغونډی په‌سر دارالمان ته‌نږدی پـه یوه زړه هدیره کښې دی. چه د څــومودی راپه دیخوا دافغانی لیکوا لـو اوشاعرانو لخوا پری درنه مشاعر ه‌کیږی او دده دملی مجاهد وستا ینه کیږی.

داڅکزو مشهور ښاخونه اوخیلونودلاندی گراف څخه معلو میږی :



خرشبون
باولی
گوجن
علی شیر
ضبی زایی
کاکوزایی
مرکی زایی
کاکوزایی
زعفران
سنجاری
کترلم
خواجه
معزی
شادزی


۱۲۷۹۱

# ترین

ترین هم دجنوبي پښتو نستا ندزړه ورو قبیلوی ځخه شمیرل کیږی.
قاضی عطاالله خان ددوی د ملــــك جغرا فیایی حدود پهدی شان بیا ن کړیدی(دپشین دترین او درانو ترینودملك پهمینځ کښی شمال لوری ته غرونه او ختیځ تهدکاکړ و او دو ی پهمنځ کښی هم غرونه دی چه پــه تخمینی توگه دشمال نهجنوب ته د؛تیا میلو اوږ دوالی او شلو یښــــت میله دختیځ پهډډه پراته دی دلوړیږود «توی» همددوی په سیمه کښی تیر شوی دی.

ترین په درو لویو خیلونو با ندیویشل کیږی چهتور ترین ، سپیــن ترین او بورترین ورته وایی تــو رترین په پشین کښی اوسیــــږی او سپین ترین دژوری تل او چتیالی پهاوارو ځمکو او میدانونو کښیاستوگن دی. دتورترین لویهڅی ډډی تــه دشواوك سیمه ده اوترمینځ یی غـــر پروت دی جنوب تهیی دشال،شالکوټ یعنی کویټی سیمه ده چه ددوی‌ترمنځ هم دتکتو غر واقع دی.

حیات افغانی تورتر ین دکورینــوشمیر (۶۰۰۰) کوره بیان کړ ید ی اوسپین ترین یی (۴۰۰۰) کو ر هبیان کړیدی .

ترینان زیاتره پهکرنه او تجار ت باندی بوخت دی ددی دری واړوقبیلو ځخه یو مشروی او اکثره هم د غــهشان واقع شوید ی چه مشربههمیشه دتورترین دتیو زیو دښاخ ځخه ؤ .

په پښتو کښی یومتل دی چــــهخانی ده پر دوه کوره پهلوایی کښی (پرکتی) ده او په ترین کښــی پــر (تپی) ده.

دترینو دقبیلو او خیلو نو مشهور ښاخونه پهلاندی ډول دی.

ابدال ،تور ،سپین، اجړ،سلیما نډرخیل، سیلمان لغ، طام ،او بجی ، بادهمی ،یابو، ملمونی، کنـــدزی ،کندزی سیاکی، هارون، علی، کو ك بادی ،عیسی ،ماکو ،علیزی، ،دوزیخاکوانی، میر، سلیمان زیرك، نوازی بیدل زی ،فیروز زی، صاحب ز یحسن زی، کیوراز ی ،الکزی، یعقوب زی، بادوزی، نوازی، ملك یار ،نیك ختانی، پتیزی، منگزی، مندیزی ، ترلزی، اسماعیل زی، درزی، سکندرزی، سو گنی، خیرزی، شیخ ز ی، مشوزی، مشوری، خیداد زی، کاټوزی بادرزی ،ایدزی، مندیزی، هوا ز ی، فیروزی، باگلزی، پنج پای او داسی نورچه دلاندی گراف ځخه یی خیلونه پهپوره توگه واضح کیدای شی .

# لروغونی لیکوال

## بیټ نیکه

دکسی په غره کښې اوسیده ا ودژوند وخت یی د ۳۰۰ ه، او ۴۰۰ه کلونو په مینځ کښې اټکل کیږی یعنی دپخوانو غوریانو همعصر دی چه تر غزنو یانو ترمخه یی پاچاهی کو له‌سیلمان ماکو په خپل کتاب (تذ کرة الاولیا) کښې چه دسر پاڼه یی شته‌اوتوری وورقی یی نشته لیکې چه بیټ بابا یونیك سړی او یو بزرګ‌سړی وو دکسی په‌غره کښې بــــه اوسیده ټوله شپه به دخدای په‌عبادت بوخت وواو دغه مناجات به‌یی وا یه.

لویه خدایه لویه خــدا یـــه          ستا په‌مینه په هر ځـا یـه
غرولاړ دی در ناوی کـــی          ټولی ژوی په زار ی کـی
دلته دی دغرو لمنـــــی          زمونږ کیږ دی دی پکښې‌پلنی
داوګړی ډیر کی خدایـه          لویه خدا یه لویه خـدا یه
دلته لږ زمونږ اوربل د ی          اوړکورګی دی‌اوړ بورجل د ی
مینه ستا کښې مو نږ میشته‌یو          دبل چاپه مله تله نه یـــو
هسك او ځمکه نغښته ستاده          دمیړو و ده له تـــا ده
داپالنه ستاده خدا یــــه          لویه خدا یه لو یه خدا یه

سلیمان ماکو وایی چه دبیټ نیکه‌وروڼه او زامن دکسی په‌غره کښـــی اوسیدل چه‌اوس‌یی دسلیمان غربوای‌دبیټ نیکه دمرګ نیټه اومزار ښه‌نه دی معلوم مګر بیا هم دننګرهار پــه‌تور غره کښې یو زیارت دبیټ نیکه په‌نامه شته دی او ډیر امکان لر ی‌چه‌دهمده مزار وی.

مګر دجنوبی پښتو نستان دلیکوالو نظریه داده چه دده له دعا څـخـه معلو میږی چه‌بیټ نیکه دکسی پــه‌غره کښې زوړ شوی او مړ شویدی او همدغلته دفن شوی دی .


**اسمعیل څړ بنی :**

دغه دبیټ نیکه زوی خود خپل‌تره‌دپالنی او روزنی له‌کبله دڅړ بنــی په‌نوم مشهور شو. اسمعیل څړ بن د۴۰۰ هجری په‌شاو خوا کښې ژوند کاوه دی هم دخپل پـلارپه شان لوی‌عالم ،عار ف،بزرګ اوستر ستا نه داراو دپښتو ژبی خوږ ژبی شا عر نیر شوی.

یوشعر یی سلیمان ماکوپه خپلـه‌تذکره کښې راوړی اویوه بله‌خوار ه ناره یی‌په پټه خزانه کښې‌ده دغه‌یی‌هغه وخت ویلی ده چه کوم وخت‌دده دتره زوی څر شبون له‌ده نه‌جلاکیده‌او غوړی مرغی ته‌تله چه‌ویلی یی دی.




ACKU




بریخ
حسین
اوتغ
مندوزی
زکوری
بسیازی
بارکزی
مردانه
بسوکزی
شکورزی
شیخ ثابت
بدلزی
ملهزی
چوپانزی
داودزی


13991



خرشبون
شیرانی
اورمڑ
ترین
میانا
بڑیچ
اجمالی
تور ترین
بور ترین
سپین ترین
بابو
سیگی
کندری
ملوئی
وزیر
سلیمان
جام
اوجی
عبدالی
اسپاتی
ملال زی
فقیر علی
شاولی زی
مندوزی
منوزی
ابراہیم
شکر زی
رحیم زی
الوزی
کاکوزی
حاجی زی
حساب زی
فیروزی
باکوزی
اسمیل زی
کاکوزی
شاہ محمد زی
زرغون زی
یاسین زی
غمازی
سلیمانزی
محمدزی
کاکازی
ادمزی
ماماری
بہلولزی
املزی
خدادادزی
خلیل زی
ابراہیم زی
ابوبکر
ملکیار
نورزائی
ملی زی
کمال زی
شاہ ولی زی
ملی زی
خانزی
خدادادزی
ہیکل زی
بکی زی
علی زی
بابی زی
سرور زی
ملال زی
علمی
قاسم زی
ابراہیم زی
حبیب
سرغزی
عمرزی
جانزی
کمال زی
سمی زی
بہلولزی
کمالزی
حسن زی
ہنوزی


13992


بور ترین
سلیمان
حاکو
ماکو
عیسی
ادو
علی
فیروز زی
حسن زی
نور
میر
ایوب
حبیب
بارو
حسن
اسمعیل
بامی
بارک
الکو
سوگنی
علی زی
فیروزی
ایدل زی
پنج پای

ACKU

13992

که وروره وروره خر شبون وروه    له‌کسی غره ځخه ځی‌خرشبون‌د ی
که‌وروره وروره خرشبون ورو ره    ته چه بیلتون کړی زماو یر ته‌گوره
دخدای دپاره خر شبــون یا ر ه    چه‌هیر مونکړی زمونږ کهول واړه
زړه می‌دپیږی یارمی بیلــــږ ی    بیلتون یی اوردی‌ځان‌پری‌سوځیږی

**خربنبون :**

خربنبون دخړبن مشر زوی د ی‌دده اصل نوم خیر الدین‌دی‌دخربنبون په‌نامه مشهور دی دده ورور شـرف‌الدین ووچه دخربنبون یاشر خبو ن په‌نامه یادیږی پټه خزانه دپخوانو په‌حواله وایی چه‌دی په ٤١١ ﻫ کښــی په مرغه کښی مړ شوی دی‌دپټی‌خزانی‌لیکونکی وایی چه خربنبون پــا با ۳۰۵ هجری کښی زیږیدلی ووا وس‌دغه نه‌ده معلومه چه‌دغه مرغه یاغوړه مرغه هغه غور دی‌چیری چه‌لومړ یواودوهمو غوریانو چه ځو پیــړ ی دمخه حکومت کړی وو او کــــه دساخر عرڅی مراد دی.

زیات خیال داسی دی چه دغه به‌دجبال غور (غوړه) سیمه وی یوه‌مرغه دژوب په سیمه کښی هم شته چــه‌ننځر خیل پکښی میشته دی خو دلته یواز ی دسنځر نیکه زیارت شته د ی‌اودبل چا دزیارت‌نښه‌نه معلو میږی.

دغه بابا هم دپښتنو یو ډیر ښــه‌شاعر ووتل به‌یی دخدای عبادت کولو څه وخت چه دی داسمعیل څخه جـلاکیدلو یعنی دکسی غره څخه غو ړی مرغی ته‌تله نو داسمعیل دشعر پــه‌ځواب کښی دمربع (څلور یځ) په‌ډول کښی یو خوږ او دسوزه ډك شعـــرویلی دی دغه شعرپه پټه خزا نه‌کښی راغلی دی چه دسر بندیی دغه دی :

بیلتانه ناره می وشوه په‌کور باندی    نوپوهیږم چه‌به ځه‌وی‌پیښی‌په‌وړاندی
له‌خپلو انو به بیلیږم په‌سروسترگو    دواړه سترگی می په وینودی‌ژړاندی

**شیخ تیمن :**

شیخ تیمن دسنه ٥٢٥ ﻫ په‌شاوخواکښی ژوندی وو زیاتره تذکر ی اوروایات وایی چه‌د کاکړ نیکه زو ی‌ؤ.دده اولاد تیمنان یاتیمن کاکړ ان بولی چه‌په غور کښی پخوا اوسیدل‌او اوس په هرات کښی هم اوسی ا و دزی ژبه وایی په خپله دکاکړ نیکه‌ددژوب څخه هرات ته تللی‌او هلته‌مړ شوی دی خو دغه نه‌ده معلو مه‌چــه‌شیخ‌تیمن هم‌په جنوبی پښتونستا ن کښی زیږیدلی دی او لوی شوی اوکه به‌هرات کښی. ولی چه اولا د یــی دلته نشته نو داسی معلو میږی چه‌په‌اخیر عمرکی اوسیدلی او هلتـــه مړشوی او ښخ شوی دی، دی هم دپښتو شاعر وودغه‌یوځو بیتونه‌ئی‌په پټه خزانه کښی را غلی :



ACKU

گهیځ رڼا دلمر خپره شو ه     زماپه کور دوېر تار ه شــو ه
بیلتون ورځ توره تیاره شو ه     ږغ شو ناڅاپه چه بیلتون راغی
زړه می‌له‌دی ویرنه شین د ی     په‌ژړا ژاړم څه ناوریـــن د ی
زرغون له‌اوښکو می سادین د ی     په‌نو لی نو لیږم چه تا غون را غـی
نه‌به بیایم نه به‌بیا را شـــی     نه‌به تیاره شپه زما رڼا شـــی
نه به شپې راته په خولا شی     بیرېږم پیرپی اوس دیون راغی
دښښتن پار دی هیر مو نـکـــړ ی     اغلیه مخ چه‌په یانه کـــړی
اوربل دی پریښووی واته کړی     په مادبل اور کړ یدو ن را غی

**ملك يار غر شين :**

ددغه لیکوال په‌باره کښې‌تاریخونه‌چوپ دی‌چه دغه لیکوال دکوم ځای‌دی مگر دومره معلومه ده‌چه د محمـــو دغوری دزمانې ووقیاس دغه وایی چه‌د جنوبي پښتونستان دسیمی وو او دلوی غازی محمد غوری سره یې دهند په‌یوه غزا کښې گډون کړی وو دد ه‌دنوم سره دغرشین توری دشنه‌غر ه سره اړه لرونکې معلو میږی اپوزی‌څخه ۱۸ میله شمال ختیځ‌ته (اته‌زره) فوټه جگ غردی چه دجلغو زو پـه‌ونو پټ دی او سادات پری اوسیږی او دپشین دښار په څنډه لوید یځـی‌خواته دغر شیانو سید انو یو کلی‌هم شته په بارکهان او ځینو نورو سیمو کښی هم سیدان شته کیدلی شی چه غرشین سیدانو له‌قبیلې څخه وی اوغرشیان یې‌ېدی بولی چه‌په خلکـــو کښی دغه ډیر مشهوره ده چه نیکه‌یی‌په (دعا او کرامت) غر را شین کړی وو.

ملکیار غرشین دپښتنو پخوانیـو تاریخو نو دوالیانو په‌جمله کښی ذکر کړی او دپښتنو دیوی ستانه دا ر ی‌قبیلې څخه یی شمیرلی دپښتو شاعر وو. سلیمان ماکو لیکلی چه غا ز ی‌شهاب الدین غوری چه‌په هند حمله کوله دی ورسره ملگری وو مگر چه‌په‌جنگ کښی مغلو بیدل نو د غـــه لاندی اشعار یی وویل او بالاخـر ه‌فتح ددوی په‌نصیب شوه.

ښښتن مومل دی اوس مویرغل دی     هیواد دبل دی غازیا نـو گو ر ی
ښښتن مو مل دی
توری تیری کړی‌دښمن‌مو پری‌کړی     منگولی سری کړی څله به تښتی
ښښتن مو مل دی
که تینگ کړوزړو نه پریږی پـو نه     چه زمری یونه اسلام راڅخه د ی
ښښتن مو مل دی
غازیانو راشی تول شاو خوا شی     دشهاب په ملاشی دښمن‌موغوڅ کی
ښښتن مو مل دی

شیخ ملکیار غر شین به همیشه داسمعیل خړبنې پرزیارت بانـد ی د خدای عبادت کولو څه وخت چه‌سلطان‌شهاب الدین غوری لومړی‌وارپرملتان یرغل وکړ نو ملکیار ژوندی وو دسته ۵۷۱ هجری وه چه دهغی نه پس‌دهلی ته ولاړ او هلته وفات شو.

ډیر امکان لری چه پورته دغزاذکروشو هغه وخت به‌یی کړی وی چه‌ نوموړی په ډهلی کښی استو گنـــه‌غوره کړی وه.

**بابړ خان :**

دغه سړی ددوست محمد کا کــړ پلاروو د وست محمد کاکړ لیکلی‌دی چه‌زما پلار د تذکری غر غښت په‌نوم‌یوکتاب نظم کړی وو.

مگر څه وخت چه‌زما پلار و فا ت‌کیده زه‌په کورنه وم اوچه بیاراغلـم نو کتاب خلکو دمنځه وړی وو زه دپلار ترمرگه دکتاب به‌ضایع کیدوډیر خوا بشینی شوم.

که‌څه هم دبابړ اشعار لاس ته‌نه‌دی‌راغلی خوویلی شوچه دپښتنو یوزوړ شاعر او مورخ وو.

**دوست محمد کاکړ :**

دوست محمد کاکړ دبابړ خــا نزوی او یو پښتون شاعر او مور خ وو دەپه ۹۲۹ ھ په‌ژوب کښــــی دغرغښت نامه په‌نوم یو کتاب لیکلی وودغه کتاب یی دخپل پلار تذ کــره‌غرغښت په‌خیر لیکلی وو چه‌دغرغښت نیکه دحالاتونه بغیر دځینو نـــو روشاعرانو او لیکوالو احوال هم پکښی وو غر غښت نیکه دکاکړ ونیکه وو .

دپټې خزانی لیکونکی محمد هوتك‌دغه‌کتاب لیدلی وو خو اوس نه پیدا کیږی محمد هوتك وایی چه‌دغرغښت‌نامی مثنوی چه‌ډیر خواږه بیتـو نه یی لرل دغرغښت نامی یو حـکا یت‌په پټه خزانه کښی راغلی دی چـــه دسر بیتونه یی دادی :

| | |
|---|---|
| له‌نیکا نو روایت د ی | هسی توگه حکایت‌دی |
| نور محمد کاکړراوی دی | چه‌یی فیض تل جار ی دی |
| دنیکانو له‌خولی وایی | چه منښت یی‌راته ښایی |
| چه کاکړ نیکه زاهد وو | لوی څښتن له‌تل عابد وو |
| تل ترتل یی عبادت کا | پردی لیاریی ریاضیت کا |

نوله دی نه معلو میږی چه نــو رکاکړ دژوب اوسیدونکی وو خو دغه نه‌ده معلومه چه سنځر خیل کا کــړووکه سنځیا وو او نه‌یی د مړ ینـــی نیټه اونه یی ددفن کیدو ځای‌معلو م‌دی.

**پیر محمد کاکړ :**

پیرمحمد کاکړ په‌پښتنو شاعرا نو کښې دیو لوړ مقام څښتن او یونامتو شاعر وو دی داوس ۱۳۵۱ ﻫ کـال‌څخه تقریبا دوه سوه کاله پخوا د ژوب دسیمې دهند و باغ دعلا قـــې‌دکان مهتر زایو دیعقو ب کلــــی اوسیدونکی اوپه ختهٔسنتیا کاکړ ووپه‌اټکلی توګه ویلای شو چه دد ه د پیدایښت نیټه به د۱۱۲۰ ﻫ کـا لوی کله چه ځوان شو دطب دز د ه کړی دپاره دخپلی کورنی او قبیلـــی‌دمرورتیاپه وجه کند هار ته و لا ړ اوپه کند هار کښې میشته شو لکــه‌چه‌دی وایی :

دکاکړ په‌لوی اوکم کښې تمیـــز نشتـــه
خومهره‌په بها پیـــر ی د ګو هــــــر
خراب زړه وماته وایی وطن پر یږ ده

په۱۱۲۰ کال کښې چه احمــــدشاه بابایه تخت کښیناست پیرمحمد دپوخ عمر څښتن وو احمد شا ه بابادربارته وغوښت اود خـپـل زو ی شهزاده سلیمان استاذ یی‌کړ. پیرمحمد کاکړ یو دپښتو ګرامر دکتا ب (معرفت الافغا نیه) په نامه ولیکه ا ودشهزاده سلیمان په‌نامه یی‌منسو ب کړ دپیر محمد کاکړ ژوند تر ۱۱۹۶هـپوری یقینی دی‌چه‌په همدی کال یــی خپل کتاب پوره‌کړی او داسی یـــی‌لیکلی دی.

زرسل شپږ نوی کلو نه          دهجرت تیر شوی وو نــــه
ما انشاء دعشق دیوان کـــړ          په پښتو می ښه بیان کـــړ

پیرمحمد کاکړ تر ۱۲۰۳ هجـری‌کال پخوا مړ شوی وو ځکه چه‌پــــه همدی کال دده شاګرد ابراهیم کاکړدده دیوان نقل کړیدی او په پا ی کښی‌یی پیر محمد کاکړ په داســــی‌ضعیف صورت بیان کړی دی‌چه دهغه نه‌دده مرګ ښه ثابتیږی.

پیر محمد کاکړ یوښه شاعر وودیر پوه او عالم اوخپل دیوان یـــی دالف څخه تریا پوری په خپل ژوندکښی مرتب کړ دده‌په نظر کښــــی پراختیا اوپه فکر کښی ژورتیا شته.ده‌په خپله شاعری کښی ذ هنیت اود موضوع دیری رنګ په‌رنګ تجر بی‌کړی دی په شاعری کښی یی دعشق اخلاقو حقایقو او دهو ښیار تیا هـرډول خبری شته چه‌یو څو اشعار یی دلته راوړل کیږی.

**استعاره :**

مخ که‌دګلشن دی‌یاڅراغ دی‌یاسورګل
زه‌باندی بو رایم یاپتنګ یم یا بلبل

تشبه او تجنیس :

خراب دل می لدی غمه په‌تنګ‌راغی          ګویا تنګ له‌خپله عمره پتنګ‌راغی

بیلتون :

هرسحر لکه‌بلبل په‌گل ناره کړ م ‌ ‌ ‌ نی‌زما په‌غاړه ژاړی رباب هم لا

د دنیابی ثباتی :

دریغه گل‌به دگلزاروی مونږ‌به‌نه‌یو ‌ ‌ ‌ دبلبل به‌پری چغاروی مونږ‌به‌نه‌یو

دکند هار ستاینه :

کندهار یی‌په جمال جنت نظیر کړ ‌ ‌ ‌ رب‌و ماته تر کشمیر وتر کا بل

مراعات النظیر :

پرسینه دگلبدن گریوان پره شو ‌ ‌ ‌ دغنچی له چاکه‌رنگ‌دگل‌ښکاره‌شو

**استعفار :**

الهی ماپیر محمد په‌غفران پټ کړ ه ‌ ‌ ‌ په‌دربار کښی دی ولاړیم په‌سرتور

دهجر خواری :

الهی پیرمحمد گله دیار په‌کوی کړه ‌ ‌ ‌ دپیر جنت ورته مومن انتظار کیښی

قناعت :

دخپل کورپه اور بشینه‌قناعت‌کړه ‌ ‌ ‌ دنور چا دحلوا مه شه کاسه لیسه

نادره تشبیه :

دور شبنم دگل په پاڼه پوری‌یخ‌شو ‌ ‌ ‌ که‌په غوږدگلرخ‌هسی‌سپین‌والی‌دی

دپیر محمد کاکړ کتاب (معر فتـــه‌الافغانیه) په دوو برخو ویشلی د ی یوه‌یی نثر اوبله‌یی نظم دی خو دواړه‌برخی یی‌په سوچه خوږه پښتولیکلی دی.

دنثر جملی یی‌کو چنی کو چنـــی‌جوړیږی په زړه پوری او خوندور ی دی‌چه یوڅو جملی یی‌دلته دمثـــا ل‌په‌توگه راوړل کیږ ی.

(کښت خواری غواړی، د کښـــت‌اوس وخت نه دی ،دکښت و خـــت لااوس پس دی، کښت ډیر مه کو ه‌واك به‌دپری ونه‌رسیږی ،اوبه‌به پری وچی شی ،حاصل به‌دله لاسه ووځی‌خورای به دابته شی.

**ملاجان محمد کاکړ :**

دی هم یوښه دپښتو ژبی خوږژبی‌شاعر وو دنن څخه تقریبا یو ســـل اویا کاله پخواپه ژوب کی اوسید ه‌کاکړ وو دژبی څخه یـــی داســـی معلو میږی چه سنځر خیل به وو دی‌دشاه شجاع په‌وخت کښی تیر شوی.

دخانو زیو اوسیدونکی او دپښتوادیب او شاعر حافظ خان محمد خدای بښلی څخه دملا جان محمد دیـــوا ن‌ډرسره وو. حافظ غوښت چه دغـــه دیوان چاپ کړی خو مرگی‌پری‌نښود.په دغه نسخه باندی په خپله ملاجان محمد نیټه ۱۲۱۵ ه لیکلی وه. ملاجان‌محمد دخپل دغه دیوان په‌پای کښی دغه لاندینی عبارت چه عربی اودری‌پکښی گډه ده لیکلی دی .

(تمت بعون الله تعالی فی یـــــو م الخمس وقت ضحی من یدجان محمد نسخه هذا سنه ۱۲۱۵ ق وفی شهر ربیع الاول فی فصل نو روز تصنیف وکتاب از دست جان محمد شفا عت خواه محمد وتعالی احد در زمانـــــه شاه شجاع در جماعت اخوند ز اد ه شیر محمد استاد نادر ملك بنو ایا م طالب علمی شاگرد اوبودم در آن جاحضرت شیخ سلیمان سنکړی ومذهب من حنفی وازنسل کاکړ و ملك مـن ژوب.

ملاجان محمد خپل لومړی دیوا نچه نوم یی حلیه دین وو په ۱۲۱٤ ه کښې بشپړه کړی ووخو دغه تراوسه هیڅ نه دی لیدلی خود سنه ۱۲۱۵ ه دیوان کښې ددی حلیه دین چه ذکر یی راغلی دی وایی :

هرچه ماوکړه له سوزه دا، انشاء     دغه واړه وو مدد دفیض ا لله
دغه هیڅ لیاقت زالره نه د ی     چه په ژبه زه نوم اخلم د خـــد ا
ولیکن په ځای روا دضرورت دی     چه تعریف ئی کړم وهر چاته نما
اوز منم اورمی قبول په دواړه ستر گو     دپښو خاوری می دستر گوطوطیا
داسی نه چه دده کم دی تضیفونه     ده څلور کتابه کـړ ی مهیـــا
برکت یی تل له ماسره همراه وو     خودچه دی له بر کته وو پید ا
ماچه دادیوان تصنیف بعون الله کړ     یولا بل حلیه دین دی مسمـــــی
حلیه دین په یو کال پس ودادوړاندی     په تاریخ دپر نگیانو د غـــز ا
هرچه مادغه سلوك پسی و یلی     مه کړی ماجان محمد ځینی جدا

دملا جان محمد دیوان چه دحا فظخان محمد مرحوم څخه وو د هغـــــه مخو نه ۳۵۸ وو او داسی څلور زره اشعار پکښی وو. ددی دیوان لومړی شعر په دی ډول دی :

ابتدا ء او انتها دی رب زمــا     آفرین دهر پیدا دی رب ز ما
ملاجان محمدخپل دیوان دالفبا ء     به ترتیب باندی لیکلی وچه یو څـــو

شعرونه یی دادی :

زه راضی په خاکساری ستاددرباریم     که شجاع له دملکونو پادشاهی ده
نه کاکړ دی که غلجی که درانی دی     جان محمده په نصب گذاره نه شی

ACKU

# پیاوړی لیکوال

**عبد العلی اخونزاده :**

دغه پیاوړی لیکوال او شاعر دپښین څخه ۲۳ میله شمال ختیځ خواته دخانو زیو دکلی اوسید و نکی او په ذات او اصل پانیزی سنتیا کاکړ وو. دی دعبد الخالق اخونزاده زوی او ملا عبد الرحمان اخونزاده لمسی وودی په سنه ۱۲۸۹ ھ کال کښې زیږیدلی دی.

ابتدایی زده کړه یې دخپل پلا رڅخه کړیده مګر دی کوچنی وو چه پلاریې مړ شو نو بیا به یې د خپل ترهٔ عبد القادر اخوند څخه سبق ویلو چه ترهٔ ئې دافغانستان شمالی سیمو ته راغی نو نوموړی هم کند هار ته راغی ګرچه ده په کند هار کښې خپل تحصیل پای ته وُنه رسواو مګر په مجلسو نو کښې به یې اشتراك کولو او دپښتو شعرونه به یې ویل چه زیات شهرت یې پیدا کړ. خو څه وخت چه واپس پښین ته لاړ دطبابت کسب یې اختیار کړ .

ډیر ذکی حاضر ځوابه حکیم او فیلسوف وو شهرت یې لاپسی زیا ت شو او دکلات خان اعظم په ۱۳٤۹ کې دپو هنی وزیر مقرر کړ او دقاضی القفات وظیفه یې هم ورکړه تر دروکلو پوری یی دغو وظیفو ته ادا مه ورکړه مګر کله چه یې مشر زوی عبد الحق زبوریا هلال دځان و ژلو په وجه یې په ده ډیر اثر کړی وو دخپلی وظیفی نه یې استعفی ورکړه او کورته راغی چه تر دی دمخه یی په کویټه کښې دطبابت دکا ن وو .

په کوز کښې په ۱٦ دشوال ۱۳٦٤ ھ ق کال کښې وفات شو دده څخه یوزوی پا تی شو . عبد العلی دپښتنو بد عا د تو نه غندل او یوه لویه کتابخانه یې درلوده چه ډیر علمی او دبی کتابونه یې در لودل. دده یو اثر په ۱۹۵۷ عیسوی کال کښې دکویټې دفضل احمد غازی لخوا دشاخ ګل په نوم چاپ کړچه څو بیتو نه یې دنمونی په توګه ګرانو لوستو نکو ته وړاندی کیږی :

رقیب :

رقیبان راته و لاړ دی تور مخونه ستر ګی ژړی

مرګ :

مرګ که په عقل افلاطون شی چه مرګ راشی ورته پړ شی

ددنیا بی ثباتی :

ښه ښایست په حسن پور چه می لیدل پخوا نی

اوس کو پی خولی ګو نجی مخو نه سپین و ښتان تیر یږی



ACKU

تشبیه:

نرگس په‌شان دسترگو حکا یت‌کوی دتا
سنبل په‌دودزلفو روایت کوی د تا

نوی خیال :

چه می خوله ستاو بار خو ته نه‌رسیږی
له حسر ته‌می نیولی په د ندا ن لب

**حافظخان محمد مرحوم :**

دغه نو میالی‌هم‌دخانو زیو دکلی‌اوسیدونکی اوپه ختهٔ پانیزی سنتیا کاکړ وو دعبدالرحیم زوی‌وواېتدایی‌زده‌کړه یی کړی اودینی علوم یی د حافظ آدم خان څخه زده کو لځنګه‌چه دده صحت به همیشه ښه نه‌وو نو سبق یی‌پری ښود په ۱۹۵۷ کال‌کښی وفات شو. دشعر نمونه یی په لاندی ډول ده :

دحریت په‌باب :

که دخوند زنده ګی غواړی همت ر کړی
دمریا نوپه سر ښلی همیش خښتی

دخلکو ازارول :

تر ټو لو بدوبد دی     که دچا عادت ازار شی

دولت په‌باب :

چه چاره دبی چارو ونه پری‌کیږی     خان محمد پردی دولت وایی‌لعنت

دپښتون بی‌کمالی :

خسته حال دپښتنو کړم خسته‌دله     ځکه نه‌وایم غزل عاشقا نه

**ملا عبد السلام اشیزی :**

ملاعبد السلام په ختهٔ اشیزی‌اڅکزی او دچمن په‌لس میلی کښی‌د توژك ددنګو غرو په‌مابین دښاخه په‌کلی کښی میشته دی دپلار نوم یی ملا حبش دی اوس د ۹۱ کلو په‌عمردی دزیږیدو نیټه یی ۱۳۰۰ هـ . ق ده لکه چه‌وایی :

په زر دری سوه سنه پیدایم .


ملاصاحب دسو سن چمن په‌نامه‌خپل دیوان په ۱۹۲۹ عیسوی کا ل کښی چاپ کړ دغازی امان الله خان‌ستاینه او انګریزانو غند نه پکښی ده دغه کتاب انګریز ضبط کړ اواوریی ورته واچولو مګرپه ۱۹٦٤ ع کال کښی یی‌بیا چاپ کړ دوهم کتاب‌یی‌طلب مذهب دی چه دفقهی احکا م پکښی منظوم چاپ شوی دی. نوموړی‌دجنوبی پښتونستان تر ټولو پښتنو شاعرانو پیاوړی شاعر دی دده په‌شاعری کښی پند، نصیحت ،



ACKU




ښاغلی سردار تیمور شاه
خان جوګیزی کاکړ



ښاغلی عبدالباقی خان اڅکزی



ښاغلی سیرخان کاکړ



مرحوم ماستر محمد اوبخان اڅکزی

۱۴۷۹۱

سیاست ،اصلاح ،حکیمانه خبر ی ،عام حقایق ،عشق ،لوړ خیال ،ژوره معنی او نور هر څه لری چه د یو څو شعرونو نمونی یی دادی :

پښتنو لره عبد السلام یـوا ز ی    بنه ناصح دزمانی خوشحال ختک شو

دغازی امان الله خان ستاینه بیخی ډیره کوی :

دغازی امان الله لمر پهغروب شو    نصاری راباندی خاندی هم یهو د

دحبیب الله دسقاو دزوی غند نه کوی لکه چه وایی :

دسقاو په څوی ړول مهوهی ډمانو    دورایا نهو لایق نهدی هر عرو س

# د ژوب او بوری مجاهدین

**۱ـ دژوب مجاهدین :**

په دغو سیمو کښې دپخوا څخه سنځر خیل (کاکړ) بابړان و خوستی میدان، مرانهان (شیر انمیان)سلیمان‌خیل وځینې نور پښتنو استو گنه لرله چه‌په دی سیمو کښې دغاز یانو څخه سر بیره ستر ستر شاعرا ناو لیکوالان هم تیر شوی دی لکه چه‌ذکر ی پخواو شو شمس الدین کاکړ ملا جان محمد کاکړ، زرغونه کا کړرابعه کاکړ ،نازو انا او داسی‌نور .

په مجاهدینو کښې سردار مینگل‌خان جوگیزی، بازجو گیزی ،سیف الله‌خان خوئیداد زی، سردار سیدپالی شاه خوستی ،شیر جان‌اوداسی نور ددی ځای مشهور مجاهدین تیرشوی دی چه دانگریزانو سره یې سختې ډغری وهلی دی.

**سید رضاگل خوستی**

دسیدرضاء گل خوستی کور نیږد پکتیا نه‌خوست څخه هلته تللی‌د ه اوعقیده داسی ده چه دسنځر خیلو(کاکړو) نیکه‌یعنی سنځر نیکه‌داسی ضرورت محسوس کړ چه‌ز ما ا وزماداو لاد دپاره یو پیر سید ضرورت دی په دی اساس افغانستان ته دخوستی ساداتو نیکه ته‌چه په‌خوست کښې‌اوسیده ورغی او خپل عرض‌یی‌ورته وړاندی‌کړنو خو ستی‌سیدخپل یو زوی دسنځر نیکه‌سره ژوب ته‌ولیږلو چه هلته د اسلام دمقدس او سپیڅلی دین اساسات خلکو ته‌بیان کړی.

کله چه هلته ورسید سنځر نیکه‌ورته ځمکه ورکړه داهغه وخت دی چه دشرق په ځینو سیمو باند ی‌مغلو حکومت درلود.

سیدان گل خوستی دجنوبی پښتو نستان په خلکو کښې ډ یر مشهور دی.

ددوی ز یارت داپوزی تحصیل‌دی او ددوی په مزار لنگر جاری او ملنگان ورباندی ناست وی .

ددوی په‌کورنۍ کښې ځینې نو رمشهور کسان هم تیر شوی دی چه دشیخا نو او آغ گانو په نو مو یی‌په‌ژوب کی‌شهرت درلود ځینې یی اوس هم مو جود دی او له‌دی ځا ی‌څخه نورو سیمو ته خپاره شو ل .

دوی دپښتنو او بلو څو په مبارزو کښې لوی لاس در لود انگریزا نو په‌دی جرم چه دی وطن پرست اوخلکو په‌راویښو لو کښې فعال رول اری بندی کړ مگر بیایی هم خپلو مجاهدو ته دژوند تر اخیره دوام



ACKU

ورکړ سره دډېرو آر مانونو یې له‌فانی جهان نخه‌وداع‌وکړ ه قبر یې داپوزی تحصیل په هدیره کښې چه‌ددوی خپله مورنی ځمکه ده.

**سردار سید پالی شاه خوستی :**

دغه مجاهد دسردار بهادرسیدکتهوشاه زوی ؤ او دخوستی سنا داتوسره یې‌تعلق درلود داپوزی تحصیـــل ددیوال (حلقه کویته) نو می کلـــی اوسیدونکی ؤ دانګریزا نو سره یې‌په‌ژوب کښې ډېر جنګونه کړید ی ددوی دیوال (سیلیازه) او نـــور وځایونو جهادونه‌تاریخی حیثیت لری په‌اکثره پیښو کښې ورسره کشـــر ویرور سید ګتهشاه او ورارو نـــو سردار سید بازخان اوسر دار سیدرحمتاشاه اوپیاوړی زوی یې‌سردار سید شین ګل شاه او ملك صوباخان‌ملګری وو. دده زوی سید شین ګـــل شاه‌په سنځاوی کښې اوسیـــږ ی‌سنځاوی داور لایی په ضلع کښـــې یو تحصیل دی. سردار سید پا لـــی‌شاه په ۱۹٤۹ عیسوی کال کښـــی‌په لورلایی کښې دیوی‌اوږدی ناروغی له‌کبله وفات شو قبر یې ددیوال کلی په هدیره کښې دی.

توره یې له دی لاندی شعر نه ښکاره‌کیږی .

دوست خفه دښمن خو شحاله — پالی یې مړ راوړی دیوال لـــه
اسلام خفه خوشحال ګور کـــی — چه سردار مـــړ دخو ستـــی

دمیړانی په باب یې هم یو خـــوغاړی ښکاره کړیدی .

دسرك غاړی پـــه سر ی — دلته حیرا ت کـــړی پا لی
دسرك غاړی پـــه سر ی — تر جانان لوړ خیزی پالی
جنګ کـــوی پالی سردار — پرګورو سوردی دژوب‌میا ن

**سردار سید ګتها شاه خو ستی :**

دسر دار پالی شاه کشر وروراود۱۹٦۹ عیسوی‌کال‌داګست دمیاشتی په ۳ نیټه دیـــکـــشنبی په ورځ زاړه‌تحصیل په کلی کښې وفات قبر یې په سنځا وی دمانك یامانه نیکه‌پـــه‌هدیره کښې دی . ده دخپـــل مشر ورور سردار پالی شاه سره په‌اکثروجهادونو کښې برخه اخیستی ده په ختهٔ خوستی سیدو ؟

**سردار شیر جان جو ګیزی :**

دغه نومیالی مجاهـــد دسیـــف الله دتحصیل دجو ګیزی او سیدونکی او جوګیزی سنځر خیل کاکړ دی .

دغه نو میالی مجاهد او دده ملګروپه رښا ورځ دژوب پولیټیکل ایجنـــټ په‌خپل دفتر کښې مـــړ کـــړ . دده‌توریالیتوب او مړانی‌په حکله دغـــه لاندی غاړی وړاندی کیږی .

صدر رحمت دپه ایـــما ن　پرنگی کونهٔ‌ی‌کړی شیرجان
سپین شیر جان لستونی نغا ړی　پر بازار پر نگیان غـوا ړ ی
په دفتر کبنی پر نـگـیا ن　مـړه لـه لاسه دشیر جا ن

**سردار دوست محمد خان‌جوگیزی:**

دغه میړنی‌او پیاوړی دسرداربنگل‌خان‌پلارد سیف‌الله دکلی‌اوسیدونکی په خټه جوگیزی سنځر خیل کاکړو.

دوی او سردار سلطان محمد خان‌عبدالله زی څو څو ځله په شینکـی تانه دانگریزانو سره نـه یوا ځـی‌جنگیدلی بلکه ماتی یی هم ورکړی‌ده.

**سردار بنگل خان جوگیزی :**

دغه نومیالی مجاهد دسیف الله دکلی اوسیدونکی په خټه سنځر خیل کاکړ دپلار نوم یی سردار دو ست‌محمد خـان و. دی دموجـوده سردار محمد خان جوگیزی پـلار و دو ی‌دانگریزانو سره دکړه مرغه‌اوبابیی غره جنگونه ډیـر مشـهـور دی اومیړانی غاړی یی‌په‌لاندی‌توگه‌وړاندی کیږی .

دبنگل په مرگ خبرشو　ژوب له بیا پرنـگـیان سر شو
بنگل مړ تول یی دغره‌دی　گرد کاکړ یی په نامه دی
بنگل مری ارمان یی ډیر دی　یاسنځر لـه غمو سیردی

**سردار سلطان محمد خان عبدالله‌زی:**

دغه نومیالی دمینه بازار ســـره‌نږدی‌دسره‌ونکه‌نومی کلی‌اوسیدونکی اوعبدالله زی سنځر خیل کاکړ وودی موجوده مسعود عبدالله زی پلار دی په خپـلـه ده او سردار دوست‌محمد خان جوگیزی دانگریزانو سره په شینکی تانـه ډغری وهلی دی اوهغوی ته‌یی ماتی ورکړی ده‌دوی‌دملی مبارزی په ضمن کبنی دانگریزانو دمالیی او ټکس ورکولو نه ډډه اوغاړه غړولی وه . مگر دهمدی جرم پـــه‌گناه یی نوموړی‌بندی کړ چه‌دکویټی دښار بندی خانه کبنی یی څلـــو رمیاشتی وربانـدی تیری کړی .

دعمر تراخیره پوری یی انگریزانوته مالیه‌او ټکسونه ورنه کړل اوددوی ټول لقبونه چه انگریزانو ورته منلی‌وواو هم نور نواز شونه یـی ټول‌یی بیرته انگریزانو ته مسترد کړل .

**گل باران جو گیزی :**دسیف الله‌دکلی اوسیدونکی په خټه جو گیزی سنځر خیل کاکړ و دسردار سلطان‌محمد خان او سردار دوسـت محمد خان ئه جهادو نو ورروسته نـوموړی‌هم په شینکی تانه باندی انگریزانو سره جنگـ وکړ او دغه تانـه یی‌ورڅخه ونیوله دمیړانی غاړی یـــی

په لاندې توګه وړاندې کیږي .

چه شینکی تانه یی کښه ګل بارو سپور وا که پیاده

په شینکی به نه ختی ګل بار رود له به را تللی

دهر نایی او سنځاوې تر منځ چه‌کوم سرك دتور خان غره تیر یږي

دلته دلوی چك په‌نامه یوه سیمه پرته‌ده چه سرك ورنه تیریږي ګل باران

په دې سرك‌باندې یو انګریزوویشت.

لاڼ یې مړ کی په چك کښې میمې ژاړی په موټر کښی

## سردار کلا خان جو ګیزی :

دغه سردار دسیف الله کلــــی دجوګیزی سنځر خیل کاکړ و دقبیلې خخه ؤ . ده په خپله او ور سره یې‌تربور سردارقایم خان دانګریزانو سره ډیر جنګونه کړی دی دهند وباغ سره نږدې په (اور ګسه) کښې یې چه کوم جنګ دانګریزانو سره‌کړی دی دپښتنو تاریخ‌به همیشه‌په هغوی باندې افتخار کوی او دمیړانې‌غاړی‌یې‌په لاندې کر ښو کې‌وګوری

دور ګسی په چورا ن په ګورو ګډ شو کلا خان

کلا ځی قایم یی مل دی اور په‌سروګورکیانوبل‌دی

خو ځل مات یی کړو ګو ر ګیان تر جرمن سخت دی کلا خان

په لندن کښې پر نګیان په مرګ خوشحال دکلاخان

سردار شیرك عبدالله زی او کلاخان‌په ګډه هم انګریزانو ته سخته ماتې ورکړی ده لکه چه وایی :

یو شیر ك بـل کـلا خان وطن به‌رنګ‌کړی‌په‌ګورکیان

پوځ نه پریږی دی پـه لار ناست‌دی شیرك‌اوکلاخان

## باز جو ګیزی :

دسیف الله دکلی اوسیدونکی په‌خته‌جوګیزی سنځر خیل کاکړ وده او شیرك دانګریزانوسره په ګډه‌جنګونه‌کړی اوسختې ماتې یې ورکړی دی. چه دغه‌لاندې غاړی‌یې دمړانې‌ترجمانی‌کوی :

پـه دا شرو غ د نـبـی باز ، شیرك وژنی ګورکی

## اختر او نصر الله جان :

اختر په خته جلالزی او نصر اللهدسردار شیرین جان ورور جوګیزی کاکړ و دوی دواړه دسیف الله کلی‌اوسیدونکی وو . دانګریزانو دپلټن سره یې په (اوخلن) سخت‌جنګو نه‌کړیدی او شو خو کړته یې نور هم انګریزانو ته‌ماتې ورکړی ده. ددوی‌دمړانې او توریالیتوب په یاد دغه لاندې غاړی ګرانو لو ستونکو تــه‌وړاندې کیږي .

جنګ کـوی اختـر پکښې پر او خلـن ګرځی ملیش

اوپه همدې جنګ کښې د نصر اللّه‌خان ورور شیرعلي هم ورسره‌ملګری ؤ چه‌په یوه غاړه کښې داسې صفت‌شوی.

یو ا ختر بل شیر علي　　دواړه مضبوط مړه ګیان دي

**سر دار زر غون خان جو ګیزی :**

دسیف اللّه کلي اوسید ونـکی‌جو ګیزی سنځر خیل کاکړ وو چه په‌ډیرو جهادونو کښې ئې بـر خـه‌اخیستې ده ظریف خان جو ګیزی‌او سر دار حاجي سیفو خان هم لـوی‌مجاهدین تیر شوی اودیادو لوو‌ړدی.

**سر دار شیرك عبدالله زی :**

دسر دار عمر خان زوی عبداللّه‌زی سنځر خیل کاکړ د شیرك کلي اوسیدونکی وو چه ددوی په نامـه‌مشهور دی.

ددوی دلو یو تاریخي جنګو نوځخه دلوی بند۔ مینه با زار او ګهل یادولي شو په اکثرو جګړو کښې‌په‌ورسره خپل نو میالي زوی سر دار شیر علي او ځـــني نـــور ملـــی‌مجاهدین هم ورسره ملګری وو.

دغازی سر دارشیرك دمیړانی‌غاړی.

په شیرك سر دا ر تنګسه ده　　پلټـن ګـرده دګـو ره ده
یـه دا شـر ع د نبـــی　　باز، شیرك ولي ګو ړکي
یو شیرك بل کـلا خـــان　　وطن به سور که په ګور ګیان
یو شیر ك بل شیر علـی　　وطن به پریږدی په ګو ر کي

**سردار خالو خان بانوزی :**

دسیف‌الله کلي اوسیدونکی په‌ختته بانوزی سنځر خیل کاکړ وو د ژوب دانګریزی پوځ دملیشی په‌یوه‌څوکی یی حمله وکړه اودکلا دروازه یی ورماته کړه دده‌یادګار غاړی چه‌دپښتون تاریخ په رنګینو پاڼو کښې به‌دتل دپاره مو جودی وی وګوری:

دحنت ماڼـی مـیند ی کـړی　　خالو ماتـی درو ازی کـــړی

به‌دغه حمله کی ورسره خپل‌ورور سکندر خان ملګری وو اودوی دواړو داسې فیصله وکړه.

د کـلا یـه د یـوا لـــو　　سکندر وایی ایه وړو خا لو

**امیر خان جه ګیزی :**

دسیف اللّه کلي اوسیدو نکی‌جو ګیزی سنځر خیل کاکړ وو.دی اودښمن غازی فیض محمدبانیزی‌هم‌ددوی سره دانګریزانو په جګړوکښې ملګر ی وو.

## مشو خان مرانی :

مشوخان دژوب له مړنو شیرانوپښتنو ځخه وو دوی په سلیځه له انګریزانو سره ډیولوی جنګ‌وکړپه‌جنګ کی‌دغه حریت پسندی غــازی شهید شو انګریزانو رمر ځنی پری‌کړ او لندن ته ئــــی یووړ پـــــــه نارو کی داسی ستایلی شوی دی.

د مشو لنډ ی ټو پك و و لــه‌وړو مــر دکــو ډك وو
پرسم میدان‌یی‌خلاص کړی‌په‌را توی شو پر نکیان
غزا وکړه ماشو خان
مشــو خان ســـنا ر ی سر د پر ی کړ پر نگی
ولایت ته‌دی حیران او پریشا ندی پر نگیان
غزا وکړه ما شو خـــا ن
احمدی در گــه چنــا ر په‌خوب ویده دی مشو خــا ن
په خوب کی ئی‌لیدلی یونبی ځلوریاران
غزا وکــړه مشــو خــا ن ـ

مشو خان دژوب دملیشی‌جمعه‌دار وو ځه وخت چه‌انګریزان ددوی سیمی‌ته راغلل ده‌له انګریزانو سر ه‌په سلیځه کی جنګ وکړ په‌همدی جنګ‌کی په شهــادت و ر سیـــداو دده له شهــا دت و ر و ستـــه یو شمیر مړانو ډیر سخت جنګونه‌کړیدی‌لکه سردار مرتضی خان مرانی سردار احمد خان ، نارسك مو سی‌برخوردار، لنډك،عالم‌ګل اوداسی‌نور چه ناری یی دادی .

پورته شو غازیان پاس دغرو‌په‌مړانو باندی
ښکته یی‌نوم پروت‌دلندن په‌پرنګو باندی
پور ته‌شو غازیان راوتلی شپږمړونه وو
دو مره‌حال می‌نشته‌چه له‌دهنی که‌لواړه‌وو
برید یی باند ی وکړی دهنــگی‌په‌پرواګی باندی
ښکته‌یی‌نوم پروت دی‌دلندن په‌پرنګی‌باندی
پورته شول غازیان یو غازی می‌عالم ګل وو
دجنت‌ز یـــړ و تـــــی ګــــل و و

حوری پسی ښوری ډیری میــل‌په ښکار ی‌باندی
ښکته‌یی‌نوم پروت دی دلندن‌په‌برنګی‌باندی
پورته شو غازیان یو غازی پــه‌نوم نارسك وو
دده‌لاس‌لــه‌جوته جرم بدی په‌مړانه‌باندی



ACKU

ښکته‌یی نوم پروت دی دلندن په پرتگی باندی
پورته‌شوغـا زیان اواخیر وویل برخورداره
**شاه جهان جوگیزی :** دسیف الله‌کلی او سیدونکی جوگیزی سنځـــر خیل کاکړو ډیرفقیر خویه ســړ وودانگریزانو سره یی ډیری جگړی‌کړی دی دسنځاوی نه‌لس میله ښکتـــــه(دوکی) په‌خواپه‌بغاوه‌نومی ځای‌کښی یی دانگلیس سره ډیر لوی جنګ‌وکړاوپه دی جنګ کښی انگریزی پـوځ ماتی وخوړه چه دده‌له تاریخی‌جګـړوڅخه شمیرل کیږی .
بخت نامه مرحومه : څه ډول چــه‌نارینه ځوانانوپه جهادونواو غزاګانو کښی‌برخه اخیستی پښتنی خویندی‌هم‌بی‌برخی نه‌دی‌پاتی شوی چه‌بخت نامه هم ددی ډول‌پښتنو میرمنو څخه‌گڼل کیږی .
دسیف الله دکلی اوسیدو نکـــی‌په‌قوم سنځر خیله کاکړه‌وه .
څه وخت چه انگریزانو ددغـــــی‌نومیالی‌میرمنی میړه بندی کړ پـــه رڼا ورځ دغی پښتنی میرمنی یـــــوانگریز او یوسیك‌په‌تومانچه وویشتل او بیانو انگریزانو دا نو میالی‌میرمن‌په مچ بند کښی بندیوانه کړه چه په کاکړی غاړو کښی داسی ستایـــــل‌شویده .

| | |
| --- | --- |
| سورد مړ کړ سیك زخمی | بخت نامی خان دکړ غازی |
| قام دپری پسی شی په نیمی | بخت نامه مچ‌له‌وړی پیکی |
| ور وربه کړو پیسه پیســـه | مچ له دی نه وړی بخت نامه |

**سردار حسن خان کبیزی :**
دژوب دسیمی داپوزی تحصیل دیـوه‌کلی اوسیدونکی وو په‌قوم کبیـــز ی سنځر خیل کاکړ وو دا هم‌دانگریزانوسره جنګیدلی وو په یوه غاړه کښی ستایل شوی دی :

| | |
| --- | --- |
| تا ته چا ویـــل ډپـتـــی | چــه حسن خان ژوب له‌راځی |

**دلور لایی مجاهدین**
لور لایی ته پښتانه بوری وا یـــی‌دغه سیمه دژوب دسیمی په څیر پـــه خپله لمن کښی ډیر ننگیالی ځوانان‌اوننگیالی پیغلی او میرمنی پرور ش کړی چه ورروسته په خـــــلـص د ول‌بیانیږی .
**مرحوم ساوڼ موسی خیل :**
موسی خیل او دموسی خیلودتحصیل‌اوسیدونکی وو .
دانگریزانو سره یی خونړی جگړی کړیدی‌اویوه‌کړی‌یی‌هم‌انگریزان‌پقراره نه‌دی پری‌ښودلی مگر کله‌چه‌انگریزانوته پلاس ورغی په دارییی وځیزاو ه او ځینی خلك په دی عقیده هم‌دی چه‌ورروسته ددار ختلو څخه انگریزانـــو دده‌مړی وسوزولواو ایری‌یی په‌بولان‌کښی دفن کړی ځینی خلك وا یـــی

چه دده مړی اوایری دسنځاوی دزاړه‌کلی دتحصیل په هدیره کښې دفن شوی دده په یاد یوه غاړه واوری :

دلته نشته پښتو نوا لـــه ساوڼ باسی لـه بازاره

**یارو کاکړ :**

دلور لایی دکاکړ و پښتنو څخـــه‌وو دغه نو میالی مجاهد دانګریزا نو سره ډیری جګړی کړ یدی دمړ انی‌په سندرو کښې یی داسی ستا ینه شوی‌ده .

دکاکړو رنګ یی ښــه کــی جنګ یارو تـــر غرمی وکی

**حاجی او فتح خان :**

دغه نومیالی دسیف الله کلـــــی‌دمیرزای سنځر خیل کاکړو څخه وو په لوړلایی کښې او سیده دحا جـی‌نوم معلوم نه‌دی خودفتح خان تره‌و دوی په بازار کښې له انګریزا نـــوسره نښته وکړه‌په‌لومړی جنګ‌کښې حاجی په شهادت ورسید او فتح خان‌بچ شو مګرپه دریمه ورځ دی هـــم انګریزانو دلورلایی دجامع جومـــا ت‌په سر باندی شهید کړ اودغه یـــی دمیړانی ناره ده چه په‌لانـــدی ډول‌وړاندی کیږی .

یو حاجی بـل فتح خـان په سم سرك وژ نی ګورکیان
هړ یی کړ پو لس کپتا ن په قوم څوك وو فتـح خان
دبوری پـه چوکوښوری سپین حاجی پر نګیان ګوری

**سردار ندر خان حمزی زی :**

ندرخان دحمزه زیو (سنځر خیـل‌کاکړو) سرداروو او دبوری دتحصیل دوهاری کلی اسیدنکی وو دانګریزانوسره‌یی ډیری جګړی کړی‌دی،دده لـه مرګه‌وروسته دده توریالوزامنوسرداربلوڅ خان سردار وزیرخان او نـورو ملګرو یی دانګریزانوسره ډیری‌ډغری‌وهلی دی .

**سردار بلوڅ :**

دسردار ندر خان زوی دی دده‌زوی‌سردار ظریف خان په لوړ لایی کښې اوسی .

سرار بلوڅ خان دځپلو وروڼـــــوسردار وزیر خان، سردار سکندرخان سردار حیات خان ، ښادی خان اولعل‌خان په مرسته ډیرجنګونه کـــړیدی چه‌ددوی له جګړو څخه دکړ او غـره‌اووهاری جګړی ډیر تاریخی‌اهمیـــت

انګریزانو دوی په‌یوه نښته کښې‌ونیول او دمچ په بندیخانه کښې یی بندیان کړل دوهاری ټول جایداد اوځکمه یی لیلام دبند نه راخلا صیـــد وروسته بلوڅ خان مړ شو چه قبریی‌دقندهار پـه معروف نومی ځای کـی



ACKU

دی‌او مړانی غاړی یی‌دادی .

روڼ ټوپك رڼه کارتوسان    له غوروراتوی شو بلوچ خان
لاڼ به نه وی په آرام    یو لعل محمد بل بلوڅ خان
په مچ کښی دوه قید یان    په غرو کښی گرځی بلوڅ‌خان
بی پر وادی بلوڅ خان    وطن به رنگ کړی په گورکیان

**سردار وزیر خان حمزه زی :**

دسردار بلوڅ خان کشر ورور وودی مجاهد دخپلو وروڼو سره په اکثرو پیښو کښی برخه در لوده‌دوی یووار میختر سره نږدی په سیغات رودباندی له انگریزانو سره جنگ وکړ دلته ده دانگریزانو دپوځ افسر په خوله ویو یشت لکه چه‌وایی :

دخولی په میان ولی گور کیان    د حمزه زیو سردارا ن
دوهاری په تا نه    وزیر خان جو ړه کړه‌میله

**ملك باران خان کدیزی :**

دبوری کلی (حنکی) اوسیدو نکی‌په ختهه کدیزی سنځر خیل کاکړ وو دموجوده ملك مهتر خان کدیزی‌پلار دوی هم دانگریزانو سره ډیر جهادونه کړی وو دغه یی دمیړانی‌غاړی :

لاړ کو یتهه کښی خوشحا له    سنا دفتر بند دی بارانه
پری خفه دی ټول جها ن    په مر گ خبر شو دبارا ن
مهتر سپین پټکی تړ ی    دباران ځا ی نه دی خالی

**جانان حمزه زی :**

دبوری‌دتحصیل‌دتوری کلی‌اوسیدونکی‌و په حتهه حمزه زی سنځر خیل کاکړ و دوی ټول عمرله انگریزانو سره په‌مجادله کښی تیرکړ دوی په بوری ژوب او دژوب په‌سرحد له‌انگریزا نوسره ډیر جنگو نه وکړل دتاریخی جنگونو څخه یی دسیبت غره اوبوری‌جنگونه‌مشهوردی‌اواخیر په‌افغانستان کښی مړ شو .

سپین کالی دنری سا ن    دغرو په سر گرځی جانا ن
سپین پر تو گ یی په چتو    گرځی جانان په سرا نو
اوس به راشی ډیر تپیا ن    پر سیبت جنگ کوی جانان
سل یی مړه کړو سل تپیان    جاغور یی ډك دی دجانا ن
نه کوی دتو ری میا ن    دامیر تخت له ځی جانا ن
په انگریز کوی نخر ی    د جا نان چاری دپا لی

**ارسلا خان اتما نخیل :**

اتما نخیل سنځر خیل کاکړ دلـورلایي سیمي اوسیدونکی ډیر ستـــــر مجاهد تیر شوی دی یوروایت دی چه‌په‌یوه نښته کښي انګریزی سپاهیا نو دده نه توره ونیوله اوپه خپله ګیره‌کښي یی را ووست مګر بیا هـم دی ستر مجاهد په‌خپله چاړه ډیرانګریزی‌سپاهیان دجهنم کندی ته ولیږل لکه چه په‌یوه ناره کښي په‌دی ډول صفت‌اوستاینه شوی ده .

توری نه کاوه خــورا ك ارسلا لاس کی چاړی تــه

په همدی مبارزه او جـنــګ ددی‌نومیالی په‌نصیب دشهادت جام شو.

**خدایداد مری :**

دزکی دسیمي او سیدونکی پـــه‌خته مری اوله انګریزی پوځونو سره یـــی لوی لوی جنګو نــه کړی دی‌همدغه جنو ګونه چه د(دکی) پـــه سیـمــه کښـــی یـــــی کــړ یدی زیات تاریخی اهمیت لری او داســـی ستایل شویدی .

پر خدایداد مری تنګسه ده پلـتـن ګر ده دګوره ده

**سردار باز خان موسی خیل :**

دموسی خیلو دسیمي اوسیدو نکی‌ډیر لوی مجاهد تیر شویدی ستا ینه یی‌داسی شویده .

قـام بـه خود کوی لو یی لاڼ دباز خان پـه رضا ځی

**ملك سید ژرك شیخ ځرمنی .**

دبوری اوسیدونکی په خته چر می‌سید ؤ . ډیر مجاهد او مشهور مبارز تیر شویدی دلور لایی بازارخخه چه‌داپوزی لور ی ته‌چه کوم سړك ګرځی دلتــه دګنجـی جـا مع جومــات اوسرك تر څنګه لویه هدیره ده چـــه قبریی په همدی هدیره‌کښي دی ددی‌نومیالی مجاهد دبوری جهادونه ډیـر اهمیت لری .

# دخان عبدالصمد خان اڅکزی لنډه سوانح

خان عبدالصمد خان اڅکزی دحاجی نور محمد خان زوی دگلستان دکلی اوسیدونکی په ۱۳۲۸ ه.ق کښی زیږیدلی په خصوصی توگه یی د علما و څخه دینی مذهبی علوم ولوست پښتو دری او عربی کښی دمعلوماتو خاوند شو چه په دی وسیله یی په څلورو کالو کښی ترانم ټولگی پوری خپل تحصیلات په مخ بوتلل او په همدغه وخت کښی دخان په زړه کښی دقوم او وطن مینی ځای ونیو.



**خان عبدالصمد خان اڅکز ی.**

په ۱۹۲۱ ع کال کښی هندته ولاړ او دلاهور دکانگرس په غونډه کښی چه کلنی غونډه وه گډون وکړ او داستعمار خلاف جذاب تقریرونه یی وکړل چه کورته بیرته راستون شو ټول حال یی خان محمد ایوب خان اڅکزی او خپل ورور عبدالسلام خان ته بیان کړ. اودری واړو دسیاسی ټولنی په جوړولو اقدام وکړ انگریزان ددوی دغه کارحیران کړل اودسیاسی تحریك په طور یی دری واړه په جیل کښی واچول اوداهم ورته وویل شول چه که چیری تاسی لدی تحریك نه لاس واخلی دجیل څخه به خوشی شی مگر دوی خپل جیل په دی کار غوره وبللو. ډیر زحمتو نه یی تیر کړل بهجیل کښی یی (دلوږی اعتصاب) وکړ څه وخت چه دبندنه خلاص شول په جنوبی پښتونستان کښی یی دسیاسی تحریك دمرکز په جوړولو لاس پوری کړ د ۱۹۳۲ ع کال ددسمبر په میاشت کښی دسند او جنوبی پښتونستان په پوله دیعقوب آباد په مقام دخان عبدالصمد خان ترمشری لاندی دملی تحریك بنسټ کیښودل شو په ۱۹۲۸ عیسوی کال کښی خان عبدالصمد خان اڅکزی اوخان محمدایوب خان اڅکزی دانجمن وطن په نوم یو سیاسی حزب جوړ چه دخدا یی خدمتگار او دهند دکانگرس لخوا په

رسمیت وپیژندل شوچه ددی تحریك‌په وجه څوځو ځله بندی شوی هـــم دی .

په ۱۹۳٦ ع کال کښی نو مو ړی‌خان په‌شخصی پیسو چا پخا نـــه خریداری او استقلال نومی اخبار یی‌جاری کړ دغه اخبار په ۱۹۵۰ ع کال کښی دپاکستان لخوا مصادره اوضبط‌شو چه خان په ۱۹٤۸ ع کال کښـــی دپاکستان لخوا بندی اوتولنه یـــی‌ورانه پاتی شوه دانجمن وطن دحزب ډیر غړی ونیول‌شول او ځینو یـــــی‌دتوبی غروته هجرت وکړ اود تو بی په غورونو کښی یی دخان محمد ایوب‌خان‌اڅکزی‌ترمشری‌لاندی ایالتی‌مرکز جوړ کړ .څه وخت چه خان عبدالصمدخان دبند څخه راخلاص شو مگر په کور کښی نظر بند و خو بیا هم سره‌لدی نوموړی آرام‌پاتی‌نشو.دانجمن وطن دبیا راژندوی کولو دپاره یـــی‌کوشش وکړ مگر ددی کار اجازه‌ورنه کړی شوه . پس‌لدی دوه نور حزبونه‌منځ ته راغلل یو دورو پښتون او بل داسمانګل په‌نوم چه‌دلومړی مشرخان‌عبدالصمد خان اڅکزی او دوهم مشر شهزاده عبدالکریم احمد زی و .

په ۱۳۳۹ هـ .ش کښی چه‌دجنوبی‌پښتو نستان سیمه دپښتـــو نستان دآزادی دغږ ښتو ددفاع مر کــــز‌ګرځیدلی و پاکستان مارشلایـــــی حکومتونو بندیزونه ولګول او خـا ن‌اڅکزی په ۱٤ کاله بند محکوم شو.

کلچه چه خان عبدالصمد خـــا ن‌اڅکزی د۱٤ کلن قید څخه خو شی او دلاهور نه کویټی ته ورسول شــــوزیاتو خلکو دده تو دهرکلی وکړ چـــه نوموړی پدی وخت کښی هم دخلکـــوسره دپښتو نستان په باره کښـــی خبری وکړی .خان عبدالصمد خـــان‌اڅکزی د جیل په موده کښی ا و ل تولګی منشی فاضل دوهم دفارســـی‌ادب دریم‌دپښتوادب ، څلورم‌انګریزی متهریك پنځم ایف ای‌انګریزی،شپږم‌انګریزی اردو او داسی نور علـــوم ولوستل او په ازموینه کښی کامیا ب‌شوچه هرټولګی یی‌شپږ میاشتی‌معافی لرله دمعافیو سره یی ۱٤ کاله بـــندپوره کړ .

خوخان لادخپلوانو او دکــــوردوړو ړو سره یـــی لیدنه او کتنه نه و ه کـــړ ی چـــه د پـــا کستا ن‌حکومت په ګرفتار یو لاس پوری او خان صاحب یی په داسی حال کښی‌ونیوچه ده خلکو ته ویل چه دتشدد څخه کارمه اخلی اوله ده څخه علاوه‌یو زیات شمیر نور آزادی غوښتونکی هم ورسره ونیول شول .

خان عبدالصمد خان د ۱۳٤۸هـ .ش‌کال دافغـــانستـــان د استقلال پـــه جشن‌کی ګډون‌کړی‌اودځوورځوتیریدووروسته بیرته جنوبی پښتو نستان


تهستون شو چه پهدی سفر کښې څوتنه نور پښتو نستانی مشران هم د خان صاحب سره ملگری وو.

مگر څو موده وروسته بیا خـــان عبدالصمد خان دنورو سیاسی بندیانو په ډله کښې دبند څخه خـلا صـــ شو .

اوس خان عبدالصمد خان یو بـل حزب دپښتو نخوا نیشنل عوامی پـه نوم جوړ کړی اودجنوبی پښتونستان ولایت جرگه کښې دوکیل (ممبــو) پهحیث دپښتونخوا دډلی نه کامیا ب شویدی .

# دخان‌صاحب‌محمد ایوب خان پیژندنه

زما داعقیده ده چه خپله پیژندنـــه په‌خپله لیکل ډیرمشکل کار دی ولی چه‌که ښی‌خبری‌اوروښان اړخونه‌لیکی‌خلك یی نه‌خوښوی اوکه بدی خبری اوتاریك پهلوگان لیکی زړه‌یی نــه‌منی نو ځکه خپل پیژندنه لیکل ډیر مشکل کاردی . بیو گرافی چه څوك‌لیکی نو هغه وخت یی باید ولیکـــی چه‌په دفتر کښی دعمل‌یوڅه سر مایه څوی زما دژوند خوداحال د ی‌چه‌څه چه‌تیر شویدی دهغه یاد دبربادی‌یاد دی او څه چه تیریږی هغه یـــــك حسرت آباد دی او څه چه راتلونکـی دی هغه اینه گنی دماضی او حا ل نو پداسی حال کښی چه که وغواړم څه ولیکم نوڅه به‌ولیکم خیر خو بیا هم چه‌څه لیکم هغه مجبورا لیکم .



خان محمد ایوب خان اڅکزی

زه دنوم په لحاظ محمد ایوب یم .

دختی په لحاظ پښتون یم .

دقبیلی په لحاظ اڅکز یم .

دسکونت په‌لحاظ‌په‌جنوبی‌پښتونستان کښی دگلستان اوسیدونکی یم .

دولدیت په‌لحاظ دمحـمد یعقـو ب خان زوی یم .

دعمر په لحاظ (٦٥) کلن یم .

دتعلیم په‌لحاظ داتم‌صنف‌فارغ‌التحصیل یم لیکن دابله خبره چه زه تر اوســه‌خپل ځان متعلم گنم‌او متعلم هم‌باالکل ابتدایی ولی چه زما عقیده ده چـــه‌دانسان عمر ټول تعلیم دی او ټـول تعلیم ټول عمردی .

دمسلك په لحاظ دحسن قدر کوم‌مگر ددامن کشانو حسن دسینه‌کشان نه.

دژوند په لحاظ درحم قابل یـــم‌ولی چه هم می قیدونه او کلفتو نـــه

کتلی دی .هم می‌جلا وطنی او دهغــه‌دردناکه مهجوریتونه . هم می‌دمذهبی اجاره دارانو دکفر فتواوی او دهغــه‌نفرتونه لیدلی دی .

هــم دپلار الارڅی او دهغه عتابونه‌هم‌می دعقربا وبی زاری او کناره‌کشی لیدلی اوهم می اقتصادی حر مــا ن‌نصیبی .

دذوق په لحاظ ډیر ساده واقــع‌شوی یم اگرچه بی رنگه نه‌یم .

داصولو په لحاظ دهر چا برداشت‌کولی شم مگر داحمقانو او بدتمیزانو درنګینی نه .دهرچا دتسلیم کیـــدوعادت لرم‌مگر داقتدار مستواوډوډی مستونه .

داخلاقو په لحاظ درهبانی نظـــری‌قایل نه یم ولی چه زه دمحسنه‌اخلاقو بهترین تعریف په محیط کښی دیـــومفید عضو په‌حیث ژوندکول بولم .

دعادت په لحاظ دژوند دادابو پــرځای کول څپله انسانی وظیفه گڼــم مگر تکلیف پکښی عذاب کول .

دطبیعت په لحاظ دنظافت او پاکی‌ډیر دل داده یم مگر تصنع پکښی‌کول داخلاقو زیان بولم .

نن اوسبا په‌کابل کښی او سیـــرم‌راغلی وم دپښتو نستان دپاره دیــــو څه خدمت کولو په‌خاطر مگرمبتلاشوم‌په بی عمله ادب یعنی په ذهنی عیاشی چه نتیجه یی خورجن ، دهایــــر ی‌او ایوبیات په صورت کښی ښکاره شوه او دغه دری سره لیکلی‌مجموعی‌زما دشلو کلودذهنی عیاشی هغــــه سرمایه ده چه فی الحاله نه پــــــه‌پاکستان کښی دطباعت امکان لــری اونه په افغانستان کښی هلته په دی‌ایوب گردن زدنی گڼل کیږی نــــو تصنیفات یی‌هم آتش زدنی تصو رکیږی ،و دلته په دی چه :

دویری غږ کولی نشم          دسوال یاری ده اوس‌به‌گه‌وډه شینه

غرض داچه دبی عمله‌ادب دری‌سره‌دعاقلانه هرزه مجموعی به دناچلا نده سکو په‌شان تر هغه وخته زما سره‌کوټه پراته‌وی تر څوچه :

یاوفا یاخبر وصل تو یا رقیـــب

بازی چرخ ازاین یك‌دوسه‌کاری بکند

دبرقی او بطرول څښلی سیا سی‌طبع خلکو پدی وجه معتوب یم چـــه دمحمد ایوب مذهبی عقیده داخلا قــوبلندی او تذکیه دنفس ده .

سیاسی عقیده یــی دپښتو نستان‌ده .

معشیتی عقیده یی سیر چشمــی‌ده .

قامی عــقیده یی دپښتنو وحــد تدی .

او ددغه علاوه سیاست یی لـــــه اخلاقه .
عبادت یی له قربانی .
علم بی له کرکتره دخدای لعنـت بولی.

او زما دغه دوستان چه اخـــلا ق انفرادی معامله او سیاست اجتماعی مسئله بولی نو ځکـــه سیاست او اخلاقوته په هیڅ علاقه او تعلق قایل ندی یعنی په نورو الفاظو کښی بایدداسی ووایو چه خیانت کول دروغ ویل ریا کار اوسیدل قوم او وطـــن خرڅول ځای او ضمیر شرمول قسم قسم حرکات اخلاقی بلل کیږی باید پـــه انفرادی معاملاتو کښی ممنوع وی او اجتماعیاتو او سیاسیاتو کښی دغـه حرکات ممنوع گڼل ددوی په عـقیده په خپله ډیره سخته سیاسی گـــناه ده چه زه یی دهرقدر کوشش با وجود تر اوسه نه په معنی پوه شوم او نـــه می آینده امید دپوهیدو دی .

دلته دا ظاهرول که بدوی وی بـه ولیکن بدمزه به نه وی وایی چه ځوانی حیوانی وی که دځوانی دغــه تعریف واقعی اوصحی وی نوکه زه دا ووایم چه زه پیدا سپین ږیری شوم ځـــوان سپین ږیری شوم او زوړ سپین ږیری شوم غلط به نه وی ولی چه ځوانی هم راغله او هم لاړه مگر حیوانی مـــی و نه لیدله او نه پری پوه شوم نه می رندان جراتونه ولیدل او نه می دهغه خوندونه.

نه می دفکر فضول دنیا وکتله اونه دهغه روحانی عذابونه ددغو ټولـــو محرومیتو په بنا اوس په دی خـــیال ژوند کوم چه ای خدا دکړو گناهانو سزا خو به ضروررا کړی آیا دنا کرده گناهو دحسرت عوضونه به هم وی که څنگه ؟

په آخر کښی دافقره بیا تکرار کوم چه څه عمر چه تیرشویدی دهغه دیاد دبربادی یا دد ی اوڅه چه تیر یږ ی هغــه یکســر حـــسر ت آباد د ی او کوم چه راتلونکی دی منطقی نتیجه و گڼی دماضی اوحال .

**محمد هاشم خان غلزی :**

هاشم خان غلزی دمرحوم باز محمـــدخان زو ی او د۱۹۰۸ ع کال دجولا یی په ۱۵ نیټه دمحکوم جنوبی پښتونستان په کویټه کښی زیږیدلی دی .

نیکه یی دامیر عبدالرحمان خان په وخت کښی دخوست حاکم وو. کله چه دده نیکه دافغانستان نه دلســـــوزرو کهوغلزو سره په ۱۹۸۰ ع کا ل په پشین کښی واړول خان محمـــــدهاشم خان بیا وروسته په کو یټـــــه کښی دیره شو .

خان محمد هاشم خان غلزی دمور له پلوه دمشهور پښتون مجاهد ا و روحانی شخصیت ملا مشك عالم سره نښلی ځکه چه دده مورد مر حو م ملا

مشك عالم لمسی وه او اوس دخا ن ماماگان پهغزنی کښې مو جود د ی.

محمد هاشم خان غلزی په ۱۹۱۶ کال کښې دکوټې په (مد رسـة القران) نومې ښوونځی کښې شامـل‌شو. او تر څلورم ټولگې پور ی پـه اعلی‌درجه کامیاب شو. او بیا پـه۱۹۱۲ع کال کښې دکوټې په سنډیمن هایی سکول کی داخل شو تـر۱۹۲۹ع کال پورې یې په همد غـه ښوونځی کښې درس ووایه . تردی‌وروسته یې دپنجاب یونیور ستـی میټر یکولشن یعنی دلسم ټو لگـی‌آزموینه په‌ښه توگه ورکړه او پـه سرکاری خرڅ لاهور ته ولیږل‌شو .او ددغه ځای په اسلامیه کا لـج کښې‌یې تر ۱۹۳۱ع کال پورې درس‌ولوست او په همدی وخت کښې‌یې درشد اولیاقت حاصلو لو کار شروع کړ. په‌عمومی تاریخ اقتصاد، فلسفه او نفسیاتویې ژوره او پخه مطا لعـه‌ئی‌شروع کړه مگر زیاته مینه یـی د فلسفې عـلو مـوسره وه او دهمد ی‌میلان په‌وجه دپنجاب پو هنتو ن په اعزازی او افتخاری کورس کښـی‌شامل شو. چه‌دوه کاله داسلا میـه کالج دفلسفې سوسایټی مهتمم ا وسکرټر و. اوپه همدی وخت کښې‌یی دهندو ستان د ځینو سیا سـی‌شخصیتو نو او شاعرانو او لیکوا لو سره رابطه قایمه کړه لکه مولا نـا ابو الکلام آزاد، مو لانا محمد علـی جوهر، علامه یوسف علی، علا مـه اقبال، داکټر تاثیر او مولانا حبیـب الرحمن لودیانوی او نور.

دهمدی متعلمی په دوره کښې یی‌دمحکوم جنوبی پښتونستان دز د ه کونکو یوه ټولنه د(بلو چستـان‌سټوډ ینټس ایسوسی ایشن) په‌نامه جوړه کړه چه د وه کاله یی‌مشر ی‌دده په‌غاړه وه.

څه‌وخت چه شهادتنامه یی وا خیسته‌خپل وطن کوټې ته‌راغی، دخـا ن عبدالصمد خان اڅکزی او نـواب‌یوسف علی مگسی په‌مشوره یی یوه ډله د (ملکی انجمن مسلمانـا ن‌بلوچستان) په‌نامه جوړه کړه دد ی ډلی سرمنشی‌دولس کاله‌دمحمدهاشم‌غلزی په غاړه وه. دی ډلی گر چـه سیاسی هدف نه‌درلود مگر دمحکوم‌جنوبی پښتونستان دښو نی، صحت ترقی او پرمختگ لپاره یی‌کار کاوه.

کله چه دا انجمن دوطن ځینـوسر دار انو دخیانت او داستعماری مصلحت او گټې په‌حکم ړنگیدلو تـه‌مجبور کړی شونو محمد هاشم خا ن غلزی دښوونکی دنده په‌غاړه واخیسته‌مگرپه ۱۹۴۵ ع کال کښې یې دچمن دعالی ښوونځی دسر معلمی نه‌استعفی‌وکړه او دسیاست میدان ته‌را گـډ شو. دپاکستان دجوړ یدو نـه‌وروسته دجولایی په‌اوو لسمه پـه ۱۹۵۰ کښې دمسلم لیگ حکو مـت‌لخوا دده پنځه سیاسی ملگری په‌دی الزام ونیول شول. چـه دوی د پښتو نستان دپاره دپاکستان پـه



ACKU

خلاف پروپاګنډه کوی‌چه دده داپښتنه ملګری میرزا صفی ا لله خــان ، مولوی عبد الله جان، محمد یو ســف‌غلزی، عبد الصمد درانی اوعبدالکریم شورش‌وو. دوی ته دمچ په‌خطر نا ک‌او وحشتناك جیل کښی د دریـــــو کالو بیګاری بند سزاء ور کړ ی‌شوه.محمد هاشم غلزی په‌بندیخانه کښی‌د ۹٦ ساعتو دپاره روژه ونیو له څکه‌چه دبندیخانی دکار کونکو چلند د دوی سره مناسب نه‌وو.

په ۱۹٥٤ع کال کښی دده په‌کور کښی دخان عبد الصمد خان ا څکز ی په‌مشری د ورور پښتون‌دقومــی ا ووطنی حزب تیره کیښودده شوه.مشر خان یی رئیس او محمد هاشم غلزی‌یی‌سکرتر وټاکل شوچه د دوی مرام دپښتونستان په‌لاره کښی مبارزه ا ودپښتو نستان آزادی وه. په ټــــو ل محکوم جنوبی پښتونستان کښی یی‌جلسی او تقریرونه او نور ډول ډول سیاسی فعالیتونه یی شروع کړل .

د ۱۹٥٥ ع کال دجولایی په ۱۷خان‌عبد الصمد خان سخت بندی‌شو ا و دهغه څخه وروسته دغه دروند پیټی‌خان محمد هاشم غلزی‌په‌غاړه‌واخست کله‌چه خان محمد هاشم خان غلز ی‌دخپلو ملګرو سره کراچی ته لاړ ا و هلته دقانون جوړونکی اسمبلی یعنی‌دموسسانو دمجلس له اعضاءووسره یی‌وکتل او دخپل منطق او استدلال‌او ورسره دسیاسی اهلیت‌او لیاقت په‌برکت یی د پښتونستان په‌باب دورور پښتون او خدایی خدمتګار وپه مطالبو یعنی دپښتونستان داو لــس‌په‌غو ښتنه داسمبلی اعضاء قا یــل کړل اودهغوی نه‌یی داتصویب‌حاصل کړچه هرقوم کولی‌شی چه د خپلــی ژبی په‌اساس ځانته یو واحد حکومت‌جوړ کاندی که‌ددو و صوبو په یو ــ ځای کیدو یادصوبو دځینو خلکو په‌یو ځای کیدو جوړیږی جوړ دی‌شی چه‌ددی تصویب داخیستو له کبلـــه پاکستان حکومت وار خطا شو اوددی ځای نه‌یی داسمبلی دړنګیدو تصمیم‌ونیو.

خان محمد هاشم خان غلزی دپاچا خان دلیدو دپاره دخپل یو تکړه‌ملګری سره پنجاب ته‌لاړ او هلته یی‌دهغوی‌سره وکتل.

اوس محمد هاشم غلزی دنیشنـــل عوامی پارټی یو تکړه ملګری او فعال کارکونکی دی اوپه‌دی ډله کښی پــه مختلفو عهدو حایز شــوی دی ا و د پښتونستان د آزادی دپاره‌خپ لــــو مجاهدو ته‌دوام ورکوی.

# سیال کاکړ

ولی محمد خان سیال دعبدالرحمان کاکړ زوی دزیږیدو نیټه یې ۱۹۳۵ عیسوی کال په شاه خوا کښې اټکل کیدای شی دزیږیدو ځای یې دپشین په تاریخی ناوه سرانان نومی کلی کښې په ختهٔ میردادزی علی زی سنځر خیل کاکړ دی .

تحصیلات : ایم- ای- ایم- ایل بی- ایډ .

ښاغلی سیال کاکړ چه دکا کړ ودپښتنو یو نو میالی شاعر او لیکوال دی دشعر نمونه یې په لاندی ډول ګرانو لوستونکوته وړاندی کیږی .

داکیږدی دپښتنو دی — چه ودانی په درنو دی
پکښی ناستی ښکلی پیغلی — ښایسته چه په ځا مودی
تر شنکی آسمان لاندی — ګڼی واړه په نغمودی
شاو خوا آزاد محیط دی — ټفنګچی یې په بغلو دی
ښځی وتی دی خواری ته — په لمنو کښی دغرو دی
بیا غوټی په سر راوخلی — زار اوانی په نخرو دی
هره یوه له نازه ډکه — له ټبره د درخو دی
دغه پیغلی دی مالداری — خاوندانی دی در مودی
چه راورسی کور و ته — دوی آبادی په شلمبودی
پی او کوچ او مستی واړه — دی بسیاره په منودی
پښتنی پیغلی خو شحاله — چه مړی په نادار ودی
هره ورځ په دوی پسرلی دی — چه وتل ئی په سیلو دی
سادګی یی د ژوند ښښه — بی پوډرو بی سر خو دی
ناجوړی نه شی ور تلای — چه هر وخت په تماشو دی
پښتنی پیغلی با تور ی — دوی په خیر دملا لودی
چه میدان ته ورو دانګی — چیری دوی په شاکیدو دی
پښتنی ننګ به پر ځای کړی — چه له پښته دننا زودی
هره مور به ننګیا ل راوړی — بیا مو ګټی دپلورو دی
نل دی ښادی وی داپیغلی — پټ یا لی دپښتنو دی
سیاله ته قضاوت وکړه — دوی ښاغلی په ځلمودی



ACKU

# دمرحوم عبدالصادق کاسي لنډه سوانح

مرحوم عبدالصادق خان [redacted] ملك حاجي عبد الله جان زوی ددسمبر په ۱٦ په ۱۹۳۳ عیسوی کال کښي دکاسیانو په کلا کښي پیداشویدی.

دهغه ابتدايي تعلیمات او منځنی تعلیمات په کویټه کښي ترلسم ټولګی پوری سرته رسولي اوایف ای ډګری یې په لاهور کښي ایف.سي کالج څخه لاس ته راوړی ده.



وروسته تردی دپولیسو په ماموریت کښي څلور کاله او پنځه میاشتي کاروکړ بیایي نو کری پریښودله اوپه تجارتي چارویي لاس پوری او مشغول شو او دیوی موسسي مشر هم و.

۱۹۵۸ع کال کښي یې واده و کړ چه اوس پنځه زامن اودری لو ښي لری کشر زوی یې دده دشهادت نه دری ورځي مخکښي زیږیدلی و.

مرحوم افغانستان ته دری ځله سفر کړی او دافغانستان داستقلال په جشن کښي یې برخه اخیستي ده.

مرحوم دسیاست ډګرته په ۱۹٦۳ کال کښي داخل او دملي عوامي ګوند **مرحوم ملك عبدا لصادق کا سي** دډلي سره ملګری شو. دوه ځله یې په انتخاباتو کښي برخه اخیستي چه اخیری ځل یې دپښتو نخوا ډ لـي په ټکټ په انتخاباتو کښي ګـډو ن وکړ.

په ۱۹٦۸ ع کال کښي یې ا تـه میاشتي دکویټي او مچ په جیل کښي دبند دوره تیره کړی چه په ۱٤ کلو بند محکوم شوی و.خوځنګه چه دده جرم سیاسي و وروسته لههغه دنورو بندیانو په جمله کښي دی هـم ر ا خلاص شو.

داجنوبي پښتونستان په زیاتـر وسیمو ګرځیدلی او همیې دبنګـال (بنګله دیش) دوره کړی مرحوم یـومیلمه پالونکی او دزیاتي حو صلـي څښتن و دهمدغه خواصو پهوجه یې به ډیره لږه موده کښي زیات شهرت

خانته پیداکړ چه‌حتی سیاسی‌مخالفین یی‌هم داخلاقو ،شرافت ، میړانی ، جرات، اوورین تندی قصی کو ی . لنډه داچه یوبی آزاره او سپیڅلـــی شخصیت و اخیر دپښتنو د دښمنانو له لاسه د ۱۳۵۱ هـ کال د ثور پـــه میاشت کی شهید کړی شـــود د ه په‌مړینه یوه مرثیه‌لاندی راوړل‌کیږی.

### شهید ته دعقیدت گلونه

پەسړه څمکه تودی وینی بهیږ ی — شاه څلمی دپښتونخوادی راوپښمیږی
دصادق دوینو څاڅکو ته و گـور ی — له‌هر څاڅکی شاه‌محمود افغان‌تو کیږی
په‌هیبته اصفهان کښی ز لـــز له‌ده — بیا محمود وانتقام ته روا نیـــږ ی
پښتانه بلوڅ به‌تل په‌یوه لار ځـــی — احمدشاه او نصیر خان داسی غږیږی
دواړه راغلل دشهید صادق مـزا رته — ملالی او تورپیکی. هم پری کـړیږی
ستا دو ینو په ولور کښی صادق‌جانه — ناوکی دخپلواکی. نـن راو دیـــږ ی
دآسیا دزړه درزداه‌نه پـو هیـــږ م — وینی‌څه‌دی‌سورسیلاب‌دی‌چه‌غوړمیږی
دغه مورته افغانان وتول سلا م کـا — چه‌صادق غوندی افغان ورځنی زیږی
بیزنجو به‌ولی نه ژاړی عالمـــــــه — چه خیر بخش‌اوصادق‌خان‌سره‌بیلیږی
اوس به چاته زه دننگ سندری وایم — یو صادق ووېل صادق نه پیدا کیږی

### قامی یو والی

دهغه قامی نژادی وطنی اوکلتوری اړیکیو او گډون په‌لحاظ چه دبلو څو او پښتنو په مینځ کښی مو جـو ددی مدعا دائبات دپاره یو هـم دشمالی پښتو نستان د خیبر داتحادقبایل دجمعیت دیوی سپاس نا مـی سوادوی چه‌دمحکوم‌جنوبی‌پښتونستان (بلوچستان) عطاء الله مینـــگل او عبد الحی خان بلوڅ په‌درناو ی کښی یی‌هغوی ته‌وړاندی کړی او دلته یی مونږ د محترم لو ستو نکو دمعلوماتو دپاره را اخلو.

داپریل په ۱۳( ۱۹۷۲) عیسو ی کال کښی چه‌د ۱۳۵۱ ش کال دحمل ۲٤ نیټه کیږی د بلو چستا ن دزعماؤ څخه عطاء الله خان مینگـــــل او عبدالحی خان بلوڅ او نورو دشمالی پښتونستان دخیبر دری پـه دور ه جمرود ته راغلل او دلته یی د اتحـــادقبایل دلیډرانو او غړو لخـوا ډیــر درو ند اوتودهرکلی وشو او ددو ی‌دتمانځلو په‌اړ کښی یی دا لانـــدی لیکلی سپاس نامه هم ورته ورووړاندی‌اوقرایت کړه.

په‌خدمت دعطاء الله خان مینگـــل او عبدالحی خان بلوڅ او دبلوچستان نورو عزت مندو میلمنو ! په تاریخی‌دره خیبر او ددی دری په‌تاریخی‌ځای جمرود کښی قبایلی پښتنی روایا تو‌مطابق تاسی ته‌ښه راغلی وایو ا و په دی باندی فخر کوو او زړو نه مو ډیر خوشحاله دی‌مونږ هغو بهادر و

دغه مضمون دهیواد اخبار چه په‌کوټه کی نشریږی خپور شوی دی



ACKU

بلوڅو قبایلو عزیزانو ته‌هم خرا ج‌تحسین وایو دکوموچه تاسی نماینده یاست او زمونږ یو مشر شاکر الله‌اپریدی چه مخکښی یی دبلوچستا ن دوره کړی وه او دبلو څو عزیزا نوچه هغه ته‌کومی مهمانی او دمحبت خلوص او شفقت مظاهره گړی وه دهغی خبری دلته زمونږ په حجروکښی اکثره کیږی .

گرانو میلمنو !زمونږ دقبایلو ا وجنوبی پښتونستان په منځ کښی د پیړ یوپیړیو څخه چه د ورور و لی‌کوم تاریخی علایق ثقافت رو حا نی او جغرافیایی یو والی موجود دی دهغو ذکر ستاسو رنګه مشرانو په مخکښی کول لمرته چراغ ښکار ه‌کول دی تاسی چه دجمرود شاو خوا نورانی غروته وګوری نوپه خپله به‌وپوهیږی چه‌په‌دی‌خاوره‌اودبلوچستان په‌خاوره کښی څومره نږ دیکیت ا ویو والی موجود دی.

گرانو میلمنو ! دبلو چستان دبها دروقبایلو په‌رنګ زمونږ قبایل هم دپیړیو پیړیو څخه آزاد ی‌خوښونکی راغلی دی. برطانیه سامراج خپل ټول وس وکړ مګر نه‌خو دوی دبلو چستان بهادراوتوریالی قبایل غلام کړل اونه‌یی زمونږ آزادی‌سلب کړای شوه.

گرانو میلمنو ! دبلو چستان ا وسرحد څخه دانګریزانو دتګ نه‌پس زمونږ د دواړو په برخو کښی پس‌مانده‌ګی راپر یښودل شوه. او د پاکستان دجوړ یدو پس‌هم تر ډیری‌مودی پوری دغه رنګ حالت روا ن ووخو بیاهم دزمانی دتګ سره سر ه‌زمونږ په‌قبایلی سیمو کښی هم د بیداری یونوی سهر په خلکو کښی‌پیداشو اودادی‌بیداری اثر دی چه د پښتونستان‌دقبایلی‌علاقواوسیموتعلیم‌یافته ځوانانو داتحاد قبایل په نامه بو تنظیم جوړکړ کوم چه‌با الکل اولسی دیمو کراسی اوترقی پسند تنظیم دی دتنظیم اصلی مقصد دقبایلودآزادی دتحفظ سره سره عام قبایلی خلکو دژوند لپاره خوشحالی غوښتل‌اوترقی کول دی. اودجمرود‌دی‌تاریخی کارته دافخر حاصل شو چه داډیمو کراسی اوترقی پسند قیام هم دلته په‌عمل کښی راغی یوڅو تعلیم‌یافته ځوانان سره راغونډ شول اودا تنظیم یی جوړ کړ.

گرانو میلمنو !زمونږ داخواهش‌دی‌چه دجنو بی پښتو نستا ن دقامی اسمبلی ممبران (نمایندګا ن )داسمبلی په‌کار روایاتو کښی زمونږ دقبایلی علاقو مسئلی مشکلات ا وزمونږ مطالبی هم وړاندی کړی‌په‌دوی باندی زمونږ دقبائیلو هم دومره حق‌دی څومره چه‌په پردو باندی جنوبی پښتونستان دخلکو حق دی غوا ړوچه زمونږ مشکلات هم‌لکه‌دآزاد ، حیثیت تحفظ صنعت او زراعت هر بالغ ته‌دووټ حق خلکوته دروزګا ر



ACKU

بیداکول معدنی وسایل په‌کارراوستل دښتلو صحی او زراعتی اوبو تجویز کول تعلیمی طبیعی او مواصلاتی چاری او داسی نو ر دڅوند د سمون دچارو دحل تجویز دجنوبی‌پښتو نستا ن‌مشران په‌نظر کښی و نیسی.

**دعبد الحمید نحیف زهری دبلوڅو ګوچیانو وکیل.**

ز ه دخپل کام‌اوله اواس ښځـــــه بیلـــتون نه منــم
چه‌دوحدت پـــر اســاس نه‌وی نو ژوندون نه منــم
بلوڅ پښتون ، پښتون بلوڅ دی‌بیل‌بی‌نه‌کاند ی ځـو ك
چه‌بیلیده کو ی ددوی زه ځـوك ما ذون نه منـــم
نسج دوجود مود قومی له‌تا را وېود جـوړ شو ی
کلچر مذهب‌آئین‌مو یودی بــل معجون نه منــــم
چه تفرقه اچوی قام کی ځان‌ځانـــی جـــو ړ و ی
وروركه می‌ځوی‌ړی یاتربور هغه پښتون نه منــم
مشر هغه دی چه‌قربان کړی ځا ن‌تر کام او هیــوا د
چه کام ته سپرد بلانه شی هســـی شپون نه منـم
کټه مویو تاوان مویو تیربه مو نه‌باســـی ځـوك
په ځان پوه شوی‌یو غلیم نه‌نور نسون نه منــــم
پارس له خلیج ښخه نیولی تـــر جنـــرال پـــور ی
پلازنی مینه د ه‌زمونږ زه‌بل قانون نه منـــــم
لکه پتنګ که دوحدت په ډ یو ه‌و سو ځیـــــږ م
زه‌ددی خپلـــی عقیدی‌ښخـــه بدلون نه منــــم
دکام وحدت می دی‌مطلب نحیــف‌زهری یـــم و لاړ
ملی پتنګ یم‌بی‌له‌سو نکه هیڅ مضمو ن نه منـم

## دخپلواکۍ غوښتلو شهیدان :

واوری دوطن په‌مینه دلیو نتو ب‌آواز :

هغه لیونتوب‌چه دافلاطون عقلی‌یی‌په پښو کښی سرږدی هغه جنو ن چه شور یی دعشق او زوری یی حق‌دی.

ای پښتنو ، اوای بلوڅو دا چغــه‌ستاسودوطن چغه‌ده‌اوداآواز ستا سو دقامولی انګازه ده هغه چغه او انګازه‌چه‌دهر پښتنانه او هر بلوڅ په زړه کښی لارکوی هرګوګل کښی ا و رېلوی هره سینه کښی جوش او مستی اچوی داسی مستی چه‌دخـــودی اوغیرت سره اغیزلی ده داسی اور چه دوطن دپاره نور داولس دپاره ر ڼـــااو ددښمن دپاره تاری داآواز ستاسو دوطن آواز دی ستاسو دقا مو لـــی‌آواز دی ستاسو دخودی او غیـــر ت آواز دی ستاسو دتاریخ آواز دی اوستاسو دپلارنیکه آواز دی.

دا آواز دخو بلوڅو له خو لـــې‌ختلی خواهنگ پکښې دنصیر خا ن او خوشحال خان‌دی .

نغمه یې دمیر خداداد خان اواحمدیارخان اول ده.

دانگازه دنورا مینگل او میر نوروززرکزی ده دآواز په حیدر آباداوسکر کښې پورته شوی خو مضراب یـې‌بې دقلات او مستونگ کو یتــې او جالا وان خیبر اوبولان‌نه‌دی داپیښـه‌په ۱۹۶۰ کښې شویده خو لړی او ځنځیریې دزرگونو کالو دی دا دهغې‌قافلې او کاروان حدی او نغمه ده‌چه دپیړیو پیړیو راهیسې دبلو چستا ن‌دغیرتی خاوری دخرما ووپه ځنگلونو او شگلنو ډاکونو کښې را روا ن‌دی‌اولاچلیږی دادمنصور چغه ده چه د دار په سرهم پورته کیږی او دتخت‌دپاسه هم ویستلی شی.

دقلات لوی خان ننگیالی احمد یارخان دولس کاله مخکښې دقلات پـه تاریخی مرکز میری کلا باندی دخپل‌اولس دننگ اوغیرت دخپل قام دسر بلندی اوپت دخپل وطن دځلانده ا وپر افتخاره تاریخ دژوندی ساتلـو د نرانو دمیړانی دیاد گاردتوریالودعزم‌او همت دوطن پرستانو داحساس او خودی دآزاد گانو دشرف اوو قـا ربیرغ و دراوه اوچغه یې‌کړه چه ا ی ملك نیونکو ای دوطن او قام دمینــې‌نه‌بې برخو ،ای دآزادی اوخپلواکی په‌قدر ناپو هو .

ای استعمار یانو اوای‌پاکستانیانو ،زمونږ وطن پریږدی. لوی خان داچغه چه دهر بلوڅ دزړه په‌تل کښې پرته‌وه‌پورته کړه‌ورسره‌دزرگونوسردارانو مشرانو سپین روږو او دوطن دآزادی‌په شمعه او دسو یو پتنگانو بلو څو اوازونه غبرگ شول دتوریالــو ا وجنگیالو بلوڅو ټوپکو خوشا لـــې وکړی باړونه یې وچلول دببر سروپه‌خړو خړو تیکوکښې چړو او تـورو وخندل او بریښیدی ددربار تو پونه‌لکه دیوان وغږ مبیدل او دملا ترچغی یې‌پورته کړی دی چغو سره دنصیرخان ،گوهر خان شهید ،نورا مینگل میر خداداد خان او زر گونو توریالونیکو نـو ههو کی راولږ زیدل تیری پیړی غاړوتې دننگ ډگروته‌وتښتیدل‌پیغلی مستی شوی ځوانانو بریتو نه تاو کړل اویو ځل بیاد سو ونو کالوهغه زوړ آواز چه د هر بلوڅ او هر پښتانه په نوی گوگل لین اوربلو ی‌دنور دیوزنځیر په‌شان وبر یښید او یوه‌کړی پکښې زیاته شوه.

داهغه‌آوازدی چه‌دوه څلویښت‌کاله پخوادایاسین په‌غاړه دپښتونستا ن دنومیالی فرزند باچاخان لخوا پورته‌شوی وو مگـر انگازه‌یې په‌بولان‌کښې وختنه او هلته زرگونو اولکونو بلوڅواو پښتنو ورتـه ټټر ووا هـه د وه څلویښت کاله پخوادوطن په‌پت ا وعزت داچغه‌دنادرافغان له‌خولی پورته

شوی وه.

داهغه چغه‌ده چه دغازی اکبرخان اوفاتح میوند شونه ونښکل کړی وه داآواز دری سوه کاله پخوا (میاروښان) اوخوشحال خان پورته کړی وو اوهر هغه چاپورته کړی هرهغه څوك به‌یی پورته کوی څوك چه دسردار ی دعوه دار دی دوطـــن مینه لری دغیرت اومړانی وینه په تیتیدو آموخته نه وی داد نوروز خان زر کزی آواز دی څوك چه شمله لوړه بریتـــو نه جـــګ ساتل غواړی څوك چه ځان ته نروایی او خپل قام ته‌یی دنرانی تمه وی ، زمونږ وطن پریږدی .

زمونږ خاوره خوشی کړی اوزمونږ له‌منځه وړوزی دقلات مستونـــګ ا و جالاوان په دڅاکونو دخیبر اوبو لا ن په‌دره داباسین او بحیره‌عرب په‌غاړ و دسکهراو حیدر آباد په جیلونوکښی داانګا زی اوزمزمی پورته دی. د ا آواز دتوپك له شپیلی وتلی دتور ی دخرپ نه‌پورته شوی دبلو څـــو تورسرو په‌ساندو او سندرو کښـــی په‌غوږوو رسیدلی دماشوما نو پـــه شور فریاد کښی دغوږ ونو له‌لیاری ږونو ته ننوتلی دی او تاریخ یـــی بیابیا ګردانوی.

داد نو روز خان زر کزی آواز دی دسلیمان غازی چغه ده دحسین عنقاء شعر دی داغا عبدالکریم تقریر دی .دګل خان نصیر دتاریخ پاڼه ده او د زړګونو هغو بلوڅو دزولنوشرنګاردی څوك چـــه مچ کویټی حیدر آبـــاد سکهر هری پور اوملتان په جیلو نو کښی دژوند شپی اوګړی شمارلی دی

دادهغو او ننګیالو چغه ده چه دجالاوان په‌او چتوسرونو کښی یی‌هم ویستی اوپه سکهراو حیدر آبادکښی‌یی د دارپه سر هم پورته‌کړه دادهغو اومړی او وروستی چغه‌ده داد هغوی‌نومړی آرزو او وروستی ارمان د ی چه‌ورسره په وینولړلی په‌اسو یلـــو ککړه په ظلم پټه په حسرتونو نغښتی یوه ماجراهم تړلی ده. او دبلو څـــواوه زمری اووه مجاهد ځوانان پـــه حیدر آباد او سکهر کښی دار تـــه‌وخیژول شول دایوه تاریخی حادثـــه ده یوه نه هیریدونکی فاجعه ده چه‌دهر پښتون اوبلوڅ زړګی پری غوڅ غوڅ دی دهر پښتانه بلوڅ پګړی‌پری لویدلی ده. دهر پښتانه او بلـــو څ سترګی پری تیتی دی دهغوی نفس‌نفس دهغوی دوینو څاڅکی څاڅکی‌او دهغوی دسر د داو شیبه شیبه دهرپښتانه اوبلوڅ پیغور دی او داڅکـــه چه یواځی دوی په دارنه کړی شول‌پاکستان دوی ونه‌وژل پاکستان دوی ته‌سپك نظرونه‌کړ بلکه دنوم بلو څ‌او پښتون ارزوګانی یی‌په دار کړ ی دهغوی ارمانونه یی‌ووژل دهغوی دجهاد اعلان یی‌تهدید کړ دپښتو ناو بلوڅ په‌غیرت پوری یی‌وخندل دهغوی‌تاریخ اوپکښی افتخارات یی ټول په اورپسی کړل. پاکستان‌په‌سپین‌میدان‌ټول پښتنون اوبلوڅ ته‌زنګون ووهاه

دا اوه تنه و نه‌وژلی‌شول نوم پښتون‌اوبلوڅ ته‌قبر و کیندل شود هغـــه غیرت او ننرانی ته‌گور جوړ کړی‌شو.

واوری داغم انګیزداستان او دا په‌غرور او پیغور ډکلی قصه او که څوك عبرت اخیستل غواړی که دچاستر ګی‌غړیدل خوښ وی‌او که څوك‌دپاکستان په‌آینه کښی دخپل څان او خپلـــو ارزوګانو تصویر لیدل غواړی.

په ۱۹۵۸ ع کال کښی د اعـظـم‌خان احمدیار خان دټول بلوڅ قــو م مشران او نمایندګان راوغوښتل اوهغوی ته‌یی دپاکستان داستعمار ی حکومت سره دبلوڅو د حقوقو په‌باب‌دټولو مذاکراتو اوکوښښونو ڊپو ټ وړاندی کړ. خان اعظم هغوی ته د اوویل چه‌پاکستان په هیڅ‌صورت موږ ته‌من حیث القوم په‌مو جدیت نه د ی‌قایل زه تاسو لوی جرګی ته فیصله سپارم دلویی جرګی په متفقه طو ریوځل بیاد قام اوملك دآزادی فیصله تایید کړه او دیوډیر شاندار تقر یر په‌ضمن کښی دقلات په‌تاریخی مر کز (میری کلا) باندی دخپلوا کی بیر غ پورته شو. دپاکستان حکومت پـــه دغـه وجه په قلات حمله وکړه دخان‌اعظـم بی عزتی وشوه کور یی پــه توپونوو ویشت په خپله خا ن اعظم‌ونیو لی‌شو اود هغوی کله اویـــو وړو کی زوی زخمی شو. بیشما ره‌بلوڅ سردا را ن وو ژلی شـــول او پاکستانی پوځ په قلات قبضه وکړه‌ددی ظا لمانه تجاوز په‌اثر بلوڅ قوم دخپل زاړه اوا تیا کلن مجاهد میـــر نوروزخان زرکز ی په قیـــــاد ت د پاکستانی استعمار په‌خلا ف جها دشروع کړ د پاکستان حکو مت شل زره مجهز عسکر سوونه توپونه اوټینکونه اوبیشما ره الو تکی‌په‌بلوڅو وګمارلی دری‌میاشتی د غلــــته اوروو ريد . زر ګونه خلك په کښی‌مړه شول کلی‌و را ن شو ل کښتو نــــه‌وسیځلی شو ل په ټو لو بلو څـــو مشرانو هر چیر ته چه‌ووقیود ولګیدځینی‌بندیان شول زرګو نه تش‌لاسی نربښځی بلوڅ عسکری کیمپو نو ته‌راوا ستول شول اود دی ټو لـــو باوجود هم چه او لسی مقاومت مات‌نه شو نود پا کستان حکومـــــت د چالاوان غرونو ته میر نوروز خان‌ته‌جرګه‌ولیږله دی جر ګی دهغه سره په قر آن مهر و لګا وه چه دملـــــی‌مجاهد ینو قـــومی مطالبا ت به منــل کیږی و لی‌چه کله د غه مجا هدسره‌دخپلو پېروانو را غی نوهغوی‌ګرفتار شول اوهغه تعذیب پری‌تیر شو.چه‌دحسن حسین په‌وا قعا تو کښی‌به‌یی هم مثال نه وی .

نوروز خا ن بالاخره په شل کا له‌او ور سره ګن کسا ن په‌شل شـــل کا له‌بیګاری بند محکو م شو ل اودهغه‌یو څوی او شپږو نورومجاهدینو ته‌دمرګ سزاء واو رو لی شوه .

د(۱۹٦٠) عیسوی کال د جو لا ی‌څلور م سبا د غم سبا وودی سهار



ACKU

سره دمړکت اودرد سرود ږو ددارپیغام ږو دا با سین چپی مړی‌روانی وی‌د (سر کلا) بر جونو تا لی‌ووهلی‌دجاله‌وان غرونه نسکور پرا ته‌وو. دنورا مبنګل په تت قبر کښی ډیوه‌نه بلیده د بو لان په دره کښی‌چوپه چوپتیاوه د بلو چستان زیګونه‌شاړپراته‌وو دخرما ګانو دو نو څانګــی کړی وی د هدیرو جنډی‌نسکوری‌وی‌دپیغلو اور بلونه وچ‌وو.دناویوګا نهی نه‌شرنګیدی اود بلو څو شهسوارانوګردونه ناست وو.دسکراو حیدرآباد په‌جیلونو کښی د آزا دی دلیلی‌اووه‌مینان نن د عشق په جرم دمینی په ګناه اود اخلاص په الزا م کښی‌ددارسرته ختونکی وو .

سرپه‌دار لك شوی بنـــه دی نـــه لك شوی په پیغـــو ر

جیلونه دوه وو څو ږ له یــوه وه‌سړی ګڼ وو خومد عا شریکه وه یو خوا ته د سکر په جیل کښی‌دننګیالوخان مړ بتی خا ن د تور یالو مشر میرو لی محمدخان‌اود غازیانوسردارمیرغلام رسول خان وو دوی دآزادی دمیدا ن دزاړه زمری او سپین‌ږیری‌سپه سا لار میرنوروز خان زرکزی سره‌په‌یوه جیل کښی وو بل خوا دحیدر آباد زندان وو چه په‌هغه کښی دصف شکنو رهبر میر مستی خا ن‌دبهادرانو قا ئید (میربهاوالخان) د دزړورو سر کښن (میر جمال خا ن)اود تور بریښو سردار (میر سبزل خان) وو ددوی نه دو طن دوفادا ری‌په‌ثبو ت کښی آخرین‌امتحان‌اخیستلی شو لاتراوسه ددوی میړانـــه ددوی‌رقیب نه منله ولی دوی د جانا ن‌کاله ته‌د تلو د پا ره ځانونه تیار کړی‌ووخنی‌یی‌غوړی‌وی سنتر ګی یی توری وی زیری بریتونه یی برابرووااونوی‌جامی‌یی اغوستی وی نن ددوی کورته لیلی را تله اودوی د هغی استقبال‌ته‌و تونکی‌وو. د پا کستا ن جلا تیان را غلل او په خپلو وظیفوودریدل‌اویو ننګیا لی ته‌وا یی ، د سر کا ری عالیه‌او حکو مت عا دل دا رسم دی‌چه هر څوك یه‌دار ختیژوی اوسولی ته یوړ ته‌کیږی نودهغه د وړو ستی‌ارما ن یو بشتنه کو لی شی ووا یه څه دیه زړه دی څه ارمان لری څـــه‌یادیږی او کوم شی دی‌په زړه آوری ددوی داکمان‌وو د هغوی‌داهوسی‌وواودا سی ګڼله چه‌دو طن او قام په ننګ دا پتنګا ن د منصوردا وړو نه‌اود خود دا ری دا فکرونه به اوس ژړانه بربنګ وهی دعفوی او رحـــم‌ساندی به پور ته کړی بز دلی به ددوی‌په همت غا لبه شی‌نوراوجانان‌به‌رقیب‌ته و سپا ری دکور غم‌دکهول اندیښنه دما ل اودو لت مینه‌به ددوی په زړونوراوا وړی او حسین‌به دیزید په پښو کی تیټ کړی و لی‌دهغوی به سنتر ګو کښی‌د پاکستان دبیرحمو وا کدارانو هغــه صحنـــی‌غړیدی که‌می چه په مستونګ‌جالوان اوقلات کښی تیری شوی په کو موکښی چه‌د تول بلوڅ‌قام‌مشردبلوڅو

سرداران اود خان اعظم د حر م تورسری اوما شوما ن له ویښتـــو او ګریوانو ته بنکل شول. د هغو ی په‌غو ږونو کښې د بلو څو ما شومانو هغو سلګیو اود زحم رحم چغـــوانګازی کو لی چه‌دپا کستان‌په‌بمونو یی‌غوښې شیندلی شوی. دپاکستان‌په‌ګولیو یی سینې غلبیل شوی .

ددوی دخپلوو رو نیو د کـورونواود کلا ګانو هغه آوازونه اوریدل کوم چه‌د پا کستا ن ویجاړوونکـــوبمونو نړ ول دوی هغه لو ګـی لیدل چه‌د پا کستا ن اوز لګوونکو بمونودبلو څـو دکښتو نو نه پورته‌کړی‌وو ددوی‌په غوږو نو کښې د هغـــــوځنځیرونو شرنګاه وه چه سو نــه بلوڅ پکښې یوځای پرا تـــه‌وو اودهغوی ګناه‌تش‌داوه‌چه هغوی‌بلوڅ‌وو اوپه‌خپلې قامولی یی فخر کاوه.

دوی ته‌دغدراو تـګی هغه ننداری‌مخکښې مخکښې کید ی اود قسمونو هغه درانه الفاظ یی غوږو نوکښې تاو یدل کوم چه د پا کستا ن نما یند ګانو دمیر نو روز سره‌دعهداو وفا دپاره خو ړلـی وو مګر بیایی تول هیر کړل. دوی د خپل و طن‌غلا می لید له ددوی ستر ګی‌دبلوڅو په‌خاوره دپا کستان بریڅو ته‌نـــه‌غړیدی دوی‌پوهیدل چه‌دا یو ډیر بی زحمه‌دښمن دی دا زمونږ د عزت‌او آزادی دښمن دی دده په‌و ړاندی دزحم آوا ز پور ته کول اودده نه دانصا ف او عد ل‌تو قع کو ل بزد لی ده اودبی همتی ثبوت دی او ځکه‌خوهغوی لکه د زمرو په شا ن شریکه چغه پور ته کړه چه :

زمونږ دا آرزو ده چه ز مونږ ملك‌پریږ دی او تری وو ځی.»

داوخت دهغوی‌په غو ږو نوکی‌دمیرنوروزدی آواز انګازه و کړه:چه ګوری‌بچو ،تا سو دخپل‌قو م‌اوهیوادپه‌وړاندی دوروستی امتحان ســـره مخا مخ کیږی که تاسی په‌دی‌امتحان‌کښې لږ پاتی وکړه نو دعمر ونـــو خوا ری به‌مو عبث شی اوددښمن به‌دا یقین شی چه بلو څ ته‌خپل ســر وطن‌نه خو ږ دی. ځکه خودوی وویل‌وشو مبږی اود زحم نو م مه اخلی تا سو زمونږ وا ړه بچی د بمونـــوخورا ك کړل تا سو زمونږ کلی او کورونه دځمکی سره هوار کـړ ل‌تا سو زمونږ په کښتونو داورباران وکړ او تا سو زمو نږ په کنډ وا لوبانډی ټانګو نه و ګر ځو ل .

داسی غدار او غا صب ځنګه حق‌لری چه‌د رحم نو م واخلی‌مونږ‌دخپل قوم اوو طن نه معا فی غواړواوداځکه‌چه څومره چه :

په‌کار ده‌او په‌مونږ څومره حق‌دی‌کیدی‌شی چه مونږ هغه پوره نه‌وی ادا کړی او کو تاهی مو پکښې کړی‌وی ددینه یوه‌شپه مخکښې‌دپاکستان ډاکترانو د زمرو زړو نو تو ته تله‌کیښوده هغوی ددی زمرو په مینو

ACKU

کښبی دمسلم لیگ زړونه ولټول‌دوی‌ته د آزادی په مینه سرور کو ل‌یو
دنه منلو خبره ښکا ریده د هغوی داخیال وو چه ددی خلکو دما غونه‌به
خرا ب ‌ی اود مرگ څپیړی به دهغوی د گوگلونو نه زړونه ویستلی
وی ولی ددوی خو لی هغه‌وخت‌وازی‌با تی شو ی چه کله یی دا نتیجه
واخیسته چه‌د هغوی هــر نبض اودزړه هر ټوپ د آزادی په‌یاد اود قام
په‌مینه مست اوسر شار غوز ځی‌اودمر گ وبره ددی نه ما تیدونکـــی
موز جی ته هیڅکله لارنه شی پیداکولی او ځکــه **خو یی په مات ز ړه**
رسماا عترا ف و کړچه‌مر گ‌به‌ددی‌سرداړانو دربا ر ته د مرئیی په‌دود
را ځی نه چه د تربوز اود بادا زپه‌لباس اوس هم د سند په جیلونوکی
دنرانبی د خا طرا ت په‌هره خو له اوهره ژبــه **زمزمه کوی دوی غو ښتل**
چه‌د ژ وند په‌دی‌و روستیو شیبوکی‌دآزادی د قا فلی د سا لا زا نـــو
توهین وکړی او لکه دقربانی‌گه‌وری‌مر گ به‌ښبو کښبی زا کا ړی او له
څنهونه یی **کش‌کا اندی ولی‌میر بټی‌خا** ن یوه د زمری څیره د پاکستان
دجلا تی په مخ حوا له کړه اوورته‌یی‌وو یـــل ته‌به پنجا ب تـــه پـــه
رخصتی ځی او هلته به داقصی‌کوی‌چه‌ماد باو څو څوانا ن لکه د میرو‌په
شا ن ددار حلقی ته کش کـړ ل ،بلو ځی نجونه به خپه شی اوپیغوز
به‌را ته‌و کړی د اسولی مونړداولی‌ورځی نه لیده دمردانو د پا زه یـا
تخت دی اویا نخته، ځم‌چه‌دپاکستان‌داستعمارنه دنجا ت دا یواځنی لاز
ښکل کړم اودا وخت هغه حلقه پــه‌غا ړه کړه.هغه لکه د منصور په‌شان
په‌خپلو ښبو دار ته و ر غی او لکه‌څوك چه داختر په ورځ‌په تال زانگی
دا سی‌پری و زنگید او ځمکی آسمان‌دهغه ننگیا لی دا نا ری او ریدی
چه بلو چستان‌زنده‌باد .پښتونستان‌زنده‌باد

سر کشته برا دز میزد نفس

که معرا ج مردا ن همینست‌وبس.

**میربټی خان د پا کستـــــــا ن داستعمار** له‌خوا د کړاو او تعذ یب‌په
تو له دوره کښبی د پا کستا ن گودا گیانوته د پښتنو څوابونه ورنه کړل
اودهر یوی **پوښتنی په مقابل کښبی‌به** یــی وویل ،**زه یو بلوڅ‌یم‌زه هغوی**
ته‌مسئول‌یم.مانه‌هغوی‌دپوښتنی کولوحق‌لری او بس او څه‌وخت چه میر
بهاو ل خا ن ددار حلقه ښکلو له‌نودپاکستان جلا تیانو ور ته وویل .
قران چه ستا سره دی هغه‌کیږده‌چه‌دخدای د کتاب تو هین ونه شی.
خو میر بها ول خا ن مجاهد په ډیره‌غصه‌ور ته‌وویل . دا هغه کلام‌الله‌دی

ليدل كيدل اوكبيزي‌اونس ئي پيروي‌كوي. دهمدی جوگی‌داولادی نه‌یوړتن چه تا سړ پا کستانيانو په‌هغه لوړه‌کړی اووعده مو کړی وه‌چه ز مونږ ملی‌حق به‌مونږ ته‌را کوی اوس‌موهغه‌وعدی او قسمونه هیر کړل اومونږ په دار کوی هم .

ددی معنی داده چه تا سی‌په‌خپله‌دا قران او خپل ایما ن په دار کو ی ژر ډیر ژربه د خپل عمل نتیجــــه‌و گوری .

میر صا حب ډیره گړی پـــه‌دارځړیده او ژوندی وو او لا دده غږ او کلمی مفهو می وی چه‌پله پسی یی‌داویل .

(ژوندی دی وی آزا دی )

او( ژ وندی د وی کا م)

**داخری ارمان څخه دننگرهاری لیکنه**

لیکوونکی کلیم‌الله‌خان متین

# اولس اوقبیلی :

دجنوبی پښتو نستان دبلوڅو او پښتنو چه په حقیقت کښی لکه څنګه چه موپه تیرو کر ښو کښی یادو نه‌کړیده دغه مشترك ملت په قبیلوی ډول په دی تپو و یشل کیږی.

کاکړ ـ شیرانی ـ پنی ـ سا پی، غلجی ـ ترین ـ اڅکزی ـ او سترا نا، وزیری ، سلیمان خیل ، خرو ټی ،ناصر اونور.

البته په خپل خپل ځای به د هغی‌سیمی دټولو قبیلو دپښتنو اوبلو څو او براهوی قبیلو ذکر او یادونه‌وشی.

### ۱ـ کا کړ :

کاکړ دغر غښت اولاد دی د غه‌قبیله په دریو څانګو و یشل کیږی لکه :

۱ـ سنتیا
۲ـ سنځر خیل
۳ـ سر ګړی

ددی سره یوه بله قبیله دا و ی‌نومیږی چه دکاکړو دورور داو ی اولاد دی او یو بل ګروپ لا مړ نومیږی چه دتور غریا تر غر قبیلی سره تعلق لری.

### سنځر خیل :

داقبیله دسنځر یا سنجر او لاددی چه هغه دشو غرك زوی اودکاکړ لمسی دی سنځر خیل په سا ران اوژوبی قبیلی باندی هم شهرت لر ی او دا چه دوی دسنجر او لاد دی نودنژاد دپیژند و نکو عا لمانو په‌عقیده سنجرانی همدا سنځر خیل د ی .سنځر نیکه خپل قام او قبیله کښی دیو رو حانی شخصیت په‌حیث‌عقیده‌لری. دمحلی روایاتو له مخی سنځر نیکه دشو غرك پس مر ګی زوی وه.دمور نوم ئی لرګی وه او دسو غر ك تر مرګ ورو سته خپل پلار نی‌کلی‌لونی (نونی) سیمی ته لاړه. چه دوه میا شتی ورو سته په لونی کښی‌سنځر زیږ یدلی دی. هغه و خت چه سنځر ځوان شو نو دخپلی مو رلزګی نه‌ئی دخپل پلار دنوم او پتی پو ښتنه وکړه او لزګی دخپل زوی‌په اصرار باندی دهغه دپلار سوغرك مهر هغه ته ورکړ .

سنځر ورو سته هند وباغ ته‌ورغی هلته دهغه ځای حاکم چه‌میرو نومیده دسنځر دوژلو قصد و کړخو سنځر له وژلو نه بچ شو اوداچه



ACKU

په قبیله او سیمه کښی ئی ځا ن ته طر فدا ران او ملګری پیدا کړیوو په میروئی حمله وکړه او خانکی کلاچه هغه حاکم پکښی میشته وو ړنګ کړه او میروئی وواژه او دهغه یو ملورئی په نکاح واخیسته .

ددغه حاکم میرو له لور نه دسنځر۱۲ زامن وزیږ یدل ددغه اولاد نه سنځر خیل یا سنجرانی قبیله زیا ته شویده چه دغه کوچنی قبیله تری جوړه شویده. سیزی چه دسیف الله کلی داختره ژیو یو ښاخ دی او په لویه کښی دهوتك غلجیوسره یوځای کیږی.

ادوزی، سلیما نزی، او کبیز ی دیوه پلار اولاد دی. سلیمان د کندهار یو سوداګرو چه دجنوبی پښتونستان کوسی سیمی ته و ر غی اوهلته ئی په بیه ځمکه وا خیسته اوپری میشته شو .

دسنځر د ۱۲ زامنو اولاد یعنی دسنځر خیلو یا سنځرانی قبیلی دکوچنی قبیلوی خانګو د۱۲ قبیلوتصنیف داسی دی.

۱ــ سلیمان خیل هم غلجی دی.

الیزی ــ ابد لازی ــ کیبزی ــ اورا مزی ــ اتمانخیل ــ بارات خیل ــ مسخیل ــ ارب خیل ــ پاریزون ــ تا ئیمنی ــ نیسانی ــ اوهندوسنځر خیل.

ددی قبیلونه پاریزون قبیلی دکویټی او پشین سیمی ته هجرت وکړ او هند و سنځر خیل دسیندولایت په شکار پورسیمه کی میشته شول.

اتمانخیل او ارب خیل لاړل دلورلائی په بوری سیمه کښی آباد شول او تایمنی قبیله دافغانستان په هرات کښی میشته شول . چه چار ایماق دهمدی قبیلی سره نژادی ارتباطلری.

داسنځر خیل قبیله دتصنیف په لحاظ په ډیرو کو چنیو ښاخونو ویشل کیږی .

دسنځر خیل یوه بله مهمه قبیله جو ګیزیان دی چه دجلال زیو ښا دو زیو او الیزیو کو چنی قبیلی تری جلا شوی دی. دجو ګیزیو مشر نیکه جوګی په یو لسمه پلا رینه سنځر ته رسی. دجوګی دوه زامن چه بوستان او میتا نومیدل. دبیکړ نیکه زوی مو کام نومیده هغه دبو ستان لمسی وه. بوستان دوه زامن لرل چه یو ئی اسحق اوبل یی نواب نومیده دهغوی کورنی یا قبیلوی پښی په اسحق کهول او نـو ا ب کهول یادیږی .

جو ګیزیان دخپلی قبیلی په اولس کښی دمذهبی احترام په نظر

بیا هم احمد شاه بابا د خوا دژوب دجوګیزی قبیلی یو موهم دی
چه د ژوب دسیمی دپخوانی دریخ افتخارات تړل کیږی .
په ۱۱۰۱ ع کال کښی دجوګیزی قبیلی مشر سر دار محمد اکبر خان
دوی د نواب شهوب سره تعلق لری دغه په ۱۸۶۶ ع کال کښی دقبیلی
مهم مشر په حیث پیژندل شوی او ددغی قبیلی دنواب کهول دهغی زمانی
نور مهم مشران دادی.
حمید خان – ایوب خان– نهری خان – میر حاجی–نبادی گل–محمد
حسین – لاجور خان– محمد افضل خان او گلا خان.
داسحق کهول دهغه زمانی مهم مشران دادی :
مرحوم نواب بنګل خان– دسردارشهباز خان زوی زرغون خان –لونی
خان – دیوانه خان– تاج الدین خان رحمت جان– او ماخان– شیر خان–
بازخان – رحمت جان– جمال خان– او خان – شیر خان –او بیل خان .
په میر زیو کښی دملیزو دقبیلی بناخ تو چنی ثانکه الیزی
روحانی نورنی پتل کیږی.
دسنځر خیلو دقبیلی اکثریت بزګر تشکیلوی خو دبز کړی سره
رمی هم لری. جلال زی اومندی زی هم دخپلو رمو په حاصلاتو دژوند
ګذاره کوی. غوزی زی– باتوزی اوسملزی هم لویی رمی لری اوالیزی
دولت زی میر زی اوجلال زی اوبن ساتی .
دسملز یو ملیزی قبیلو ی ثا نګه سو دا کړی کوی په ۱۹۰۵ ع کال کی
دجوګیزیو دقبیلی دسر دار خیلو نه پرته میاخان اوپا ینده خان کیبزی
شیر محمد خان او ماسم خان–ابدله زی– ملا دلبر فقیرزی–خد ایدادخان
میر زی– ملك انور باتوزی– شیخ یعقوب سلیمزی او موژك رستم زی
امازی دسنځر خیل قبیلی اولسی مشران وو. په ۱۹۰۱ ع کال کښی د
سنځر خیل قبیلی ۳۸ کورنی اوددومر قبیلی ۵۶ کورنی دهندوباغ
سیمی نه ورغلی اوهلته دغــه دوه کورنی ګډی میشته شوی اودقبیلو
عنعناتو مطابق ئی یوبل ته لو نه ورواده کړی.
سنځیا دهــو سیــن زوی او دجدرام لمسی اودکاکړ شپږم زوی ؤ
دوی په دوه لو یو قبیلو ویشل شوی دی چه یوه هارون خیل اوبله ئی ایسا
خیل نو میږی. اوکو چنی قبیلی ئی دادی .
مــهــتر زی – سرانــګــیز ی –ملیزی – او ابرا هیم زی.
دغو قبیلو بز کری کوی ځینی یی په رمو ساتلو دخپل ژوند ګذاره
کوی. ایسا خیل لږه ځمکه لری اودسوندارګو سوداګری کوی .

ACKU

په ۱۹۰۵ ع کـال کـښې د سنـتیاقبیلوی مشران دادی. میر عالم خان مہتر زی ،او محمدجان سلطان زی،دسرگړی قبیلی نیکه سر گـــړ ی نومبړی اوهغه هم دکاکړ زوی د ی‌دغه قبیله په‌دریو لویو قبیلو ویشل شوی‌ده لکه سام خیل ، مندیزی ،او هارون زی ، دغه قبیلی دیوه لوی خان تر مشری لاندی قبیلوی اتحادلری او دخه مودی دپاره په کوځلك کښی دحیدر زیو د قبیلې سره یـوځای اوسیدی ،په‌دغو قبیلو کـښی حیدر زی په قبیلوی حیثیت قوی اودوهمه ورپسی سام خیل‌ده او بـیا ورپسی‌ملیزی هم قوی دی .

سرگړی قبیله کپرکدکی ځمکه لری‌او په پزگری باندی دژوند گذار ه کوی ، او سام خیل د ژوب په سام‌خیل کاریز کښی ځمکه لری ددوی دغه وخت (۱۹۰۵) قبیلوی مشـردتماس خان عمرزی، هارون زی زوی کمال خان ؤ.

شیرانی قبیـله دخـړبن د زوی‌خر شبون او دده دزوی شرف الدین الیاس اولاد دی ،په جغرافیائی دول‌دغه قبیله په‌دوو برخو و یشل‌شوی چه یوه ئی دسلیمان غره په ختیـځه‌سیمه کښی او بلـه یی‌دسلیمان غره په لویدیځه سیمه کښی میشته د ی‌د ختیځی برخی قبیله‌ئی لوغه‌شیرانی او دختیځی برخی قبیله ئی‌بر خــــه‌شیرانی بلل کیږی ، دپښتنود نورو قبیلو په څیر دا قبیله هــــم تـیـــت‌اوپرك پرته‌ده دشیرانی‌په شـــوراوك کښی هم میشته دی .

مری بلوڅ هم دبو هارای شرانیو‌یوه څانگه ده (۱)

دلرغه شیرانی قبیله د محکوم‌پښتونستان په ډیره اسمعیل خـــان کښی‌هم شته دی ، تاریخی روایات‌دخبره هم ثابتوی او ددوی خبر ی داتائید هم کوی چه څلور کـــا له‌پخوادډیره اسمعیل خان شیرا نـــی قبیلی اودمنځنی پښتونستان دبیتنی‌قبیلی د وزیرو قبیلی دپاره په‌جگړه شوی‌ده چه شیرانی قبیله‌په جـــگړه‌کښی بریالی شوه ، په‌دغه جـــگړه کښی د لښکر سالاری داری خان په‌غاړه لرله او دجگړی له بریالیتو ب نه وروسته داچه هغه‌مجرد ؤدشیرانی‌قبیلی یوه مشر ورته خپله لور پـــه نکاح ورکړه اودقبیلی مشری ئـــی‌ورته وسپارله اودبرخه سلیمان‌غره دلویدیځی سیمی دځمکی دبیر تـــه‌اخیستو دپاره‌ئی دده تر مشری‌لاندی

---

بلوچستان‌ژوب دستړك لومړی‌ټوك ۱۹۰۱ دمیجردیف میـــن چیـــن تصنیف دبمبئی چاپ (۷۳مخ)

ښولښکر ورسره کړ دغه ځمکه شیرانۍ قبیلې د پاره په جګړه واخیسته.

دشیرانئ قبیلې منلی مشر بلوڅ خان وپېژندل شو دادی خان ته په اومه پیړۍ کښې رسیږی.خو دغه قبیلې د ۱۹۰۱ع کال راهیسې خپل قبیلوی رسوخیت له لاسه ورکړیدی ،په دغه کال کښې ددوی قبیلوی مشران دشیښی خوازی عبدالله شاه اوالګده برخه ده با بړ په خاص تو ګه په ګار داباښ وارلګه ببابړو مهر بان جوهر خیل ؤ دبابړو مشر سلیمان خان ؤ او دهری پالو مشر بهاؤ الحق ؤدشیرانیو پلارنی ځمکه دایوزی کوریا وا ستاکو رام غز لاوړ او ښار غلی سیمی دی چه دهر پا لاو ابراهیم خیلو کښې میشته دی شیرانی قبیله هم بزګری کوی اورمی هم ساتی خو په دوی کښې مار هیل قبیله کوچیان دی .

په ۱۸۹۰ع کال دډیره اسمعیل خان ډپټی کمشنر مسټر ایل ډبلیو کنګ سې الیی لیکلی دی چه شیرانی قبیله دپرنګیانو سره کلکه دښمنی لری او په هیڅ ډول دپرنګیانو نه دوستان کېږی هغه وایی چه خلک متل کوی چه سپی دوپېژنی نو نه دی خوری خو زه وایم چه شیرانی که مونږ په دوستی وپیژنی نو هم به موږ خوری .پښې دجنوبی پښتونستان یوه کو چنی قبیله ده چه دپښتنو د ساپی قبیلی یو ښاخ دی . دغه قبیله په اکثریت سره دافغانستان دغزنی په شا وخوا کښې شته دی اودیوسفزو په شما لی سیمه دپښنور په مربوطه سیمه یعنی ګدون (دمردان دصابی په سیمه) کښې هم زیات شمیر دغه قبیله میشته ده .همدغه راز دلور لائی موسی خیل او ایسوت هم دپښې قبیلی څانګی دی اود بادار کواټ مندئی اوسیوی په سیمو کښې هم شته دی.

دغه قبیله په اصلی تو ګه له کندهار نه برخان ته ورغلی ده او اوس ئې اصلی ټاټو بی په مری بلوڅو کښې ده پښې قبیله دجنوبی هندوستان په اندرا پرادیش ولایت کښې هم شته دی اودهندوستان په تاریخ کښې دکتنی وړ برخه لری. چه داو دخان پښې دد غه تاریخ نومالیی دی .

پښې قبیله په دریو ښاخونو ویشل کیږی لوانی مندوخیل او موسی خیل. لوانی قبیله دلوان اولاد دی لوان پښې دشپږ وزامنو له جملی نه یو و ځکه دموسی خیل ایسوت خیل باروزی او نورو سره خپلوی لری چه په جنوبی تیروه کښې اودکنهر نیکا نګی او ناخیل ترمنځ دکنهر سند په ساحلی سیمه کښې میشته وو. همدغه را زدغه قبیله په ژوب او دسیوی په سنګانګ سیمه کښې هم شته خو ډیره برخه یې ذکاکړ وپه خراسا ن



ACKU

اوهندو باغ کښې ده ددې قبیلې ښاخونه : سمیلزی مندار زی او سین خیل دی لوانې بزرگران دی اور مې هم اری. خو گزاره ئې زیاتره درموپه حاصلاتو ده او دمالګې دکان کیندلو کار هم ددوی کسب دی .

ددغې قبیلې د ۱۹۰۵ ع کال مشران غوری خان ـ ناصر خان ـ او شینک خان وو.

مندودغرغښت پهٔ دریو زامنو کښې یو دی اودکاکړو دتره دزوی د موندو چلاردې نومیږی .

مندو خیل قبیله دتاریخ دمستندورواياتو لهٔ مخې غرغښت پښتانه د ی اوغزنی دناوړونه بلوچستان تهٔ ورغلی دی.

دوی په دوه قبیلو ویشل شویدی چه یوه ئې ادیزی اوبله ئې حیدر خیل ده. پهٔ حیدر خیلو کښې کار یازی دمشری کورنی ده . مندوخیلو داپوزی شاهوخوا سیمه اشغال کړه او شا وخواتهٔ ئې منهر خیل قبیله پرته د ه گوزاره ئې پهٔ کروندهٔ ده خو دسلیمانزیو اکثریت پکښې رمې ساتې .دمنده و خیلو دهغه وخت (۱۹۰۱ کال) مشرشیر خان اواختر خان سلیمانزی او جلات خان ایزت زی ئې ملکان وو .

ساپی قبیله هم د پنې قبیلې یو ښاخ دی دژوب دسیوی دساپو سره دوروګلوی مراسم نهٔ ساتې اوځانونه ئې دغلجو سرهٔ نژدې کړیدی .دوی هم دافغانستان تللی دی ساپی پهٔ بلوچستان کښې دری خیلونه لری چه یو ئې بینده خیل بل ئې ترمن خیل اوبل ئې جانی خیل نومیږی ددې قبیلې داولس اکثریت کوچیان دی خو ځینو ئې پهٔ بیه هم یوڅه ځمکه اخیستې ده اود ژوب سیند پهٔ غاړه ئې دساپی کو ټ پهٔ نوم یوه ځانته سیمه تشکیل کړیده ددې قبیلې یو مشر چه عثمان غنی نومیده پهٔ ۱۸۹٤ ع کال کښې افغانستان تهٔ راغې او (۱۹۰۱ ع کال) مشر ئې نورن خان وه.

پهٔ بلوچستان کښې دسیدانو پهٔ نوم هم یوه پښتنه قبیله پرته ده چه پـه اپردی ،هندوباغ او قلعه سیف الله کښې میشته دی ددې قبیلې ښاخونه نارن (چه پهٔ باجوړ کښې هم پهٔ ترکانې قام کښې اودغه راز پهٔ کوز کونړ کښې هم دتارانړ پهٔ نامه ځایونه شته .)

عزشین اوخوستې قبیلې دی .تاریخی روایات دادی چه دغې قبیلې دپکتیا ولایت خوست نه بلوچستا ن تهٔ تللې دی دغهٔ قام بیا پهٔ کوچنیو څلورو قبیلو داسې ویشل شوید ه اورهٔ زی مهاروپ زی، مهرانې اوسویت خیل.

ددغې قبیلې اولس دماروپ زیو لارانیو اوآمل زیو دکلیو تر منځ دلکا بند بابړو اوسیف الله کلی پهٔ سیمو کښې میشته دی اوځینې ددغې سیمې پـه



ACKU

اخبرکی اومنځا سیمو کښې استوګنه لري.

**غلجیان :**

داقبیله دجنوبي پښتونستان یوه قبیله ده چه دغلجي پښتنو په نوم یادیږي او اکثریت ئې په اپوزي هندوباغ او سیف الله کلي کښې میشته دي.

ددې قبیلې نوري څانګې دادي . ناصر ـ سلیمان خیل ـ خروټي ـ اندړ توخي ـ ترکي هوتك ـ شینواري ـ ملاخیل ـ میا خیل دوتاني او نور.

ددې قبیلې ډیره برخه کوچیان دي چه دافغانستان او جنوبي پښتونستان ترمنځ سوداګري هم کوي.

دمیاخیل قبیلې کوچیان له افغانستان نه دګومل او غوائي لیاري په لار ه دامان اودانه سرته ورځي اوله هغه ځا ی نه دهندوستان ترکلکتې او ډهلي پوري ډیوکرانو سودا ګري کوي .

ددوتاني قبیلې اولس دجنو بي پښتونستان له ژوب نه علاوه دمنځنې پښتونستان دوزیرستان د ګومل ـ او جنوبي پښتونستان دژوب سیمو تر منځ کلیو کښې هم استوګنه لري او د ژمو په ساتنه ګوزاره کوي.

ترکي اندړ خروټي شینوا ري اوملاخیل قبیلې لویې لویې رمې لري دژوب په کمردین کاریز کشاتو او ترخه ږي کښې میشته دي. ځیني ترکي اندړ اوخروټي دجنوبي پښتونستان په لوي بند کاکړي توبه او دقندهار په شوراوك کښې میشته دي. همدغه راز دخروټو شینواري ـ اوملاخیل دقبیلو زیات شمیر اولس دجنوبي پښتو نستا ن په اندوباغ سیف الله کلي اومغول څاه کښې اوسي. چه د خپلو رمو دخړولو په لړ کښې دژوب له وادي نه تیریږي او ددوکي لورلائي او موسی خیلو سیموته ورځي. همدغه راز دملا خیلو قبیلې سوداګران له دامان سیمې نه ددانه سر په لاره اپوزي ته ورځي اوله برکان لورلائي اوسیف الله کلي نه اپوزي ته غله دانه وروړي. دغه کوچیان په خپلو کاروانو نو کښې غوړي بادام ، وړي ، پوستینچه ، دبرکي ټوکران اووچکي (کشمش) له افغانستا ن نه کیشانو پشین او کویټې ته دلوی بند په لاره اوخیشناب لورلائي او اپوز ی ته دشیغاله اوخیشناب په لاره ولهوړي.

خروټي اواندړ دافغانستان په غز نی کښې ډیر دي.

په نایروکښې هم کوچیان شته او څانګې یې دادي: کمال خیل ، ملیزی بائدی خیل ، ترك خیل ، یاخیل ، نیامت خیل ، بارخیل ، زنګي خیل (جنګي خیل) تالاك خیل نابوخیل اوش خیل ، جلال خیل اومسیزي.

ددغې قبیلې دلومړیو شپږو نوموړو قبیلو ځیني څانګې دکال په ورروستیو دریو میاشتو کښې د منځنـــــي پښتونستان او مرکزي محکو م



ACKU

پښتونستان ترمنځ دډیره اسمعیل خان په سیمه کښې استوګنه کوی او دکال په نورو میاشتو کښې دجنوبي پښتونستان په دوکې بوری او سیف الله کلی کښې اوسی.

کمال خیل اوملیزی په ژوب لو رلاتی شمارګ اوکولو کښې وړی اخلی اردسیندولایت کراچې اودپاکستا ن په نورو سیمواودمرکزی پښتو نستان بازارو نوته یې وړوی ددی قبیلی او نوری کورنۍ اودبار خیلو دقبیلی اولس دکاکړونه وړی په بیه اخلی اوکراچې ته ئی وړی.

ددی قبیلی لوی سودا ګر دمیږ ودوړیو دحاصلاتو په موسم کښې د خپلو نماینده ګانو په ذریعه چه هغوی ته یوڅه وټه (کمیشن) ورکوی و ړی اخلی اوهغه وخت چه ددامان نه بیرته ستنیږی نو دځان سره د لر ګو جوړی شوی ګا سی ، دګنډ لوستنې تارونه ، ګو نۍ ، ګیلا سونه او پیالی اونور ضو ری شیان ژوب او بوری ته دسو دا ګرۍ دپاره وړی .

ملیزی جنګی خیل تالاک خیل اونابو خیل ناسر په عمومی ډول رمی ساتې خود ناسرو نوری قبیلې لکه اوش خیل جلال خیل نیا مت خیل، مسیزی او بار خیل او ښمان ساتی او په ناو ښمانو به یی له . پخوا راهیسی دکو سکا ، کنډ یــل ، او ګو ملی په لاره دبادامو کار وانونه ډیرو ته را رسیږی.

سلیما نخیل : دا قبیله په څلوروټو یو ښا خو نواو په شپږو کو چنیو څانګو ویشل کیږی . د سلیمـــان خیلو لو یی ښا خونه دادی . سلطان خیل ـ سما راز خیل ـ مینــزی اواحمد زی . ددی قبیلې کو چنـــۍ څانګې دادی میر خا نخیل ـ دسلطان خیلو د قبیلی ښبه ـ باد ینخیل ـ میر ګل خیل ـ او هابت خیل دمینزیو کو چنۍ څانګی دی او محمود خیل اوجلال زی د سارز خیلو څانګی دی احمد زی دسلیمان خیلو څــانګی دی اود ګو مل دسیند اوز ملی تر منځ داپکتیا و لایت په مر بو طاتو کښې داپکتیا و لایت په مر بو طاتو کښې هم میشته دی .

سلمان خیل دجنوبی پښتو نستان دسلیمان غره سنګړ او اپوزی پــه سیمو کښې پراته دی اودا حمدزیو او محمود خیلو دقبیلو اکثر یت چه دخپلو ملکانــو تر مشری لاندی متحددی په ګل کڅ اوګرداؤ کښــــــی استو ګن دی .

مینزی هم دسیمان خیلو یوه قوی تکړه قبیلــه ده چه په پخوانیو پیړیو کښې دجنو بی پښتو نستان دژوب سیمی ته راغلی دی او دحسین نیکه شین باژی او سری توی په شاوخوا کښې استو ګنه لری .



ACKU

انګرېز میجر مینچین د خپــــل تالیف پلو چستان ژوب دستر کت په (۸۱) مخ کښې لیکلی چه ، هغه‌سلیمان خیل چه پـــــه ژوب کښې اوسیدل دا فغا نی حکو متی مقاماتواو او لس سره‌یې خپل روابط ساتل اود هغه په قول چه وایی دوی کـــه‌هم یوی خواته‌په‌ژوب کښې‌داستوګنی په‌وجه یو مخ‌دمستر ګینګ‌انګریزی‌منصبدار په لاس کښې ؤو خو ددی په‌سر حدی سیمه کښې په مسلسل‌ډول یوه افغانی اهل کا په وسیلــه دافغا استان دامیر نماینده ګی‌کوله.

دغه مو لف لیکی چه سلیمان‌خیلودژوب په سیمو کښې په ګل کــځ نو می ځای کښې انګر یزی څو کی‌تر تهدید لاندی ونیولی او هـــــم انګر یزی منصبدا ران یعنی د ډیره‌اسمعیل خان د پښې کمیشنر کپتان څو کـــی او د وژ ب پو لیټکل‌ایجنټ‌کپتان سی آچر په زیاترو و ختوکی دسلیمان خیلو ملکانو له لاسه پــــه‌تکلیف وو . بیاڅو څو موده‌وروسته انګر یزی حکو مت دسیما نخیلـــــودور شو داجا زی په بر خه کښې ددوی دخو شحا له کو لو دپــــاره‌ورسره مرا فقی و لیکلی خو بیا هم دوی دانګر یز انو سره جوړ نه‌شول‌اوتل به دنګر یزی مقا ماتو ســـــره په جګړه اخته وو .

**دجنو بی‌پښتونستان وزیرقبایل:**

دغه قبیله‌هم‌دجنو بی‌پښتو نستان‌یوه قوی قبیله ده چه دژوب‌په‌سیمه کښې استو ګنه لری دوزیرودغه‌قبیله‌مونږ دجنو بی پښتو نستان وز یر بللی شو . او دوزیرو لوی‌قام دمنځنی‌پښتو نستان تړله سیمه نیولی ده. اوزیات شمیر قبیلی او او لس یی‌دپکتیا و لایت په‌سر حدی سیمـــــو کښی هم میشته دی .

په انګر یزی تار یخونو کښې‌چه‌هر چیری دجنوبی پښتو نستـا ن دوزیرو نوم اخیستل شویدی ورسره‌جوخت داهم لیکل شو یدی چه‌وزیر قبایل دیر نګی استعمار دپاره ســــردردی ؤ. لکه چه انګر یز منیچیــــن دخپل تا لیف بــــــلو چستان ژوب‌دستر کت په ۸٤ مخ کښې دوزیرو ترعنوان لانـــدی ورسره سم لیکلی‌چه دژوب وزیر قبایل یعنی‌انګریزی حکو مت ته دکړاؤ نو لوی ګړ نګ.

مولف لیکلی چه دغه قبیلی‌پــــــه‌ژوب کښې په انګر یزی مقا ماتـــــو باندی دنورو حملو اوچپا وونو نــــه‌علاوه یوازی په ۱۸۹۳ کال کښــــی ۳۷ سختی حملی کړ یدی . او پــــه۱۸۹۸ کال کښې یی بیا ۲۰ حملـــی کړ یدی او ددوی له لاسه تړ لــــی‌انګر یزی قواووی اوبه تیره بیـا٦١

نمبر بمبی کیو لری بمبی ۲٤ نمبرتوپخانه ۲۳ نمبر بمبی رایفلز اود ژوب لیوی عسکری قواووی د یری په تکلیف دی .

ددی حملو په لړ کښې چه د ۱۹۰٤ع کال دجو لائی په میاشت کښې دژوب په انگر یزی عسکری مقا ماتو د پښتنو قبایلو ۱۵ تنو حمله کونکو وکړه په هغی کښې یی دخونی برچ له څو کی نه څوتنه سواره عسکر یو زیات شمیر پیاده ووژل او ډیری ټپیان کړل همدغه راز هغوی ۱۲٦ دانی دها وان توپ گولۍ یو کارابین ماشیندار او ۱۲ دانی لوی ټو پکونه ولجه کړل او دژوب او وانا دواړو پولیټکل ایجنټیان تحقیق ته وټا کل شول له څیړنی نه معلو مه شوه چه دغه پښتنه ډله شیرانی او مسعود وو . او افغا نستان ته یی په سرحدی لیاری ځا نونه خلاص کړی وو، هلته ددوی په گر فتاری باندی دانگریزی مقاماتو زورو نه رسید او هیڅوك تری بند یان نه کړی شول .

**بړیڅ : اولسی روایت له مخـــی** دبړ یڅ نیکه دوه زا منوو چه دیوه نوم او تغ او بل یی اوسین نومیده.زیاته شوی او قبیله تری جـــوړه دبړیڅ قبیله دهمدغه دوو زامنو نه زیاته شوی ده .

داوتغ زامن دادی . داؤد ـ چوپان ـ ملی ـ بدل ـ سا بت ـ شکور او بسوك .

داوتـــغ زامن دادی . **داؤد ـ چوپان** شو یدی هغه پدی ډول دی ـ داؤد زی ـ چو پان زی ـ ملیزی ـ بدل زی سابت زی ـ شکور زی اوبسو کزی .

داوسین زامـــن دادی مـــردا نـــه بارك بسیا ، زکو او مندو .

مردانه (کور) بار کزی ـ بسیازی ـ زکوزی او مندو زی . دغه قبیلـــی څړبڼی قبیلی دی او اصلی یی بړیڅ قبیله ده .

دپښتنو دتاریخ له شجرونـــــه معلو میږی چه شر خبون پنځه زامن وو چه شیر ا نی تر یـــن میانه بړیڅ او اور مړ نو میدل . شیرانـــــی دشر خبون مشرزوی وه . خو پلاریی د معنی په لحاظ ترین مشر گڼلی وه نو شیرانی په دغه خبره مر ور شو او د خپل ماما کاکړ کور ته لاړ چه د هغی ور ځی نه شیرانی قبیله تراوسه پوری په کاکړو کښې شمیرل کیږی . او پـــه ښه بـــده کښې دغرغښتو دقبیلو سره ځـــی . **دبړیـــڅ** قبیله دکند هار پـــه شو راوك اودجنو بی پښتو نستان په کویټـــــه گلستان او پشین په کلی ډول اودهغی سیمی په نوروځایونو په جزوی ډول میشته دی .

**ترین :**

دترین نیکه دری زا من وو چه‌یویی توربل یی سپین اودریم یی بور (اودل) نو میده . خو ترین قبیلـه‌یواځی دتور او سپین په نوم یـــاده شوی او ویشل شو یده .

دغه قبیله دجنو بی پښتو نستان‌دپښین ار ئا‌بی دو کی او چو پتـــر په سیمو کښی استو گنه ده .

ترین په خوی او دود دستورکښی‌بیخی داودا لیانو په څیر دی. البتــه که‌څه هم ابدا لیان دقبیلی په لحاظ‌ترین دی خوبیایی‌هم دیوی ځانګړی قبیلی حیثیت ځا نته غوره‌کړیدی.

**اڅکزی:** دغه‌ر قبیــله دجنـوبــی‌پښتو نستان په‌پښین تو به‌اوبو لدك کښی میشته ده اڅکزی په کندهارکښی ډیر دی .

اڅکزی په لو یه کښی ابدا لیان‌دی چه درانی هـــم بلـل کیـږی دوی‌دخ‌ړ بنی ځانګی دخر شبون نیکه‌دزوی ترین اولاددی . ترین په‌پیړی کښی داڅکزی دریم نیکه یاور نیکه‌دی .

دترین دری زا من دی چه مشرئی‌ابدال منځنی یی تور او کشر یــی سپین نو میږی . تور ترین او سپین‌ترین دورو ستیو دواړو ورو ڼواولاد دی او ابدال دوه زامن دی چه‌یویی‌پنج پای اوبل یی زیرك نو میـږی اڅك دهمدی‌زیرك‌زوی دی اواڅکزی‌قبیله تشکیلوی . دزیرك څلورزامن دی یعنـــی اڅـــك بـــا زك‌الکواو پوپل چه داڅك نه اڅکز ی دبارك نه بار کزی دالکوا لکو زی‌اودپوپل نه پو پلزی قبیلی جوړی‌شویدی

**کا سیا ن :**

داقبیله هم څړ بنـــیان دی اودخر شبون دبل زوی کاسی اولاددی.

دخر شبون یو زوی چه کاســی‌نو میږی د هغه دری زا من دی چه یویی کتران بل یی شینواری اوبل‌یی کاسی نو میږی ددغو دریو واړو ورو ڼو قا مونه داسی تشکلیږی .

دکتران نه کتران قبیله چه‌تراوسه‌پوری دپښتنو په قبیلو کښی داسی څرگنده نه وه یاده شوی اود جنوبی‌پښتو نستان دبلو څو او پښتنو په سیمو کښی په بلوخ قبیله یا دیده.دادی معلومه شوه چه دغه قبیلـــــه کاسیان دی .

ددوی دو هم ورور نه دجنو بـي‌پښتو نستان دشينوارو قبيله جوړه شوېده چه يادو نه يې په تيرو پاڼوکښې شو يده . اود بل ورور يعنی کاسي زا منو يې په خپله دکاسيانو نوم يوه قبيله تشکيل کړې ده چه دجنو بي پښتو نستان په کوټه‌کښې‌ميشته دی .

(دپټانز مؤلف سر او لف کيـرودخپل کتاب په ۳۵ مخکښې‌دشجری له مخې داخبره ثابته کړ يده چـــه‌کتران قبيله کاسيان دی .)

کيرو دجنو بي پښتو نستـــان‌دپښتنو او بلو څو په باب دخپـــل تاليف په(۵۱۷) او (۵۱۸) مخو نوکښې ليکلي چه دسيند دسر حدنه لږ ډير لری په شمال کښې دډيره‌غازی خان سيمه‌پرته ده چه‌داباسيند دلويديځې غا ړی يوه سا حلي‌سيمه‌ده اود جنوب خواته يې دډيره‌اسمعيل خان بر خه پر ته ده ، خو په ډيـره‌غازی خان او ډيره اسمعيل خان‌کښې دومره فرق دی چه په ډيره اسمعيل‌خان کښې ټول پښتانه اوسي چـه دپښتنو يوه قوی قبيله ده اوپه‌ډيره‌غازی خان کښې ز ياتره بلوڅ د ی چه لويديځې خواته تـر تخت‌سليمان‌پورې پراته دی .

# دجنوبي پښتونستان بلوڅ:

دجنوبي پښتو نستان دبلوڅــو اوپښتنو په باب دمختلفو رواياتــو او تاريخي مطالعي نه‌دا خبره څرګنديږي‌چـه دغـه دوه قامو نه اګر چه چه په دوږبيلو نومونو ياد شوي دي خو په‌حقيقت کښي يوقام‌دي .

دانګريزي مورخينو سر اولف کيرومېجر مينچيــن او مــونستــو ار ټ الفنسټن او نورو له ليکنونه‌مونږددي‌خبري حقيقت ته نږدي‌شو چه پــــه جنوبي پښتونستان کښي چه دو ەقامونه بلوڅ او پښتانه اوسي دوا ړه قامونه يوقام دي البته په‌دوه نو مونوياد شوېدي‌خوپه خپله دبلوڅ‌مورخينو اوپه تيره بيا دپياوړي او غښتلي‌بلوڅ‌مورخ ښاغلي مير ګل خان نصيـــــر مستندي نظر يي‌دي نتيجي ته‌ورسولوچه‌بلوڅ او پښتانه په هر لحاظ يوقام دي . دغه مورخ‌په‌خپل کتاب تاريـــخ‌بلوچستان کښي وايي چدغه قام‌ګرچه په دوو ژبو بلوچي او پښتو ژبـــــوغږيږي او هر بلوڅ په پښتو او هــر پښتون په بلوڅي په ډير ښه صورت‌غږيدلي شي .او ژبه دنژاد دبدلو ن دليل نه دي . هغه‌په‌خپل کتاب کښي‌وايي چه ډير بلوچ چه‌په سيند يعني دبلو چستان په‌ګاونډ‌کښي اوسي يـادهندوستان په‌خاوره کښي استوګن دي بلوڅي ژبه يي هيره کړيده او دهغو سيمو په‌محلي ژبو باندي غږيږي ياداچه چه‌په جــنـوبي پښتو نستان(بلو چستان) کښي ډير غلجي کاکړ اونور پښتانه داسي شته داسي چـه‌دپښتو ژبي په ځاى په بلوڅي ژبــه غږيږي خو څوك بايد ونه وايي چـــه‌هغه بلوڅ نه دي يا دا پښتون نه‌دي. په حقيقت کښي دغه دواړه قا مونــه‌ديوي کورني دوه غړي‌دي يو پښتون اوبل يي بلوڅ بلل کيږي .

بلوڅ اولس په خپلو منځو کښيــي‌داسي دي چه ځيني يي براهوي يي‌په بلوڅي ځيني په جدګالي ځيني يي‌په‌لوري چيني ځيني يي په لويديــځه بلوڅي ځيني يي په ختيځه بلوڅـــي‌څه يي به مکراني او ځيني يي پـــه کوردي او نورو ژبو خبري کوي .

دلته به دا خبره ياده کړو چــــه‌انګريزي مورخ ميجرمينچين دخپــــل تاليف بلوچستان ډستر کټ ګزټيئـر‌خاران اوم ټوك په ۷۲ مخ کښي‌ليکلي چه کوردان بادنيزي اونينـــداوزي دموجو بلوڅو ښاخونه دي چه پـــه کښي غلجيو ته رسيږي‌اودبلوچستان(جنوبي پښتو نستان) ډير لر غو ني استوګن دي .

دغه مورخ دخپل کتاب په ٦٢ مخ کښی براهوی ژبه او کوردی یوه ژبه بللی ده‌اوداچه براهویان او کورد په ژبه اونژاد یودی نودمورخ د۷۲مخ دلیکنی په استناد براهویان هم پښتانه گڼل کیږی .

همدغه مورخ دخپل بل کتاب بلو چستان ژوب دستهر کټ په ۷۳مخ کښی دشیرانی قام دشجری په برخه‌کښی مریان دلوانیو یوه څانگه بللی ده‌او سراولف کیرودخپل تا لیف پټهان په ۳۵ مخ کښی کیتران کاسیان بللی دی .دغسی به دبلو چستان مینگل او د پکتیکا منگل واخلو. زمونږ لدی سر سری څیړنی نه راته دفاضل لیکوال او پیاوړی مورخ میرگل خان نصیر دغه‌ټکی چه بلوځ پښتانه دی نور هم تایید بږی او کیدی شی تر مو نږ وروسته څیړو نکی او لیکوال دغه خبره‌دشك نه‌دیقین میدان ته‌راوباسی.

بلوڅ په خپلو منځو کښی په لویږمشهور و ښاخونو مری ـ بگټی ـ بیزنجو ، رئیسانی ، رخشانی نوشیروانی او کیتران ویشل کیږی اوله دغو ښاخونو نه‌وړی تپی جداشویدی .

جیچکی بلوڅ په وړه کښی دغه‌ښاخونه لری : دینار زی ، اسا زی بولیدایی میران،اوتولگ په کیچ‌تومب‌بولیده اوپنجگړ کښی اوسی .

مرواری بلوڅ چه دجاله وان نه‌علاوه په نورو سیمو کښی هم شته اوبیزنجو قبیله په کولوا ، کولانچ‌پیدرك ،او دشت سیمو کښی اوسی. هوت‌بلوڅ‌په‌کلاتونو، دشت‌کوشتانگ‌شاهی تومب او دتربت په شاو خوا سیمو کی استوگن دی .

جدگالیان چه څانته ژبه لری‌دکولانچ سیمی په بیلار کوچا او نالنیت سیمو کښی اوسی .

کتهواریان دکلات او تربت په سمیوکښی میشته دی .

رخشانی بلوڅ چه‌په خاران کښی‌ډیر دی‌او پدی وجه چه درخشان په وادی کښی اوسی رخشانی بلوڅ بلل‌کیږی . دغه قبیله واړه ښاخونه ریکی هاشخیل او نوری وړی تپی لری چه‌په نوشکی او دجنوبی پښتونستان‌او ایران تر منځ سرحدی غرو نوکښی اوسی .ایرو پانی پالانزی جنگنزی لوسی، نیگواری او ونری‌وړی‌تپه هم لری چه دراسکشو دغرو په لمنو او گوانش په‌وادی کښی اوسی.په دغه وادی کښی دوی داندیانو او جمال دینی بلوڅو سره گډ استوگن‌دی .

نتوزی ، براهیم زی ، بونگرزی ،نصرویی ،تاچاپی ،کالاجی ،مورپیشی یلانزی ، گنگوزی ساروانی ، ملا زی‌ملك شازی ، ساسوتی ،او شاهی



ACKU

قبیلې هم په لویه کښې درخشانې اوپه وړه کښې دریکې بلوڅو ټپې دې په ژموسانته اوپه اوښانو باند ې د سوداګرۍ ګذاره کوي .

سوریان بلوڅ دباډو سیند په غاړو کښې میشته دي دوی هم رمې ساتي .

پیر کزیان په لویه کښې دنوشیروانی قبیلې څانګه ده او دخاران لر غونې استوګن دي دوی څمکې لرې اوباډوسیند نه‌او به‌خوري .

بنګلزي او پیرکزي ددغه قام وړې ټپې دي .

مموجو قبیله وړې څانګې چه بادینزي نداوزي او کوردان دي . انګریز مورخ میجر سی-ایف‌مینچین‌دخپل کتاب (بلو چستان ډسټر کټ ګزټییر په اووم ټوك دخاران دبرخې په ۷۲ او ۷۳ مخ کښې) لیکي چه مموجو قبیله چه بادینزي نندوزي اوکوردان هم پکښې شامل دي غلجیان دي دغه مؤلف جدګال بلوڅ هم ددغې قبیلې یوه ټپه بللې ده او زیاتوي چه (جو) دسیندې ژبې اصطلاح ده چه په مصدري حیثیت استعمالیږي .

مصنف داسې اشاره کوي چه غالبا مموجو ممؤزي وي .

مموجو قبیله دخپلو وړو ټپو سره د باډو سیند په شمال ختیځه غاړه پراته او هغې سیمې ته مموجو وطن وایي دغه قام په جاله وان اوباغوانه کښې هم شته .

اوسینزي ، داروزي ، مزار زی ،حیدرزي (دغه قبیله په کاکړ و کښې هم شته) ، مسکانزي او جلال زی‌دا قبیله هم په کاکړ و کښې شته) خاران نه دکاهورې قلات او کیچ نه وږغلي دي چه دسراب سیند په ذرخیزو څمکو پراته دي .

امیراړي قبیله په‌لویه کښې جدګال دي دوی هم دباډو سیند په‌غاړه‌میشته دي اوبزګري کوي .

سیاهي‌زي، رکیزي ، مندیزي ،سهاکزي شاهوزي ،او ایسازي دکوبدانی قام وړې څانګې دي .

دبلو چستان ډسټریکټ ګزټییر مصنف دخپل کتاب په ۷۳ مخ کښې لیکلي چه دغه ایسازي دهلمند دوادۍ توخي دي‌اوسهاکزي سهاك دي دغه قبیلې بزګري کوي او رمې هم ساتي دوی هم دباډوسیند په څمکودسوراګو او ریکۍ هورماګۍ تر منځ سیمو کښې پراته دي .

هالا زي قام په وړوټپو شهرستا نزی کریم داد زي ،میر دوست زي ، بیجار زي ،او محمدزي قبیلو ویشل کیږي‌دتاریخي روایاتو له مخې دغه قام



ACKU

دهلمند وادی ته منسوبیږی .(۱)

مستانزی، هیجیبارزی ،اوهوتکری‌دغه دری قبیلی په‌سراب وادی کښی دنوشیروانی قام سره یوه سیمه‌کښی‌گډ ژوند کوی .

هوتکری قام دجودایی قلات پـــه‌سراپ وادی کښی ځمکی لری .ددوی واړه بناخونه عالمبیگزی تانگازی اومیرانزی دی . هیجیبازی چه هیجیزی ورته هم وای دهلمند وادی ته‌جنوبی‌پښتونستان ته ورغلی دی (دهوتکری له‌قوم نه بریښی چه دغه قبیله هوتك‌وی خود دشیر دکمو الی په وجه بـه هوتکری بلل شوی دی.)

سالارزی (چه دباجوړ دتر کانـــی‌یوه لویه قبیله هم پدی نـــــوم ده) خارنیازی فاتح زی، یاسین زی اوحسن زی ددغه قام تپی دی. دوی‌په هورماگی ، هیتك ، گوابن ، جالوان‌او سوارن کښی ځـمـکی لـری او داوښانو گلی ساتی .

یوه بله قبیله چه توکی ورته‌وایی(غالبا توخی دی) په ساروان کښـــی اوسی په‌ښه بده کښی دکمبرانی قام‌سره ځی ددوی څو کورنـــی په ۱۹ پیړی کښی دسیند په‌لاړ کانه کښی‌میشته شویدی اوپه کر کرونده‌بوخت دی .

دهور ماگی توکی یا توخی دپنجگړ‌دبارکشانیانو سره ښه بده لری .

**بژنجو قام :**

په مکران او خاران دواړو سیمـــو‌کښی شته .دغه قام پــه اصل کښی دجاله وان‌نه خپورشویدی چه‌مرکزیی‌په جاله وان کښی نال نومی سیمه ده دغه قبیله‌په کولوا پیدارك‌کولوانچ‌او دشت کښی ځمکی‌لری اوزمینداری کوی . بهادر زی شاهلزی او سیاه‌پارچه په دشت پیدارك او کولواکښی اوسی ددغه قام وړی قبیلی دی .

**واشوکی :**

دا قبیله شاهی‌زی جـولــیــزی ،هیجبزی او شیخزی خانگی لری دوی دواشوك سیمی دشهری خوړ پـــــه‌شاوخوا کښی پرا ته‌دی .

**ایسازی :**

دتاریخی روایاتو له مخی دغه قام‌دجاله وان دجنوبی برخی نه خارا ن ته‌ورغلی دی بزنزی رمدانزی سیازی‌خارینازی او شاهی زی ددغه قـــام قبیلی دی .

---

(۱) بلو چستان ډستر یکیځ گز تیــراوم ټوك دخاران برخه ۷٤ مخ .

**محمد حسنی قام :**

دکلات سیمی دچاگی (ځاگی)خاران او مکران او هم په هلمند کښی شته کیازی پاجی‌زی کمرایی ، دور کـزی‌هارون زی ،مردان شاهی ، رنگیارزی ددغه قام ښاخونه دی .

**رئیسانی :**

چه یوه بارسوخه قبیله گڼل کیږی دلاسبیلی دجامو‌ت‌قبیلی‌سره‌تعلق‌لری چه‌په لږیه کښی جدگال دی او پـه‌لاسبیله کښی دیره دی .

کینجزی پـه پنجګړه کښی اوسی‌سنگړ قبیله هم ددغه قام‌یو ښاخ دی دوی هم په‌لویه کښی‌جـدگال دی .مهدیزی دسنګړ یانو یوه تپه ده .

**کلمتی :**

دپسنی‌په ساحلی سیمه کښـــی‌اوسی .دوی هم دجنوبی پښتو نستان دساحلی سیمو دنورو او سیدو نکـو پـــه څیـر دکب نیو لو کسب کـار دی .

**لږریان :**

خاران دسیمی په بیلو بیلو ځایونوکښی میشته دی‌او بزگری کـــوی . چند نزی ،خاکیزی ، تالبر گواریغزی‌او لوشزی ددغه قام تپی دی .

**سامیزی :**

گوهپزی ، سومالاریان ،ندا مـزی ناظرزی ،باران ، مینگل ، برهان زی کمبرانی اوزگر مینگل دساروان پـه‌بیلو بیلو ځایو نو کښی پراته دی.دغه ټولی قبیلی ځمکی لری وایی چه زگرمینگلو دکمبرانو نه ځمکه اخیستی ده.

هغه آثار چه په‌دی کتاب کښې‌تری استفاده شوی پەلاندی ډول‌دی


۱ ـ دپښتو تاریخ قـا ضـی‌عطاالله خان د پیښور چاپ .
۲ ـ پښتانه دتاریخ په رڼاکی        دپیښور چاپ .
۳ ـ دی پرابلم آف بلـوچستان .
٤ ـ آریانا دایرةالمعارف .
٥ ـ دخپلواکی تړون مختلفی‌شماری .
٦ ـدپښتونستان مسئله‌د حق‌خود ارادیت په رڼا کښی .
۷ ـ پښتو ادب تاریخ        صدیق‌الله رښتین کابل چاپ .
۸ ـ دافغانستان پخوانی تاریخ
۹ ـ بلوچستان تاریخ د گـل‌خان نصیر اثر .
۱۰ ـ دبلوڅو پخوانی شعر .
۱۱ ـ اولس مجلی مختلـفی گـڼی دکوټی چاپ .
۱۲ ـ هیواد دکـویټی چـــاپ‌مختلفی گـڼی .
۱۳ ـدکابل مجلی مختلفی‌گڼی.
۱٤ ـهیواد اخبار        کـابل چاپ .
۱٥ ـ دمساوات جریده        کـابل چاپ .
۱٦ ـآریانامجله        کـابل چاپ .
۱۷ ـ ظفر اسلام        دکویټی چاپ .
۱۹ ـ دقبایلو مستقل ریاست‌دمعلوماتو څخه .

# معذرت او کورودانی!

څنگه چه سږ کال د جنو بـی پښتونستان په هکله کتاب لیکل کیده چه له یوه طرفه وخت ډیر کم او د بلی خوا کوم معلومدار مؤخذ نه ؤ چه مونږ تری په کافی اندازه استفاده کـړی وای او درنو لوستونکو ته موو ړاندی کړی وای سره ددی هم یوه اندازه نیمگړی معلو مات ښایی چه ډیر ی نیمگړ تیا او خالیگاوی به ولری گرانو لوستونکو ته یی وړاندی کوم چه په دی برخه کښی به زما معذرت و منی. سر بیره پر دی د ښاغلو محمد صفدر خان سالار زی شهزاده لیاقت حیـــا ت عبدالقهار خا (اتکل خو گیانی) بهادر با جوړی عبدالرحمن بلوڅ دلاور خان او حمدالله خان نه سپمو ونکی همکاری او مرستی د زیات قدر وړ دی او هم د کتاب د چـــا پـــو لـــو بـــر خـــه د دولتی مطبـــعی د پــیا و ړ ی رئیس الحاج محمد ابراهیم کندهاری د مطبعی فنی مـــر ستیال انجنیـر عبدالقادر غفوری د مراقبت د شعبی د مدیر ښاغلی عبدالحکیم د زنگوگرفی د مدیر عبدالله جان او د لینوټایــپ د امر حکیم خان همکاری د زیاتـــی ستاینی وړ دی.

په درناوی میاخان (اپریدی)



PROPERTY OF ACKU 4732